# لوډی پښتانه

د

عبدالشکور رشاد

تألیف

پښتو ټولنه

۱۳۳۶

# اهداء

دا کتاب د پښتانه اولس هغو ننګیالیو او دردمنو ځلموته چه د پښتنو له پرمختګ سره لیونۍ مینه لري وړاندې کوم .

پله‌پسی لمبر . . . . . . . . (۱۳۸)

# لودی پښتانه

د

عبدالشکور رشاد

تالیف

د پښتو ټولنې دادبیاتو او تاریخ دڅانګې له‌خوا

دچاپ شمېر (۱۰۰۰) جلده

۱۳۳۶ کال

کب میاشت

## مننه

ددې کتاب دعکسو په راغونډو لو کښې دښاغلی انوارالحق ګران اوځینو یادداشتو (چه په متن کښې ځای په ځای شاره ورته شوېده) په تهیه کښې دښاغلی خان غازی زیار اوتوجه دیادوني حق لری .

زه یه دې تو ګه ددوی دواړ وله دې مړ ستو ځخـه تشکر کوم «رشاد»

بسم الله الرحمن الرحيم

د پښتنو تاریخ ډیرو څېړنو ته اړدی او د پښتنو پوهانو ډیره
درنه وظیفه همدغه ده چه خپل تاریخ روڼ او روښانه کړي.

ددی اولس ډېرې کار نامې او ډېر حالونه د زمانې په تیارو کښې پټ
پاته دی او په همدغه وجه زمونږ آشنائی له ماضی سره ډېره کمه ده.

په دغسې پلټنو کښی طبعاً ځینې سهوې هم پېښېږي او لیکوال په ځینو
موارد و کښې کله کله له اشتباهاتو سره مخامخ کیږی، مګر بیا هم دتېرو
حالونو او پېښو پلټنه ډېر لوړ قیمت لری او پوهان ورته په ډېر درانه نظر
ګوری.

د مجهولاتو څرګندونه او د معلوماتو زیاتونه که په ابتدائی ډول هموی
د پوهې په وده او خپرونه کښې ډېره اغېزه لری او پدې کتاب کښې خو له
ډېری څېړنې او تحقیق نه کار اخستل شوی دی.

ښاغلی عبدالشکور « رشاد » د پښتو ټولنې مرستیال له ډیرې مودې نه
دلو دیانو په باب په مطالعه بوخت ؤ او کله چه د پښتو ټولنې په همکارانو
کښی په مستقیم ډول شامل شو، نودغه کارته ئې زیاته توجه وکړه او
سربیره پخپلو پخوانیو یاد داشتو نوئی د ځینو نورو تاریخی آثارو په پلټنه او
اخستنه پیل وکړ، چه په نتیجه کښی دغه کتاب د لوستونکو د استفادې
دپاره اماده او تیار شو.

ددې کتاب له ما خذونو څخه هم څرګندېږي،چه د تاریخي پېښو په لړۍ کښې ښاغلی لیکونکی ډېر زیار کښلی او ډېرې پاڼې ئې اړولې را اړولې دي.

څنګه چه ددغسې کتابونو د لیکلو دوداود ستور دا تقاضاء لري چه هره خبره باید سند او حواله ولري؛ هم دغه رویه غوره کړېده او ځای په ځای ئې خپل ماخذونه ښودلی دي.

هیله ده چه دا کتاب به خپل اهمیت پخپله ښه څرګند کړي او د نورو تاریخي لیکنو دپاره به یو ښه ماخذ شي.

ددې کتاب په سینه کښې دمعلوماتو او تحقیقاتو ډېره ښه ذخیره موجوده ده چه هر څوك به ورته په ښه نظر وګوري او یومفیداثر به ئې وګڼي مګر څه شي چه د دغه افاده لږ غوندې ګرانوي، هغه به د پښتو دسپېڅلو لغاتو تاثیروي، ځکه چه ښاغلی «رشاد» په پښتو لیکلو کښې دغسې لغاتو ته زیات مایل دی او د پخوانو په شان ځینې زاړه لغات په زاړه ډول استعمالوي، دا کار د ځینو مړو یا نمیژواندو لغاتو د ژوندي کولو دپاره ښه دی او ده په کښې همدغه ګټه لیدلې ده، زه دا کتاب یو درووند اثر ګڼم او خپل ملګري ته ددغه بریالیتوب تبریك وایم.

ګل پاچا الفت د پښتو ټولنې رئیس

# لومړۍ پښتانه

که چېرته د هند(۱) او افغان تاریخ له سره تر پایه پورې مطالعه کړی شي؛ نو ښکاره به شي چه د دغو دوو ولسونو ترمنځ تاریخي ارتباط او تعلقات له بلخ نه د آریائیانو د مهاجرت له نېټې نه (۲۵۰۰-۱۵۰۰ ق م) شروع کېږي او تر دې وروستیو پېړیو پورې رسېږي.

په دغو مره موده کښې د هندو افغان تاریخي اړیکو او مناسباتو کله یو رنګ او کله بل رنګ غوره کړی دی

کله دیوه افتخار او خوشحالۍ دبل دخوابدۍ موجب شوي او کله بیا افتخارات سره مشترک ګڼل شوي دي، چه د تاریخ پاڼو دغه ټولې خوږې او ترخې خاطرې د همېشه د پاره محض یدې منظور په یادګار ساتلې؛ چه له سترګو نه یې تېداو نښیږي چه د هندو افغان تاریخ سره مشرک دی او دا دوه ولسونه سره لېرې او بېګانه نه دي او دا تاریخي خوږې او ترخې خاطرات د زمانې دا یجاباتو سره سم همېشه پخپله منځو کښې او د ګاونډیانو سره پېښېږي، نه د نورو لیرو او بېګانګانو سره.

دغه تاریخي مناسبات او تعلقات یا خوږې او ترخې خاطرات چه په مسلسل او متناوب ډول منځ ته راغلي؛ زښت زیات دي، چه دهغو له جملې نه هغه څه چه ډېر ستر او د لته د مثال په توګه دیادونې وړ دي مونږ یې په دغو دوه لویو برخو وېشو:

**الف: فلسفي او مذهبي او نور اجتماعي مناسبات او تعلقات:**

پدغه لړ کښې:

۱- ویدی مدنیت دی، چه په آریانا کښې وزېږېد او په هند کښې یې وده وکړه.

**۲- برهمنېزم**: چه اساس یې په هند کښې د آریائیانو له خوا کښېښودل شو.

---

(۱) هند د پاکستان په شمول.

**۳- بودیزم:** چه په‌هند کښې وزېږېد اوپه آریانا کښې ئې وده وکړه .

**۴- اسلامیزم :** چه دافغانانو له‌خوا په‌هند کښې خپور شو .

**ب : اقتصادی او سیاسی مناسبات اوتعلقات:**

دهندو افغان اقتصادي اوتجارتي مناسباتچه له‌ډېرې پخوا زمانې نه شروع شوي اوتر نن ورځې پورې ادامه‌لري، څرنګه چه‌دهندو افغان داجتماعی اوفلسفي اوسیاسي او نوروتولو مناسباتو اواړیکو اساس‌اومنشاء ګڼل کېږي؛

نو دتاریخي مثالونوله‌تذکرنه‌ئې‌دلته‌د کلام‌داوږدېدوله وېرې صرف‌نظر کوو اویوازې دسیاسي‌او نظامي‌مناسباتو اوروابطویوڅوسترمثالو نه‌پدې ډول‌راوړو:

۱- د(۱۲۰ نه تر ۱۶۰ ق، م) کال پورې ټول شمالي هند دو ند یاتړغرو د لوی کنیشکا (دآریانا امپراتور) له خوا اداره کېده.

۲- **دسلطان محمود غزنوی** (۹۹۸-۱۰۳۰م) فتوحات په هند کښې او بیا دهغه‌داخلافو دوا کمنۍ دوره.

۳- دپښتون**سلطان شهاب الدین غوری** (۱۲۰۲-۱۲۰۶ م) فتوحات په‌هند کښې اودهغه داخلافو دوا کمنۍ زمانه .

۴- **دلودیانو**دوا کمنۍ لومړۍ اودوهمه دوره،چه‌دهند دزیاتې برخې واک تر ډېره وخته ددوی پلاس کښې ؤ چه تفصیل ئې پدې کتاب کښې شته .

۵- **بابر مغل** (۱۵۰۶ - ۱۵۳۳م)چه‌دهندوستان‌اوافغانستان‌دچارو واګې ئې پلاس کښېوتلې وې .

۶- د(۱۵۳۳ - ۲۵۴۸م) کالوپه شاوخوا کښې دپښتون **سوری شېر شاه** دوا کمنۍ دوره‌په هند کښې .

۷- **داعلیحضرت‌احمد شاه‌بابا**(۱۷۳۳-۱۷۷۳م)دامپراتورۍ دوره .

او داسې نور نور . . . . . . . . .

دغه یا سنې تاریخي مناسبات او روابط‌چه پـه‌هرشکل ؤ؛ خو دې‌موجب شو چه‌دهندوافغان دولسونو دکلتور او ثقافت ټول عناصرلکه:ژبه ، ادبیات

فنون ،صنائع ، رسوم ، عادات ، طرز تفکر ، دژوندانه‌سبك او معتقدات او نور يوبل ته سره نقل او مبادله کړی، اوپه نتيجه کښې يو مښا بهه کلتو ر اويو مشترك‌مدنيت منځ ته راوړی .

لکه څرنګه‌چه دمخه مو وويل، دهند وافغان تاريخ زياتره مشترك او يودبل متمم اومکمل دی، نولدې کبله هغه څوك چه غواړی دهندتاريخ وليکی‌اويائې ولولی ، هغه مجبوردی چه دافغان تاريخ هم وسپړ ی او وئې لولی،اوبرعکس که څوك د افغان تاريخ ليکی او يائی لولی، هغه دهنددتاريخ له څېړنې ا و مطالعې نه په هيڅ صورت نشی مستغنی اوبې نيازه کيد ای.

دهندوافغان‌دمشترك تاريخ له هغو مشتر کو نصلونو نه يوهم په هند کښی دلودی‌ټبر دوا کمنی‌ړ دوره ده،چه‌له‌يو خوادهند وستان‌اوله‌بلې‌خواد افغانستان دپاره دافتخار اومباهات وړ ګڼل کېږی .

دهنددپاره خوځکه‌دافتخار وړده،چه‌يوخودغه‌ټبر ديومهاجر په‌حيث،هندته تللی‌اوهلته مېشت شوی دی،نه ديومهاجم اويرغلګر په حيث،چه پدې اساس دهندولس‌دوی اود دوی ښه اوبدټول دځان ګڼی .

بل‌داچه‌دغه‌ټبرتر يوې اندازې پورې دهند واړه واړه‌مستقل حکو متو نه چه دهند و لس ئې په ډيرو کو چنيوبرخو ويشلی ؤ ، له منځه يووړل اوسياسي‌بحرانونو اواړ ودوړو ته ئې حتی الوسع خاتمه ورکړه اوتقريباً يومقتدر مرکزی حکومت ئې منځ‌ته راوړ اوملی وحدت ئې تأمين کړ .

اوسربېره‌په‌دې، کوم‌اصلاحات‌چه‌ددغه‌ټبردوا کمنی‌ړ په‌دوره کښی دهندولس دژوندانه په‌ټولوچارو کښې شوی،هغه دهندولس په‌نظر کښی د هميشه دپاره دقدروړاونه هېرېدونکی دی .

او دافغانستان دپاره خوځکه دافتخار وړده ،چه‌لوديان يو خونړاداً پښتانه دی اوله خپل اصلی ټاټوبی(افغانستان) نه دهند په اوری لېږ دېدلی‌او

هلته میشت شویدی . او په‌تیره بیا هغه وخت چه دوی‌ته دهند دزیاتې بر خې دحکومت واګې په‌لاس ورغلې ، پښتنی کلتور اوثقافت ئې هلته په ښه شان خپور کړ ، چه دپښتنی کلتورا وثقافت نښې دهغه وخت په‌معمارۍ او حجارۍ اونورومستظرفه صنائعو ، رسوم‌اوعاداتو اوادبیاتواوحتی په معتقداتو کښې‌پوره ښکاره ګندې دی .

اوبل داچه دوی ښکاره کړه چه پښتانه دزمانې او دهغې‌داوضاعو په نبض او دمملکتونو په اداره اوسیاست ښه‌پوهیږی او کولای‌شی چه‌یوډیرلوی ملك او زیات شمیرو ګړی اومتعدد او مختلف‌اقوام او متضاد طبقات هم دیو زیات وخت‌دپاره په‌ښه‌وجه‌اداره کړی ، نوبنا پدغو پورته‌ذکرشویودلائلوحق لروچه‌ووایو :

**دلودیانو دو اکمنۍ دوره په‌هند کښې د هندی افغان په‌تاریخ کښې یو مشترك فصل او یو مشترك تاریخی افتخار دی :**

ددغې شانداری دورې ټول تاریخی تضمن و شمول او کم و کیف په مفصل اومستند ډول تراوسه پورې په تیره‌بیا په‌پښتوژبه په مستقل ډول‌چا نه‌ؤ لیکلی ، خوله ښه مرغه ، لس کاله دمخه ښاغلی عبدالشکور « رشاد ، قندهاری » اراده وکړه چه دلودیانواو په هند کښې دهغودوا کمنۍ په متعلق څیړنه اوتحقیق وکړی او ثقه اسناد او وثائق په لاس راوړی اوبیاله‌هغونه ددغه‌ټبر یومفصل تاریخ ترکیب اوتالیف کړی ، بالاخره ښاغلی « رشاد » خپل دغه‌معقول پښتنی عزم‌واراده ترسره کړه اووروسته له لسو کالو پر له پسې تحقیق او پلټنې نه دادی د (**لودی‌پښتانه**) په‌نامه ئې یو ثقه اومستند‌تاریخ‌ولیکه او پښتو ټولنې چه په افغانستان کښې دپښتنی افتخاراتو دروښانه کولو اوژوندی کولویوه مسئوله‌موسسه ، ده‌هم دتاریخ‌اوادبیاتو دخانګې په‌تصحیح‌اواهتمام چاپ اوپښتنی ښاغلی دنیاته‌ئې تقدیم کړ .

که‌څیرته څوك دغه کتاب یو ځل له‌سره ترپایه‌پورې و لولی ؛ نو بدې به هرومرو‌اعتراف‌وکړی ، چه‌ښاغلی « رشاد » ددې‌تاریخ په‌تألیف او انشاء کښې پوره‌پوره زیار ویستلی اوډیر ربړ وزحمت‌ئې ګاللی دی .


مؤلف، لپاره ددې چه يو ثقه اومستنده اثرئې منځ ته راوړی وی؛ لکه څنګه چه دماخذو له فهرست نه ئې هم څرګندېږی، تقريباً له (۷۰) مختلفو آثارو اومنابعو نه چه په پښتو، پارسو، اردو، هندی، انګليسی اوعربی ژبو کښې ليکل شوی وو؛ استفاده کړې ده.

پدغه کتاب کښې دلودی ټبراودهغود واکمنی په متعلق په کافی اندازه اسناد اومواد راټول شويدی اودهغه چادپاره چه غواړی په آينده کښې دلودی ټبر دواکمنی په وخت کښې دهند دوګړو اقتصادی او اجتماعی اوضاع اوشرائط تحليل اوتفسير کړی؛ ديوجامع او کامل ماخذ په حيث ور سره پوره پوره مرسته کولای شی.

سربېره پدې، دغه کتاب په خپل ذات کښې هم دهغو بناغليو دپاره چه له پښتنې افتخاراتو سره مينه اوعلاقه لری اوغواړی چه دپښتنې تاريخی عظمت او جلال رښتينې کيسې اونکلونه واوری، اويادهند وافغان په سياسی او کلتوری تاريخی روابطو او مناسباتو باندې ځان پوه کړی؛ ډېره ښه مرسته کوی.

(والسلام)

محمدحسن «ساپی» دادبياتو او تاريخ
دمديريت کفيل



پوهاند عبدالشکور «رشاد»

# لمړی خبرې

په نړۍ کښې له ارغونه دا دوودې چه ملکونه، اولسونه، کامونه، کورنۍ
او حتی شخصیتونه لوړیږي، ځوړیږي، ودانیږي، ورانیږي، لوئیږي، وړیږي
واك مومي، بېوا که کیږي، ژوند مومي او محوه کیږي.

دا ټولې اوښتنې (تغیرات) ځانته سببونه لري د دغو سببو پلټنه او کروېږنه
او د هغو د اغېزو او نتائجو څېړل او شنل د تاریخ غایه ده (۱)

یوناني مورخ (تهیوسي ډایډز) (۴۷۱-۴۰۱ ق،م) د دې نظریې پر اساس چه وائي:

«د پخوانیو پېښو پوهنې ته ځکه اړیږ چه د داسې پېښو د بیا پېښېدلو او بیرته
راګرځېدلو بشپړ امکان شته (۲).

باید ژوندي نسلونه پر دغو سببو نو غور وکوي او د هغو په رڼا کښې د زمانې
له غوښتنو سره سم پر مخ وخوځي.

ځکه نو ما د همدغه فکر له مخې د پښتنانه درانه او لس دوه واړه ټبر
د نومیالیو حالات سره راغونډ کړل. دا ټبر (لودي) دی، د دې ټبر مېړنیو زامنو
لمړی ځل په (ملتان) کښې نیمه پېړۍ پاچهي لرله چه د غزني دستر ټولواك
(سلطان محمود) (۳۸۷_۴۲۱ هـ) له خوا په ۴۰۱هـ کال ورانه کړه شوه،
بیا یې له نوموړي سلطان سره د اسلام د خپرولو له پاره د هندوستان په غزاو
کښې د (لودي ملك سلیمان) تر مشرتابه لاندې دستاینې وړ توری ووهلې.

د غور زمري (سلطان شهاب الدین) چه پر هندوستان لښکرې وروبهولې هم
د (لودي ملك محمود) (۳) تر مشرتابه لاندې د دغه ټبر ډېر توریالي مېړونه
په کښې وو.

---

(۱) تاریخ کیاهی؟ ۲۵ مخ دابن خلدون نظریه
(۲) تاریخ کیا هی؟ ۱۹مخ
(۳) مخزن افغانی (قلمی) ۷۶ مخ

دغوري (سلطان شهاب الدين) غښتلي جرنيل (خلجي بختيار) چه پر آسام او تبت بريدونه وکړل هم د (اوديو) لوی ښهير ور سره ؤ (۱)

داتمې هجري پېړۍ په پای کښې د ملتان د پاچاهي کورنۍ اخلافو پر ملتان او (ډهلي) واك وموند او د ګوډ تيمور (۷۷۱ ـ ۸۰۷ هـ) پر غلو نو نه يې خپل تېرونه سپر کړل.

بيا (شاهو خېل سلطان بهلول) د نهمې هجري پېړۍ په نيمايي کښې دهندوستان په شمالي سيمو (ډهلي) کښې د (۸۳) يا (۷۸) کلنې درنې پاچهۍ تيږه کښېښوده، چه (بابر مغل) ورته ګه کړه. د دغې کورنۍ يو پاچا (سلطان سکندر) له بنګاله څخه تر ملتانه پورې پر درست شمالي هندوستان هسې درنه پاچهي وکړه چه د نيا و (عدل) او سياست ږغ يې تر ډېرو ملکو پورې ولاړ او تاريخونه يې په ضبط ډك شول.

بيا په دغه تېر کښې (دلودي خان جهان) کورنۍ راووتله چه په هندوستان کښې ئې په (۱۱) هجري پېړۍ کښې پر بابري مغلو ډېرې شپې ورځې مياشتې او کلونه ترخه تېر کړل او د ښېښتنې پاچهۍ د بيا درولو په نيامت (قصد) ئې ځانونه سپلنې کړل.

په دې درانه او نوميالي تېر کښې هر کله هسې ښاغلي مېړو نه زيږېدلي دي چه د ښېښتنو تاريخ يې په برم، مېړانه، توره او تدبير بايد ووياړي او د ژوند حالانو ته يې په منظم او مفصل ډول سره په ډېره مينه په زړه کښې ځای ور کړي.

ژوندی نسل ته بويه ددې تېر پراوسني بې نومو نښانه ورځ غور وکړي چه د اولې؟؟؟ او د (ابن خلدون) د اجتماعي حرکت د اسير چه:

«هر کام په لمړی دوره کښې د بدويت ژوند لري، په دوهمه دوره کښې د پاچهۍ تيږه کښېږدي. له قانو نه خبر شي، ځان ل ره نظام جوړ کړي او په دريمه دوره کښې د مغلوبو او مريو کامو اخلاق غوره کاندي، مخ پر ځوړ ځي څو مغلوبېږي» (۲) ټينګ په نظر کښې ونيسي.

**عبدالشکور «رشاد»**
**حفيظ الله واټ کندهار**

---

(۱) خان جهان لودی ۲ مخ
(۲) تاريخ کياهی ۱۷ مخ

# لودي ټبر

دغورد پښتنو يوه شهزاده (اوسپن) (۱) د کسي غره د پښتنو د يوه منلي ستانه (بيټ نيکه) (۲) دلور (متو) (۳) سره واده وکا، ددوی يو زوی (براهيم) (٤) په (لودی) او ښار شو (٥) پښتانه هغو دوو سره ښرموستو ر وته (لوديان) وايي چه سپيدو چا و د مهال جنوب شرقي کوټ ته راخپېږي (٦) او د ړنا مقدمه باله شي.

د پښتنو مشهوري قبيلې لودي، مروت، دوتاني (دپتاني)، لواني، نيازي او مياخېل ددغه (براهيم لودی) له پښته دي (۷) وايي بيټ نيکه (براهيم) لره دعاوکړه د (براهيم) کهول په برکت شو، د ېر نوميالي مېړونه پکښې پاڅېدل او د پښتنو نوم ئې لوړ کا (۸) د «شوکت افغان» مولف ليکي:

د نوموړي ابراهيم په زاوزات کښې يواځې دده د لمسي (دسياني يا سامي دزوی) پړانګی اولادې ته (لودي) وايه شي او لودي ټبر په راوروسته وختو کښې پردوو پښو (يوسف خېل) او (شاهو خېل) وويشه شو (۹)

---

(۱) دا نوم په راوروسته کښې (حسين) شويدی (اوسونی) Uswinee په مؤنث صورت په سانسکريټ کښې هغه لمړی ستوري ته وايي چه د سپوږمۍ په مدار کښې واقع دی او د سپوږمۍ لمړی مزله ته هم وايي (دليل ساطع ۲۱، ۲۳ مخ).

(۲) په سانسکريټ کښې بټ Bhutt د دانشمند، فاضل، او بټ Bhut د پهلوان او سرباز په معنی راځی په پښتنو کښې (بيټ) دقوت الظهر او (بيټه) دغره دلمنی په معنی اوس هم شته. او د بټه ګوته (انګشت نر) او بوټکی (مراهق) په الفاظو کښې ئې په ضمنی صورت دلوی اوغټ معنی هم مضمره ده.

(۳) مت matt په سانسکريټ کښې دمست، نشه، بېخود په معنی راځی (سانسکريټ ډکشنري ٦٥۲ مخ)

(٤) دا نوم تر اسلام دوه دري زره کاله پخوا معمول ؤ، په عبراني کښې (ابراهيم) د (زړه سواندی پلار) او په سانسکريت کښې برهم Bruhm، برهم Birhm او برهما Brahma دروح القدس، روح اعظم، خدای، جوهر، روح، واك او قوت په معنی دی.

(٥) قلمی مخزن افغانی ۲۳۱ مخ او خورشيد جهان ۲۰۹ مخ

(٦) پښتو قاموس دوهم جلد ۲٦٥ مخ

(۷) خورشيد جهان ۲۱ ۳، ۳۲۳، ۳۳٤، ۳۲٥ مخونه

(۸) مخزن افغانی ۲۳۱ مخ

(۹) شوکت افغان ٦۸ مخ

# لودي او سامیت

دلومړۍ هجري پېړۍ په اواسطو کښې عربي لښکرې پښتونخواته راورسېدلې ورو، وروداسلام دین خپرېده او ددې اولس دژوندانه پر هره څانګه ئې لکه ثقافت، ذوق، ذهنیت، دودودستور، ژبې، کلتور او ادب خپل اثرات اچول — په ژبا نه بیا کله چه نر تلی عربی حاکم (اموی یامخزومی خالد بن عبدالله) (۱) له خپلې کوږ مې اوتا بعا نو سره دمشهور ظالم (حجاج) له پېرۍ په پښتنو ننووت او له پښتنو سره ئې جنسی او اجتماعي تعلقات قائم کړل (۲) دا اثرات به پسې غښتلي شول په تېره بیاپرا علاموئې څرګندې اغېزې وکړې دفاتح اومذهبي رهنما کام، نومو نه هم لکه نوراثرات په پښتنو کښې باب شول خو تر یووخته پورې داعربي اعلام علاوه پرمحیطي اسماو تاکل کېدل لکه قیس عبدالرشید، محمدسام (شهاب الدین) او نور ....

ورووروژباتره محیطي نوموّنه لهمنځه ولاړل اوځای ئې یوالحی عربی نوموته ور پرېښو د حتی چه دغو قحو ا ومجر دوعربی اعلا مو لکه محمد، حمید، نصراو...

ځینې مورخین د پښتنې شخصیتو په ضبط کښې مترد د کړل اومرحوم سید سلیمان ئې ابرېوست چه پخپل کتاب (عرب و هند کې تعلقات) کښې دملتان د څلورمې هجري پېړۍ (لودي یا څهې) سامی او قریشی وګڼي.

که څه هم نوموړی محقق مولف ددغه کتاب په ۳۰۷ مخ کښې دابن خلدون غوندې ثقه اومنلي مؤرخ په حواله دغه خیله نظر په داسې ترد ید کړې ده چه:

---

(۱) ځینې پښتانه چه (خالد) خپل نیکه بولي هغه دغه خالد دی چه مور نې ېې نېکه ئې کېږي (قلمي نسب افاغنه ۵۸ مخ)

(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷ مخ

«ابن خلدون غوندی منلی اوڅیرك مؤرخ دخپل تاریخ دلۆ مړی جلد په ۳۲٤ مخ اودڅلورم جلدپه ۹۳ مخ کښی د(بنو سام)یا (بنو سامه) نسبت قریشوته جعل کړیدی . اولیکی چه هیڅ نساباو یاد انسابو کتاب په قریشو کښی (بنوسام) یا(بنوسامه) پنبه نه ده شوولې»

خو بیا هم زه لاندنۍ شرح پسې زیاتوم چه شبه تر اد (سام) او(قرشی) توری تحلیل شی :

بټی خزانې چه ددغی اودی کورنۍ پښتو اشعار ضبط کړیدی . تاریخ فرشته اوقاموس المشاهیرچه ئې په صراحت سره (اودی افغان) لیکی، لوی احمدشاه بابا چه په پښتنی نومیالیو کښی(حمید لودی) ستا یی (۱)شوکت افغان چه په لودیو کښی دغه کورنۍ (یوسف خیل) گڼی دا به تول هیسته پریږدو اوددغی لودی کورنۍ دمعاصر مؤرخ اوجغرافیه لیکونکی بیان او توروته به رجوع وکړو چه دغه څه وایی ؟ اوڅرنگه دده توری ددې اشتباه سبب گرزیدلی دی ؟ 

د حدودالعالم مؤلف په ۳۷۲ ه کال لیکلی دی :

« د ملتان پاچا اوس قرشی او دسام له زامنو څخه دی »

**سام :**

سره ددې چه دعربو دمشرنیکه نوم (سام) دی بیا هم په دوی کښې دسام (مذکر) اوسامه (مؤنث) توری بوخورا کبزلی، بدمرغه، شوم اوزهرلرونکی (۲) توری دی دمرگ ، هلاك (۳) او ناروغۍ (٤) معناوی ئې عمومیت او شهرت لری.دومره مطرود اومتروك دی چه دصحابهٔ کرامو په (۹۵۰۰) مضبوطو نومو کښې یو (سام) لاهم نه موندو کیږی (۵)

برعکس دمنځنۍ ایشیا په آریائیانو کښې (سام) یو مقدس ، نیکمرغه او محبوب توری ؤ ، دوی د روغی او دوستۍ معنی څنی اخیستله (٦) لکه

---

(۱)د (حمید)اود(فرید) دوربه بیاشي ❀ چه زموکاندم پههر لوری تا ختونه (داحمدشاه بابا دیوان )

(۲) المنجد ۳٦۰ مخ (۳) برهان قاطع دوهم جلد ٥ مخ

(٤) اصابه فی تمیزالصحابه (۵) (٦) فرهنگ نظام ۳ جلد ۲۹۸ مخ

ځنګه چه روغه او دوستي خوږه او محبوبه ده هغومره ئې توری هم پر ګران او په زړه پوري وو. په زردشتیانو کښې ئې د اور غوندی مقدس معبو د معنی لرله (١) او په بودائیانو کښې د (وید) غوندی متبرك کتاب د ، دریم ټوك (سام وید) نوم ؤ (٢) ، هغه د پیپل ونه ئې هم (سام بدهی) بلله چه مهاتما بده (٦٠٠-٨٠٠- ق م) ئې په سیوری کښې د بودائیانو د عقیدې سره سم پیغمبری ته ورسېد (٣) دغې ونی ته بودائیانو په ډېره درنه سترګه کتل د (مګد ه) تر ټولو مشهور او مقتدر پاچا (راجه اشوك) ئې په (٢٦٠ ق م) کال زیارت ته ورغی (٤) او کله چه ئې لنکا ته د لنکا د پاچا او د بودائیت د مبلغی ډلی د مشر (شهزاده مهندر) په غوښتنه د دغې ونې یوه څانګه لېږله نو خپله (راجه اشوك) له یوه اعزازی فوځ سره د (ترالیټی) تر بندره ورسره ولاړ ، هلته چه ئې په بېړۍ کښې په خورا اهتمام او درناوۍ کښېښووله او خپله ګرانه لور (سنګهومترا) ئې هم ورسره کړه (٥) هغه وخت پر ېږده ! اوس هم هغه څانګه په لنکا کښې شته ! تراوسه ئې هر کال په لکو بودائیان زیارت ته ورځی (٦) دا دوه نیم زره کاله وشو چه د (سام بدهی) نوم لاله خولو نه دی لوېدلی او هغسی په احترام ورته کاته کېږی .

په سانسکریت کښې (سیام) د هندوانو د مشهور او محبوب پیغمبر (سری کرشنا) له اوصافو څخه یو وصف دی او (سیاما) د (شیوا) د ماینې د (کالیکا) یا (کالی) یوه صفت ته هم ویل کېږی . هندوان د دغه (کالی) عبادت کوی او له ډېره محبته څخه ئې انسانان د دروز لپاره وژنی (٧) دغسی تقدسات او محبوبیتونه وو چه د (سام) نوم ئې په غور یانو پښتنو

(١) فرهنګ نظام ، فرهنګ نو بهار ، برهان قاطع (٢) کتاب الهند البیرونی ١٦٥ مخ
(٣) عجایبات هندوستان ٢٦١ مخ (٤) اشوك اعظم ٤٤، ٥٩، ١٠٥ مخونه
(٥) اشوك اعظم ٤٨ مخ (٦) عجایبات هندوستان ٢٦٠ مخ
(٧) دلیل ساطع ٣٠٤، ٣٢٥، ٣١٤ مخونه

کښې د ( سام نریمان ) له لرغونو زمانو څخه دسلطان شهاب الدین غازی (محمد سام) ترزمانی (شپږمی هجری پیړۍ) پوری ژوندی وساته - دسلطان شهاب الدین (رح) دنیکه نوم سام بن قطب الدین بن عباس غوری ' دده دا پخپله ( محمد سام ) او دلمسی دائی ( سام بن سلطان محمود بن سلطان غیاث الدین غوری) ضبط شوی دی (۱) - له دې څخه چه (سام) دېوې کورنۍ په مضبوطو پخو پښتو (نسلو) کښې درې پلا تکرار شوی دی په پښتو نخوا کښې ددې نامه دمحبوبیت ' عمومیت او رواج اندازه ښه تر اخره ګند بدلای شی.

علاوه پردې چه له دومره عمومیت او محبوبیت سره تړلې ده چه د (لودی) په سلسلة النسب کښې به ډیر نومیالی نیکه ګان د ( سام ) په نامه تېر شوی وی. پخپله د (لودیو) دمنسوب الیه نیکه (براهیم) بوزوی سیان (سیام-سام) نومید' چه دلودیو سیانی (سامی) پښه هغه ته منسوبه ده (۲)' د (شوکت افغان) په شهادت د (سلطان حمید لودی) کورنۍ د (براهیم لودی) په اولاده کښې سیانی (سامی) وه (۳) او یقیناً چه دحدودالعالم د مؤلف (بنوسام) نسبت له همدغه امله ؤ چه په راوروسته وختو کښې دنورو مطالبو له پاره استخدام شو.

دفتوح السلاطین مؤلف عصامی هم دسامیانو او بنوسام په نامه دغوریو کورنۍ یاده کړېده :

غیاث الدین آن شاه عالم نماند | بـه عالم بجز جای ماتم نماند
تهی ماند بی ذات او تخت غور | کنون (سامیان) رابود زرنه زور
ز گیتی سفر کرد آن (پورسام) | که بو دست در دو دمان نورسام

**قرشی :**

دانوری دحدودالعالم مؤلف (قرشی) ضبط کړیدی' نه ( قریشی) او دا باید هم هېر نه کړو چه دباندنیو مؤرخینو او جغرافیه لیکونکو چه هر وخت چه د پښتونخوا دسرو' قبایلو' اوځایو' نومونه ضبط کړیدی څه نه څه تغیرئی

(۱) تحفة الپښتون ۸۲ ' ۸۵ مخ (۲) مخزن افغانی قلمی ۲۳٤ مخ (۳) شوکت افغان دریم جلد ٦۷ مخ

له اصله څخه یکښې راوستلي دي لکه : صرود (سردسیر) (۱) جروم (گرم‌سیر) (۲) مستنج (مستنگ) سجستان (ساگزستان) سجزی (ساگزی) قهستان (کوهستان) میرواعظ (مورویس) ضحاك (سهاك) لهوگرد (لوگر) ارغستان (ارغسان) بریج (بریخ) توغی (توخی) قرملی (پرملی) قرمل (پرمل) او داسی نور . . .

لکه څنگه چه‌مو دمخه ولوستل په قریشو کښې خو (ابن خلدون) د (بنوسام) قبیلې له موجودیته څخه کرټ انکار کړی دی مگرپه پښتو کښې (غرشین) د (ساکن الجبل) په‌معنی تراوسه پوری ژوندی او په پښتنو کښې معمول او متداول توری‌دی یوې خاصې قبیلې ته‌هم (غرشین) وایه‌شی. مخزن افغانی (غرشین) د (خرشبون) دزوی (میانه) په‌اولاده کښې راوړی (سلیمان غرشین) دسلطان ابراهیم لودی له‌لویو امیرانو څخه‌ؤ (دپشین) د (غرشین) توری‌مقابل دی‌چه د (ساکن المصروالقری) په‌معنی‌راځی‌قوی امکان شته‌چه یو وخت دې د (غرشین) توري تلفظ (گرشین) او (کرشین) هم‌ؤ ځکه (غر) د (کر) او (گر) مبدل دی او د کرسپ (کرفس) کربوړی (چلپاسهٔ کوهی) کروړ (نوعی ازبوته کوهی) کرشپه، کرسی‌او کرنکی (گیاه کوهی) کرېړه کرند (درخت و گیاه کوهی) گربوه (پشته) گریج گریجاه (کوهستان) گرنگ (لاش کوه) گردر (راشه کوه) اوداسی نور الفاظو کښې‌ئی تغیر او تطور له‌ورایه څرگندیږی په (ق) سره د (ك) د (گ) او (غ) ابدونی په‌دی مثالونو کښې و گوریء: گندهارا (قندهار) گندهارا (قندهار) ابر کوه (ابرقوه) لمغان (لمقان) یغمان (یمقان) فیروز کهندږ (فیروز قند) کتاره (قتاله) کرن پهول (قرنفل) ساگزی (اسحاق زی) کهندږ، کهاندږ (قند) کوهستان (قهستان) له‌دغو مثالو څخه‌ددی استنتاج قوي امکان لیدل کیږی، چه دحدود العالم دمؤلف د کرشوی (قرشی) توری دې دپښتو (غرشین) مبدل او مرخم وی.

---

(۱) مسالك الممالك اصطخری ۱۷۷ ، ۲۴۵ مخ (۲) مسالك الممالك اصطخری ۱۷۷ ، ۱۷۸ مخونه .

# پښتانه او ملتان

دلمړۍ هجري پيړۍ په روستيو لسو کلو کښي دمشهور (حجاج) ورارهاو زوم (ثقفي محمد بن قاسم) (سند) او (ملتان) ونيو، تر (قنوجه) پوري ولاړ. مگر دوهمه هجري پيړۍ لانه وه راتوي شوې چه (غازي محمد بن قاسم) له سند څخه ولاړ او وده په تنگ سره دسند غښتلو اوله برمه لوېدلو يا چاهي کورنيو دخپلو خپلو سيمو دښار ښار او کلي کلي دبيانيو لوله پاره لېڅي راوغښتلې او ددي سيمو دعربو مفتوحي محکمي ورو ورو بېرته دکفارو په لاس کښېوتلې. يوائې کښي غره ته څرمه ملتان او د سند په منځ کښي منصوره دوه داسي رياستونه پاته شول چه تر څلرمي هجري پيړۍ پوري دکفارو لاس پر برنه شو. (۱)

ځيني مورخين په ملتان کښي ددغه اسلامي حکومت دپاته کېدلو سبب داسي ليکي:

« په ملتان کښي دعاج جوړو تکواوسکرانو دبازارو ترمنځ دهندوانو يوه ډوړا منلي بتخانه وه چه په کال کښي بو پلاز بارت ته ورتلل هندوانو پرڅان لازم بلل او ددوی ځورا مشهور (بت) (مونتان) يا (چکرسوام) ملته وُ هر کله چه به هندو راچاگانو پر ملتان بريد وکا؛ مسلمانانو به دوی ته دو مړوې بتخاني په ړولو او دبت په سوځولو او ماتولو وېرول مهاجمو راجاگانو به هم لهدغې بېړي بېرته پرخپله تره ترشا تر پلل او بيا به بې هيڅ دزوراوقوت نوم نه اخيست، (۲)

مگر دهندوستان دتاريخ په ۲٦۰ مخ کښي د ايلفنستون ددغې ليکني په استثنا دچه: «په دوهمه هجري پيړۍ کښي د سند اودسند دشاوخوا خلق

---

(۱) عرب وهند کي تعلقات (۱۸ او ۳۰٤) مخ

(۲) مسالك الممالك اصطخري ۱۷٤ مخ

پر فاتحو عربو سره راوغوړ ځيدل ځکه چه د فاتحو عربو ارتباط له خپل مرکز خلافت سره ډېر ضعيف شوی او مرکز خلافت پخپله بخولو (مصايبو) کښې ډوب ؤ عرب و ځبل شول، خو پښتنو دوی ته پناه ورکړه او ددوی ملا يې وتړله (۱)

ويلای شو چه په ملتان کښې تر څلرمې هجرې پېړۍ پورې داسلامی حکومت دپاته کيدلو سبب دپښتنو حمايت ؤ او غالباً له همدغه امله پښتانه په دوهمه هجري پېړۍ کښې د کسی غره له لمنو څخه داباسين لمرخوا يه ېزی غاړی ته راوښخيدل . دلهور دراجا سره يې په پنځو مياشتو کښې ۷۰ برياالی جنګونه وکړل، دپرشار (پيښور) کرماج او شنوران ښارونه او سيمې ئې ځنی ونيولی او تر لغمانه پوری ئی خپل پوځ خپلو اك حكومت دلهور په راجا ومانه (۲)

## سلطان حميد لودی

دڅلرمې هجري پېړۍ په نيمايي کښې د (روه) او (کسی غره) لمرختيز پلو ته د (راجاجيپال) پاچهی له کشميره څخه د (ملتان) دپاچهی تر سرحده او له چنا به څخه تر کابل (۳) يالمغانه پوری (٤) رااوږده شوې او پايتخت ئی (ويهند) ؤ (٥)

په (ملتان) کښې دقرمطی جلم ياجيلم بن شيبان دجوړ کړی حکومت نغاره وهله کېده له (٦) تر پنجاب لېږ کښته د (بهاتيه) حکومت چه دغه وخت يوه خوراوا کمنه پاچهی وه پېرغونه رپيدل او د (سند) په منځ منصوره (برهمن آباد) کښې دعبارې کورنۍ اسلامی حکومت قائم ؤ (۷)

لمر او يد يز پلو ته يې په ۳۰۱ هـ کال په (غزنی) کښې چه د (زابلستان) يو ښار کی ؤ (۸) دماوراء النهر دسامانی پاچهی يو سپهسالار (البتګين)

(۱) نسب افاغنه (قلمی) ۳۳ مخ

(۲) تاريخ فرشته لمړی ټوك ۱۷ مخ او دا يلفنستن تاليف دهندوستان تاريخ ۲٦۰ مخ

(۳) دهندوستان طلائی تاريخ ۹۲ مخ (٤) (٥) حيات سلطان محمود ۲۰۳ مخ

(٦) عرب و هند کی تعلقات ۳۲۸ مخ (۷) عرب و هند کی تعلقات ۳٤٤ مخ

(۸) حدود العالم

دغزنو یانو داوزدي اودرني پاچهي تیزه کنبښنوو له دغه (الپتګین) دماوراء النهر دسامانی پاچا (رشید عبدالملك بن نوح) (۳۴۳ـ۳۵۰ هـ) له خوا په ۳۴۹ هـ کال دخراسان سپهسالار شو (۱)

یو کال وروسته (رشید عبدالملك) و مړ او پرځای یې ورور (منصور) (۳۵۰ـ ۳۶۵ هـ) کښېښنوست ځکه چه (الپتګین) دنو موړی رشیدعبدالملك دزوی دپاچا کېدلو پرسیله ولاړو نوئی ځکه د (منصور) په پاچهی کښې تېك ونه کړای شو (غزنی) ته راغی اوداسیمی یې د (امیرانوك) یا (امیر ابو بکر لاو یك) له لاسه و کښلې (۲)

(الپتګین) چه په غزني کښې نوك ټینګ کړ څو ځله یې خپلی لښکر ی دخپل سپهسالار (سبکتګین) ترمشر تا به لاندی دملتان او لغمانا تو دسیمو نیو لو لره ولېږ دو لي ، د (الپتګین) دي بریدونو پښتانه ډېرو ځپل اوز ښت یې وځورول .

پښتانه مشران چه سرد جرګه شول د (الپتګین) دمنظمو لښکر و مقا بلې اره ئی دیوه منظم تشکیل ضرورت حس کړ اوددي چاري دترسره کېدلو له پاره یې د (ویهند) پاچا (راجاجیپال) ته سري ولېږل (را جاجیپال) بخپله ځکه ددوی مرسته نشوای کولاي چه دپنجاب لښکرو دپښتونخوا په سرو غرو کښې ژوند نشو کولای اودملتان په هغه وختني پاچاهی پوری ئې هم خپله دفاع لا بشپړه نه لیدله ځکه ئی نود (بهاتیې) دراجا په سلا له ملتان څخه تر لغمانا تو پوري دتول روه او کسي غره دارني لتی اوملك واك دپښتنو دیوه ستر اومنلی مشر (شیخ حمید لودی) په غاړه کښې واچاوه (۳) بدي توګه دغو پاچا هیو له یوې خوا څخه دپښتنو دسیمو سا تنه اودفاع دپښتنو پر خپله غاړه کړه او له بلې خوائی پرخپلو ملکو اه لمرلو بدیزو بریدو او څخه یو هسی

(۱) زین الاخبار ګـردیزی ۳۲ مخ
(۲) طبقات ناصری ۲۶۸ مخ
(۳) تاریخ فرشته لومړی توك ۱۸ مخ

خورا ټینګه کلاار او کرزوله چه دپښتنو دآزادی طلبۍ ، حریت پسندۍ همت اوتوریالیتوب لهاجزاو څخهجوړه شوې وه. شیخ حمید اودی چه دپښتنو دبوې خورا ارتیاتي له ملتانه څخه ترلغمانانو پوری سانته پرغاړه واخیستله په هرهرځای کښې ئې لهخپلې خوا حاکمان وټاکل دپښتنویوهمنظمه پاچاهی ئې جوړه کړه (۱) اوملتان ئې پایتخت کړ.

دالپتګین پهژوند دملتان اوغزنې دپاچاهیو مناسبات سره ښهنهؤ مګر کله چه سبکتګین دغزنی پاچاشو ؛ سلطان حمید چهنور دمنا سباتو ورانی اوجنګ اوجګړې دخپل یوه مسلمان حکومت سرهونه ښللې؛ دنه برید دتړون هیلهئې څنې وکړه (۲)

# ددوستی اوښورووابطو تړون

د(الپتګین) او(ابواسحاق)زوی ترمړینې وروستهئې دغزنی پاچهی په۳۶۶ ه(۳)یا۳۶۷ه (٤) کال سبکتګین سپهسالار اوزوم تهورسید له شیخ حمیدلودی (سلطان حمید) چه په خبرشو استاځی ئې ورو لیږل او دا پیغام ئې ښلاس ور کړ:

دموږ اوتاسی مسلمانان وړونه یو، هیلـه کوو کله چه ستاسی لښکرې هندوستان تهدیرغل لهپاره تیریږی دلاری پرپښتنودې بریدونه نهکوی او نه دیئې څوروی »(۵)سبکتګین ددهداهیله ومنله اوپهملتان کښیئې دسلطان حمید پاچهی تسلیم کړه(٦)دسلطان حمید پخوا لاله شرقي ور پورو پاچهیو

(۱) تاریخ فرشته لومړی ټوك ۱۸ مخ
(۲) تاریخ فرشته لومړی ټوك ۱۸ مخ
(۳)طبقات ناصری ۲٦۹ مخ-حیات سلطان محمود ۳۱مخ
(٤)تاریخ فرشته لمړی جلد۱۸ مخ
(۵) » » »
(٦) » » »

سره مناسبات ښه وو دې روغې ئې له غربي خوا يعنې دغزني له پاچهۍ سره هم مناسبات ښه کړل او تر څو چه ناصرالدين سبکتگين ژوندی ؤ دملتان پر پاچهۍ دغزني دپاچهۍ له خوا کوم بريد تاريخونه دي راوړي بلکه دجيپال سره تردوهم جنگ وروسته ۳۶۷ هـ چه غالباً به دسلطان حميد تر ترون وروسته وي پښتنو دسلطان ناصرالدين سبکتگين کلکه ملاوتړه له اوهر کله به چه مرستې ته اړشو که به دملك په دننه‌بو جنگو او که به د هند په غزاو کښې ؤ دپښتنو په زړو سپاره به يې په مرسته ورتلل او دده تر بيرغ لاندې به جنگېدل (۱) دملتان پاچهي دسلطان حميد لودې په کورنۍ کښې تر ۴۰۱ هـ کاله پوري څو د ناصرالدين سبکتگين زوی سلطان محمود دده (سلطان حميد) د لمسي له لاسه کښله پاته وه.

# دملتان دپاچهۍ حدود

دسلطان حميد دملتان دپاچهۍ تك (حد) شمالاً او جنوباً له لمغانه تر ملتانه ؤ ملتان په هغو وختو کښې بواځې ديوه ښار نوم نه ؤ بلکه يوه ارته‌التها او پرلوی رياست (پاچهي) يې په نامه ياديده چه پولکو شل کلي بې لرل (۲)

دملتان دلتې لمر لويديز پلو ته بنو ګ (بنو) شمال‌مغرب ته تالهل (تل) پروت ؤ (۳)

دملتان دښار غربي پلو ته والس (سيوی) اس منزله ليري (٤) او جنوب غرت ته‌ئي الور (الرود) ښار چه د (منصوري) په پاچهۍ پوري تړلی ؤ پنځه منزله ليري پروت ؤ (٥)

پخپله دملتان ښار چه د (مهران) (٦) دسين ختيز پلو ته يو فرسخ ليري پروت ؤ

---

(۱) تاريخ يميني ٤۲ ـ ٤۳ مخونه

(۲) عرب وهندکي تعلقات ۳۰٦ مخ (۳) کتاب الهند البيروني ٤۰٦ مخ

(٤) مسالك الممالك اصطخري ۱۷۹ مخ او ۲٤٤ مخ (٥) او (٦) مسالك الممالك ۱۷٥ مخ

د هندوستان له لويو ښارو څخه شمېرل کېده او ښه دفاعي ټينګاربې درلود. باچا به بې تر ښار دباندې په (جندوار) يا (جندرود) يا (جندراور) نومي ځای کښې چه تقريباً نيم فرسخ له ښاره ليرې يوه عسکري چوڼۍ ا و وه و کې ښارؤ اوسېد (۱)

(بسمد) تر (جندوار) يو منزل جنوب ته دغه وخت يو سمسور ښار ګڼل کېدۀ (۲)

(نهرانج) د ملتان درباست يو خورالوی او ارغونی ښارؤ. د حدودالعالم مؤلف په ۳۷۲ هـ کال ليکلي چه دغه ښار لېزپاته دی نورو ران شوی دی

(بيروزه) د ملتان په حدودو کښې يو بل ښارؤ (۳)

(جابرسری) د ملتان له خورا ودانو او سمسورو کلو څخه ؤ چه هلته خرما او چنبرخيار ډېر کېدل (٤).

دا لمغان) ښار چه د سلطان حميد د پاچهی ربل څنګ ؤ د دغه سين پر غاړه پروت ؤ چه حدودالعالم د لمغان د سين په نامه ضبط کړيدی او د لمغان او دينوريه خوا کښې له غرو راوت پر بيمهار (پېښاور) ملتان، دون، سدوسان، بلری، منصوره او نجابری بهېده او (کولی) ته نژدې اوی درباب ته لو يده لمغان يوو دا ني تجارتي ښارؤ د پر مسلمانان سوداګران پکښې اوسېدل او بتخانې هم پکښې وې (٥)

هيون تسانګ چينی زاير د لغمان په باب کښې ليکي:

«زه چه (٦٣٠ع) کال په دوبی د پنجشير درود په غاړه ننګرهار ته تلم (د کابل او پنجشير درود و تر کېدو ځای چه ور تېرشوم د کيڼ لاس خواته مې د لمپاکا (او سنی لغمان) ولايت ؤ. تر لمپاکا چه ور تير شوم نګارا هارای (ننګرهار) ته ورسېدلم (٦)

په لمپاکا کښې وريجې ډېرې کېږې او به او هوائې پسته ده، واوره نه اوری کله کله يخی پکښې درېږي د خلکو سرتونه ئې وار ه دی. ښه خوشحاله


---

(۱) (٤) حدودالعالم ٤٤ مخ (۲) مسالك الممالك ۱۷٥ مخ

(۳) حدودالعالم ٤٦ مخ

(٥) حدود العالم ٤٦ مخ (٦) د کابل مجلې ۳ کال ٥ ګڼه ۸٦ مخ

دلودی پښتانه کتاب (۱) نقشه



ژ وند او له سازو سرود سره مینه لري، هو ښیاران او نیز فکره خلك دي حرکات ئې هم چټك دي. کنده کین (نخی) کالي اغوندي .

دا سیمه د کاپیسا دپاچا ترلاس لاندې ده جنوب شرق ته ئې دننگرهار لوی ښار پروت دی (١)

(دینور) دلمغان دسین پر دا بله غاړه دلمغان دښار پر برابری پو ښار دا ن ښارؤ چه دخراسان سوداګر هلته اوسیدل (٢)

دملتان پاچهی شرقا تر(جالندهرا) پوری وراوزده شوې وه بخپله (جالندهرا) دقنوج په پاچهی اړه درلوده او(لهور) او(رامیان) دملتان په تلك کښی و و.

د(رامیان) ښار برغره ودانؤ ، لږ مسلمانان پکښی اوسیدل د (رامیان) او(جالندهرا) ترمنځ پنځه مزله لاروه .

د(لهور) ښار د پره ارته سیمه لرله بازارونه او بتخانې دېری پکښې وې (٣) له غربه خځه دغزنی پاچهی تر(ګردیز) پوری ور غځېدلی وه (٤)

## شیخ رضی لودی (رح)

شیخ رضی ( رح ) دسلطان حمید لودی وراره او دپښتو پوخوږ ژبی شاعرؤ اومحمد هو نك ئې ( امیر الفصحاء ) بولی خپل تر بوره ( نصر ) ته ئې چه دپلار تر مړ او وروسته دملتان پاچا ؤ اودقرامطه و په مذهب متهم شو؛ دنرتنې لیك ولیږه اودا اشعار ئې پکښی ولیکل :

| | |
|---|---|
| د الحا د په اور دي تر پلل | ګر وه دي زمو ز و کوراو ه |
| مو ز رو نیلی په ز یا ر نـه | تـا پـه نـو رو تـو ر اوه |
| لرغو ن ولی ګر و هید لي ؟ | چـه دي ګـو ښـې اړ اوه |
| هغه ګروه دي اوس آږه کړ | چـه پـلر و دي رنـا وه |

(١) دکابل مجلی ٥ کال ٦ ګڼه ٧٩ مخ (٢) حدود العالم ٤٦ مخ (٣) حدود العالم ٤٤ مخ
(٤) زین الاخبار ګردیزی

لودی ستا په نامه سپك شو — كه هر څو مو در نساوه
نصره! نه مو ئې له كهاله — «لودی» نه ئی په كاوه

زموږ رغا دستاله كروهه
دوزخ اوی په رغاوه

شیخ رضی (رح) یو سو چه مسلمان او اسلامی مبلغ ؤ (١)

## سلطان نصر لودی

نصر دسلطان حمید اودی زوی دی چه دسلطان حمید تر مړینی وروسته دملتان پاچا شو.

وائی چه نصر په ملتان كښې د ملاحدو (قرمطیانو) له اسمنا څو سره كښېښو ست او له دوی څخه ئې دالحاد او اسماعیلیه فرقی عقائد زده كړل او دده په قول د دوی داعتقاد په كروهیدو او متهم شو، دده تربور شیخ رضی (رح) ده ته یو دنر تنی لیك ولیږه او نصر ئې هسې ځواب ولیك اودالحاد تور یې له ځانه وا ړاوه:

دالحاد په تور تورن سوم — زه لرغون خو ملحد نه یم
زما دښمنه هسې تورا كړی — كه ملحد یم د دښمنه یم
له اسلامه نه تر یلمه — تورا نو څخه په تر یله یم
كروه مې هغه لرغونی دی — او س هم كروړ په لرغو نه یم
داسلام په هسك یه ځلم — وتسو را نو نه تیاره یم

د «حمید» زوی سنتی یم
ده «لودی» لهلوړ كهاله یم

تو رانی د ښن چه وائی — زه له كروهه په آره یم
وا یی تور نسی د رو هوی — زه مؤمن سنسی په نله یم
دد ښنو و ینا وی هغیږه — زه «لودی» یمه څوزه یم (٢)

---

(١) پټه خزانه ٧٠ مخ
(٢) پټه خزانه ٧١ مخ

سلطان نصر دغزني دپاچاناصرالدين سبکتگين ( ۳۶۷ ـ ۳۸۷ هـ ) معاصر او تر ( ۳۹۵ هـ ) پخوا مړ دی ، دده په وخت کښې هم دملتان او غزني دپاچهيو مناسبات خوراښه وو ، دپنجاب دجيپال حکومت او ورنژدې سند ( بهاتيه حکومت ) سره ئې هم دوستانه روابط لرل .(۱)

# قرمطيت او ملتان

دجعفر صادق (رح) يومريي چه ميمون بن ديصان الاهوازي نوميد او په (قداح) اوښاروُ دمحمد بن حسين سره چه په ( زيدان) مشهور ؤ دعراق دواکمن په زندان کښې مل شو او دباطنيه دعوت بنسټ يې سره کښېښود چه له زندانه راووتل (زيدان) دکردستان غرونه وخوت او دکردانو يوقام ئې چه(بدين) نوميد په باطنيه مذهب وګروهاوه (قداح) لمرلويديزو سيموته مخ ونيو او هلته يې دمحمد بن اسماعيل بن جعفر صادق(رح) دزوی په نامه ځان په خلقو وپيژاند(۲) ډيرخلق يې په باطني مذهب وګروهول ، تردوی وروسته (حمدان قرمط ) چه لمړی ئې دکوفی په شاوخوا کښې بزګری کوله دباطنيه دعوت يوستر شخصيت شو. ترده وروسته باطنيان «قرمطيان» ونومړ شول او ډيرقوت ئې وموند قرمطيانو په ټه د (زردشت)دودپاله ، قرآني آيات او نبوی احاديث يې دزردشتي دين په ګټه تأ يلول. ۱۰۰۰

دحمدان وروور (مامون) په فارس کښې داتحريك پرمخ بيوه اودمامونيه فرقې اساس يې کښېښود ابی حاتم د(ديلم) سيموته ولاړ هلته ئې په دومره قوت داتحريك پرمخ بوت؛ چه دمامون الرشيد( ۱۹۸ـ۲۱۸ هـ) په وخت کښې دري لکه ديلميان دبابکی تحريك (۳) (چه له باطني تحريك سره ګډ شو ) پر سيله

(۱) سلطان محمود

(۲) دمحمد بن اسماعيل بن جعفر الصادق (رح) زوی چه ومړ هيڅ اولادئې پاته نه شو.

(۳) بابکی تحريك بابك الخزمي ته منسوب دی چه دمامون الرشيد سپهسالار (افشين) ئې هم مريدؤ، بابك مزدکی طريقه پالله او ترډيرو جنګوو روسته په ۲۲۳ هـ کال دسرمن رای په ښار کښې دمعتصم بالله عباسی خليفه له خوا په دار کړشو.

ودرېدل او ډېر کلونه دبغداد دلښکرو سره وجنګېدل په خراسان (نیشاپور) کښې ددې دعوت بیرغ (شعراني) اوچت کړ، خوژر ووژل شو، نرده ورو سته دا بیرغ محمدبن احمدالنسفي اوابو یعقوب السجزلي (۱) (چه په بندانه مشهور ؤ) په ماوراء النهر کښې پرغاړه واخیست (۲) نسفي د(محصول) په نامه یو کتاب پدې لاره کښې تصنیف کړاو (بندانه) درې کتابونه (اساس الدعوت) (کشف الاسرار) او(تاویل الشرایع) د همدغه باطني تحریك له پاره ولیکل.
مؤرخین وائي: باطني (قرمطي) تحریك دمامون الرشید(۱۹۸-۲۱۸ ه) په زمانه کښې څرګند شواودمعتصم بالله عباسي خلیفه په وختو کښې یې لمنې شاوخواته پسې اوږدې شوې او په خوراچټکۍ سره یې مخ ولاړه. حتی په ۲۸۹ ه کال د(قداح) لمسي (مهرویه) دعباسي خلیفه (معتضد) لښکرو ته په شام کښې کلکه ماتې ور کړه اودبغداد دلښکرو سپهسالار (سبك) ئې ووژه.

په ۳۱۱ ه کال سلیمابن حسن قرمطي یکښې بورته شواو له (بحرین) څخه ئې پر بصره چه دعباسي دارالخلافې (بغداد) په غوزۍ کښې پرته وه بریدو کړ. د(مقتدر بالله) عباسي خلیفه لښکرې ئې ماتې کړې، دبصرې حاکم ئې و واژه اودبصرې مالونه ئې په تالا بحرین ته څنې یوورل په ۳۱۷ ه کال ئې پر مکه معظمه بریدو کړ، حاجیان ئې په طواف کښې ووژل او بر مسلمانانو ئې د بر ناورینونه ورژول(۳) په همدغو کالو (دڅلورمې پیړۍ په لمړۍ نیمائي) کښې چه قرمطیت خوراپه قوت کښې ؤاوهرې خواته ئې بخرکې خپرېدل جیلم (جلم) بن شیبان ملتان ته ولاړ هلته ئې دباطني تحریك بیرغ اوچت کړاوتر ۳٤۰ ه کال وروسته ئې دقرامطه حکومت تینږه هلته کښېښوو له (٤) دبغداد

---

(۱) البیروني د کتاب الهند په ۷۳ مخ کښې کله چه د تناسخ بحث ته راغلی دی د کشف المحجوب دمؤلف نوم ئې ابو یعقوب سجزي ضبط کړی دی.

(۲) دادواړه داعیان هم وژل شوي دي (دفرید وجدي دائرة المعارف اوم جلد ۷۱۵ مخ )

(۳) دمحمد فرید وجدي دائیرة المعارف ۷ جلد

(٤) عرب وهند کی تعلقات ۳۲۸ مخ

د خلافت له ونډه څخه ئې دملتان دحکومت غاړه وښباله (١) هغه لوی مسجد ئې چه غازی محمد بن قاسم ثقفی دلمړی هجری پیړی په پای کښې هلته ودان کړی ؤ داموی خلافت پرضد بند کړاو دهندوانود (سورج دیوتا) لویه اوخورا مشهوره بتخانه (چه داصطخری په قول له لیرو لیرو ځایو به ئې هر کال هندوان زیارت له ورتلل دملتان داسلامی حکومت یو ستر رقم عایدؤ او غازی محمد بن قاسم ثقفی هم په دغه غرض پرې ایښې وه) وړ واله او دهغې پر ځای ئې خپل نوی لوی مسجد ودان کړ (٢) بغدادی ابن حوقل چه په ٣٦٧ ه کال ملتان ته راغلی دی په خپله سفرنامه کښې لیکی: « د ملتان خلق شیعه دی په اذان کښې (حی علی خیر العمل) او په اقامت کښې دوه ځلا تکبیر وائی (٣) په ملتان کښې خطبه دمصر دفاطمی حکومت (٤) پرنامه ویله کیږی او دهغه په امر دې ځای انتظام کاوه شی. له ملتانه تحفې اوسوغاتونه ورلیږل کیږی (٥) دملتان سکه دمصر دفاطمی سکې په ډول جوړه شوې دی، مګر زیاتره هلته قنهریات (چه دتاریخ هند دمصنف مسټر الیټ په نظر کښې قندهار بات یعنی په قندهار کښې جوړې شوی سپکی دی) چلیږی (٦)

## ابو الفتوح سلطان داؤد لودی

چه دسلطان حمید زوی (سلطان نصر) ومړ پر ځای ئې زوی (داؤد) دملتان پر تخت کښېنوست، دده په وخت کښې دسبکتګین په مرګ چه په ٣٨٧ه کال یا ٩٩٧ عیسوی کښې پېښ شو دغزنی او ملتان دپاچهیو مناسبات سره وران شول

---

(١) سلطان محمود

(٢) کتاب الهند البیرونی ١١ باب ١٥٠ مخ (٣) عرب وهند کې تعلقات ٣١٢ مخ داحسن القاسم مقدس د ٤٨١ مخ په حواله (٤) د مصر فاطمی دقرمطی حکومت په ٣٥٨ه کښې جوړ شو او په ٣٦١ ه کال ئې پایتخت دافریقی له منځه څخه مصر ته را نقل کړ او دشیعیانو لوی مرجع شو (عرب وهند کې تعلقات ٣٣٣ مخ)

(٥) عرب وهند کې تعلقات ٣١٢ مخ داحسن القاسم مقدس د ٤٨٥ مخ په حواله .

(٦) عرب وهند کې تعلقات ٢٣٣ مخ

او دغزني پاچا سلطان محمود (۳۸۷-۴۲۱ ھ) پر ملتان بریدونه وکړل (۱) د بریښتانه یی وو زل (۲) په ده پسې وائی چه ابوالفتح داوښتی ؤ او خپل رعیت ئې هم هغو بدو عقیدو ته بلل (۳)

## دسلطان محمود لمړی برید

وائی: سلطان محمود چه په ۳۹۵ ھ کال د (بهټندي) له سوبې څخه غزنی ته راستینده؛ وي غوښتل چه خپلی لښکري دملتان له لاري د ګومل پر وت «دره» لنډې غزنی ته ورسوی، خو ابوالفتوح (سلطان داؤد لودی) دملتان او کسی غره پاچا دسلطان محمود لښکری پری نه ښوواي چه دده له خاوري څخه غزنی ته تیری شی ځکه نو سلطان محمود دملتان دپاچهی رنګوالو ته لیځی راوغښتلی (۴) له هري خوا څخه ئې لښکری راو غوښتلی (۵) او د ۳۹۶ ھ کال په پسرلی ئې دپیښور له لاري دغزني لښکری دملتان بریدلره وخوځواي او دوبهند له پاچا «انندپال» څخه ئې وغوښتل چه دغزني لښکرو ته دده په خاوره کښې ملتان ته دتیریدلو اجازت ورکړی «انندپال» نه وکړه دملتان دپاچهی پرسیله «حمایت» کلک ودریدا او دغزني دلښکرو مخ نیوی لره ئې خپلی لښکري پیښور ته وخوځواي، لښکری سره مخامخ شوي، جنګ ونښت، دو بهند لښکرو ماتی وکړه «انند پال» د کشمیر خواو ته وتښتید، سلطان محمود تر چناب وریسی ؤ، انندپال چه د کشمیر غرو ته ځني وخوت دغزنی لښکرو ملتان ته مخه وکړه «۶» سلطان داؤد چه خبر شو خپلي لښکري ئې په ملتان کښې بریښوولي

(۱) سلطان محمود ۱۰۲ مخ
(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد
(۳) په خزانه ۲۴۹ مخ دابن خلدون او ابن اثیر په حواله او دابو نصر بن عبدالجبار عتبی دتاریخ یمینی د ۲۸۹ مخ په حواله
(۴) حیات سلطان محمود ۱۰۳ مخ مګر ابن اثیر پخپل تاریخ الکامل او ابو نصر بن عبدالجبار عتبی په تاریخ یمینی کښی د برید سبب داسی لیکی: «په ۳۹۶ ھ کال سلطان محمود ته داخر ګنده شوه چه دابوالفتوح اعتقاد وران شوی دی او خپل رعیت هم دغې بد اعتقادی ته بولی او هغوهم دا بلنه منلی ده، ځکه نو سلطان لښکری پر ورو بهولی»
(۵) تاریخ یمینی ۲۹۰ مخ
(۶) حیات سلطان محمود

او پخپله له غزنو سره (۱) دا با سین یوې جزیرې (۲) ته ولاړ . دسلطان محمود لښکری چه ملتان ته ورسیدلې دسلطان داؤد لښکرو دښار ورونه ور ته وړل او ملتان کلابند شو.

تراوو ورځو کلا بندۍ وروسته خلق ترمنځ سره وګرزیدل، پردې روغه وشوه چه دملتان پاچا به په کال شل زره سره درهمه په هل بلاد غزنی حکومت ته ورکوی (۳) دښار ورونه چه دغزنی دلښکرو پرمخ وبر انیستل شـول سلطان محمود توره وکښه او هومره سری « قرمطیان؟ » ئې ووژل چه دملتان دښار نرلاهوری دروازې وینې راوبهیدلی اودسلطان لاس دتوری په موټی پوری له وینو وینو ښخه هسی نښتی ؤچه څو تودې او به ئې پر توی نه کړې بیل نه شو د (٤)

سلطان تردغې روغـې وروسته بیاهم خیال درلود چه د ملتان شاوخوا و نیسی ؟

خوځکه چه پرخراسان دایلك خان تر کمن دبرید خبر را غی ملتا ن ئې پرېښو د او په منډه غزنی ته ستون شو (٥) ابوالفتوح سلطان داؤد بیرته ملتان ته راغی او د حکومت وا کی ئې واخیستلې .

## دسلطان محمود دوهم برید

په ٤٠١ هـ کـال سلطان محمود بیا د غزنی لښکر ی پرملتان ورو بهولی ملتان ئې و نیو ډیر میرونه ئې ووژل او ډیر اوسونه یې وځپل، ډیر نـا متو مشران یې به کـلاو کنبی بندیان کړل چه هلته پسی ومړل! په خپله سلطان داؤد لودی ئې بند ی غزنی ته راوست او دغورك به کـلا کښی ئې چه دقندهار شمال غربی لورته ٥٠ میله لیرې پرته وه) تر مر کـه بندی کړ (٦) په دې صورت دلودیو پښتنو منظمه پاچهۍ پای ته ورسید له .

---

(۱) تاریخ یمینی ۲۹۱ مخ
(۲) تاریخ یمینی لیکی چه ابوالفتوح سراندیب ته ولاړ. مګر دا خبره بیخی صحیحه نه ښکاری .
(۳) زین الاخبار ګردیزی ٥۳ مخ او د یمینی تاریخ ۲۹۱ مخ
(٤) سلطان محمود ۱۰۳ مخ د عتبی دأب الملوك په حواله .
(٥) سلطان محمو د ۱۰٤ مخ (٦) زین الا خبار ګرد یزی ٥٥ مخ

### د سلطان محمود دریم برید:

که څه هم دپښتنو منظمه پاچهي په ملتان کښې ړنګه کړه شوه خو بیاهم دغزنی او آباسین ترمنځ قبائلو پښتنو (۱) به تل دغزنی دپاچهې پرور یورو سرحدو نو برید و نه کول او له هغو کاروانو څخه به ئې چه دهندوستان او خراسان ترمنځ تلې اوراتلې؛ باج اخیست. حتی په ۴۰۹ ه کال چه سلطان محمود دقنوج له سویې «فتح» غزنی ته راستون شو؛ دوی لاره ورنه نیولی وه؛ ځکه نو سلطان محمود د ۴۰۹ ه کال په پای کښې دبلې خوا حرکت په پلمه او آوازه ناڅا په دغزنی لښکرې پردوی ورو بهولی او ناخبره ئې پرمېنو گیر کړل! داسې ئې بې شمېره ووژل چه دمورخینو په شهادت بې له ښځو، وړو او لږ و میرو نور څوك ژوندی پکښې پا نه نه شول (۲) تول دغزنی دلښکر و تر تیغ و ختل. او بیا سره تیت او پرك کړه شول (۳) خودا تر تیغ ختلی مکرنه مړ کید و نکی اولس (۲۲) کاله وروسته بیا دومره غښتلی شو چه د سلطا ن محمو د زو ی سلطا ن مسعود بې مجبور کړ چه خپل زوی (مودود) ددوو زرو سپرو سره ملتان ته او (امیر ایزدیار) د څه لښکرو سره د کسي غره ته دپښتنو دایاو لوله پاره ولیږ ی (۴)

## غازی ملك سلیمان لودی

ملك سلیمان دسلطان ابوالفتوح داؤد لودی ترېور ؤ. په ۴۰۱ ه کال چه سلطان محمود غزنوی ملتان دلودیو له لاسه وکیښ، ده نه ئې په درنه سترګه وکتل او په خپلو امراؤ کښې بې شامل کړ. سلطان محمود غزنوی له لودی تبر څخه، دده په وسیله د هندوستان په جنگو کښې لوی کار و نه واخیستل

---

(۱) بیرونی د سلطان محمود د معاصر مورخ په خپل کتاب الهند کښې لیکی: د هندوستان په لمر ختیزو غرو کښې چه پای ئې پرسند پوری نښلی پښتنی قبیلې اوسی. او تاریخ یمینی صراحتاً دپښتنو په نامه د غه مقام ضبط کړی دی (ص۴۲۶ تاریخ یمینی)
(۲) حیات سلطان محمود ۸۰- ۸۱ مخ
(۳) تاریخ یمینی ۴۲۴ مخ (۴) زین الاخبار گردیزی ۸۷ مخ

دسومنات «۴۱۶ هـ کال» په غزا کښې ملك سليمان ددولسوزرو پښتنو سېر و مشراو دسلطان تر ټولو معتمدجرنيل ؤ. دسومنات په سيمو کښې يې د سلطان محمود سره د ړې کاله د قدرو وړ خدمتو نه وکړل (۱) چه سلطان له سومناته څخه راستون شو، ملك سليمان او نورو پښتنو مشرانو ته ئې زرين موتي تورې اودرانه خلاتونه ورکړل او خپلو ميېنوته ئې رخصت کړل (۲).

## کوچنی (داؤد) لودی

دمصر فاطمی خليفه (الحاکم بامرالله) (۳۸۶ - ۴۱۱ هـ) په مصر او شام کښې دقرامطه و يوه بله ډله د(دروزی) په نامه راوايستله چه تراوسه پورې په شام او لبنان کښې شته (۳) ددغې ډلې يوه واکمن دغازی سلطان محمود ترمړينې وروسته په ۴۲۳ هـ کال دملتان اوسند دقرامطه و په نامه داسې يوليك ورليږلی دی :

«دملتان اوهندوستان موحدينو! په تيره بيا دسومرراجه بل زوبه شيخه! خپله کورنی او ياخوه! هغه (کوچنی داؤد) چه اوس اوس مسعود (سلطان مسعود) له بنده خوشی کړی دی او تو به ئې کښلې ده؛ خپل پاك دين ته راوګرځوه! نه موو تا کلی چه دده له خوريي (عبدالله) او دملتان له اوسيدونکو سره وجنګيږی چه د تقديس او توحيد منونکی دجهل ضد، سر تمبه ګی او بغاوت پرډله بريالی شي (۴) مرحوم علامه سيدسليمان ندوی دغه کوچنی داؤد چه په پورتنی ليك کښې ذکر شوی دی، دابوالفتوح داؤد زوی او دملتان واکمن «عبدالله» چه په ليك کښې ذکر دی د کوچنی داؤد خوريي اودابوالفتوح داؤد لمسی بولی (۵).

---

(۱) خان جهان لودی ۳مخ اومخزن افغانی قلمی ۱۳۰ مخ

(۲) مخزن افغانی قلمی ۱۳۰ مخ

(۳) عرب و هند کښې تعلقات ۳۲۵ مخ

(۴) عرب وهند کښې تعلقات ۳۵۲ مخ

(۵) عرب وهند کښې تعلقات ۳۵۴ مخ

# ملك محمود لودی

په ۵۸۳ هـ کال چه سلطان شهاب الدین غوری (رح) پرهندوستان اښکری ورو بهولی، ملك محمود لودی پښتانه جرنیل ته ئی دولس زری فوځ په لاس ورکړ اود خپلو درنو لښکرو سرلاری (قراول) بی وتاکه دملك محمود فوځ به یو یو مزل دسلطان تر اښکرو دمخه تلی؛ څولا هورته ورسیدل اولاهور ئی دغزنویانو دوروستی پاچا «خسرو ملك» له لاسه وکیښ. او دی ئی بندی غورته راولیږه. وائی په دغه جنګ کښی ملك محمود ښه توره کړې وه سلطان چه غزنی ته راستون شوه زښت ډیر ئی ونازاوه او دخپلی پاچهی ربوه خورا درنه عهده ئی ورو سپارله (۱)

## ملك شاهو لودی

ملك شاهو دمحمود ورور دی په ۵۸۳ هـ کال چه سلطان شهاب الدین غوری له هندوستانه شخه سوبه وری غزنی ته ستنیده په لاره کښی ئی د «سیالکوټ» دکلانیزه کښینولو او دغو دوو کالو په ترڅ ملتان دخوځیدو او ددغی کلا دودانی کار ئی ده «ملك شاهو» ته وسپاره (۲).

## شیخ احمدلودی (رح)

شیخ احمد دسعید زوی په قام لودی پښتون په ۶۸۶ هـ کال بی «اعلام اللوذعی فی اخبار اللودی» په نامه یو کتاب کښلی دی چه کامران خان سدوزی پخپل کتاب «کلید کامرانی» کښی له هغه شخه اقتباسات کړی دی. (۳)

## سلطان فخرالدین لودی

غیاث الدین تغلق دډهلی پاچا «۷۲۰ ـ ۷۲۵» تاتار خان نامی یو امیر دبنګال دیوی لتی چه «ستار ګاون» نومیده واکمن وتاکه؛ په ۷۲۹ هـ کال چه غیاث الدین تغلق ومړ او پرځای ئی سلطان محمد تغلق کښینوست، تاتارخان

---

(۱) مخزن افغانی قلمی ۷۶ مخ

(۲) مخزن افغانی قلمی ۷۶ مخ

(۳) پټه خزانه ۶۷ مخ

ته ئې دبهرام خان لقب ورکړ، سلهاتیان ، زرآسونه، یوکروړ سرې تنګې اوچترې ورو ښانده، علاوه پر «ستار ګاون» ئې دبنګال واک هم ده ته وسپاره (۱) همدغه ملك بهرام خان په ۷۳۹ ه کال په ستار ګاون کښې ومړ دده تر مړینې وروسته دده سپهسالار «ملك فخرالدین لودی» دستار ګاون پر حکومت غښتر راو ګرزوله (۲) دلکهنوتی «بنګالی» تغلقی حاکم ملك بیدار خان خلجی «چه قدرخان ئې لقب ؤ» داونه منلای شوای او دملك فخرالدین جنګ ته یې لیږلی راو غښتلی په جنګ کښې قدر خان وو اژه شو ملك فخر الدین لودی دلکهنوتی پر تولو خزانو، درست بنګال او سنګام قبضه وکړه په ستار ګاون کښې ئې د سلطان فخرالدین په نامه دخپلوا کۍ نغاره وډنګوله (۳) خطبه ئې پر خپل نامه کړه (٤) په ۷٤۱ ه کال (٥) سلطان محمد تغلق «۷۲۹-۷۵۲» دحاجی الیاس علایی په بلنه «چه بیا په شاه شمس الدین بهنګره مشهور شو» دډهلی لښکری دعلی مبارك چه دسلطان فخرالدین تروږلی وروسته د سلطان علاء الدین په نامه د بنګال پاچا شو تر مشرتابه لاندی د سلطان فخرالدین خپلو لره پر بنګال ورو بهولی په جنګ کښې ئې هغه فخرالدین چه دسیر المتاخرین په شهادت ئې دوه کاله او څو میاشتې دبنګال خپلواك حکومت لاره و نیواوو ئې واژه، ظفرخان لودی زوم ئې «چه دسلطان حمیدلودی له کورنی ؤ» دبنګال دخلیج کښ «ساحل» ته وتښتید (٦) سلطان فخرالدین لودی لمړی سړی ؤ چه هغه بنګال ئې چه د قطب الدین ایبك «۶۰۲-۶۰۷» له وخته ۱۵۶ کاله پر له پسی دډهلی په حکومت پوری تړلی ؤ له پایتخته بیل او دلود یو خپلوا که پاچهی ئې پکښې اعلان کړه (۷) عصامی د فتوح السلاطین په ٤۷۲ مخ کښې دسلطان فخرالدین ذکر داسی کوی:

یکی مرد کش فخردین شد لقب — به لکهنوتی او کر دشور وشغب
پس از نقل بهرام خان گزین — بر آورد چتری همان فخر دین

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۳۳ مخ (۲) خان جهان لودی لومړی جلد ۳ مخ
(۳) سیرالمتاخرین (٤) (٥) تاریخ فرشته دوهم جلد ۲۹٥ مخ
(٦) خان جهان لودی ۳ مخ (۷) سیرالمتاخرین ۱۱۷ مخ

# لوی خان ظفر خان لودی

ظفرخان لودی دملك فخرالدین لودی زوم چه د بنګال په جنګ کښې دبنګال دخلیج کښ تهراتر شاشو دترو، او بوله لاري ئیخان د دیبل بندر (کراچی) تهورساوه او له کراچۍ څخه کسی غره (کوه سلیمان) تهوخوت (۱) په ۷۵۲ ه کال چهدهلي پاچاسلطان محمد تغلق ومړ (۲) سلطان فیروزشاه (۷۵۲ـ۷۹۰) تربورئې پرځای کښېنوست. دفیروزشاه په وختو کښې هغـه حاجی الیاس علایی چه ددهلی لښکرئې دملك فخرالدین لودی ځپلو لره بنګال تهبللی او ترملك فخرالدین وروسته دبنګال واکمن تا کلی شـوی ؤ دشاه شمس الدین پهنامه په بنګال کښې دځپلوا کۍ نغاره وډنګوله او تـر بنارسه پورې ئې تولې سیمې ونیولې (۳ ځکه نود ۷۵٤ ه کـال د کوچنی اختر پهمیاشت سلطان فیروزشاه خپلې لښکرې دحاجی الیاس ځپلو لره پر بنګـال وروبهولې خومګر نا کام ځنې راستون شو.

**فیروزشاه ته ورتګ :**

ظفر خان چه پدی ټکل خبر شو په ۷۵۸ ه کال ئې د خپل قام له یوی لوئی ډلې سره چهزرسپاره اوډېر پلي ؤ (٤) له کسي غره څخه ډهلی تهځن ورساوه اوپهحصار فیروز کښې (۵) دسلطان فیرزشاه چه پښتو اوپښینو الی ته یې په درنهستر ګه کتل (٦) دربارته ورغی (۷) بوپادوه (۸) پیلان ئې دسوغات په تو ګهوړاندی کړل او دبنګال دحاجی الیاس شاه شمس الدین علا یی له لاسه ئې خاوری پرسر باد کړې، سلطان فیروز شاه دی ډاډه کړاوډېر ئې ونازاوه، دبرش زره ننګکی ئې په هغه آن دهغه وخت له دوده سره سم د سر

---

(۱) خانجهان لودی ۳مخ (۲) تاریخ فرشته ۱٤۳مخ

(۳) مأثررحیمی لمړی جلد ۳٦۸مخ

(٤) تاریخ فیروز شاهی ۱٤۱ مخ (۵) تاریخ فیروز شاهی ۱۳۹ مخ (٦) تواریخ خورشید جهان ۷۲ مخ

(۷) تاریخ فیروز شاهی (۸) مأثر رحیمی لمړی جلد ۳٦۹ مخ

او کالو پربوللو په نامه‌ورو بخښلي . ده‌او ملګرو ته یې خوړا درانه‌خلاتونه ور کړل. د څلور لکو ټنکوجاګیر یې ور لره و تا کـه، دظفر خان خطاب ئې ور کړ او په تخت پورې یې کین لاس ته‌دوزارت پر مسند کښېناره (۱)

### خان‌جهان ته ورتـګ :

دسلطان فیروزشاه دې‌تولو نازولو دظفر خان دښېښتني کسات او انتقام اورسوړ نه کړای‌شو، په‌سبا چه‌دربار ته ورغی‌بیائې له‌حاجي الیاس شاه شمس الدین څخه د کسات اخستلو له‌پاره له‌سلطانه څخه مرسته وغوښتله‌سلطان چه دظفرخان پر له اپښیدونکي ورځ ولیدله، نوئې دې ډهلي ته خپل خور اور تیروزیر اسلامي خان‌جهان (مقبول) لره چه په‌هندوتوب کښې ئې نوم (کنو) ؤ ولیږه او دبنګال د برید له‌پاره ئې د تیاری حکم ور کړ ظفرخان چه‌ډهلي ته‌ورغی‌خان جهان هم خوراونازاوه، ډاډه‌ئي کړ او په‌هغه شنه چتر کښې ئې چه خاص دسلطان له‌پاره دسیرې په کلا کښې ولاړؤ ځای ور کړ .

### دبنګال برید :

ظفرخان چه په‌ډهلي کښې څو ورځې تېرې کړې سلطان فیروزشاه هم بسې ورغی او دظفرخان په‌لمسون ئې لکهنوتی (بنګال) ته لښکر ې وخوځولي، په لار کښې ئې دخپل تربره (جوناخان) پر نامه د(جونپور) ښار په‌شپږمیاشتې ودان کړ، بیانو په ۷۵۹ هـ کال لکهنوتی ته‌پسې ورتیر شو، په‌دغو ورځو کښې د لکهنوتی باغی پاچا [حاجي الیاس شاه‌شمس الدین] ومړ او پر ځای ئې زوی [سکندرشاه] کښېنوست، سکندرشاه چه‌په‌ځان کښې دمیداني جنګ واك نه‌لید، په [اکدالـه] کښې کلابند شو، دډهلي لښکروشاو خوا ورته واړول په ۷۶۰ هـ کال ئې ۴۰ پیلان دسلطان فیروزشاه دربار ته دروغې له‌در خواست سره وړاندې کړل اود [ستار ګاون] بېرته ور کول ئې ظفرخان لودې ته‌ومنل، مګر ظفرخان دملګرو په‌سلاد [ستار ګاون] ترپاچهۍ دسلطان فیروزشاه‌وزارت غوره کړاوسلطان چه لښکري ډهلي ته‌ستنې کړې، دی هم ورسره راستون شو (۲)

---

(۱) تاریخ فیروز شاهی ۲۸۶ مخ او ۱۴۱ مخ

(۲) تاریخ فیروز شاهی ۱۴۸ مخ

**دټټې برید :**

په ۷٦٥ هـ کال چه سلطان فیروزشاه دسند هیانو په جنګ کښې خپل بری نه لیداو له ټټې ښخه ئې ګجرات ته دستنیدلو تغاره ووهله خان اعظم ظفرخان لودی ئې له خپل فوځ سره دسند هیانو مخ نیوی لره و ګماره چه ترشا پر سلطانی لښکرو برید ونه کړی، پخپله ئې ګجرات ته مخ ونیو او په یوه ورځ ئې اس مزله لاروو هله، سند هیان چه په خبر شول، لښکرې ئې پسی راوخوځولې، ظفرخان ئې مخه و نیوله، کلك جنګ ونښت، ظفرخان پخپل پښتني فوځ هغو سند هیانو ته چه سلطان له تو او لښکرو سره ځنې وځغستل او ماتې، ورکړه او ددوی ډېرې کډکرې ئې دسلطان دربار ته ولیږلې (۱)

لودي پښتنا

**د ټټې دوهم برید او دګجرات حکومت :**

په ۷٦۹ هـ کال چه سلطان فیروزشاه دوهمه پلا له ډهلې څخه ټټې تـه لښکرې لیږدولې، دګجرات حکومت ئې (ظفرخان لودی) ته وسپاره او دی ئې هم له ځانه سره جنګ ته بوت، سلطان چه له خپلو لښکرو سره دسنده درودیه غاړه دټټې پر برابرې واړول، هرڅه چه ئې وکړل دسند هیانو له لاسه ئې دسنـد ترسین خپلې لښکرې نه شوای ورپورې ایستلای، نوئې ظفر خان لـودی او عمادالملك وګمارل، پر هرځای چه ممکنه شی لوړې خواته به ترسین پورې وزی، او پر سند هیانو به یرغل وروړی، ظفرخان او عمادالملك خپلې لښکرې ۱۲۰ کروه بیرته لوړې بوتلې او تر [بهکر] کښته ترسین ورپورې وتل، سند هیان ئې پسی راواخستل او دټټې په کـلائی ننه ایستل، مګر په دغه وخت کښې سلطان چه دسین پر هغه غاړه ورته پروت ؤ، بیرته دوی راوبلل، دوی هم پر هغه لار چه راغلی وو، بیرته یا چاهی لښکروته ستانه شول [۲]

**دظفرخان مړینه:**

ظفرخان په ۷۷٥ هـ کال دګجرات په حکومت کښې ومړ [۳]

---

(۱) تاریخ فیروزشاهی ۲۰۷ مخ

(۲) تاریخ فیروز شاهی ۱۲٥ مخ ښخه تر ۲۳٤ مخه پورې (۳) خان جهان لودی ۳ مخ

# ملك قطب الدين لودی

ملك قطب الدين دخان اعظم لمړی ظفرخان وروړ ؤ دفیروزشاه ددربارله لویو امیرانو څخه شمیرل کېده په ۷۶۰ هـ کال چه سلطان فیر وزشاه خپلې لښکری له بنګاله څخه راستنې کړې او دبرسات تاېی ئې په جونپور کښی تیر کړ دبهار له لاري ئې د(جاجنګر) په نیامت چه د[ ګړه کټنګه ] دولایت ر و ستی برخه وه؛ خپلی لښکری وخوځولی (کړې) ته چه ورسید؛ درنې لښکرې ئې د ملك قطب الدین ترمشرتا به لا ندی پر ښېودلې، پخپله ئې دیوه تکړه مګرسپك فوځ سره پر (جاجنګر) برید و کړ (۱) له ۱۰۰۰۰

# دریاخان لودی (دوهم ظفرخان)

د ګجرات وا کمن لوی خان ظفرخان لودی چه په ۷۷۵ هـ کال ومړ سلطان فیروز شاه ده زوی دریا خان ته د(ظفرخان) خطاب وښانده اودپلار پرځای ئې د ګجرات په حکومت و ګماره (۲) کوم مسند (چوکۍ) چه په پاچاهی دربار کښی کیښ لورته په تخت پو ری مړه ظفرخان لره تا کلی شوې وه؛ هغه هم ده‌ته ور کړه شوه. ده شو کاله د ګجرات نائب الحکومګی په خوراښه تو ګه وچلوله (۳) په ۷۷۸ هـ کال چه د(مهوبې) دسیمو خلق سلطان فیروزشاه ته پورته شول؛ نوسلطان له دریاخانه څخه د ګجرات حکومت واخیست او دی ئې دمهوبې دیاغیانو ځپلو لره و ګماره اودهغو سیمو حکومت ئې ورته ور کړ (٤) د ۷۸۷ هـ کال پای ته دفیروز شاه (چه دېر زوړ شوی ؤ) وزیر خان جها ن چه داسلامی خان جهان (مقبول) زوی او دسلطان د اتلسو کلو راهیسی وزیرؤ (۵)

---

(۱) مأثر رحیمی لمړی جلد ۳٦۱ مخ

(۲) خان جهان لودی ۳ مخ

(۳) تاریخ فیروز شاهی ۲۸۱ مخ

(٤) خان جهان لودی ۳ مخ

(۵) تاریخ فیروز شاهی ٤۲٦ مخ

د بر واك وموند، پاچائي هري خبري تهغوزنيوه، دغه خان جهان ددي لپاره چه نور قدرتونه له منځه وباسي؛ وغوښته چهد پاچا زوی (شهزاده محمدخان) او ظفرخان لودی، پاچاته تور کړی او په دي توګه ئی له منځه وباسي؛ ځکه ئی نو په ۷۸۹ هـ کال سلطان فیروزشاه ته وویل: «ستا زوی (شهزاده محمدخان)، دوهم ظفرخان لودی (دریاخان)، ملك سماءالدین، ملك يعقوب او ملك کمال ستا دپاچهۍ درنګولو له پاره ترون سره کړیدی او وخت ته ګوری.» سلطان بی لهدي چهدا خبره سره ویلټی سمدستی ئي ددوی دنيولو حکم ور کړ. خان جهان ترټولو د مخه ظفرخان ته (چه دده ترټولو غښتلی حریف ؤ) لاس ور واچاوه او دمحاسبي پهپلمه ئی له (مهوبي) څخه راوغوښت، ظفرخان چه ډهلی تهراورسید سمدستی ئي په خپل (دخان جهان) کور کښي بندی کړ، شهزاده محمد خان چه دظفرخان په بند اود خان جهان په دسیسه خبر شو، دشپي پلارته ورغی او خان جهان تهئی هسی ویاراوه چه سمد ستی ئي د خان جهان دوژلو اود ظفرخان دخوشی کولو حکم ئی ځنی واخیست او پههغه شپه ئي دخان جهان پر کور بريدو کا خان جهان چهخبر شو د ستی ئي دوهم ظفرخان (دریاخان لودی) ووژه او پخپله ترټپی کیدلو وروسته میوات ته وتښتید (۱) دشهید دریاخان (چه ده وژله دتغلقی پاچهۍ دزوال مقدمه شوه) داځلور غښتلي اوتوریالی زامن پاته شول (۲)

[۱] محمودخان (غالباً ترټولو وروښو مشر دی، ځکه چه دده زوی دملوخان همز ولی دی)

[۲] سارنګ خان

[۳] ملوخان (اقبال خان)

[٤] عادل خان

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱٤۹ مخ

(۲) خان جهان لودی ٤ مخ

# سارنګ خان لودی

سارنګ خان ددوهم ظفرخان (دریاخان لودی) زوی دی چه تر ٧٥٩ﻫ کال پخوا زیږیدلی دی. عبدالباقی سهاوندی ئې نوم (ملك مبارك) او خطاب ئې [سارنګ خان] بولی چه سلطان محمود د خپل تخت نشینۍ په وخت کښې ورکړی دی (١) په ٧٩٦ﻫ کال چه ناصرالدین محمود شاه د ډهلی پاچاشو؛ سارنګ خان یې ددیپالپور واکمن وټاکه. عبدالباقی سهاوندی لیکی چه د ملتان او سند حکومت ئې هم ورسره ور کړ (٢) سارنګ خان سمدلاسه د ملتان له سیمو لښکرې سره راغونډې کړلې او له کمال میں، رای داؤد او رای خلجین سره ئې (٣) د شیخا ګکهر جنګ ته «چه په دغو وختو کښې ئې لاهور نیولی ؤ» مخ ونیو شیخا ګکهر (کهوکر) له اجوده څخه له خپلو لښکرو سره راووت لاهور ته ١٢ میله نږدې دواړه لښکرې سره مخامخ شوې، سارنګ خان هسې میړانې وکړې چه غنیم لو ئې تر ډېر و ختو پورې نوم په ادوم اخیست ګکهړو ماتې وکړه او (شیخا) په لاهور ځنې ننووت، د شپې له مخې له کوره مې سره د (جمون) غرو ته ورخوت سارنګ خان توریالی سبا د لاهور په ښار ننوت (٤) د لاهور واك ئې خپل کشر ورور (عادل خان) ته وسپاره او پخپله «دیپالپور» ته ستون شو (٥) په دغو وختو کښې په ډهلی او فیروز آباد کښې (چه درې کروه سره لیرې ؤ) دپاچهی بیرغونه سره پورته شول او د شاهی کورنۍ غړی یو په بل سره راوغورځیدل، سارنګ خان توریالی هم په ٧٩٨ﻫ کال له دیپالپوره څخه پر ملتان بریدو کړ، ملتان یې ونیو او د ملتان تغلقی حاکم خضر خان (چه بیا د ډهلی پاچاشو) د میوات غرو ته ځنې وتښتید او تر څو چه

(١) مأثر رحیمی لمړی جلد ٣٨٩ مخ
(٢) ماثررحیمی لمړی جلد ٢٦٠ مخ
(٣) ماثر رحیمی لمړی جلد ٣٨٩ مخ
(٤) ماثر رحیمی لمړی جلد ٣٩٠ مخ (٥) روضته الصفا ٦ جلد ١١١ مخ

کوډ تیمور پرهند یرغل کاوه؛ هلته پټ ؤ. د ۷۹۹ هـ کال درو ژي په میاشت (سامانې) ته مخه وکړه. د نصرت شاه له خوا د سامانې حاکم (عالی خان) یاني پټ ته ځني و تښتیداو «سامانه» هم د سارنګ خان تو ریالی ترو اك لاندې شو .

دفیروز آباد (۱) پاچا نصرت شاه چه داواروید ، د ۸۰۰ هـ کال په لمړيو ورځو کښې بې خپلې لښکري دیانيپټ د حاکم تاتارخان (چه ددهٔ وزیر ؤ) او ملك الیاس تر مشرتا به لاندې د سارنګ خان جنګ ته ولیږدولی. د ۸۰۰ هـ کال د محرم مي پر ینځلسمه؛ «کوتلی» ته نژدې لښکري سره مخامخ شولی.

(۲) سارنګ خان تر بوه کلك جنګ وروسته ملتان ته ترشا شو. ملك الماس سامانه و نیوله او عالی خان ته ئې بېرته وسپارله (۳) په دغه وخت کښې کوډ تیمور خپلې ۹۲ زره لښکري له کابله د هند یرغل لره را و خوځولی او پیر محمد لمسی ئې «چه د قندهار اوغزني حاکم ؤ» د کسي غرو د پښتنو تر ځپلو وروسته له د پر شوزرو لښکرو سره د ۸۰۰ هـ کال د لمړي خور په میاشت تر آباسین وریوري وت (٤) اود اوچ) پر کلائي برید وکړ د سارنګ خان له خوا داوچ حاکم «ملك علی» کلا بند شو .

سارنګ خان توریالی خپلې ٤۰۰۰ ونلي سپار (٥) د ملك تاج الدین ترمشرتا به لاندې مرستې لره ورولیږل؛ د کوډ تیمور لمسی پیر محمد چه داواورید له د بیاه (٦) دسین پر ژړه ئې لاره ورته و نیوله جنګ و نښت ، ملك تاج الدین ماته وکړه د یر پښتانه میړو نه د مغلو په تورو مړل او ډیر غښتلي د بیاه په اوبو کښې ډوب شول ملك تاج الدین په بده روځ ملتان ته ځان ورساوه پیر محمد مغل

---

(۱) دفیروز آباد ښار سلطان فیروز شاه ودان کړی ؤ داښار له (باره هند وراو) څخه ترنوی ډهلي او اوسني زاړه ډهلي او بیا دجمنا ترغاړې پوري آبادؤ ددې ښار نخښي (دفیر وز شاه کوتله) او کابلي دروازه پاته دي- کابلي دروازه هغه دروازه ده چه په ۱۸۵۷ ع کال انګر یزانو مغلي شهزادګان هلته ووژل (دخان غازي یادداشتونه) (۲) (۳) (٤) ما ثر رحیمی

(٥) ما ثر رحیمی لمړی جلد ۳۹۲ مخ

(٦) بیاه = بیاس

ساه لنډې پسې وروړسید سارنګ خان د ملتان په کلا کښې شپږ میاشتې کلا بندي وګالله هره ورځ بهجنګ کیده پای ته چه خوراك وڅکاك لره څه پاتهنهشول سارنګ خان دخپلو لښکرو سره تر کلاراووت پیرمحمدمغل سمدلاسه دلښکرو سره بندي کړاو ملتان ئې ونیو. مګرسارنګخان توریالی دمغلو اسارت کله ګاللای شو؟ دیرژرله بندهوغورځید او دپیرمحمد پرلښکرو ئې دګوډ تیمور ترراتللو پورې په ملتان کښې په دارو مځکه هسې سره کړه (۱) چه ترڅو چه ئې دتیمور لښکرې په سرستهور رسیدلې بریالیو مغلو په کلا بندي ګالله اودبااندی ئې سترګې نشوای ښکاره کولای. درو ضته الصفاء په شپږم جلد کښې لیکلی دي

«دبرسات تاپی چهشو؛ دپیرمحمد مغل لښکری قولی دملتان پهښار ننوتلی دشاو خوامشران پرراو غور ځیدل هرهرځای ئیدمغلو داروغه ګان ووژل آسو نه به ئې ځینې بیول او دشپې بهئې دارې وهلې په مغلو پورې ئې ژوند تریخ کړیؤ» په هرصورت د سارنګ خان توریالي عمرڅیر نهؤ او ګوډ تیمور لاله هندو ستانه نهؤ وتلی چه دی ومړ (۲) او دلو دپهد بیاپا چهی ارمانئي تورو خاوروته ورسره یوړ.

## × اقبال خان لودی (ملوخان)

ملوخان دسارنګ خان توریالي کشرور وراود دوهم ظفرخان «دریاخان» زوی دی چه په ۷۵۹ھ کال دصفری پراوومهزو کړیدی (۳) دمقرب خان امیرالامرا له خوائيد «اقبالخان» خطاب ومونده (٤) دي دملو اقبال خان په نامه په تاریخ کښې مشهور دی.

---

(۱) روضته الصفاء ٦ جلد ۱۰۱ مخ
(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱٦۳ مخ
(۳) ارمغان هندوستان
(٤) مأثر رحیمی لمړی جلد ۳۹۱ مخ

د۷۹٦هـ کال په پای کې چه دډهلي تغلق پاچا سلطان ناصرالدین محمود د امیرالامرا مقرب الملك «مقرب خان» په ډهلي کښې پر پښو د او پخپله د ګواليار او بياني لورته وخوځید، سعادت خان باربك (۱) ئې هم په سپرلی کښې ؤ ګواليار ته چه نږدې شول اقبال خان لودی، دملك را جوزوي مبارك خان او ملك علاءالدين دهاروال په پټه دسعادت خان باربك وژلو ته لیځي را وغښتلي، سعادت خان په خبر شو، مبارك خان او ملك علاءالدين ئې ووژل اقبال خان ډهلي ته ځغلي وتښتید او مقرب خان ته ئې پناه ورووړه، سلطان ناصرالدين محمود ډهلي ته پسې ورغی، مقرب خان دډهلي نایب ئې هر کلی ته ورووت، خود دربار وضعيت ئې دخان په باب کښې ښه ونه لید، سمد لاسه په ښار ننوت او دقلا ورونه ئې دسلطان ناصرالدين محمود پر مخ وتړل. دری میاشتې دمقرب خان او سعادت باربك ترمنځ جنګونه سره وشول، پای ته د۷۹۷هـ کال دمحرمې په میاشت چه سلطان محمود پخپله خوښه دمقرب خان خواته ورواوښت، سعادت باربك دډهلي له قلابندۍ څخه فيروزآباد ته مخه ونیوله او هلته یې دفيروزشاه دبل لمسي نصرت شاه په نامه دپاچهۍ نغاره وډنګوله. دري کاله پرله پورې دډهلي او فيروزآباد دپاچهانو ترمنځ اخ ودب جاري ؤ، دتغلقشاهي دربار امراء څوك دیوه او څوك د بل پر خواوو، مګر یو اقبال خان دسیرۍ (۲) په کلا کښې (چه دهغه وختني د ډهلي د کلا شرق شمال ته څوزا نږدې پرته وه) خپلواك ورته ناست او په یوه ډله کښې شامل نه ؤ

د۸۰۰هـ کال دشوال په میاشت چه اقبال خان او مقرب خان سره خوابدي شول نو اقبال خان له فيروزآباده څخه (نصرت شاه) دسیرۍ کلا ته راوغوښت

---

(۱) باربك په دغو وختو کې دیوې عهدې او خطاب نوم ؤ

(۲) دسیرۍ د کلا نوم تراوسه دقندهار په محاورو کښې ژوندی پاتې دی وائی: څه سند وسیرۍ مې دریسې وغوښتې. دا ښار دخلجي پاچهانو پایتخت ؤ. دصفدر جنګ له هدیرې څخه تر قطب منار مهرولي پورې دې ښار او کلا کنډوالې اوس هم شته دا ښار دسلطان علاءالدين خلجي له ودانیو څخه ؤ ( د خان غازي کابلي یادداشتونه )

یوه هفته لا نه وه تیره شوې چه اقبال خان او نصرت شاه هم نه سره و با ملُ نصرت شاه له خپلو لښکرو سره له سیرئ راووت' اقبال خان د شاله لورې بريد وړو کړ' ډېر شاهی سامان او پیلان يې په ولجه څني يووړل او هسې يې وڅپه چه خپل وزیر تاتارخان (دپانی پت حاکم ) ته ئې پناه وروړه او په دې توگه يې دمشرو رور (سارنگ خان) دماتې کسات له نصرت شاه څخه وکيښ .
اقبال خان د نصرت شاه تر تیښتې وروسته (فیروز آباد ) هم يې ونيو او تر پنځو ورځو خپلواك اووا کمن شو' دفیروز آباد تر سوبې وروسته اقبال خان دامیر لامرا مقرب خان (چه په زاړه ډهلی کښې يې دسلطان محمود ملاتړ لی وه) جنگ ته خلاص شو. دوې میاشتې سره وجنگېدل پای ته ئې سلطان محمود او نورو امراو د(جهان نما ) (۱) په ماڼۍ کښې روغه سره وکړه مگر داروغه دېره نه وه اولېږې ورځې تیرې نه شوې چه اقبال خان دسیرئ له قلا څخه ناڅاپه دمقرب خان پر کور بريد وکړ او دې ئې ووژه' دمقرب خان تر ایسته کړ او وروسته دډهلی دحکومت ټول واك اقبال خان ته پاته شو او دسلطان ناصرالدین محمود دپاچهۍ نش نوم ؤ (۲)

## دپانی پت جنگ

په ۸۰۰ ھ کال چه اقبال خان دډهلی دحکومت واك وموند دډهلی ښار ئې خپلو په زړه پورو امراوته وسپاره او پخپله ئې دپانی پت دحاکم تاتار خان نه څخه چه دسلطان محمود حریف (نصرت شاه ) هم پناور وړی وه' دسارنگ خان دماتې دکسات اخستلو له پاره دلوی اختر په میاشت دډهلی لښکرې پر پانی پت وروبهولی او سلطان محمود يې هم ورسره بوت .

---

(۱) دروضة الصفاد ٦ جلد په ۱۰۷ مخ کی لیکلی دی سلطان فیروزشاه دډهلی په دوه کروهی کی پر غره ودانی کړی وه ترغره لاندی سین بهیږی اودغه ماڼۍ جهان نما بولی
(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۵۵ مخ

تاتارخان چه دا واروېدله خپل سل پيلان، څه لښکري او اسيا بو نه ئي دپاني پټ په کلا کښي پرېښوول او له بلي لاري ئي ډهلي پرښار بريد وکړ. اقبال خان تردرو ورځو کلابندۍ وروسته دپاني پټ ښارونيو، د تاتارخان مالونه ئي تالا کړل او بيا بيرته ډهلي ته راستون شو. تاتارخان چه ډهلي کلابند کړی ؤ، داقبال خان په را ستپندلو گجرات ته وتښتېد او خپل پلار ظفرخان ته ئي (چه د گجرات واکمن ؤ) پناه يووړه نصرت شاه (دو آبې) ته وتښتېد (١)

اقبال خان چه تاتارخان او نصرت شاه هم له منځه و ايستل په خورا يوړه زړه ئي د ډهلي د حکومت واگی (د سلطان محمود په نوم نامه) په لاس کښي واخيستلی نصير الملک ته ئي د عادل خان لقب ورکړاو د (سامانې) او (دو آبې) حکومت ئي ورو سپاره (٢)

## د گوډ تيمور يرغل

د (٨٠١هـ) کال د لمري خورپراوه ويشتمه د گوډ تيمور يو لک او دوه ويشت زرو لښکرو د ډهلي د ښار په څنگ کښي واړول او اقبال خان کلابند شو د دوهمې خورپه دوهمه ورځ چه گوډ تيمور د ٧٠٠ سپرو سره د جهان نما ماڼۍ په سيل ترجمناور پوري وتلی ؤ اقبال خان د ٤٠٠٠ سپرو او ٥٠٠٠ پليو سره (٣) بريد پرو کړ، گوډ تيمور ترجمنا ر پوري يوت د مغلو د قراول لښکر او اقبال خان تر منځ جنگ و نښت د ډهلي يودروند امير (محمد سيف) چه د ډهلي د لښکرو د قراول مشر ؤ، مغلو و نيو.

د اقبال خان فوځونه بيرته په کلا ننوتل د دوهمې خورپه اومه ورځ چه مغل جنگ ته وتل؛ د مخه ئي د هند يو لک تنه بنديان (چه ور سره ؤ) تر تيغ وکښل د اقبال خان فوځونه چه څلو بښتو زرو ته رسيدل د ١٢٠ پيلانو سره (٤) هم له

---

(١) تاريخ فرشته لمړی جلد ١٥٩مخ

(٢) مآثر رحيمي لمړی جلد ٣٩٣مخ.

(٣) روضة الصفاء ٦جلد ١٠٧ مخ.

(٤) مآثر رحيمي د ظفر نامې د مؤلف شرف يزدي په حواله ليکي چه د ملو اقبال خان لښکر لس زره سپاره او ١٢٠ پيلان ؤ (لمړی جلد ٣٩٨مخ)

ډهلي را ووتل او په میدان کښې دواړه فوځونه سره ودرېدل اقبال خان او سلطان محمود د لښکرو په منځ کښې ولاړوو، د کیڼ لاس فوځ ئې د طغای خان او میرعلي او د ښي لاس فوځ ئې د ملك معین الدین د ملك هالي تر مشر تابه لاندې ؤ (۱) کله چې جنګ ونښت ډېر میړونه سره ومړل، پای ته د هندوستان لښکرو ماتې وکړه د اقبال خان دوه میړني زامن سیف الدین او خدا داد او ډېر پیلان او د جنګ سامان د مغلو په لاس کښېوتل یخپله اقبال خان او سلطان محمود په تښتېدو بریالي شول. سلطان محمود (گجرات) او اقبال خان (برن) ته مخ ونیو (۲) کوډ تیمور چه ډهلي ته ننوت ځوك چه په مخه ورغلل هغه ئې تر تیغ وایستل بیا یې په (میرټهه) او (هردوار) کښې قتل عام وکړ.

## د ډهلي نیول

د دغه کال د رجب په میاشت کښې چه کوډ تیمور د خپلو لښکرو سره د (سمرقند) په نیت د هند تر تلك (سرحد) ووت؛ نصرت شاه چه په (دوآبه) کښې د اقبال خان له بیرې پټ ؤ؛ ډهلي ته راغی او د پاچهي نغاره ئې وډنګوله، سمدستي ئې خپلې لښکرې د (شهاب خان) تر مشرتابه لاندې د اقبال خان نیولو له (برن) ته ولیږلې اقبال خان ناڅاپه پر نصرت شاهي لښکرو بریدوکړ.

شهاب خان ئې وواژه، لښکر ئې سره کنډو کپر کړ. د ډهلي لښکرو ماتې وکړه اقبال خان پر ډهلي پسې راغی، نصرت شاه ئې تاب رانه وړ، میوات ته وتښتېد ډهلي او فیروز آباد د اقبال خان په لاس کښېوتل (دوآبه) ئې پسې ونیو له او په دې صورت یې بیا په ډهلي کښې د ۸۰۲ هـ کال د صفري په میاشت (۳) د خپل حکومت تیږه کښېښووه په وران ډهلي کښې بیا خلق ورو ورو راغلل او ودان شول د دغه جلوس نېټه ویلیام بیل انګلیس داسې راوړي:

(۱) روضته الصفا ٦ جلد ۱۰۸ مخ.
(۲) سیرالمتاخرین ۱۳۱ مخ.
(۳) مفتاح التواریخ ۱٦٤ مخ

شاه اقبال خان نصرت مند　　　جـا لس تخت شـد بعزم شهـی
سال تاریخ گفت هاتف غیب　　　«محفل آرای حکم بزم شهی» (۱)

## د ((بیانی)) برید

د ۸۰۳ هـ کال (۲) په دریمه خور اقبال خان بیانې ته لښکری ولیږ دولی، په جنګ کښې یې پر شمس خان اوحدی چه له هغه څخه د ګوډ تیمور تر وتلو وروسته ئې پر «بیانه» غلبه لاس ته راوړی ؤ، بری ومومند، دوه پیلان او (بیانه) ئې ځنې و نیوله، تر دغې سوبې وروسته یې پر «کهیتر» (۳) بریدوکړ دغه سیمې واکمن (نرسنګ) یې جنګه ورته اېل شو، ډیر پیشکشونه یې ورانده ی کړل او اقبال خان بریالی ډهلي ته راستون شو.

## د جونپور لمړی برید

اقبال خان چه د بیانې له سوبې ډهلي ته راستون شو د ۸۰۳ هـ کال په دریمه خورئې د سلطان الشرق خواجه جهان (۸۰۲-۸۰۶) پر متبنی سلطان مبارك شاه شرقی (۸۰۲-۸۰٤) (چه په دغو وختو کښې د جونپور پر تخت کښېنستلی ؤ) د برید په نیامت لښکرې لمرختیز پلوته وخوځولې د (پټیالي) د سیمې زمینداړانو چه د ګنګا وژی ورته نیولی وه، مات شو او د اقبال خان لښکری د قنوج خواته یسی ورتیری شوې.

مبارك شاه له جونپوره لښکری راوایستلی مګر ځکه چه د ګنګا سین دپوری وتلونه ؤ د واړې لښکری دوې میاشتې د ګنګا پر دوو څنډو سره پر تیږ وی کېزی کېزې یی سره کتل ځکه چه د جنګ امکان نه لیدل کیده نو دواړې لښکرې بیرته خپلو خپلو مراکزو ته ستنې شوې (٤)

---

(۱) مفتاح التواریخ ۱٦٤ مخ
(۲) ماثر رحیمی دا نیټه لمړی خور او ۸۰۲ هـ کال بولی.
(۳) ماثر رحیمی ئی «کتهر» لیکی
(٤) فرشته دوهم جلد ۳۰٤ مخ

## دجونپور دوهم برید

په ۸۰٤ هـ کال سلطان ناصرالدین محمود (چه د گوډ تیمور په یرغل کښې گجرات ته تښتیدلی او بیا «مالوې» ته تللیؤ) ډهلی ته راغی او اقبال خان بیا د پاچهي په نامه له ځانه سره وساته مگر واك ټول د اقبال خان په لاس کښې ؤ په همدغه کال چه دجونپور پاچا مبارك شاه ومړ او ابراهیم زوی ئې په ځای کښېنوست اقبال خان بیا لښکري دجونپور لور ته ورو بهولی او سلطان محمود ئې هم له ځانه سره بوت مگر دا پلا یې بیا لاس پر بر نه شو او له قنوجه څخه ډهلی ته راستون شو.

## دسلطان محمود تېښته

سلطان ناصرالدین محمود چه د اقبال خان په دربار کښې د پاچهي بې نش نامه نور هیڅ واك نه درلود ځکه ژر پر تنگ شوه او د ښکار په پلمه ئې د اقبال خان حریف دجونپور پاچا (سلطان ابراهیم شرقي) ته پناه ور وړه مگر سلطان ابراهیم چه د اقبال خان د جنگ واك په ځان کښې نه لید د ده پناه ئې ونه منلای شوای سلطان محمود چه دسلطان ابراهیم څخه ناهیلی شو، قنوج ته ولاړ قنوج ئې د ابراهیم له نایب (امیرزادهٔ هروی) څخه ونیو او هلته کښېنوست.

## دگوالیار یرغل

په ۸۰۵ هـ کال د دریمې خور په میاشت کښې اقبال خان پر گوالیار لښکري ورو بهولی (برم دیو) د گوالیار واکمن قلابند شو. قلا ډیره ټینگه وه اقبال خان شاوخوا لتی تالا کړي او ډهلی ته ځني راستون شو لږ وخت نه ؤ تیر شوی چه اقبال خان بیا پر (گوالیار) بریدو کړ دا پلا (برم دیو) په (دهولپور) کښې مخه ورته ونیوله په لمړی حمله کښې ئې ماتې وکړه او بیا د (دهولپور) په کلا ننوت دشپې ئې گوالیار ته مخ ونیو اقبال خان هم په پسې ؤ، برم دیو په گوالیار کښې کلابند شو (۱) اقبال خان دا پلا هم د گوالیار تولې لتی تالا کړي او ډهلی ته ځني راغی.

---

(۱) ماثر رحیمی لمړی جلد ۳۹۸ مخ

## داتاوې يرغل

په ۸۰۷ ه کال اقبال خان پر (اتاوه) لښکري وروستلې څکه چه ملتهئي مقابلې ته د (راى سمير) (راى جهاله) او گواليار لښکري راغونډې شوي وي څلور مياشتې پر له پسې جنگونه وشول پاى ته ئې ډيرې روپۍ د جنگ تاوان څنې واخيست د کال قلنگ چه د گواليار راجا به ٤ پيلان اوڅه روپۍ دهلې پاچاته ورلېږلې په ومنلې (۱) او قنوج ته څنې ولاړ.

## د ساماني يرغل

د ۸۰۷ ه کال په پاى کښې (۲) چه اقبال خان سلطان محمود په قنوج کښې کلا بند کړ څکه چه کلا ډيره ټينګه وه د ۸۰۸ ه کال د محرمې په مياشت يې ساماني (سماڼې) ته مخ څنې ونيو دسامانې حاکم بهرام خان چه دسارنګ خان نوريالى سره دروه کړې وه له هغې بيرې د(هور) يا (دهنپور) غروته وتښتېد اقباخان چه دهغوغرو دروته پسې ورغى دسيدجلال بخاري (رح) لمسى يې روغه سره کړه.

## د ملتان يرغل

په سامانه کښې چه داقبال خان او بهرام خان روغه سره وشوه نو اقبال خپلې لښکرې ددېپالپور او ملتان لورته دخضرخان (چه بيا وروسته دد هلي پاچاشو) مقابلې لره وخوځولې دسامانې حاکم بهرام خان چه شل زره سپاره يې درلودل هم ورسره مل شو.

خضرخان ئې دپنجاب ملتان او ديپالپور دلښکرو سره جنګ ته راووت لښکرې سره مامخ شوې او د ۸۰۸ ه کال ددريمې خور پر ۱۹ يو کلک جنګ ونښت ددهلې لښکرو ماتې وکړه داقبال خان آس ټپي او يخپله دبهرام خان لودى دزوى ملکشه (خپل تربوره) له لاسه د ٤٩ کالو په عمرو وژل شو اوهغه ارمان چه

---

(۱) مأثر رحيمي لمړى جلد ۳۹۸ مخ

(۲) مأثر رحيمي دانېټه د ۸۰۸ کال دمحرمې مياشت ضبط کړيده.

دملتان ترسو بې زروسته به ئې په دهلي کښې خطبه او سکه پخپل نامه کړله کوم ته يو وړ کاري دئې خضر خان دفتحپور ښار ته وليږله چې هلته ئې خوړ نده کړي او تن ئې دملتان په ښاخوا کښې ښخ کړ نو پادي نو گه داقبال خا ن دخپلواك حكومت دوه چه په دهلي كښې اته كاله باېده مړشوه مفتا ح التواريخ دده دمړينې نېټه داسې ضبط كړيده

چون شه اقبال خان فرمانده كشورستان    داور اقليم گير و پرورش فرماى خلق
يافت جا در سايهٔ طوبى و قصر حور عين    سالش از روى بكاشد آه وا ويلاى خلق(۱)
يعنى ٨٠٨ھ

## عادل خان لودی

عادل خان دسارنگ خان او اقبال خان کشر ورور دی په ٨٩٦ھ کال چه سارنگ خان توريالی دلاهور سيمه له (شيخا گکهر) څخه ونيوله عادل خان ئې له خپلې خوا دلاهور حاکم وټاکه (۲) عبدالباقی سهاوندی ليکی چه دده نوم ملك كندهو يا كند وه ؤ سارنگ خان چه لاهور ونيو اوده ته يې سپاره دعادل خان لقب ئې ورکړ (۳) د ٨٠١ ھ كال په لمړ يو ورځو كښې چه د گوډ تيمور لښكري ديپالپور له اوري پر لاهور راغلې عادل خان ديوه واړه لښكر سره د ٩٢ زرو مغلو مخه ونيوه له جنگ ونښت كه څه هم پدغه جنگ كښې عادل خان بريالی نشو خو همسې مقابلې ئې وكړ ی چه دوست او دښمن ئې ميړانه و منله (٤) چه گوډ تيمور له هندوستان او نصرت شاه دميوات له ځنگلو څخه دهلی نيولو ته ملا وتړله عادل خان ديوه واړه لښكر او څلورو پيلانو سره ورسره مل شو مگر دنصرت شاه زړه په تړلی نه ؤ . دی ئې بندی او ما لونه ئې تالا كړل (٥)

---

(۱) مفتاح التواريخ ١٦٤ مخ
(۲) تاريخ فرشته لمړی جلد ١٥٤ مخ
(۳) مآثر رحيمی دوهم جلد ٢٦٠ مخ او لمړی جلد ٣٩٠ مخ
(٤) خان جهان لودی
(٥) تاريخ فرشته لمړی جلد ١٥٩ مخ

# ملك خضر لودی

ګودتیمور چه په ۸۰۰ ھ کال دهند وستان دنیولوله پاره په کابل کښې لښکری سره سمولې له کیسې غره څخه ئې ملك خضر لودی ، ملك بهاءالدین جلوانی ملك یوسف سروانی، اوملك حبیب نیازی له دو لسو زرو پښتنو سره ورو غو ښتل ، وئې نازول آسونه ، خلا تونه زرین موتی تو رې او کمانې (خنجرونه) یې ورو ښندل د هندوستان په برید کښې نوموړی ملکان او دولس زره پښتانه د ګودتیمور سره مله شول (۱) کله چه ګودتیمور د ۸۰۱ ھ کال دوو همی خور پراوومه دهلی ونیوا وددهلی ترورانولو وروسته یې پرمیرټهه او دسواالك په غرو بریدو کړ په دغو بریدونو کښې ملك خضر خان لودی او ملك بهاءالدین جلوانی شهیدان شول تیمور یې اولادونه ونازول په دوآبه کښې ئې خضر آباد ساده وره او په پنجاب کښې ئې سیالکوټ اوخونور ځایونه په جاګیر کښې ور کړل (۲) دتاریخ افغنه مؤلف شهاب الدین ثاقب لیکي چه زه د دغه ملك بهاءالدین جلوانی له اولادې څخه یم اوزمونږ کور نۍ له هغو وختو څخه په هند کښې پاته ده (۳)

## سلطان دولت لودی (٤)

دولت خان دمحمود خان یوسف خیل (٥) لودی زوی او دسارنګ خان اوملو اقبال خان وراره (٦) دی په ۷۵۹ ھ کال زوکړی دی (۷) په ۸۰۸ ھ کال چه اقبال خان لودی د خضر خان سره په جنګ کښې ومړ

(۱) مخزن افغانی ۷۷ مخ

(۲) مخزن افغانی ۷۸ مخ (۳) تاریخ افاغنه ٤٠ مخ

(٤) که څه هم هیڅ تاریخ نه دی را وړی چه دولت خان لودی دی په پاچهی کښې دسلطان نوم پرخان ایښی وی مګر ځکه چه پدغه کور نۍ کښې نور دولت نامی هم شته نو دی می سلطان دولت ونومه ، مؤرخین ئې دلمړی دولت خان په نامه یادونی .

(٥) شوکت افغان دریم جلد ٦٨ مخ

(٦) خان جهان لودی ٥ مخ

(۷) ارمغان هند وستان

دډهلي سترو اميرانو چه دولت خان او اختيارخان کشر وورو ئې يکښې وتلي شخصيتونه ؤ غونډه وکړه په سلايې سلطان ناصرالدين محمود له قنوج څخه دپاچهۍ له پاره را وغوښت اوپه ډهلي کښې يې پاچا کړ.

## دساماني جنګ

سلطان محمود چه دډهلي پرتخت کښېنوست دولت لودي ته ئې د(دو آبې) حکومت ورکړ او دبيرم خان تر ټنګي لره (چه تر بهرام خان وروسته يې «سامانه» نيولي وه) وګماره د ۸۱۰ هـ کال درجب په مياشت ساماني ته دوه کروه نژدې لښکري سره مخامخ شوې جنګ و نښت بيرم خان ماتې وکړه وتښتېد او دسرهند په کلا کښې کلا بند شو مګر ژر ئې امان وغوښت او له دولت خان سره ئې وليدل خودي سوبې (فتح) ډېر دوام ونه کا او ژر خضرخان دملتان او ديپالپور له لښکرو سره پرورغي اوهغه سيمې ئې دډهلي دلښکرو له لاسه وکښلې دولت خان ډهلي ته ځنې راغی او بيرم خان دخضر خان مل شو(۱)

## دسلطان محمود حال

سلطان محمود دډهلي په پاچهۍ کښې دشطرنج تر پاچا زيات واک نه درلود دغه دولت خان لودي ؤ چه تراتو' نهو کلوپورې ئې له يوې خوا دملتان او پنجاب دحاکم (خضرخان) اوله بلې خوا دجونپور دپاچا (ابراهيم شاه) کاميابۍ مقابلې کولې(۲) او ډهلي ئې له بيا بيا بربدونو څخه وژغوره.

## ددولت خان پاچهي

د ۸۱۵هـ کال دمياني په مياشت کښې چه سلطان ناصرالدين محمود دډهلي تش په نامه پاچاو مړ دډهلي اميرانو په سلا (دولت خان لودي) پاچا کړاو د۸۱۶هـ کال دمحرمې په مياشت ئې خطبه اوسکه دده په نامه کړه ملک

(۱) تاريخ فرشته لمړی جلد ۱۶۱ مخ

(۲) خان جهان لودي

ادریس او مبارزخان هم له خضرخانه ورته راو او بیتل سلطان دولتخان دځپل جلوس په میاشت د(کمینتر) خوانه لښکرې وخوځولې دهغه ځای وا کمن او زمینداران ورته ایل شول چه د(بیتالی) سیمی ته راغی مهابتخان بدا یوانی هم ورته راغی پدغه وخت کښې ابراهیمشاه شرقی دمحمود خانزوی قادرخان په(کالپی) کښی کلابند کړ ـ ځکه چه دده په لښکرو کښې دشرقی لښکرو دمقابلی توان نهؤ نودهلی ته راستون شو .

## دخضرخان یرغل

د ۸۱۶ کال دلوی اختر په میاشت خضرخان له شپیتو زرو لښکرو سره پردهلی بریدو کړ سلطان دولت خان څلورمیاشتی د(سیری) په کلا کښی کلابند شو، پای ته چه له هري خوانا هیلی شو اود کلا خلق له لوږی په کو کار و شول د ۷۱۸ د لمری خور پر پنځلسمه لـه کلا راووت او خضرخان ته ئې ځان وسپاره (۱) خضرخان دی دفیروز آباد په قلا کښی بندی کړ هلته دهمدغه کال په دریمه خور کښی د۸۰۹ کال په عمـروم راو پـه فیروزآباد کښی ښخ کړشو پاچهی ئی یو کال او دري میاشتی وه (۲) مفتاح التواریخ دده دمرینی نیټه داسې ضبط کړیده :

زه چو دولتخان بسوی جنت الماوی کـرد

عالمی ازدردوغم صدناله را بـر چرخ بـرد

سر بجیب فکر بردم تا که تـاریخی بـه نظم

گفت ها تف سال او یکصاحب دولت بمرد (۳)

## اختیارخان لودی

اختیارخان د(دولتخان) کشرورور د ۷۶۱ هـ کال په پای کښی زو کړی دی(٤) په ۸۰۸ هـ کښی چه داقبال خان نروزلی وروسته ده هلی امرا او

---

(۱)ارمغان هندوستان (۲)تاریخ فرشته لمری جلد ۱۶۱مخ
(۳)مفتاح التواریخ ۱۶۹مخ
(٤)ارمغان هندوستان .

سلطان محمود له قنوجه راغونبت دی هم په هغه مرکه کښې ګډ او ستر غړی ؤ کله چه سلطان محمود په ۸۰۸ کښې پاچاشو اختیار خان ته ئې د فیروزآباد حکومت ورکړ (۱) په ۸۱٤ھ کال چه سلطان محمود د ملتان دوا کمن خضر خان له لاسه د (سیری) په کلا کښې کلابند شو، اختیار خان د سلطان محمود په تندی کښې زړ د بخت نخښې نه لیدلې نو د خضرخان مل شو او خضرخان ته ئې د فیروزآباد په کلا کښې (چه دده تر واک لاندې وه) ځای ورکړ په ۸۱۷ ھ کال چه خضرخان ډهلی ونیو اختیار خان ته ئې د دوآبې (چه پخوا الا پخپله اختیار خان نیولی وه) واک ورسپاره.

د ۸۲۱ھ کال د میانې په میاشت چه خضرخان له ډهلی څخه (بداؤن) ته وخوځید (بیتالی) ته نژدې چه د ګنګا تر سین ورپورې ؤت مهابت خان چه (د سلطان محمود له امراؤ څخه ؤ) د (بداؤن) په کلا کښې کلابند شو دا کلابندی شپږ میاشتې اوږده شوه پدغو وختو کښې چه خضرخان د خپلو لښکر وسره د [بداؤن] د ښار په شاوخوا کښې اړولی ؤ خبر ورته ورغی چه: «اختیار خان لودی، قوام خان او څه نورو امراؤ ستا پرخلاف تړون سره کړیدی» خضرخان سمدستی کلابندی پریښووه ډهلی ته ئې مخ ونیو او په لاره کښې ئې د ۸۲۲ھ کال د دریمې خور پړ ا تمه (۲) یا شلمه (۳) اختیار خان لودی او نورو رسره مله امراء د ګنګا د سین پرغاړه په یوه مجلس کښې ووژل (٤)

## ۴ اسدخان لودی

اسد خان لودی د ډهلی د پاچا [ناصرالدین سلطان محمود] له امراؤ څخه ؤ سلطان محمود د [سنبهل] واک ده ته ورسپارلی ؤ د ۸۱۰ ھ کال د دریمې خور په میاشت چه د جونپور پاچا سلطان ابراهیم له قنوجه څخه د ډهلی نیولو ته

---

(۱) ماثر رحیمی لمړی جلد ۳۹۹ مخ.
(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱٦۲ مخ
(۳) مأثر رحیمی لمړی جلد ٤۸۱ مخ
(٤) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱٦۲ مخ

وخوځيد پهلاره کښي ئې پرسنبهل بريد وکړ اسدخان چه ئې د مقابلې توان پهځان کښي نه ليد تردو ورځو کلابندۍ وروسته ئې ورپرېښود او ډهلي ته ئې ترېلل(١)سلطان محمود چه خبرشو د٨١٠ ه کال دمیانۍ پهمیاشت کښي ئې لښکرې [سنبهل] ته راوېهولي[سنبهل] ئې د سلطان ابراهیم د حاکم له لاسه وکیښ او بيرته ئې لودی اسد خان ته وسپاره (٢)

## ملك الهداد لودی

په ٨٣٦ ه کال چه د خضرخان زوی سلطان مبارك شاه له ډهلي څخه پر[ميوات]لښکرې وروېهولي دلاهوراوجالندهر حکومت ئې هم له نصرت خانه څخه واخيست او[ملك الهداد لودی]ته ئې وسپاره(٣) ملك الهداد په لاهور کښې کښېنوست اوجالندهر لادنصرت خان پلاس کښي ؤچه مبارکشاه پا چا دبتهر هندی(٤)له کلا څخه چه دشيخا ګکهر کشرورور[باغی جسرت ګکهر] دشاهي فوځو له بيرې په ننرتلئ ؤ دميوات خواته له لښکروسره مخ و نيو [جسرت] له کلا راووت اوجالندهرئې له نصرت خانه څخه ونيواوله بوه درانه لښکرسره ئې لاهورته مخه وکړه پرملك الهداد لودی ئې هم برې ومونډ. ملك الهداد چه ډهلي ته راغی دمبارکشاه له خوا د[سنبهل]واك ورو سپاره شو .

د٨٣٧ه کال درجب په مياشت چه مبارکشاه دملك سرورالملك له خوا شهيداو وراره ئې[محمدشاه]پرځای کښېنول شو ملك الهداد د سنبهل او ددهار حاکم ؤ(٥) دی[ملك الهداد]،د بدايوان حاکم ملك چمن(٦) او ګجراتی اميرعلی ورته يو ره شول دمحمدشاه وزير(ملك سرورالملك ) د کمال الملك

(١) تاريخ فرشته دوهم جلد ٣٠٥ مخ
(٢) تاريخ فرشته لمړی جلد ١٦١ مخ
(٣) تاريخ فرشته لمړی جلد ١٦٨ مخ
(٤) دبتهر هندي کلا(امروهي)ته نژدی واقع وه .
(٥) مأثر رحيمی لمړی جلد ٤٢٨ مخ
(٦) ملك چمن دفيروز خان لمسی دی

ځرمشر تابه لاندی یودروند فوځ دملك الهداد جنګ اره (چه په دهار کښی ؤ) و کماره اوخپل زوی، خان اعظم سیدخان اوسدارنئی هم ورسره کړل دافوځ چه له ډهلی څخه (برن) ته ورسید د لښکر مشر کمال الملك (چه دمبارکشاه دوژلوله امله، ملك سرور الملك ته خوړین پروت ؤ اوموقع ئي پلټله) دسرور الملك دزوی اوسدارن دوژلوپه فکر کښی شو. ملك الهداد ته چه د کمال الملك فکر څرګند ؤ له ځایه ونه خوځیداو کرارپه (دهار) کښی ناست ؤ. مګر سرور الملك چه د کمال الملك په دغه تکل (عزم) خبرشو خپل خاص مریی (ملك هښیار) ئي له یوه غښتلی فوځ سره په ښکاره د کمال الملك مرستی او په ځه دخپل زوی اوسدارن ساتنی لره ورولیږه پدغه ترڅ کښی دبداون حاکم (ملك چمن) هم «دهار» ته ورغی ملك هښیار سدارن او د سرور الملك زوی دشپی له مخی ډهلی ته وغورځیدل. کمال الملك چه خپل چاپیر له غلیمانو تش ولید ملك الهداد لودی، ملك چمن اونور امیران ئي پرځان را غونډ کړل او د روژی په اوبتری ورځ ئي له یوه درانه لښکر سره ډهلی ته مخ ونیو سرور الملك د ډهلی د (سیری) پی کلا کښی کلا بندشو. کلابندی دري میاشتی پسی اوږده شوه وو ځ په ورځ د کمال الملك ملګری ډیریدل پای ته محمدشاه پاچا (چه دسرور الملك سره کلا بندؤ) پخپله بر سرور الملك را وغورځید د ۸۳۸ه کال دمحرمی پر اتمه ئي سرور الملك وواژه او کمال الملك ته ئی د (سیری) د کلاد بداون) ور ور پرانیست د کمال الملك لښکری په کلا ور ننوتلی سبائی دمحمدشاه سره بیعت و کړ، کمال الملك د کمال خن په نامه وزارت او ملك چمن د (غازی ملك) خطاب وموند ملك الهداد لودی (چه ددغه تحریك لمړی شخصیت ؤ) د ځن له پاره هیڅ خطاب ونه ماند دوروله پاره ئي د « دریا خان » لقب قبول کړ.

# دریا خان لودی

دملك الهداد لودی ورور (بهادرخان) ته سلطان محمد شاه په ۸۳۸ ه کال د[دریاخانی] لقب ور کړ. دسلطان محمدشاه دزوی (سلطان علاءالدین عالمشاه) په پاچهی کښی دجمنادسین دخواجه خضر ترکدره پوری چه (دهلی ته خورا نژدی دی) دسنبهل تول واك ددریاخان (۱) (بهادرخان) ۲ پلاس کښی ؤ.

بیا دشرقی سلطان محمود مل شو په ۸۵٦ ه کال چه شرقی سلطان محمود پردهلی یرغل وکانده دریاخان هم دخپلو لښکرو سره ورسره ؤ خودقومیت په حکم ئې په پټه دسلطان بهلول لودی سره روغه وکړه او د شرقی سلطان محمود دماتی سبب شو په ۸٦۱ ه کال چه سلطان بهلول دمبارکشاهی سیمو پهدوره وؤت (سنبهل) ته چه ورسید دریاخان ئې اطاعت ومانه او وه پیلان ئې سلطان بهلول ته وړاندې کړل سلطان بیرته پرخپل جاګیر پرینبود اوله دغه وخته (دریاخان) دسلطان بهلول په امر اؤ کښی وشمېرل شو.

## تاتارخان لودی

تاتارخان دنوریالی سارنګ خان زوی دهلی ددربار له لویو امراوڅخه ؤ د ۸۱۰ ه کال ددریمی خوریه میاشت چه دجونپور پاچا (سلطان ابراهیم شرقی) له قنوج څخه ددهلی دنیولو په نیامت لښکری وخوځولي نصرت خان دی (تاتارخان) اودده دا کا (ملو اقبال خان) مریی (ملک خان یا ملک موهبا) دسلطان ابراهیم خواته ورواوښتل سلطان ابراهیم ئې په ورتللو خورا خوشاله اودوی ئې (سنبهل) لورته ئې مخه وکړه د ناصرالدین سلطان محمود له خوا دسنبهل حاکم (لودی اسدخان) کلابندشودوی ورځی وروسته ئې سنبهل ورپرینبود. سلطان ابراهیم (سنبهل) ونیو او تاتار خان ته ئې وسپاره نور دهلی ته یسی

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۲ مخ (۲) سیرا لمتاخرین ۱۳٦ مخ

تیر نه شواو جونپورته ئی لښکری ستنې کړی(١)دډهلی پاچا(سلطان محمود) چه خبر شو، د ٨١٠ ھ کال دمیانی په میاشت ئې لښکری پسی راوایستلې لمړی ئې(برن)دسلطان ابراهیم دحاکم(ملک مرحبا) لهلاسه وکیښ اوهغه ئی دواړه بیانو (سنبهل )ته پسی ور تیر شو تاتارخان چه ئې په ځان کښی دجنګ توان نه لید، بې جنګه ئې(سنبهل)برې‌ښود اوقنوج ته ئې مخ ونیو(٢)

# دشاهو خیلو پاچهی

(٨٥٠ یا ٨٥٥ — ٩٣٢ ھ)

دشاهوخیلو لودیو دپاچهی لواسلطان بهلول لودی په شمالی هندوستان کښې په ٨٥٠ یا ٨٥٥ ھ کال هسکه کړه او بیرته ئې دلودیو بوی‌درنې پاچهی تیزه کښېښووله پدې کورنی کښې دا [٧] تنه پاچهی ته رسیدلی دی اودتولو د پاچهی موده (٨٢)یا(٧٧) کاله ده :

١ ـ سلطان بهلول (٨٥٠ ـ یا ٨٥٥ ـ ٨٩٤)په یوه قول ٤٤ کال او په بل قول ٣٨ ـ کال اته میاشتې او اته ورځی پاچهی کړیده ، دده پاچهی په ډهلی ، پانی پت دیپالپور، لاهور، هانسی، حصار، جونپور، بهرایچ، ناګور او دملتان تر څنډو پوری وه.

٢ـ دسلطان بهلول زوی سلطان سکندر(٨٩٤ـ٩٢٣)٢٩ کاله پاچهی کړیده دده دیناو(عدل)سیاست اوانضباط خبری مشهوری دی ، ده دیلار نیولی سیمې په خوراښه توګه وساتلې د (بهار) او(تیرهت) سیمی او څه بنګال ئې هم د ډهلی په پاچهی را کښې یوست، دملتان په یوه برخه (شور) کښې هم دده په نامه خطبه ویله کیدله (٣)

---

(١)تاریخ فرشته دوهم جلد ٣٠٥مخ
(٢)تاریخ فرشته لمړی جلد ١٦١مخ
(٣) سیر المتاخرین ٥٢مخ

٣ـ دسلطان سکندر زوی سلطان ابراهیم (٩٢٣ـ٩٣٢)٩ کاله پاچهی کړیده، دده په وختو کښې بابرمغل پرډهلی بریدو کړاو دلودیو پاچهی ئې پرنګه کړه،

٤ـ باربك شاه د سلطان بهلول زوی دی په ٨٨٤هـ کال چه سلطان بهلول جونپورونیو؛ده ( باربك شاه ) نه ئې شرقی تخت وسپاره، دسلطان سکندر په وختو کښې هم تر٨٩٨ هـ کاله پوری پر شرقی تخت ناست ؤ .

٥ـ سلطان جلال الدین دسلطان سکندر زوی دی چه دپلار تر مړینې وروسته د جونپور تخت چه بهار ،جونپور اولیز بنګال یی ترحکم لاندیؤ دشرقی پاچهی په نامه وروسپارل شو .

٦ـ سلطان علاءالدین (عالمشاه ) د سلطان بهلول زوی دی په ٩٣٠ هـ کال د ګجرات پاچا دوهم مظفرشاه پرخپل ور اره سلطان ابراهیم راپورته کړاو د خپلی کورنۍ پاچهی ئې دمغلوبه کیدو پرنګه کړه

٧ـ سلطان محمود دسلطان سکندرزوی دی چه دخپل وروړ سلطان ابراهیم تروژلو وروسته پښتنو امیرانو په ( پټنه ) کښې پاچا کړاو ده بابرمغل جنګ ته ئې راوبوست .

## سلطان شه ((اسلام خان لودی))

داسلام خان پلار (بهرام خان) چه داحمد،زوی دشاهو خان(١) لمسی دی له کیسی غرهٔ خخه ملتان ته ولاړ اوهلته دملتان دواکمن(ملك مروان دولت)سره نوکر شو .دی چه ومړ پنځه زامن ئې پاته شول :

ملك کالاخان ،ملك سلطان شه ،ملك فیروزخان، ملك محمد،اوملك خواجه، دملتان واك چه دسلطان فیروز شاه(٧٥٢ـ٧٩٠) له خوا په٧٧٨هـ کال د ملك مروان دولت دمتبنی [ملك سلیمان] زوی نصیرالملك [خضرخان] ته وسپاره شو ، سلطان شه ورسره نوکر او دخوغښتلو پښتنو په مشرتوب وتا کل شو ددهٔ وفا، توری او میړانې دده لپاره د خضرخان کرا نسبت او و یساورځ په ورځ زیا توله

(١) له دغه شاهو خان څخه د لودیو (شاهو خیل) پښه بیلیږی (خورشیدجهان ٢٢٢مخ)

## د اسلام خان لقب

په ۸۰۰ هـ کال چه ملو اقبال خان اودی پر دیپالپور او ملتان برید وکړ، د دیپالپور او ملتان واکمن [خضر خان] ئې مخه و نیوله سلطان شه هم ورسره ملګرۍ د دریمی خور پر تو لسمه چه جنګ و نښت ملوا قبال خان لودی (چه د خضر خان خور اغښتلی او تور یالی حریف ؤ) د سلطان شه له لاسه وواژه شو ځکه نو خضر خان ډیر و نازاوه د (اسلام خان) لقب ئې ور کړ (۱) او له خوار ور تیرو امراؤ څخه ئې شو.

## د سرهند حکومت

په ۸۱۷ هـ کال چه خضر خان ډهلی له دولت خان لودی څخه و نیواو د ډهلی پنجاب دیپالپور او ملتان پاچا شو؛ د ۸۲۱ هـ کال درجب په میاشت (۲) ئې خپل توریالی پښتون امیر (سلطان شه اسلام خان) د سرهند اودو آبی حاکم وټاکه.

## د سارنګ خان جنګ

په ۸۲۲ هـ کال (ماچی واړې) ته نژدې د بجواړی په غرو کښی یو سړی د سارنګ خان لودی (۳) په نامه خضر خان ته یور ته شو ورځ په ورځ خلق پر راغونډیدل، خضر خان ئې ځپلو او لره د سرهند اودو آبی حاکم سلطان شه اسلام خان وګماره، تش په نامه سارنګ خان چه داو اروید له جنګ لره ئې را ووت او د سرهند په ښار خوا کښی لښکری سره مخامخ شوې؛ تش په نامه سارنګ خان ماتې وکړه غرو ته وخوت

(۱) خورشید جهان ۷۴ مخ

(۲) مرقع افغان دطبقات اکبری د لمړی جلد د ۲۶۹ مخ په حواله

(۳) سارنګ خان لودی په ۸۰۱ هـ کښی مړ ؤ ځکه چه له نامه ئې خضر خان ډیر ګټه پورته کړه او غه سړی دده نوم پر ځان ایښی ؤ.

( سلطـان شه اسلام خـان ) هم سم پـه پسی ؤ، تش پـه نامـه سارنـك خان دغـرو په سمځو ننـو وت او اسلام خـا ن د جمو دغـرو او لـکهـی جنـگـل ترسوبی وروسته سرهند ته راستون شو (۱)

## دجسرت گکهر جنګونه

پـه ۸۲٤ھ کال چه خضرخان دډهلی پاچا و مړ او پرځای ئی زوی (مبارک شاه) کښېنوست؛ (جسرت گکهر) دکشمیر پروا کمن (شاه علی مردان) بری وموند اوډېری ولجی ئی پهلاس ورغلې، نوئی مخ دډهلی ته راوګرزاوه، دستلج ترسین راپوری ؤت، په سرهند کښې ئی د(سلطان شه اسلام خـان) سره جنګونـه وکـړل، مبارک شاه پخپله دډهلی دلښکروسره دسلطان شه مرستې ته ورغـی ترڅلو ینبت ورځوپرله پسی جنګو وروسته (جسرت) دجموغروته وتښتید (۲)

پـه ۸۲٥ھ کال چه جسرت پرلاهور بیا بریدوکړ دډهلی لښکری دملك سکندر «تحفه» ترمشر تابه لاندی پسې راووتې، سلطان شه هم له خپلو ینبتنی فوځو سره په سرهند کښې ورسره مل شو، دابلا بیاجسرت غروته ځنې وخوت (۳)

۸۳۱ھ کال دمیانی په میاشت بیاجسرت گکهرد(کـلان نور) ښار کـلابند کړ، دلاهور حاکم ملك سکندر «تحفه» ئې مقابلې ته ور ووت، خوپه ماتې لاهور ته ستون شو اوجسرت گـکهر تر(جا لند هر) تو لې سیمې تالا کړی، مبار کشاه چه دملك سکندر په ماتې خبرشو، سلطان شه (اسلام خا ن) ئې له سرهنده او(ځیرك خان)ئې له(سامانې) څخه دملك سکندر مرستې لره وګمارل مګر ملك سکندر تردوی دمخه بریدوکړاو جسرت ئې بیاغروته وځغلاوه(٤)

(۱) تاریخ فرشته ۱٦۳ مخ
(۲) سیرالمتاخرین ۱۳٤ مخ
(۳) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱٦٤ مخ
(٤) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱٦٦ مخ

# دکابلي شیخ علي جنګونه

په ۸۳۳ﻫ کال د (پټهر) هندي په قلا کښې «پولاد» نامي باغی شو او مبار کشاهي لښکرې ئې ماتې کړې، نو ځکه سلطان مبار کشاه اسلام خان، کالي خان او رای فیرو زد پولاد جنګ لره وګمارل (پولاد) شپږ میاشتې کلا بندي وګالله آخر چه له هرې خوا ناامیده شو؛ نو امیر شیخ علي ئې چه د ګورګاني شا هرخ (۸۰۷—۸۵۰) له خواد کابل واکمن ؤ پر هند د برغل او خپلې مرستې له پاره راوباله، ځکه چه سلطان مبار کشاه د شاهرخ له نامه څخه په ډهلي کښې خطبه اړولې وه؛ نو ګورګاني حکومت د مخه لاورته خوړین ؤ .

داپلمه چه ئې وموندله سمدستي شیخ علي په ۸۳٤ﻫ کال پر هندوستان برغل وکړ، پولاد ئې له قلا بندي خلاص کړ تر دیپالپوره پورې ئې څوك مخې ته و نه دریدلای شوای او ټول ملکونه ئې وران او تالا کړل، له دیپالپوره چه ئې ملتان ته مخ ونیو دملتا ن په لس کروهي کښې دجیلم د سین پر غاړه سلطان شه اسلام خان مخه ورته ونیوله، کلك جنګ وشو، ډېر پښتانه میړونه ومړل او مغلوبې ی وموند (۱) سلطا ن شه لودی (خیر آباد) ته چه د ملتان په درې کروهي کښې پروت ؤ تر شاشو دروځې پر ځلورمه شیخعلي خیر آباد ته بېسې ورغی هره ورځ به جنګ کیده مګر سو به (فتح) هیچا نه وړه څو مبار کشاه د ډهلي لښکرې پسې راوبهولې او شیخعلي په ماتې کابل ته تر پلل؛ د ډهلي حکومت چه د (شیخعلي مغل) له ناورینه خلاص شو؛ په ۸۳۵ﻫ کال ئې بیا اسلام خان لودی، ملك سرور او ځیرك خان دیو لاد ځپلو لره د پټهر هندي خواته وګمارل (پولاد) بیا شیخعلي له کابله راوغوښت په ۸۳٦ﻫ کال چه سلطان مبار کشاه پخپله له ډهلي څخه د شیخعلي مغل جنګ لره (تلونډي) ته راووت له هغو امراؤ څخه چه (پټهر هندي) کلا ئې کلا بنده کړې وه یوازې اسلام خان لودی او عماد الملك

---

(۱) طباطبائي دسیر المتاخرین په ۱۳٤ مخ کښې او عبدالباقي سهاوندي دماثر رحیمي دلمړي جلد په ٤۲۱ مخ کښې لیکلي چه اسلام خان پدغه جنګ کښې وواژه شو .

له ځانه سره بو تلل شیخعلی دسلطان مبار کشاه په تشه هځه کابل ته ترپلل .

## نهمنځنه

د ۸۳۷ ه کال درجب په میاشت کښې چه سلطان مبار کشاه وواژ ه شو او (محمدشاه) وراره ئې پرځای کښېنو ست سمد ستی دملك سرور کمال ا لملك او ملك الهداد لودی په شخړو کښېوت، د ۸۳۸ ه کال په لمړیو ورځو کښې چه ئې له هغو شخړو فراغت وموند نود لمړی خورپه میاشت کښې ملتان ته وخوځید او مبار کپور ته نژدې ئې د ټو لو لښکرو مشران راوبلل (اسلام خان سلطا ن شه) چه پدغه پلا دربار ته ورغی سلطان محمد شاه (۸۳۷-۸۴۹) ډېر ونازاوه (۱)

## مړینه

د ۸۴۰ ه کال په شاوخوا کښې د ډهلي په دربار کښې دپښتنو سپین ږیری مشر (اسلام خان سلطان شا ه شاهوخیل لودی) په سرهند کښې ومړ، وائې پدغه وخت کښې دده خپلې پښتنی لښکری دولسوزروته رسیدې (۲) سلطان شا ه چه مړ کیده که څه هم ځلمی زامن یې درلودل ځکه چه دپښتنو دبرم او لوړ تیا هیلی ئې دخپل وراره (بهلول) په موټ سرته رسیدلی بللی؛ نوئې دلو دیو پښتنو دمشر توب او سرهند او دیپالپور دجا گیر او حکومت لپاره دی (بهلول) وقا که او قام ته ئې هم ددمنلو او اطاعت وصیت وکړ .

# سلطان بهلول لودی

(۸۵۵-۸۹٤)

دشاهو خیل لودی (سلطان شاه اسلام خان) مشر وروړ (ملك کالا) دسلطان بهلول پلار دی، دسلطان بهلول مورهم شاهو خیله لودی ده او دملك کالا خپله ترله وه (۳) په ۸۱٤ ه کال دسلطان بهلول پر مور (چه بهلو ل یې په نس اولنګوالې ته نژدې وه) خونه ونړیده اومړه شوه بهلول ئې له سه ژوندی را

(۱) تاریخ فرشته لومړی جلد
(۲) تاریخ خورشید جهان ۷٤ مخ
(۳) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۳ مخ



المتوکل علی الرحمن سلطان بہلول لودی (۸۵۰-۸۹۴ھ)

وایسته‌شو! په دغه‌وخت کښي دملك ګالا کوردملتان دښارپه (کمانګران) نومي برخه کښيؤ اوسلطان بهلول هلته په دغه توګه وزېږېد. وائي په ۸۲۱ ه کال چه خضرخان دسر هند حکومت (سلطان‌شه) ته‌ور کړ نورتول ورونه ورسره ولاړل پواځې دسلطان بهلول پلار (ملك کالا) دملتان له‌وا کمن (نصیرخان) سره پاته شو(۱) ځکه چه‌دهغه‌له خواد(دوروالي) دسیمي‌حاکمؤ (ملك کالا) دنیازیو پښتنو سره په یوه جنګ کښي وو اژه‌شو اوبي موره‌بلو (بهلول) په وړکینه کښي بې‌پلاره هم‌شو، اسلام‌خان سمدستي دپیاوړي مړه وررور کورمه سرهندته‌ور وغوښتله‌بلو (بهلول) دوه نور ورونه (محمد، فیروز) (۲) اوخور (۳) ئې دخواخرزیا کاترسیوري لاندي په خوراتاز اونوازلوئېدل.

## نازولی ((بلو)) (٤)

شوخ، ذکي اوربنو کي «بلو» که څه‌هم برتولو ګرانؤ خو دمشر خان (اسلام‌خان) زړه ورسره ډوبېده دستر ګو تور اودزړه سرئیؤ خپل زامن‌ئې ئرده پوري هیڅ نه‌بلل؛ دده هره شوخي‌او بې ادبي به‌ئې دده‌دراتلونکي عروج پایلامه ګڼله؛ نکل کا چه‌یوه ورځ شوخ نازولی «بلو» له مو چنو سره داکا پرمسئله (جای نماز) وخوت مسله‌اوهغه بیادمشرخان مسله!! مینځو اوساهو ګانو په یوه پلا پرراتړلل لته پیرجوړ شو-چاواهه‌چاتراته اوڅوك ورته ځنېمېدل، اسلام‌خان چه‌دالته پیرو لید دوراره‌خوائې ونیوله دوی‌ئې وترټل او وئې‌ویل «نازولی‌بلو کمکی دی که زما پرککره پښه کښېږد دی پروانه‌لري» دکورمیرمنې اومینځي چه انتظارئې درلودپر «بلو» به‌خان څه ناوړین‌ورژوی دخان دې خبري‌ته هېښې پاتې شوې، خان چه‌ددوی هېښتیا

---

(۱) حیات افغانی ۲۸۸ مخ (۲) تاریخ خورشید جهان ۲۲۲ مخ

(۳) دغه خورئي دکالاپهاړ (شیخ محمد پرملي) موروه چه دشیخ‌عمادخان پرملی ښځه وه (تاریخ فرشته ۱۷۹ مخ لمړی جلد)

(٤) «بلو» دبهلول‌مخفف دی‌تراوسه‌هم په‌پښتنو کښي دادودشته چه‌خپل نازولی کمکیان په‌نیم نامه بولي.

ولیدله؛ وې فرمایل: «تاسی مه هېښېږئ زه په دغه ورا ره کښې هغه رشی او ښېگڼې وینم چه دهغو لامله به یوه ورځ دی خورا نامتو میړه شی او زموږ د کهاله ستر گه به پري لوړه وی».

داسلام خان داخبره آخر وختله ، کمکی بلو (بلوخان) شو ملك بهلو ل، ملك بهلول فتح خان اوورپسی دډهلی تولواك «سلطا ن بهلول» شو چه په نیاو (عدل) تدبیر اورعیت پا لنه کښې ئې نوم یووړ اوله اوڅارو (مشهوره) پاچهانو څخه وگڼا نه شو.

## سوداگر بلوخان

کمکی بلو (بلوخان) شو دآسو سودا گرۍ ته ئې لاس ورته کړ، له پښتونخوا به ئې آسان هندوستان ته وروستل اوخرڅول به ئې، په دې ډنده کښې «بلوخان» ښې روپۍ و گټلې، سوداگرۍ ئې پرمخ ولاړه دپر دېسیو، سړو، تودو، دبیلو ملکو دخلقو سره ناستې ولاړې اودسودا گرۍ تجربو دبلوخان توره تد بیر اوبوهه صیقل کړه، دتورې اوتدبیر کو کې ئې خپرې شوې ډېر میړو نه پر راغونډ شول اود کاروان مشر شو.

نکل کړا یووخت بلوخان له پښتونخوا څخه دراستنیدلو په لاره کښې چه دحسین خان پښتانه زوی قطب خان[چه بیا دبهلول په پاچهۍ کښې لوی امیرشو] اودبهلول خان خپل اکا (ملك فیروز) هم ورسره ملهوو (سامانې) ته راغۍ او پربوه باولهستانه چه سید انام (۱) یاسیدابن انام(۲) نومېده پېښ شو، باوله ستانه ورته وویل: په تاسو کښې داسې څوك شته چه دډهلی پاچهی په ۲۰۰۰ چلندو تنگو رانیسی؟» قطب خان اوفیروز خان څه و نه ویل مگر بلوخان خپله امیانۍ چه یوزرو شپېږ سوه تنکې پکښې وې د ستانه سید مخې ته کښېښوولله اوبه خورا ادب ئې ورته وویل «نردې زیاتې نلرم»

(۱) مرقع افغان (۲) طبقات اکبری

مجذوب سید امیا یې واخستاه او وي فرمایل:

«د ډهلي پاچهي دې مبارک کهو! دادوه مله به دې هغه وخت نوکران وي!»
بلوخان د ډهلي پاچهي به ۱۶۰۰ تنګې رانیوله او د مجذوب سید له مخې راپاڅید،
پرلاري ملګرو ډېر پر وخندل او ناخوالې ئې ورته وکړې، ده [بلوخان]
خواب ور کیا:

«دا روپۍ ټول عمر نه بسېدلې، دلبزو ورځو خورې ؤ که د ډېر ګستانه وینا
ترسره شي خورا ارزانه سودا مې کړیده او که نه د یوه فقیر سید خدمت مې وکاوه
داهم ثواب لري» پدغه پلا چه د بلوخان کاروان ډهلي ته راورسید له پښتونخوا
څخه راوستلي آسان ئې ښه تیار کړل او دخپل اکا [اسلام خان] په وسیله ئې
د ډهلي د پاچا سلطان محمدشاه (۸۳۷-۸۴۷) حضور ته ور وستل سلطان ټول
آسان خوښ کړل او د پنجاب د یوې باغي سیمې د دغه کال په مالیه ئې ځني رانیول
د سلطان محمدشاه په کمزوره پاچهي کښې د یرې سیمې د دې ته وې چه مالیې ټولو
ته لا څه بلکه په همدغه نامه دې څوك ستر ګی ورښکاره کړی خو مګر بلوخان
او ملګرو ئې پاچاهي سند واخیست او هغې سیمې ته ئې د مالیاتو د ټولو له
پاره دوه تنه پښتانه ولیږل، مالیه ټولونکی پښتانه هلته ډېر وځورول شول، په
یو چم ئې غوږونه تری پرې کړل او تر بلوخانه ئې خانونه راورسول، بلوخان
چه په دې کل خبر شو خپل اکا [اسلام خان] ته ئې وویل:

«زه بخپله هغې سیمې ته ځم مګر هلته چه هر څه وشو د پاچا به بیا څه نه وائی!».

اسلام خان چه د بلوخان دغه عرض پاچا ته ورساوه: پاچا به خورا خوښی
ومانه او وي فرمایل:

«که ستاوراره هغو یاغیانو ته ابداد ورکړی او بیرته ئې اباد کړی، زه به هغه
سیمه درسته ودې ته ورو بخښم او څه چه واجه او بندیان پلاس ورشي
هغه د دې هم ټول دده وي.»

## سپاهی بلوخان

ځلمی بلوخان ته چه دایاچهی پیغام ورسید؛ ملائي وتړله اودبوي دلی توریالیو پښتنو سرهٔي هغی باغی سیمی ته مخ ونیو، تول یاغیانٔي ایل کړل، دکال مالیه ئي راغونده کړه اوددیرو ولجو اوبندیا نو سره په جګ مغزی بریالی ډهلی ته راستون شو.

اسلام خان چه دنازولی وراره [بلو] داتوره ولیدله له خوښی په کمیسه کښی نه ځائیده، سمد ستیٔي خپله نازولیٔ اور [شمسه] ورکړه او وراره [بلو] ئي زوم هم شو.

## ملك بهلول

سلطان محمد شاه چه دپنځویشت کلن بلوخان داتوره اومیرانه ولیده له سوداګری ئي په بربنډووله هغهٔسیمه اوځونوری وربوری سیمی ئي دځاګیر په‌صورت د[ملك بهلول] له‌خطا به‌سره ورو بخښلی، پدی‌توګه د۸۳۸ه کال په پای کښی بلوخان [سپاهی ملك بهلول] شو اوپه پنجاب کښی ئي خپل ځاګیر ومونده. ملك بهلول خپل سپاهیان ډیر به‌روزل، کال په‌کال به‌ئي نوی‌سپاهیان نیول اوتر روزنی وروسته به‌ئي د سلطان محمد شاه ترحضور تیرول، سلطان به‌د ملك بهلول فوځی تنظیم او روزنه ډیره ستایله اودنوبوسپاهیانو دخرځ له‌پاره به‌ئي نوری‌نوی سیمی دځاګیر په‌توګه‌ورکولی، په دی صورت کرار کرار دلاهور د شاوخوا سیمی تولی دده ځاګیر شولي ملك بهلول چه داسی ژر دومره لوړی درجي ته‌ورسید دهغه مجذوب سید خبرئي زړه ته‌ولویدي. له یوي خواخپل ورځ په ورځ زیاتید ونکی قوت اوله بلي خوا د سلطان محمد شاه کمزوا رکی [چه‌دډهلی په‌شل میلی کښی‌امراو د خپلواکی نغاري ورته وهلي] دهندوستان دپاچهی خیال ورپیدا کړ اوځاګیر دار ملك بهلول دتاج وتخت په فکر کښی شو.

# دسرهند حکومت

د ٨٤٠ م کال په شاوخوا کښې د سرهند واکمن (سلطان شه اسلام‌خان) و مړ که څه هم اسلام خان خپل زامن او ورونه درلو؛ خو ځکه چه د قام داقبال ستوري ئي دخپل وراره او زوم (ملك بهلول) په تندي کښي لیده؛ دی (ملك بهلول) ئي پخپل نیابت‌ته وټاکلی ؤ، ملك بهلول هم دا کار له وصیت‌سره‌سم دسر هند واك په لاس کښې واخیست، خو پیر ژر دخپل اکا (ملك‌فیروز) او خپل تربوره (داسلام‌خان زوی قطب‌خان) له‌مخالفت او رقابت‌سره مخامخ شو. ملك‌فیروز ئي ژر دځان کړ اوقطب‌خان چه‌ځان دسرهند دحکومت اوجاگیر رشتینی وارث گانه او د بهلول موټ ئي‌هم پیچلای نشوای، د ډهلي دپاچا (سلطان محمدشاه) دربار ته ولاړ او نیاو (داد) ئي وغوښت.

سلطان ته (چه دلودیو اتفاق او دملك بهلول دوعره ترقي او واك ئي‌نه‌غوښت) ښه‌پلمه په‌گوتو ورغله، سمدستي ئي په ٨٤٣ ھ کال (١) یو تکړه لښکر دملك سکندر «تحفه» (٢) ترمشر تا به لاندي دملك بهلول ځپلو لره سرهند ته ولیږه (٣)

## دملك سکندر جنگ

. له دي خوا دډهلي لښکري دملك سکندر ترمشر تابه لاندي سرهند ته وخوځېدلي او له‌بلي خوا دسلطان محمدشاه په‌امر جسرت ککهړ له‌خپل قام سره برسرهند راغی، پرپښتنو ځکه سره‌شول، دسرهند دشاوخوا اغرو ته وختل دملك سکندر «تحفه» او جسرت ککهړ لښکري چه به سر هند کښي سره یوځای شوي پښتنوته ئي حالونه ورولیږل:

---

(١) شوکت افغان ٣ جلد ١٦٤ مخ

(٢) ملك سکندر تحفه دخضرخان دوزیر تاج الملك «ملك تحفه زوی» دی چه په ٨٢٤ ھ کال مړ شوی ؤ

(٣) تاریخ فرشته لمړی جلد ١٧٣ مخ

«تاسې څه دومره ګناه کړېده چه مېنې مو نورې برې اېښې دي، او نورو غرونه ختلي یاست؟ دا کار د کړونه وُ به خبرو دا مشکل حل شوی وای.» دې خبرو د پښتنو په سپېڅلو زړونو کښې اثر وکا او د لودو پښتنو سپین ږیری مشر (ملک فیروز) د غلیمانو په وعده او قسمونو تېر ووت. خپل زوی (شاهین خان) او ورور اره (ملک بهلول) ئې له کډو او لښکرو سره پرې ښوول، پخپله د څو تنو نورو مېړو سره ملک سکندر «تحفه» او جسرت ګکهړ ته ورغی مګر تر پوښتنې او ګروېږنې دمخه دی ونیول شو او مله ئې ووژل شول د دهلي او ګکهړو لښکري په شاهین خان او ملک بهلول پسې ووتلې، شاهین خان دیوې ډلې پښتنو سره دغلیم مخ نیوی له پاره پاته شو او ملک بهلول کډې د غرو څوکو ته وخېژولې د دهلي او ګکهړ و لښکري پر شاهین خان پېښې شوې، جنګ و نښت د ډېر توریالي ځلمي او پخپله شاهین خان ووژل شول او پاتې پښتانه بندیان شول، د پښتنو ځلمو ککرې سرهند ته یوړې شوې، کله چه جسرت ګکهړ د دغې سوبې په مناسبت په سرهند کښې دربار وکړ او د ملک فیروز لودي څخه ئې د هرې ککرې نوم و نښان پوښتید، بیا دې لړ کښې د شاهین خان سر هم راووړه شو، ملک فیروز وویل: «دا نه پېژنم!» غلیمانو هغه ککرۍ د ملک بهلول کنډله او له هرې خوا ئې د مېړانې، زړورتیا او تینګار ستاینې شروع شوې، ملک فیروز چه دا ستاینې واورېدلې، لیمه ئې لاندې شول او د جسرت په ځواب کښې ئې وویل «دا ککرۍ زما د توریالي زوی شاهین خان ده!» جسرت ورته وویل د څه دې ولې نو مه نه ښود؟» زوی مړی فیروز په خورا متانت ورته وویل: «ما ویل نه چه په مېړانه نه ی مړ شوی، پېغور به راته پاته شي او اوس چه بهلول زمری ژوندي دی ډاډه یم چه د دغو خیالدورو ځلمو د تودو وینو پور به نه پاتېږي.» جسرت د پښتنو تر ځپلو وروسته پنجاب ته ولاړ، سرهند ئې د دهلي لښکرو او ملک سکندر تحفه ته پرېښود (۱) د پښتنو بندیان چه ملک فیروز هم پکښې وُ د دهلي دربار ته ولېږل شول.

---

(۱) خورشید جهان ۷۵مخ

# ترتلی بهلول

ملك بهلول خان ځپلی او ترتلی بهلول شو، دغرو په څوکو کښې به لکه غرڅه گرزېد، په زړو لښکرې ئې تار په تار شوې، د کومې ځلمی او خیاله وریاران ئې بایه زندانو کښې پراته ؤ او باڼې د گور توری خاورې خوړلې او ککرې ئې به کلمه منارو کښې نښتې وې خو بیاهم ځپلی مگر توربالی بهلول همت له لاسه ورنه کړ، مځکې آرام نه ورکاوه دورې هیسته ئې پوروداروکړ څه توربالی میرونه ئې بیا پرځان راغونډ کړل، پرپاچاهی حدودو به ئې تاړونه ورو پل اوسیمې به ئې تالا کولې، پدغو وختو کښې ملك فیروز اکاځی هم دډهلی له زندانه ورونښتېد او قطب خان تربوره ئې هم نوره د کهاله او تېر بده ورځو نه سهلای شوای اودډهلی دپاچهی تر درباره ئې دقام دمیړو سره تورغرونه اوډ پاچاهی تور، لوزی او ننډی غوره کړې، ځپلی بهلول اوس پوداده او مروج بهلول شو، پرسرهند ئې بریدوکاوه دسرهند پاچاهی حاکم ئې دډهلی دربارته په پناه وړلو مجبور کړ اودسرهند او شاو خوا تللای والك ئې بیاموند، ځپلی پښتانه بیا پرخپل بور شول.

## دحسام خان وزیر جنگ

دډهلی دربار چه دسرهند په نیولو خبر شو، سمدستی دوزیرالممالك نائب السلطنه حاجی شرقی (۱) (چه په حسام خان ملقب ؤ) ترمشر تابه لاندی دډهلی درنی لښکرې دلودیو پښتنو ځپلو لره د سرهند لورته وخوځولی، مدبر ملك بهلول چه دمخه ئې لا دډهلی دلښکرو مقابلې ته لیخې غښتلې وې، له هغې خوا دیوه لږ مگر توربالی، تکړه منظم او دانتقام له جذبې ډك لښکر سره مخ پر دډهلی را روان شو. دپنجاب دساد هورې (۲) یا (شاهپور) (۳) او خضر آباد دسیمو ترمنځ په

---

(۱) مرقع افغان دا نوم (حاجی شدنی) لیکلی دی.

(۲) مرقع افغان

(۳) خورشید جهان ۷۵مخ تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷٤مخ

«کړه» (۱) یا «لده» ( ) نومی ځای کښې لښکری سره مخامخ شوې کلك جنګ ونښت، د بهلول لښکرو هغه نوره وکړه چه غلیمانو بهلاتر ډیره یادونه او ښتنو ځلمیو د ملك سکندر دجنګ دخپلو نامرادو ځلمیو پوره بدله دوه واخیسته د ډهلی لښکرو ماتی وکړه او نائب السلطنه حسام خان وزیر الممالك په تیښته ډهلی ته تزپلل، بریالی ملك بهلول تربانی پته پوری تولې سیمې ونیولې او سو بهوری له ډیرو لجو او بندیانو سره سرهند ته ستون شو. او س نو غښتلی بهلول هرچاومانه دخپل اکاربښتیانی خلف شو، د سرهند، د پنجاب لپو راو پانی پت په سیمو کښې ئی تقریباً خپلواك حکومت کاوه او بیا د ډهلی پاچهی خوا ته ورته چولهانه کړای شوای.

## فتح خان ملك بهلول (۲)

که څه هم غښتلی بهلول په توره د ډهلی لښکری ماتی کړی خو دده تدبر دا اجازه نه ور کوله چه د ډهلی له دربار سره ئی مناسبات خراب وی نو ئی د سلطان محمد شاه (۳) حضور ته ولیکل. زه د پاچا هغه پخوانی نوکریم، خو د حسام خان وزیر په ژوند زما او د ډهلی د دربار ترمنځ د مناسبانو د ښه کیدلو هیله نه شی. که پاچا دغه خنثی (حسام خان) په مرك له منځه وباسی او ځای ئی «حمیدخان» (٤) ته وسپاری، زه به د پخوا په شان د پاچا هر حکم ته غاړه ږدم. «سلطان محمد شاه چه د غښتلی او توریالی بهلول دغه مخلصانه لیك ولوست، بی څه تامله ئی ومانه او حسام خان وزیر ئی (چه د ابوالفضل په قول دده د پاچهی رونق و) واژه وزارت ئی حمیدخان ته وسپاره (۵) سمدستی ئی ملك بهلول ته د «فتح خان ملك بهلول»

---

(۱) مرقع افغان ۱۷ مخ (۲) شوکت افغان دریم جلد ۷٤ مخ
(۳) په دغو وختو کښې د ډهلی پاچهانو خپلو توریالیو امراو ته چه کومه توره به ئی وکړه د (فتح خان)، (حسام خان) (نصرت خان) او (ظفرخان) خطابات ور کول.
(٤) شوکت افغان دغه حمیدخان هم لودی گڼی (دریم جلد ۷٦ مخ)
(۵) د تاریخ داودی مولف عبدالله دغه پېښه د محمد شاه د زوی علاءالدین په وختو کښې راوړی مگر نور تاریخونه دا پېښه د محمد شاه په زمانه کښې گڼی او دغه چاره د سلطان محمد شاه او ملك بهلول د روغی سبب بولی.

خطاب وروليږه اوددې ميرانه او توره ئې ددېره وستايله له يوې خوا يخپله دا خطاب معمولي خطاب نه ؤ او له بلې خوائې د ملك بهلول د سرهند پر حكومت اوجاگيرداري پاچاهي مهر ولگاوه، دده دراتلونكو هيلو له پاره ئې ورو پرانيست ځكه دې پوهيده چه د ډهلي له عياش او كمزوره پاچا څخه د حسام خان غوندي با تجربه وزير په ژوند دپاچهۍ د نيولو په لاره كښې سوبه نشته او كه وي هم د بوي و بني بايد وبهيږي او دېرې خوارۍ بايد وگاللى شي.

مدبر ملك بهلول په يوه غشي دوې ښكارۍ ووېشتلې، يو ئې دخپلې لارې څخه حسام خان غوندې سنگر وايسته كړ او بل ئې دخپل لاس سړى «حميد خان» وزير كړ او حقيقاً د حميد خان وزارت د بهلول د پاچهۍ تيږه شوه (فتح خان ملك بهلول) د حسام خان وزير نړوژلى وروسته د حميد خان په وزارت كښې له وعدې سره سم دخان او نورو تولو لودېو خدمتونه پاچا ته وراندې كړل، هر لور ته دلودېو دوره شوه، چه زړه ئې غوښته هغه سيمه به ئې نيوله، څوك ئې مخې ته درېدلى نه شو (فتح خان ملك بهلول) تش په نامه دډهلي تړواك لاندې ؤ.

## دخلجي سلطان محمود بريد

دحسام خان وژلو او دحميد خان وزارت د سلطان محمد شاه كمزورې هرچا ته ښكاره كړه، اميران ئې پرې زړور شول، د(ميوات) امراؤ د(مالوې) پاچا خلجي سلطان محمود د(٨٣٩_٨٧٣) پر ډهلي باندې دبريد له پاره راوبلله، ده (سلطان محمود) هم له خدايه داغوښته، د(٨٤٤ هـ كال) په پاى كښې ئې لښكرې پر ډهلي راوبهولې. سلطان محمد شاه چه د فتح خان ملك بهلول توره، زړه ورتوب تيښگار دخپلو فوځو په مقابل كښې ليدلى ؤ، له هغه وخته ئې دده پر ميرانه او توره ويسا درلوده ځكه ئې نو سمدستي ملك بهلول له سرهنده څخه د مالوې دلښكرو مقابلې ته راوباله. ملك بهلول هم دخپلو شلو زرو غښتلو لښكرو سره (چه ١٤ زره ئې يواځې ښپتانه وو) (١) ډهلي ته راغى او دخلجي سلطان محمود شاه

(١) خور شيد جهان ٧٥ مخ

مقابلې ته ئې تیاری ونیولې. دذي الحجې په لمړیو ورځو کښې دډهلي لښکری دسلطان محمد شاه دزوی ترمشر تابه لاندې له ډهلي څخه جنګ ته ور ووتلې ملک بهلول دخپل شل زری تور یالی فوځ سره (چه ډېر ماهرغشی ویشتونکی میرونه هم پکښې وو) (۱) دغو لښکرو سرلاري (مقدمة الجیش) ؤ. خلجی سلطان محمود تر ډهلي دپاندې ورته ورولی ؤ ځکه چه دډهلي پاچا سلطان محمدشاه پخپله جنګ ته نه ؤراوتلی نودمالوې پاچا (خلجی سلطان محمود) هم خپلې لښکرې دخپلو زامنو سلطان غیاث الدین او قدرخان ترمشرتابه لاندې دملک بهلول مقابلې ته راوایستلې. اه غرمې تر ماښامه کلک جنګ وشو دماښام تیارې فوځونه سره وګواښل، دمور خینوپه اتفاق په دغه جنګ کښې (فتح خان ملک بهلول) او دده لښکرو هغه سې توره وکړه چه دډهلي دلښکرو پت ئې خوندي کړاو دمالوې دلښکرو غرور ئې پرسر ورمات کړ. په دغه شپه خلجی سلطان محمود واورېده چه سلطان احمد شاه ګجراتي دمالوې پرپایتخت (ماندو) بریدوکړ، ډېر تر هور شود ستنېدلو لهپاره ئې پلمه غوښتله، لهبله مرغه هغه ؤچه دډهلي دې زړه اونا پوه پاچا سلطان محمدشاه لهخوا دروغی پیغام ورورسیداو دخلجی سلطان محمود دستنېدلو پلمه ئې جوړه کړه. ځکه چه دادروغی پیغام د ملک بهلول په سلا نه ؤ نوغیرتمن او توریالی ملک بهلول ډېر خوا شینی شو، کله چه خلجی سلطان محمود له ډهلي څخه لښکری وخوځولې، ملک بهلول دخپلو ټکره او سرتیرو لښکرو سره ترشا بریدبرو کړ، دخلجی سلطان لښکری ئې خوراو ځپلې او ډېرې ولجې ئې ځنې ونیولې.

## خان خانان ملک بهلول

فتح خان ملک بهلول چه دخپلو کړندیو لښکرو سره دمالوې پر لښکرو له برید څخه د ډهلي ته له ډېرو ولجو سره راوګرزېد، سلطان محمدشاه ئې پدغه سوبه بیخي خوشاله شو، ډېر پاچاهی خلاتونه ئې ورو بښل دلازښت ئې ونازاوه خپل

(۱) تاریخ فرشته دوهم جلد ۲٤٦ مخ

زوی ئې و باله او د (خان خانان) لقب ئې (چه دهغه وخت له خوراو تلوالقابو څخه ؤ) ور کړ (١)

ملك بهلول د (خان خانان) د لقب او ډیرو ولجو سره بریالی سرهند ته ستون شو.

## دلاهوراو دپیالپور حکومت

په ۸٤٥ ه کال سلطان محمد شاه (سامانې) ته ولاړ هلته ئې (خان خانان ملك بهلول) نه دلاهور او دپیالپور حکومت چه (د تاریخ فرشته په قول پخوالا ملك بهلول خپله غیبز پر را گرزولی وه) ور کړ او د جسرت ګـګهر ځپلو لره ئې و گماره محمد شاه ډهلی ته څنی راغی ملك بهلول په هغه جسرت ګـګهر پسې چه یو وخت دد غه پاچا په حکم دده (ملك بهلول) ځپلو لره راغلی ؤ لښکری و روایستلې، جسرت کـافر چه دخان خانان ملك بهلول دتوری او زور نکلونه ډیر اوریدلی وو؛ دروغی پیغام ئې ورته ور واستاوه او په دغه ترخ کښې ئې د ډهلی دراتلونکی پاچهی مبار کی هم ور کړه، ځکه چه ملك بهلول نه غوښته دډهلی پر رقیبانو سر بیره نورهم دخان دښمنان کړی نو ئې دجسرت دروغی پیغام ومانه او دغی مبار کی ئې د پاچهی هیله ښه تر ایسی ټینګه کړه، دلاهور او دپیالپور حکومت دده طاقت لا پسې غبر گ کړ دشاوخوا پاچاهی سیمې ئې نوري هم پسې و نیولی او له لاهوره څخه رانیولې ترپانی پت پوری دملك بهلول تقریباً خپلوا که پاچهی وه.

## دډهلی برید

په ۸٤٦ ه کال سلطان محمد شاه دځینو امراؤ په لمسون (چه غوښته ئې دی لا پسې کمزوری کړی) خان خانان ملك بهلول ته چه د ډهلی د تاج و تخت حقیقی ساتندوی ؤ بوسخت لیك ولیږه او وي ترا ته. دغه ترټلو دده او محمد شاه پاچا مناسبات سره وران کړل او خان خانان د ډهلی د نیولو له پاره په تیاریو بوخت شو. دهمدغه کال په پای کښې خان خانان ملك بهلول خپلی لښکری پر ډهلی

---

(١) مرقع أفغانی دتاریخ داؤدی په حواله

ور و بهلولي. سلطان محمدشاه کلابند شو. څه وخت دسرهند لښکری دډهلی پرشاوخوا پرتې وی، سلطان بهلول چه پدغه وار دډهلی دنیولو امکان ونه لید، سرهند ته ئې لښکری ولیږدولې او هلته ئې د «سلطان محمد» (۱) یاسلطان بهلول (۲) په نامه ځانته خپلواك حکومت تاسیس کړ مگر خطبه او سکه ئې د ډهلی تر نیولو پوری پرخپل نامه نه کړه (۳)

## دسلطان علاء الدین پاچهی

د ۸٤۷هـ کال په پای کښې چه دډهلی پاچا سلطان محمدشاه ومړ (٤) نالایق زوی علاء الدین ئې پر تخت کښېنوست او د (عالم شاه) لقب ئې غوره کړ دده بیعت لره تول امراء ورغلل خو یو سلطان محمد «بهلول» ورته ور نه غی (٥) که څه هم پخوا لا دسلطان محمدشاه په زمانه کښې دپاچهی نظام گډوډ و خو عالم شاه چه کښېنوست هغه پاته وا ك او انتظام ئې هم ترخپل عیش ځار کړ د ملك حال ورځ په ورځ ورانیده هر لورته ملوك الطوایفی شوه په هر ښار او هره سیمه کښې بیلی بیلی پاچهی جوړې شوې . له لاهوره تر پانی پته بیا دملتان ترځنډو او نا گور، حصار اوهانسی پوری دشاهوخیلو لودیو په لاس کښې وه، پر (کول) عیسی خان او پر (بیانه) داؤد خان غېږ را کړزولې وه، په (مهرولی) کښې چه دډهلې سهیلی لمرلوېدیز پلوته ۱۰ میله لیرې پروت دی احمد خان میواتی دخپلوا کی بیرغ ونجتی . سنبهل دجمنا دسین دخواجه خضر تر گدره پوری چه ډهلی ته خورا نژدې دی د دریاخان لودی تر لاس لاندې ؤ (٦) په «چندوار» کښې قطب خان لودی خپلواك حاکم ؤ (۷) دشاه عالم یواځې خپل ځای گیر

---

(۱) مرقع افغان.
(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۱ مخ.
(۳) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷٤ مخ.
(٤) مرقع افغان.
(٥) مگر مأثر رحیمی لیکی چه سلطان بهلول هم بیعت ورسره وکړ لمړی جلد ٤۳۲ مخ.
(٦) مأثر رحیمی لمړی جلد ٤۳٦ مخ.
(۷) سیر المتاخرین ۱۳٦ مخ مأثر رحیمی دا قطب خان دحسین خان زوی بولی .

[بدایوان] اودهلی ښار اوښاوخوا په‌لاس کښې پاته وه څکه نوپه هغه وخت کښې دامتلؤ :

«پا چهی د شاه عالم ، له دهلی څخه ترپالم .» (١)

## دډهلی بریداودلاهور جشن

پدغو وختو کښې بیاسلطان بهلول پر ډهلي بریدو کا، علاءالدین شاه عالم کلابندشو سلطان بهلول بیا لښکری څنې ستنې کړې اوبه لاهور کښې ئې یو شاهانه جشن جوړ کړ، ټولو امراء اوسردارانو ته ئې خلاتونه ورکړل هغه لس زره توریالي پښتانه چه ئې له کسي غرداوروه څخه راغوښتي وو هم ورته راورسیدل دیرئې ونازول آسونه، خلاتونه او جاګیرونه ئې وروښندل ددوی په راتګ د لښکرو شمیر څلو یښتو زروته ورسید (٢)

## اجباری سپاهی توب

کله چه سلطان محمد ( بهلول ) په‌لاهور کښې شاهانه جشن جوړ کړ تولو پښتنو ته ئې حکم وکړچه بی نوری اوسپاهی توبه به بل کار نه کوی د کرهنې او سودا ګری څخه به‌لاس اخلی یودوه تنه چه ددې حکم له منلو څخه ئې تېه وکړه سیاستاً ووژل‌شول پدې صورت پښتنو له یوه مخه سپاهی توب تهمخ ونیو او د سلطان محمد [بهلول] فوځی طاقت ډیر غښتلی شو (٣)

## حمیدخان وزیراو عالم‌شاه

یووخت دحمید خان وزیر پلار [فتح خان] درای پر تاب کوټ وران کړی ؤ اودده ماندینه چه ئې بندی راوستلې وه څان ته ئې کښېنولې وه دغه‌غچ د

(١) په پالم کښې ا وس د ډهلی لښکری هوا ئی اډه ده چه پنځه کروه له نوی ډهلي څخه لیری ده.

(٢)خورشید جهان ٧٥مخ

(٣)خورشید جهان ٧٦مخ

رای پر تاب په زړه کښې و، غوښته ئی چه ددهٔ تر زوی ئی کسات و کاږی په ٨٥٠(١) یا ٨٥٢ هـ کال (٢) چه سلطان عالمشاه له ډهلي څخه بارهري [مارهري] ته نیژدي [برهان آباد] ته ولاړ هلته ئې دعیسی خان او قطب خان په سلا پاچاته وویل : که پاچا ،حمید خان وزیر وواژي (٣) یائی ایسته کړی (٤) موږ به ځلوینبت یاغی سیمې په پاچهی دفتر کښې داخلی کړو (٥) دغه لمسون پاچا دحمید خان وزیر وژله یا بندته چمتو کړ خو حمید خان ځینو درباری خپلوانو په دغه حال خبر کړاو یاد ځینو په عقیده له بنده وغورځید ځان ئی به پته ډهلی ته ورساوه ځینی کسان وابی چه په دغه لمسون کښې د سلطان محمد (بهلول) لاس هم و (٦) په هر صورت حمید خان وزیر چه ډهلی ته ورسید پاچهی کورنۍ ئی په خوراسپکاوی له ډهلی وایستله او په خپله ئی پر ډهلی غیبز راو گرزو له ،عیاش شاه عالم په (بداېوان) کښې ورته کښېنوست .

## دډهلی کلاړ

حمید خان وزیر که څه هم دډهلی واك و مونډ خو بیا هم پوهیده چه دا باریه خپل نامه ترمزله نشي رسولای نوئی خیال در اود چه دسلطان علاءالدین [شاه عالم] پر ځای بل څوك دډهلی پر تخت کښېنوی د جونپور پاچا [سلطان محمود شرقی] د شاه عالم زوم و او خلجی سلطان محمود دمالوې پاچا په [ماندو] کښې ناست و چه له ډهلی څخه خوراډیر لیری و ځکه نو مجبوراً دډهلی دپاچهۍ له پاره دحمید خان وزیر سترگی سلطان محمد [بهلول] او قیام خان ته ورو او بیتلي دحمید خان په بلنه دواړه امیران [بهلول او قیام خان] په خورا بیړه ډهلی ته راوخوځیدل. قیام خان چه خبر یده سلطان محمد [بهلول] بیادلښکر سره ډهلی ته ځان را

(١) مرقع افغان دتاریخ داؤدی په حواله
(٢) تاریخ فرشته لمړی جلد ١٧٢ مخ
(٣) تاریخ فرشته لمړی جلد
(٤) طبقات اکبری
(٥) مرقع افغان دطبقات اکبری دلمړی جلد ٢٩٧ مخ په حواله
(٦) مرقع افغان دتاریخ داؤدی په حواله

ورساوه او قیام خان [چه ځان د بهلول ساری نه باله] جا گیر ته ستو ن شو ، حمیدخان وزیر چه بهلول و ایدو ر ته یې وویل: ، د دهلی پاچهي دي ستا مبارک شي، وزارت به دي زه په غاړه اخلم » بهلول ځواب ور کړ: " زه سپاهی سړی یم په پاچهی څه پوهیږم ته پاچا شه او زه به دي سپهسالار شم او که څه نور خدمت راوسپاري هغه ته هم ولاړ یم . »

حمیدخان د ملک بهلول د دغه خاضعانه ځواب پای ته و نه رسید او ور ته وئي ویل: « ما دا کار د ځان د پاره نه دی کړی خاص د اسلام ښیګڼی لره مي داجرأت و کړ ځکه چه ما باور در لود چه په دغه پاچهی کښې به د اسلام حال لا بسي ور ا ن شي او زه به بیا بیدم چه نوري بخولي (فجائع) به لا بسې پیښې شي (الملک لمن غلب) زه تر تا بریالی او غښتلی نه وینم ځکه ما ته ددي کار د پاره غوره کړی . » تر ډیر اصرار وروسته ملک بهلول ست (قانع) شو له، حمید خان وزیر څخه ئي د دهلی دښار کلي واخستلی او حمیدخان ته ئي وو یل: « زه یوازې د ښار، دوره ساتندوی یم هر حکم چه ته کوی هغه وړم » او پدی صورت ئي حمیدخان له خپلې خوا داډه کړ .

## دهلی ساتندوی بهلول

ملـک بهلول اوس د هغه حمید خان تر واک لاندی شو چه دده په توره او تدبیر ئي وزارت موندلی او تراوسه دده دلاس سړی ؤ دا ځکه چه پدغه وخت کښې د دهلی تش په نامه پاچهی د حمید خان په تدبیر او طلب ور ورسیدله، ملک بهلول په دې ښه پوهید چه که څه هم دی به نامه پاچا دی خو په حقیقت کښې د حمید خان د لاس سړی دی، هر و مرو به د حمید خان وزیر پر لار ځي او د امارت دوختو خپلوا کی هم په دغسې پاچهی کښې ور میسره نه وه مگر ځیرک ، مدبر او دور اندیش بهلول دا وضیعت په خورا سړه سینه سه وخت ته ئی کتل چه دا دستر کو اغزی او د سر چنګک هم په کامیابه تو گه د تدبیر له مخې له منځه وباسي او هغه وخت به نو ځان پاچا گڼي .

# دور اندیشه پاچا او مغروره وزیر

که څه هم د پښتنو د کلا او پاچاهی خزانو کلي ګانې د ملک بهلول څخه وي او د پاچهۍ نوم هم پر ې ایښود شوی ؤ خو د څوو رځو د پاره د ی دحمید خان وزیر د لاس آله ؤ څه چه به حمید خان ویل هغه به کېدل ، دحمید خان مغروره وزیر هر حکم ته د دور اندیشه پاچا (بهلول) غاړه کښېښوده او هره ورځ به پاچا د وزیر سلامي ته ورته .

نکل کا چه یوه ورځ حمید خان وزیر ، بهلول پاچا او څو تنه نور د پښتنو ملکان ميلمستیا ته ورو بلل دور اندیشه پاچا د پښتنو ملکانو ته وویل : «دحمید خان وزیر دربار ته چه ورشو ددې لپاره چه ستاسي بیره او پرتم دده له زړه وځی تاسي به هسې احمقانه وضعیتونه کوئ چه وزیر ئې طبیعي وګڼي . » پښتانه ملکان چه هم د وزیر د ستر ګو خار ان ته ورغلل چا موچنې په ملا کښې وهلې او چا دحمید خان تر څنګ کښېښول .

حمیدخان وزیر چه سبب څنې وپوښتېد دوی وویل :

« بیرېږو چه غلا نشي »

وزیر د دوی پر سپېدلې ورځ ډېر وخندل او دوی ته ئې ډاډ ور کړ چه دلته غلا نشي کېدلای . (دا په حقیقت کښې دهغې ډرامې لمړۍ پردہ وه چه څېرك بهلول تش په نامه پاچا جوړه کړې وه) (۱) دوډۍ چه وخوړه شوه پښتنو ملکانو په خورا تعجب غالیو او کمبلو ته وکتل وزیر ته ئې وویل د دغو څخه یو یو تو کر مونږ ته را یرې کړه چه خولۍ څنې وګنډو او زامنو ته ئې په سوغات کښې وليږو هلته به مو کام داومني چه مونږد وزیر په دربار کښې ډېر درانه یو » حمیدخان داهم ددوی سپېدلتوب وګاڼه او ورته وې ویل . ترد غه به نور ښه ښه تو کران درته در کړم . » کله چه دهندوستان د دود سره سم تر ډوډۍ وروسته

(۱) مرقع افغان ۳۳ مخ

د ګلو، عطرو او پان سترخوان وغوړېد ځینو عطرونه وشنېله چا ګلونه وخوړل، چا لنده چونه (چه په پانو کښې لېژ لېژ پکارېږي) په خوله کړه خولې ئې ږ سوې او پر کمبلوئې تو کړل.

حمیدخان وزیر چه دا وضعیت نه ولیدل نور ئې ونه سهلای شوای دائې خپل سپکاوی وګاڼه او بهلول ته ئې مخ واړاوه. «دا ولې داسې بې باکې کوی!»
بهلول په خورا ادب ورته وویل. «دا نا پوه کلیوال دی په غرو کښې اوسي بې له وژلو او خوړلو ئې نور څه نه زده د ښاري خلقو سره ډېر نه دی اوسیدلی.»
دې وینا حمیدخان ډاډه کړ. دربار مات شو او هر څوك خپلو خپلو کورو ته ولاړل.

## د حمید خان بند

دمیلمستیا په سبا بیا بهلول لکه پخوا دحمیدخان وزیر کره سلامی ته ورغی دی چه به تل دحمیدخان دربارته د ننه ورننووت څه پښتانه مشران به ورسره پر پښوول کیدل او نورسری به ئی دباندې ولاړوو، پدغه ورځ چه بهلول دحمیدخان وزیر دربارته ورننووت، دده په لمسون پاتو پښتنو ځینې حاجبان ووهل او په زورئې غوښتل دربارته ننوزی زوږ سره پورته شو، حمیدخان ته روبل شول: «پاته پښتانه ملك بهلول ښکنځي او وائی موږ هم لکه بهلول دحمیدخان وزیر نوکران یو، دی پخپله دربارته ننووت او موږ نه پرېږدي.» وزیر ګرد پاته پښتانه د ننه دربارته وروبلل، پښتانه چه ورننوتل بیل بیل دوزیر دنوکرانو شاووته پواوډه ودریدل دبهلول تربور قطب خان ورو دانډی شو ځنځیرئې دحمیدخان مخې ته کښېښود او ورته وې ویل: «سلاداده چه تاسې دڅوورځو له پاره ګوشه نشینه شي ځکه چه موږ ستاما لکه څکلې د نوستاوژ له وړ نه ګڼو!»

وزیر چه دا ننداره ولیده سبب ئی وغوښت، قطب خان ددې ځواب سر دچه: موږ تا نه وژنو ځکه چه تا پخپله نمکحرامی کړیده نو اوس موږهم په

تاویسانشو کولای! «حمیدخان مغروره وزیرته بیرې وروا چولي اودډهلي تر کلا دباندي په یوه ځای کښې ترمړینې پوری نظر بندو ساته شو.

په‌دې تو که بهلول په خپل زغم او تدبیر ډیر ژر د حمید خان وزیر (چه په حقیقت کښې پاچا ؤ) له‌شخړې ځان بې غمه کړ او دډهلي بشپړواك ئې وموند.

## دعالمشاه استعفاء

مدبر بهلول په‌دې شه‌یو هید چه‌په یوه ملك کښې‌دوه پاچهان نه ځائیږی اودډهلي دښار دوهم پاچا خوله‌منځه وایستل شو اوس تود ملك ددوم پاچا دسلطان علاءالدین عالم شاه چه‌په بدایون کښې ناست ؤ؛ ایسته کول پاته شوه مدبر بهلول عالم شاه ته‌ولیکل: «زه ستا پلار روزلی‌یم‌زه ستاله‌خواهغه پاچهی چلوم چه ستاله لاسه وتلې وه‌ځکه‌مانراوسه ستانوم له سکې اوخطبې څخه نه‌دی ایستلی (۱)

سلطان علاءالدین عالمشاه ځواب ورکړ:

«زما پلارته‌خپل زوی‌بللی! زه هم‌تاخپل مشروروربولم ځکه تودپاچهی کاربار تاته پریږدم اوزه د (بدایون) پر جا گیر سکته شوم.»

---

(۱) طبقات اکبری لیکی‌چه بهلول تردغی معروضی‌دمخه خطبه اوسکه پر خپل نا مه کړه اود« سلطان بهلول » لقب ئې غوره کړ دامعروضه تش‌دشاه عالم دتیر ایستنی‌له‌پاره چه ستانوم‌له‌خطبی اوسکی څخه نه باسم » وه

مرقع افغانئی په‌تر دید کښې‌لیکی: سلطان بهلول هم مروج‌ؤا وهم ئې پا چهی په لاس کښې وه دی په‌ولی له هغه سلطان علاءالدین څخه چه نه‌ئې‌دپاچهی صلا حیت درلود اونه طاقت بیریده اوتیر یوست په‌ئې؟»

«بل څه شی‌بهلول دومره‌رډودرواغوته اړایستلیؤ چه‌خطبه اوسکه په‌ئې پرخپل نامه کوله اوبیا په شاه عالم ته‌ایکل چه ستانوم له خطبی اوسکی نه نه باسم.»

# دسلطان بهلول دپاچاهۍ اعلان

د(سلطان علاءالدین عالم شاه) خراب څرګنده کړه چه دی پخپله دپاچهۍ بار نه شي اخیستلای او هیله لرې چه څرك دغه بار دده له اوږو واخلي، ځکه نو بهلول تردغي پاچاهۍ استعفا ورو سته د ۸۵۰ هـ کال دلمړۍ خور پر اوه لسمه د ۳۶ کالو په عمر دخپلې باچهۍ اعلان وکا او د «سلطان بهلول شاه غازی» لقب ئې غوره کړ (۱) خطبه او سکه ئې پر خپل نامه کړه (۲) او دسلطان علاءالدین هغه امرا چه له ده (سلطان بهلول) سره په ډهلې کښې ؤ دمخو وظیفې او تنخواوې ئې دپخوا په ډول ورو تا کلې (۳) دملك اصلاحات ئې ملا و تړله، لښکرې ئې غښتلې کړې او دعدل او انصاف پر رڼې درعیتو پر مخ وبرانست (٤) سلطان علاءالدین عالم شاه په (بدایون) کښې پخپل عیش او عشرت اخته ؤ.

## دعالم شاه مړینه

دډهلې له تاج او تخته څخه مستعفی پاچا (سلطان علاءالدین عالمشاه) په ۸۵۵ هـ کال په (بدایون) کښې و مړ (۵) طبقات اکبری او منتخب التواریخ دسلطان بهلول دتخت نشینۍ نېټه له دغه تاریخه څخه ښیئتوی؛ مګر تاریخ داؤدي دسلطان بهلول دتخت نشینۍ نېټه له هغه وخته څخه بولي چه د ډهلې کلۍ ورو سپارلی شوی او سلطان عالمشاه خپله استعفاء ورواستوله داپیښې تولې په ۸۵۰ هـ کال کښې وې، (مرقع افغان) دتاریخ داؤدي په تائید - لیکلي دي ملاعبدالقادر بدایوانی (٦) او نظام الدین احمد (۷) په کوم سند سره د هغه

---

(۱) مرقع افغان ۳۷ مخ د تاریخ داؤدي د ۱۰ مخ په حواله (۲) تاریخ خورشید جهان ۷۶ مخ
(۳) « « ۳۰ مخ دطبقات اکبری په حواله (٤) مرقع افغان ۳۸ مخ.
(۵) تاریخ فرشته لیکي چه علاء لدین عالمشاه پاچا په ۸۸۳ هـ کال و مړ. مګر مأثر رحیمي او مرقع افغان ئې مړینه په ۸۵۵ هـ کښې بولي.
(٦) د منتخب التواریخ مصنف.
(۷) د طبقات اکبری مصنف.

پاچاهۍ فرمان ځواب و یلای شی کوم چه په هغه کښې سلطان علاء الدین عالمشاه په‌وازه خوله د سلطان بهلول پاچاهی منلی ده؟ دوه مره او غښتلی سند په شته والی (موجودیت) کښې د سلطان بهلول د پاچهی پنځه کلو نه کمول‌ره بی ایمانی ده او بل داچه نظام‌الدین احمدیوه پلاتر دغې لیکنې دمخه پخپله لیکلی دی : ملك بهلول پرتخت کښېناست د «سلطان بهلول» خطاب ئې غوره کړ اوخه‌وخت‌پس سلطان علاءالدین و مړ. داننا قض پخپله داځر ګندوی چه نظام‌الدین احمد هم‌دابوالفضل دهغه‌تعصب تر اغیزې لاندې راغلی دی چه دپښتنی‌حکومت سره‌ئې درلود او د اکبرنامې غلط مندرجات ئې شاهد دی(۱)

## دروغی هیله

پرسلطان بهلول پاچاله‌پخوا شخه‌پښتانه راغونډ خودسلطان علاءالدین عالمشاه ترمړینې وروسته هغه‌پښتانه‌امراء اوجا ګیرداران‌هم دده‌مله شول چه پائې‌مخالف وواو پائې د سلطان‌په‌ژوند نه غوښته چه دسلطان بهلول سره کورواوډی دعالمشاه په‌مرګ که سلطان‌بهلول د (بدا یون) له‌خرابیغمه‌شو، خودعالمشاه دزوم (۲) سلطان محمود شرقی(چه‌دجونپور پاچۀ) له خوا ترهغه غښتلی فتنه ورته ژوندۍ شوه اوسمدستی خبر ورته را اورسید چه سلطان‌محمود دډهلی دبرېدله پاره ځان چمتو کوی، دسلطان بهلول دارشه وه‌چه‌ترخپله وسه‌پورې‌ئې‌له جنګه‌ځان‌ژغوره ځکه نوئی په‌خو را کبره غاړه دجونپوړ‌له دربار ه شخه‌دنه‌برید (عدم تعرض) دتړون هیله‌وکړه خو دجونپور دمغروره‌او غښتلی پاچاسلطان محمود اوملکې‌زیدونو .کمه‌دامنلای شرای چه دملکې دپلار کښې پر تخت دې نور څوك ناست وي،او همدغه سبب ؤ چه دسلطان بهلول دروغی پیغام رد کړه شو .

---

(۱) مرقع افغان ۳ ۲ مخ .

(۲)فخره‌افغانی قلمی کښې لیکلی‌دی: دسلطا دمحمون‌شرقی ښځه (ملکه‌جهانه) دسلطان علاءالدین له‌خپلوانو شخه‌وه‌مګر تاریخ داؤدی ئې دعالمشاه لور بولی.(دمرقع افغان په‌حواله).

# سرهند ته تګ

په ۵٦ ه کال سلطان بهلول دخپل ښځواني جاګیر سرهند اود پیالپور خوا ته ولاړ او ددهلي نیابت ئې خپل مشر او نوي ځامي ځوی (خواجه بایزید) ته وسپاره، ځیني وائي: دغو بنته چه د پنجاب له سیمو څخه نور فوځي طاقت دشرقي باچا مقابلې سره په لاس راولي(۱) او ځیني وائي چه غوښته ئې د سرهند او دیپالپور تر انتظام وروسته ملتان چه پدغو وختو کښې دیوه ستانه شیخ یوسف تر لاس لاندې ؤ (۲) ونیسي (۳)

## دسلطان محمود شرقي لمړی برید

په ۸٦۸ه کال په دغه وخت کښې چه سلطان بهلول دپنجاب په سیمو کښې ؤ، او د طباطبایي په قول غوښته ئې چه پر ملتان بریدو کاندي؛ دجونپور باچا (٤) سلطان محمود تقریباً دوه لکه فوځ او یو نیم زر هاتیان پر دهلي راوستل. ځیني وائي دی (سلطان محمود) د(مړه سلطان علاءالدین) هغو امراؤ بللی ؤ چه دسلطان بهلول پر پاچهۍ ئې سترګی نه رنېدلې (۵) او ځیني وائي چه ملاکې دی یارولی ؤ، چه د دهلي زما دپلار ملک دی بهلول دچا دی چه د دهلي پر تخت کښېني؟ که ته نه پرورځی زه به زغره واغوندم او یرغل به پرو کړم. (٦) په هر صورت د جونپور لښکرې دهلي ته راورسیدلې، نوی ځلمی (بایزید) او څو ورسره پاته

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۷۵ ۱مخ.

(۲) سیرالمتاخرین ۱۳۸ مخ (۳) جونپور له دهلي څخه لمر ختیز پلو ته ۱۷٦ کروه لیرې پروت دی دالله آباد او سني ښار دهغه جونپور لمر لویدیز پلو ته ۲۱ میله لیری واقع دی دجونپور طول البلد ۱۱٦ درجې او٦ دقیقې یا ۱۰۹ درجې او ٦ دقیقې او عرض البلد ئې ۲٦ درجې او ۱۱ دقیقې دی دا ښار سلطان فیروزشاه تغلق دخپل تر بره سلطان فخرالدین جونه په نامه ودان کړی دی. (سیرالمتاخرین (۲۰) مخ.)

(٤) سیرالمتاخرین ۱۳۸ مخ.

(۵) تاریخ فرشته لومړی جلد ۱۷۵ مخ

(٦) تاریخ داؤدی ۱۳ مخ مرقع افغان د ٤۲ مخ په حواله.

اميرانو په دې بوه شول چه ددو مره درنو لښکرو مقابله دخپلو تنو ميرو او ښځو كار نه دى، بله چاره نه وه په كلا ننوتل ښار كلا بند شو، دجونپور لښكرو شاو خوا ورته وا ړول د كلا د ساتندو يو مشرتوب دسلطان بهلول دپښتنې خوانښې (مستو بی بی) چه داسلام خان كونډه او د بهلول دا كا ماندينه وه، پر غاړه واخيست، ددې اه پاره چه غليم به دې ونه پوهيږي چه په كلا كښې فوځونه نشته دلودى كورنۍ تولو پښتنو ښځو ته ئې دناريڼوو كالي ورواغوستل كلاته ئې وخيژ ولې او پير ې (برې) ئې وروسپارلې، څه ميرونه چه په كلا كښې وو، تول ئې وګمارل چه تل به دغليم پرلښكرو غشې اوروي، په دغو ځلميو كښې دخپل وخت نامتو منلى غشى ويشتونكى دخان جهان لودى زوم (شاه سكندر شيرانى) (١) هم ؤ . دده غشي چه ١١ موټه (٥ نيم فټه) اوږده وو، ترا توسوو ګامو پورې رسيدل او دده پر تولو غشو په زرين خط (سكندرشاه) ليكلي وو. نكل كا چه يوه ورځ دسلطان محمود شرقى سقاو داو بوژى پر غوا بې بار كړى ؤ شاهي كيمپ ته ئې وړل چه دشاه سكندر ستر ګى پرو لګيدلې . ليندۍ ئې را كښله ژى او غو ئې ئى سر مو ييو دل، سقاو ځان وژغوره مغه زر كو بهغشى ئې سلطان نه وروړ ځكه نو سلطان حكم وكا: د پاچاهى كيمپ هيڅوك دې كلاته نژدې نه ورځى او دائى باور شو چه په كلا كښى فوځونه شته. كلا بندي پسې اوږده شوه، مستو بی بی دميرنى سلطان بهلول درا رسيدلو به تمه تر ډيره وخته پورې كلا خوندى كړه خو دلوديو ميرنيو در انګ زغ ر انغى، دا او تول كلا والد كلا بندۍ خواريو ستخ كړل باى ته ئى سلا پردې شوه چه ښار به غليم ته سپارى او ځانونه به باسى .

---

(١) دغه شاه سكندر شروانى دسلطان بهلول دزوم شيخ صدرالدين شروانى وروړؤ. (شوكت افغان ٣ جلد ٧٩ مخ)

# د کیلیو سپارل

نوریالی مشره (مستو بی بی) چه دلردیو فوځوله را رسیدلو څخه نا‌مینده شوه نوئې (دسید شمس الدین) په لاس دډهلی کلی ته دي پیغام ـ ره «چه که داود بو د نمر ت دنه خو ند ی کولو بیټ ی ؟ نو کـلی وا خله » د سلطان محمود شرقي خو را ورنیر امیر دریا خان لودی ته (چه د شرقی لښکرو ټول انتظام په ده پوري اړه ارله) ولیږلی .

نکل کاچه (سید شمس الدین) تر کلاوروت ، د دریاخان دربارته وروستل شو ، دریا خان دډهلي داستاځی په غوښتنه خپل دربار یان ویا څول چه‌دوی دوه سره یـا نه شول (سید شمس الدین) ورتـه وویل .« سلطـان محمود (شرقي باچا) ستا سره څه‌خپلولی لري؟ دریاخان ځواب ور کا.«خپل مي نه‌دي‌زه ئې نو کریم او دی می باچادی » سید ورته وویل :

« سلطان بهلول ستاڅه کـېږی ؟ »

دریا خان وویل ، « موږ سره عزیزان بو ، ورونه بو ، دی‌هم (لودی)دی‌اوزه هم » سید ورته وویل .« نودده میندې‌او خونـدې ستا څه کـېږی؟ » دریاخان ځواب ور کا .

« دده مور مي‌مور او دده خوندی مي خوندی دی » .

سید شمس الدین کلی له جیبه را وایستلې ، مخ ته‌ئې‌ور تـه کښېښوولې او ورته وی ویل :

« اوس نوستا خپله خوښه ده چه د خپلو میندو او خـونـدو پـرده خونـدی کوې که نه ؟ » .

بر دریا خان ددې بوښتنې ځواب ودرید او په خورا ترهوزه ورځئې‌ورته وویل :

« که سلطان بهلول را رسیدلی وای څه خوبه مې‌هرومرو کړی وای ، اوس چه ډاك تش نور پاته دی هیڅ تدبیر نشی کیدلای » دلته نـوهوښیار سید د

خپل فهم له مخولی ( تیر دان ) څخه یو کاری غشی را و یوست او ورته وي ویل : « سلطان بهلول خو را رسیدلی دی بلای نه ما تر ستنیدلو دمخه په کلا ننوتلی وی » .

دریا خان چه داوار ویدله قومی پیرزوینی ئې برنو کړی بېرې و موند کلی ئې بیرته ور کړې .

او بیا ئې په خورا ډاډه اودرنا وی دکلاخواته ستون کا پخپله دستی تیغ دسلطان محمود شرقی پاچا دربارته ورغی اوعرض ئې و کړ :

« د کلا کلی مانه راوړي شوی دي خوما ئې له اخیستلو څخه تېه و کړه ځکه چه اروېدل کیږي چه بهلول دېوه بی شمېره فوځ سره رارسیدلی دی که موږ مانې ور کړه ټول ملک زموږ دی . پاچا دی دا ته اوسی او مانه دي ازم (اجازه) را کړی چه مخه ئې ونیسم او نوموړي بیان ئې ورك كړم (۱) شرقی پاچا چه پرده (دریاخان) ډېره بروسه در اوده دده دخبر ي خلا صیده وه چه سمدستی ئې دسلطان بهلول دمخنیوی حکم ور کړ .

## د پښتو نخوا جرگې

سلطان بهلول چه دسرهند او دیپالپور په سیمو کښې دشرقی سلطان محمود په برید خبر شو سمدستی ئې دخپلو امیرانو په سلا پښتو نخواته دهري پښتنې قبیلې په نامه یو یو لیک اویوه جرگه و لیږله او خپلې مرستې لره ئې را وبلل . دسلطان بهلول دلیك مضمون شوکت افغان داسې ضبط کړی دی « لوی خدای پښتنو ته دهند وستان (ډهلی) پاچهی ور کړیده دهندو ستان دنورو پاچهانو ستر گی نه پر رونیږی او دانعمت ئې نه دی پر پیرزو ، غواړی پښتا نه له هندوستانه ورك کړی هندوستان یوارت او آزاد ملک دی ټوله عزیزان پکښې ځائیدلای شی که ناسی دلته راشیءپاچهی به تش زما پر نامه وی ملک به ټول چه اوس زما په لاس کښې دی او یائی بس له دی نیسو سره و ویشو . پدی ور ځو

(۱) مرقع افغان ٤٥ مخ دتاریخ داؤدی د ١٤ ــ ١٥ مخ په حواله او د شوکت افغان دریم جلد ٨٢ مخ .

کښې د جونپور پاچا خورا ډېرې لښکرې پر ډهلي رابهولې دي. د پښتنو
خوندې او میندې کلابندې ګالي او دا د ټولو پښتنو ننګه ده. ډهلۍ راپاڅئ
او د جونپور پاچا سر نه ور ولئ!!! د دې حال په ورسېدو د پښتنو ځلمو فوځونه
یو په بل پسې له هرې خوا مخ پر ډهلي راو خوځېدل چه پښتنې ننګه پر ځاى
کړي او پښتنې خوندې او میندې له کلا بندۍ وژغوري.

## د سلطان بهلول رارسېدل

سلطان بهلول ته چه د پښتنو فوځونه له پښتونخوا ور ورسېدل سمدستي ئې
لښکرې د ډهلي او رته ورو خوځولې شپې او ورځې ئې پر سرو اخیستل او به
یوه منډه ئې ځان ور ورساوه له ډهلي څخه (٥) کروه لیرې ئې په (بیره) (١)
یا (نربلا) (٢) کښې وار ول له دې خوا د (دریاخان لودی) لښکرې د هغه
دېرش زره فوځ او ډېر شو (٣) پاڅلو پښتو (٤) پیلانو سره چه سلطان محمود
شرقي د خپل پوستر امیر هراتی فتح خان ترمشر تابه لاندې ورسره کړي وي
پسې ور ورسېدلې که څه هم د سلطان بهلول د فوځ شمیر نسبتاً لږ ؤ خو د پښتنو
د ناموس ننګ له پاره سرونه د روز کړي ؤ او شرقي فوځ د مال او دولت له پاره
لېښلي راغښتي دي.

میړني بهلول خپلې توربالې لښکرې چه پر درو برخو ویشلې وې له درو خواؤ پر
شرقي لښکرو راوخوځولې او خورا کلک جنګ ونښت پخپله سرو بې پروا
پښتنو هسې توری ووهلې چه غلیم ګوته په غاښ ورته ونیوله. او دائې ثابته
کړه چه په جنګ کښې د میړونو میړانه په کار ده نه شمېر. نکل کا چه د اسلام
خان ګړندی زوی قطب خان هسې غشي ویشتل چه په خپل وخت کښې ئې
څوک ساری نه ؤ. په دغه جنګ کښې ئې په یوه غشي هغه جنګی پیل چه هراتي

---

(١) خورشید جهان ٧٦ مخ او تاریخ فرشته لومړی جلد ١٧٥ مخ
(٢) مرقع افغان ٤٦ مخ او شوکت افغان دریم جلد ٨٢ مخ
(٣) مرقع افغان ٤٦ مخ او شوکت افغان دریم جلد ٨٢ مخ
(٤) شوکت افغان دریم جلد ٨٢ مخ

فتح‌خان دټول شرقي فوځ په مخ کښې پر سپور ؤ هسې له کاره ویوست چه بیا د جنګ سېک (قوت) نه‌ؤ پکښې پاته. دغې بېښې دشرقي فوځــو غړی وتښتول اوځه سره ترهور شول په‌دغه ترځ کښې دقطب‌خان ستر ګی پر دریاخان اودی والګیدې ورزغ ئې کړه چه «په‌دغسې وخت کښې چه ستا خوندی او میندی په کلا کښې بند پاتې‌دی؛ستا غیرت دامنلای شي چه دېر دو له خوا وجنګیږې اودخپل پت اوناموس فکر برېږدی ؟» (۱)

دریاخان چه‌داطعنه واوریده‌له ورزغ ئې کړ: «که‌څوك دشا له خوا پرما بریدنه کوی زه‌به‌ستون شم» قطب‌خان لوړه (حلف) ورسره و کړه، دریاخان مخ‌وګرزاوه دده‌به‌مخ ګرزولو دشرقي انبکرو پښې له‌ځکې وختلې، هراتی فتح‌خان (چه‌پېبل ئې پخوالاله کاره وتلیؤ) دسلطان بهلول دیوه امیر (رای کرن) په‌لاس کښېوت ځکه‌چه پخوا ئې‌دې (درای کرن) و ور (پتهوررای) دده‌غه فتح خــان لــه‌لاســه وژل شــوی ؤ نوده هــم (هراتی فتــح خــان) وواژه او ککری ئې سلطان بهلول ته ورووړه، په‌دغه جنګ لودیو ته اوه‌جنګی پیلان هم په‌لاس ور غلل شرقي فوځونــه تارپه‌تار، کنډوکپړ، په تیښته‌ځانونه ډهلی ته‌ورسول. سلطان بهلول چه دغه سو به ومونده، د څښتن شکر ئې اداکړ دخپلو ملو پر زړو اومو ټو ئې آفرین ووایه اودهراتی فتح خان مړی‌ئې هلته په (بیره) پاتریلا) کښې ښخ کړ.

## دسلطان محمود شرقي ستنیدل

د سلطان محمود دفوځ دماتې خبرچه‌ډهلی ته ور سید د کلا خلکو په خورا خوشالی، د کلا ساتند وی‌مشرې (مستوبی‌بی) ته حال و رؤ ړ.

مستوبی‌بی ورته وویل: «تاسې و کورۍ داخلق چه‌راستنیږی‌پخپله‌خیمو ننوزی که‌برابر دخپل‌پاچا دربارته ورځی؟» دوی چه‌و کتل که‌کوری چه‌دا ستا نه شوی فوځونه برابر په خپلو خیمو ننوزی اوخپلې ځالی ځوابی سره

(۱) مرقع‌افغان اوطبقات‌اکبری لومړ ی جلد ۳۶مخ

راغونیږی دستی ئې (مستو بی بی) ته حال راؤړ تو ریالی پښتنی (مستو بی بی) چه داوار ویدل؛ حکم ئې وکا چه دښادیډ ډولونه ودرنګوی (۱) سلطان محمود شرقی چه له کلا څخه دښادیډ ډولونه وار ویدل دربار یان ئی د پو ښتید ل ؛ «چه په کلا کښی ولی دښادی نغاری ډنګولی کیږی؟»

درباریان لادتحقیق له پاره ئوراپاڅیدلی چه لودی دریا خان په خورا بده ورخ ور ورسید . او د هراتی فتح خان دوژلی او شرقی فوځونو دماتی بد خبر ئی ور ؤ ړ .

سلطان محمود بله چاره و نه لیدله سمد ستی ئې جونپور ته د کوچ نغاری ودرنګولی او میړنی سلطان بهلول بریالی په ډهلی ننووت کلابندو پښتنو ئی په خورا خوب هر کلی وکا او هری خواته خوشاله خوشالی شوه ښادنامې وزغیدلې، جشنونه ونیول شول اوله پښتونخوا څخه راغلیو توریالیو ته درانه درانه انعامونه وویشل شول وائی :ملك کالو نومی پښتانه مشر ته چه خلاتونه کښېښول شول هغه ئی له اخیستلو څخه نټه وکړه! سلطان بهلول چه ئی داټې سبب ورپوښتید؛ ده ورته وویل: زه په دغه جنګ کښی تېې شوی یم اوس که زه دغه خلاتونه اخلم پښتانه به وائي چه کالو خا ن خپل تپ خرخ کړ مادا تپ د کام په ننګ کښی اخیستی دی، زه دا په وینو سور تپ نه خرڅوم او دا پیغورنه ورم دزخم بها اخیستل دداسیالو کاردی ننګیالی یوالځی د ننګ له پاره ځانونه وژنی او بس ، (۲)

## د ملتان د پا چاپناه

د ډهلی پاچا محمد شاه (۸۳۷-۸۴۷) چه په ۸۴۰ هـ کال عیش او عشرت نـه ملاو تړله دملتان په سیمه کښی د ډېرادو دوړ پیښ شو . دقندهار او غزنی دخوا مغلی بریدونو ملتانیان ډېرو ځورول ځکه ئی نو کله چه محمد شا پاچا په ۸۴۷

(۱) مرقع افغان ۴۸ مخ دتاریخ داؤدی د ۱۶ مخ په حواله.
(۲) دکابل مجلې ۴۳۳ گنه.

هـ کال ومړ او پر ځای ئې تر ده عیاش زوی (سلطان علاءالدین عالم شاه) کښېنوست له خپله منځه د لوی ستانه حضرت بهاءالدین ذکریا ملتانی (رح) المسمی (شیخ یوسف سهروردی) ته چه ټولو ملتانیانو مانه دملتان واك وسپاره (۱) د غه شیخ یوسف سهروردی تر ۱۲ کالو پاچاهی وروسته په ۸۵۹ هـ کال پخپل زوم رای سهره لنګا (۲) (چه دمحمدقاسم فرشته په قول د سیوی پښتون وا کمن ؤ)(۳) له لاسه بندی او رای سهره پخپله د(سلطان قطب الدین لنګا) په نامه د ملتان پاچاشو . شیخ یوسف د خپلی کورمې سره ډهلی ته وتښتېداو سلطان بهلول پاچاته ئې پناه وروړه سلطان دی ډېر ونازاوه په خورا درنه سترګه ئې ورته کتل او خپله نازولې لور دده زوی شیخ عبدالله ته ور کړه(٤)

## دمبارکشاهی سیمو لاړه

په ۸٦۱ هـ کال (٥) سلطان بهلول دخپلو لښکرو سره دمیوات او دوآبې لور ته وخوځید میواتی احمدخان ئې (چه دخضرخانی سلطان علاءالدین عالمشاه په وختو کښې دټول میوات مستقل وا کمن ؤ) مخې ته راووت او دسلطان حکم ته ئې غاړه کښېښووله . سلطان دده دهغه طاقت (چه تل به ئې یاغي توب ته پاڅاوه) د لږ والو په غرض د هغو خوا ؤ اوه سیمې دده له واکه وایستلی او پاتـه ئې دده ته د جاګیر په نامه ورپرېښوولې ' د احمدخان اکا (مبارك خان) ئې د ډهلی په دربار کښې ډېر غمل په تو ګه له ځان سره راؤست . سلطان د (برن) یعنی او سني بلند شهر (٦) له لاری (سنبهل) ته پسې ورغی ' دسنبهل وا کمن (دریاخان لودی) ئې هم اطاعت ومانه او اوه پیلان ئې ورووړاندې کړل (۷) سلطان دده اوه سیمې هم په پاچاهی دفتر کښې ایستلی

---

(۱) تاریخ فرشته دوهم ټوك ۳۲٤ مخ (۲) سیرالمتاخرین په ۱٤٦ مخ کښې دا نوم رای سنتهره ضبط کړی دی مګر فرشته ئې (رای سهره) ایکی (۳) تاریخ فرشته دوهم جلد ۳۲٤ مخ

(٤) سیرالمتاخرین ۱٤٦ مخ (٥) تاریخ فرشته دوهم جلد ۳۰۸ مخ مګر شوکت افغان دادوره په ۸٥٦ هـ کال کښې بولی (د دریم جلد ۸۳ مخ)

(٦) شوکت افغان دریم جلد ۸٤ مخ

(۷) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷٥ مخ

او نوري ئې ده ته د جاګیر په توګه ور پرېښوولې. (کول) (۱) ته پسې ورتېر شو د کول واکمن (عیسی خان) ئې پر خپل حال پرېښود ـ له کوله څخه (برهان آباد) ته پسې ورغی د (سکیت) واکمن مبارك خان لوحاني (لواني) ئې هر کلی وکا، سلطان هم د (سکیت) واك بېرته د (مبارك خان) ته وسپاره (بهوګاون) ته ځني ولاړ او د (بهوګاون) سیمې ئې لکه پخوا (رای پرتاب) ته چه د هغه سیمو د زمیندارانو سردارو د جاګیر په نامه ور پرېښوولې. له (بهوګاون) څخه (رابری) (۲) ته پسې ورغی د رابری واکمن د حسین خان پښتانه زوی قطب خان (چه یو وخت په سوداګرۍ کښې د سلطان ملو) خان کلابند کړ. خو سلطاني فوځو ډېر ژر بري پرې موندا او کلائې ځني ونیوله. د خان جهان لودي په زیرمه قطب خان وباخښه شو او جاګیرئې هم بېرته ده ته ورپرېښوول شو.

د (رابری) تر نیولو وروسته سلطان (اټاوې) ته وخوځید د (اټاوې) واکمن ئې هم دستي حکم ته ایل شو ځکه ئې نو سلطان جاګیر بېرته ورپرېښود. په دغه دوره کښې درست میوات، دوآبه او سنبهل د ډهلي په پاچهۍ کښې ایښتلي شول او دا نو لی هغه لتي وې چه، د مبارکشاه (٤۰۸ـ۸۳۷) په پاچهۍ کښې په ډهلي پورې تړلي دي.

## د سلطان محمود شرقي دوهم برید

د جونپور پاچا چه واورېدل چه سلطان بهلول تر اټاوې پورې لاسونه را اوږده کړل؛ سمدستي ئې خپلې لښکرې د اټاوې لورته را وخوځولې لښکرې چه په اټاوه کښې سره مخامخ شوې؛ امرې ورځ یو سپك جنګ وشو په سبائې د رابرې حاکم (قطب خان) او د بهوګاون حاکم (رای پرتاب) منځ ته راغلل او د دواړو پاچهانو ترمنځ ئې په دې شرطو روغه وکړه:

(۱) کول = اوسنی علیګړه
(۲) رابری د اوسني o p علاقې د مین پورضلعه ده

[۱] کومی لتی چه د ډهلی د شهید پاچا سلطان مبارکشاه (۸۲٤ ـ ۸۳۷) په لاس کښې وې هغه دی د سلطان بهلول په پاچهی پوری تړلی وی.

[۲] کومی لتی چه د جونپور د پخوانی پاچا شرقی ابراهیم شاه په لاس کښې وی هغه دی ئې د زوی سلطان محمود شرقی په لاس کښې وی.

[۳] هغه اوه پیلان چه په لمړی جنګ کښې سلطان بهلول د مراتی فتح خان له لښکرو څخه نیولی دی بیرته به ئې سلطان محمود ته ستنوی.

[٤] شمشابات [شمس آباد] به چه د جوناخان جاګیر او حکومت دی تر برسات وروسته سلطان بهلول ته ور خوشی کیږی (۱)

داشرطونه دواړو پاچهانو سره ومنل او لښکری ئې خپلو خپلو پایتختو ته ستنې کړی.

## د (شمشابات) شخړه

برسات چه تیرشو دروغی دځلرم شرط سره سم سلطان بهلول د شمشابات شرقی حاکم (جونان خان) ته ولیکل چه شمشابات خوشی کړی، خو (جوناخان) دا حاکم و نه مانه او د شمشابات له سپارلو څخه ئې ټه و کړه. سلطان بهلول لښکری پسی وروخوځولې، جوناخان ور ته تینګ نه شو او جونپور ته و تښتید. سلطان، شمشابات خپل یو هندو امیر (رای کرن) ته و سپاره او پخپله د شاوخوا په انتظاماتو بوخت شو (۲)

## د سلطان محمود شرقی دریم برید

سلطان محمود شرقی چه خبر شو چه سلطان بهلول (شمشابات) و نیو ځکه چه ده پخپله (جوناخان) د روغی مخالفت ته پارولی ؤ نو ئې سمدستی لښکري له جونپوره راولیږدولی او شمشابات ته ئې نژدی وا ړول. سلطان بهلول چه

(۱) دغه جوناخان دغازی خان زوی دی د سلطان بهلول له امراو څخه ؤ، د اتاوې په دوره کښې له سلطان بهلول خوا بدی شو او سلطان محمود شرقی ته و تښتید سلطان محمود (شمس آباد) په جاګیر کښې ورکړ (تاریخ فرشته لمړی جلد ۷۷ مخ) او شوکت افغان دریم جلد ۸۵ م مخ

(۲) مرقع افغان ۵۰ مخ.

پخوالا دسلطان محمود دېرغل لار څارله او ځان ئې ورته غښتلی ؤ دا پلائی دجنګ ډول (طرز) وارادوه ؛مخ پر تندی جنګ ئې پرېښود ؛ دامي ئې وکمارلې چه له هري خوا او هر وخت به د(سلطان محمود) لښکری تر هوره کوی .

وائي : یوه شپه داسلام خان زوی قطب خان او اودی دریاخان پر شرقي فوځو نو برید وکا ؛ نابېره جنګ په دا ګ کښې دقطب خان آس نوك وخوړ او قطب خان ځنې ولوید . دغلیم سپاهیان پر راتوی شول او وئې نیو خپل پاچا (سلطان محمود شرقي ) ته ئې ور وست ؛سلطان محمود هم سمدستي دجنګي بندی په نامه (جونپور) ته ولیږه او هلته اوه میاشتي بندی ؤ(۱) سلطان بهلول چه د خپل نوریالي تربره په بند خبر شو مځکې آرام نه ورکاوه سبا سهارئې دستي پوفوځ د شهزاده جلال خان ؛ شهزاده نظام خان (۲) او عمادالملك تر مشر تابه لاندي د(رای کرن) په مرسته (چه په کلا کښې کلا بندؤ) دسلطان محمود دفوځو مقابلې لره پرېښود او پخپله له یوه تکړه او ګړندي فوځ سره دسلطان محمود مقابلې ته (چه څه لیري پروت ؤ) ورو خوځید . دخدای پېښې دي په دغه وخت کښې سلطان محمود شرقي ومړ (۸٦۲)ھ (۳) دملکې (بی بی راجې) په سلائې مشر زوی (شهزاده بهیکن) د(سلطان محمد شاه) په نامه پرځای پاچا کړ شو سلطان محمد شاه جنګ ونه باله او دبی بی راجې په زیار دده او سلطان بهلول تر منځ په دې ډول روغه وشوه چه : دسلطان محمود (شرقي پاچا) ملك به دسلطان محمد شاه تر لاس لاندي وی او کومی سیمی چه سلطان بهلول نیولی دی هغه به دسلطان بهلول وی . تر دغې روغې وروسته دواړه لښکری خپلو خپلو پایتختو نه ستنې شوې .

## دسلطان محمد شاه شرقي جنګ

ځکه چه سلطان محمد شاه دسلطان بهلول اخښی او تربور (قطب خان لودی) چه د(سلطان محمود شرقي) دوختو جنګي بندی ؤ خوشي نه کړ ؛ نو دارو غه دا وبو

---

(۱) مرقع افغان او طبقات اکبری دقطب خان دغه بند اوه کلونه بولی .
(۲) شهزاده نظام (سلطان سکندر) پدغه وختو کښې ٦ کلن ؤ .
(۳) تاریخ فرشته دوهم جلد ۳۰۹ مخ

دسر کرښه وه او نتیجه دا شوه : څرنګه چه سلطان بهلول د هلي ته نژدې شو د بندي قطب خان خور ( شمسو مېرمنې ) حال ور ته را وکړ چه :

« نر څو چه ننګیالی قطب خان د سلطان محمد شاه د زندان خواری ګالي پر تاهم دخوزې خوا ګوله او د آرامۍ خوب حرام دی !! » .

سلطان بهلول دې پیغام د پرسره وسواو سمدستي له دهلکوره (چه له د هلي څخه دریم ټیسن دی) بېرته (راپېرې) ته ستون شو (۱) سلطان محمد شاه هم له جونپوره مخ راو ګرزاوه په لار کښې ئې شمسا بات د سلطان بهلول د حاکم (رای کرن) له لاسه وکیښ او پخوانی شرقي حاکم (جوناخان) ته ئې وسپاره لښکر ئې پسی ور ولېږدولې را پری ته ئې نژدې په (سرستي) کښې ور ته وا ړول، څرور څې بر له پسی ښې توری سره وخرچیدې، پا ته سلطان محمد شاه د خپلو ورونو د مخالفت له امله د قنوج خوا ته ترشا شو، د دهلي لښکر تر ګنګا په پسې وی او خورا ډیری واجې ئې څښې و نیولی.

## د سلطان محمد شاه شرقي او ورونو شخړې

وائي: سلطان محمد شاه د (سرستي) د جنګ له میدانه څخه د جونپور کوتوال ته ولیکل چه زما ورور (شهزاده حسن) او د سلطان بهلول تربور ( قطب خان ) جنګي بندي ووژنه ! کوتوال ځواب ور ولیږه: ملکه بی بی راجی (ستا مور) دوا ړه داسې ساتي چه ما ته ئې وژل خورا ګران دی !

سلطان محمد شاه ته چه دا خبر ورورسید د جنګ له ډاګه څخه ئې خپلې مور ته ولیکل: تا نه د دالته د زیات ضرورت دی با ید ژر ځان را ورسوی » بی بی راجی بیوز له چه له جونپوره مخ د جنګ پر میدان راوخوځید له هغه نه د جونپور سخت زړه کوتوال سمدستي شهزاده حسن و واژه، بی بی راجی، چه قنوج ته راورسید له د (شهزاده حسن) په وژلو خبره شوه هلته ئې د با تاله پاره وا ړول او نور ه پر مخ تیره

(۱) د نکور د بلند شهر په سیمه کښې د یوه ځای نوم ؤ چه اوس دغازی آباد او خورجې د ریلوې ټیسنو ترمنځ یو ټیسن پدغه نامه شته

نه شوه په زړه ځا لم محمد شاه چه په قنوج کښې د موړ په رسید او خبر شو ور نه وئی لیکل:
د تو لو شهزاده گانو حال به د شهزاده حسن غو ندې وی نو ښه دا ده چه د تو او و پر
یو ځای و کړی!» دې بی بی راجی ملکه د محمد شاه ایسته کولو ته وړیا څو له او
د خپل بل زوی (شهزاده حسین د پاچهی خیال ور پیدا شو (۱)

## د شهزاده حسین تېښته او د شهزاده جلال بند

دلته چه د [سرستی] د جنګ د پاک لا نو دؤ، شهزاده حسین [چه بیا سلطان حسین شرقی شو] او شهزاده جلال خان د سلطان محمد شاه ورونه (۲)
د [شهزاده حسن] په مرګ او د محمد شاه په دیا که اراده وغوښتل د سلطان شه او [او جو دهنی امیر جلال خان] په سلائی سلطان محمد شاه ته ور بل: ار وو چه سلطان بهلول غوا ډی د [جهرنا] له غاړی د شپی پر مو نبز ر یدو کړی!' ځا لم مګر نا پوه پاچا د دوی په دې خبره تیروت د برش زره سپاره او د برش [۳] یا سل [٤] پیلان ئی ور ته ور کړه چه د سلطان بهلول مخه ونیسی شهزاده حسین سلطان هم او اجو دهنی جلال خان به ملګری د خپل فوځونه د [جهرنا] دسین پر غاړه وایول او [شهزاده جلال خان] نه ئی [چه له محمد شاه سره یا نه ؤ] حال ور کړ چه په یو چم فورا ژر ځان ور ته ورسوی شهزاده جلال خان لا نه ؤ ار سیدلی چه شهزاده حسین خپل فوځ د [محمد شاه] له بیری دا جو دهنی سلطان شه په سلا قنوج ته و خوځاوه او د سلطان بهلول هغه لښکر چه د دغه فوځ مقابلې لره د شهزاده علم خان [چه بیا سلطان علاء الدین لودی شو] تر مشر تابه لاندی را لیږل شوی ؤ دغه ځای ونیو'
شهزاده جلال خان شرقی چه د [جهرنا] غاړی ته را ور سیدل پدی فکر چه دا د [شهزاده حسین لښکر ی دی' برا بر د دښمن [شهزاده عالم خان لودی] په لښکر و ننوت او بندی سلطان بهلول ته بوتلل شو'

(۱) مرقع افغان ۵۵ مخ د طبقات اکبری د لمړی جلد ۳۰٤ مخ په حواله
(۲) شوکت افغان دریم جلد ۸۹ مخ
(۳) مرقع افغان ۵۲ مخ
(٤) تاریخ فرشته دوهم جلد ۳۰۹ مخ

سلطان بهلول چه وليدي بريې خوښ شوه قطب خان او دي په بدله کښې ئي له لخانه سره دجنگي بندي په حيث وساته او (سلطان محمدشاه) ته ئي حال ورولېږه.

(سلطان محمدشاه) چه دشهزاده حسين په دروه او دشهزاده جلال خان په بند خبرشو دقنوج خواته ئي (لکه څنگه چه دمخه مو ولیکل) لښکري ترشا کړی او د گنگا پر غاړه ئي واړول

# دسلطان محمدشاه وژله

## او دسلطان حسين پاچهي

شهزاده حسين شرقي چه قنوج ته ورسيد سمدستي د(بي بي راجي ملکي) او نورو امراو په سلا دسلطان حسين شرقي په نامه پاچا کړشو. ددواړو ورونو لښکرو د گنگا دسين پردووغاړو سره واړول د(سلطان محمد شاه) امراء سلطان حسين له ورواښتل او تر ښه ئحومياشتو پاچهي وروسته سلطان محمدشاه د گنگ مبارك له لاسه ووژل شو. دسلطان محمدشاه په وژله دشرقي پاچهي ټول واك د(سلطان حسين شرقي) په لاس ورغي.

### روغه

دسلطان محمدشاه په وژلو چه (سلطان حسين) ټول واك ومو ندسمد ستي ئي دسلطان بهلول سره پدي شرطو روغه وکړه:

۱ـ هرڅوك به پرهغه ویش دربيږي چه دمحمدشاه سره تړون پرشوی دی.

۲ـ څلور کاله به يو پر بل بريد نه کوي.

۳ـ جنگي بنديان به سره ور کوي.

سلطان حسين تر هرڅه دمخه قطب خان لودي له جونپوره راوغوښت د بر خلاف ئه اوآسونه ئي وروبخښل په خوراد رناوي ئي سلطان بهلول ته ورواستاوه لهدي خوا سلطان بهلول هم شهزاده جلال خان د بر ولازاوه او په خور ادر نه ورئې ئي سلطان حسين شرقي ته ورو لیږه.

دجنګی بندیانو ترالیشولوورو وروسته دواړه پاچهان خپلو خپلو پایتختو ته ولیږدیدل.

## د ((رای پرتاب)) راوښتل

د (بهوګاون) واکمن (رای پرتاب) چه په ۸۶۱ ه کال (سلطان بهلول) ته ایل شوی او پرخپل جاګیر پاته ؤ کله چه سلطان محمدشاه شرقی د (سرستی) دجنګ پاک نه راته' بیرته دسلطان محمدشاه مل شوی ؤ تر ډیری روغی وروسته د (قطب خان لودی) په داډ اوسلا بیرته د سلطان بهلول خواته راواؤښت او سلطان هم وباخښه (۱)

## دشمشابات نیول

په ۸۶۳ ه کال سلطان بهلول دسلطان حسین سره دروغی له مخی پر (شمشابات) لښکری وروستلي (شمشابات) ئې بیادشرقی واکمن (جونا خان) له لاسه وکیښ او (رای کرن) ئې له خپلی خواد (شمشابات) واکمن وټاکه (۲)

## دقطب خان (۳) اورای پرتاپ خوابدی

دشمشابات تر انتظاما تو وروسته سلطان بهلول (اټاوې) ته رلاړ' د (رای پرتاپ) زوی (نرسنګ) ئې سلام ته ورغی سلطان ونازاوه او هغه بیرغ او نغاره ئې چه یو وخت په جنګ کښی له دریاخان لودی څخه اخیستی وو ده ته ورکړل ' دریاخان داخبره خان لره ډیره او پیغورو باله اود هغی ژړی وغچ کښلو په په نیامت (قصد) ئې قطب خان لودی د (نرسنګ) وژلو ته ولمساوه او (نرسنګ) په پټه ووژل شو دې پیښی (رای پرتاپ) '(قطب خان) او مبارک خان (٤) یا مبارز خان (٥) خوابدی کړل او دسلطان حسین شرقی خواته وروا وښتل.

---

(۱) تاریخ فرشته دوهم جلد ۳۰۹ مخ

(۲) خورشید جهان ۷۸ مخ (۳) داقطب خان دحسین خان بنفتا نه زوی دی.

(٤) خورشید جهان ۷۸ مخ (٥) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۶ مخ او شوکت افغان ۱ جلد ۹۰ مخ.

## پنجاب ته تګ

په۸٦۷ هـ کال سلطان بهلول (ډهلی قطب خان لودی او خان جهان وزیر ته وسپاره او پخپله ئې لښکرې د ملتان دیاغی حاکم ځپلو او د پنجاب دانتظام په نیامت له ډهلی ځخه وخوځولې، خو په لاره کښې خبر شو چه د سلطان حسین شرقی لښکری مخ پر ډهلی راروانی دی ځکه ئې نو دپنجاب کار نیمګری پریښود او په خوراتلوار دشرقی لښکرو مخ نیوی لره ډهلی ته ور ستون شو (۱).

## دسلطان حسین شرقی لمړی برید

کله چه سلطان بهلول خپلی لښکرې دپنجاب او ملتان خواته وخوځولی سلطان حسین شرقی ډاګ له میروتشرولېداو دډهلی لورته ئې خپلی درنې لښکری او پیلان راولیږدول سلطان بهلول چه له نیمې لارې ډهلی ته راغلی ؤ مخ نیوی ته ئې ورووت په (چندوار) کښې لښکرې سره مخامخ شوې اته ورځې کلک جنګ وشو بیا ځینې امراء منځ ته سره راغلل او دهر یو کلو له پاره ئې دنه برید تړون سره وکړ(۲)

په دغه جنګ کښې میواتی احمدخان او دکول حاکم (رستم خان) دسلطان حسین شرقی خواته ورواوښتل او اتاتار خان لودی) دسلطان بهلول ملګرشو (۳)

## دمیواتی احمدخان ځپل

سلطان بهلول چه د (چندوار) د جنګ له ډاګه ډهلی ته راستون شو سمدلاسه لښکرې د میوات لورته د احمد خان دځپلو په نیامت وخوځولی خو احمدخان پخوا تردې چه لښکرې میوات ته ورسی دخان جهان لودی وزیر په وزیرمه او سلا دربار ته راغی او سلطان هم وباخښه (٤)

---

(۱) مرقع افغان ۵۷ مخ (۲) مرقع افغان ۵۷ مخ

(۳) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۷ مخ (٤) خورشید جهان ۷۸ مخ

## د سلطان حسين شرقي دوهم بريد

دا بريد پر درې کالن ترون دوامدی خوا پر سره و در بدلي او تر درو کلو پورې د سلطان بهلول او سلطان حسين ترمنځ هيڅ جنګ ونه شو مګر په دغو درو کلو کښې د يوه لوی جنګ له پاره کلکې تياری نيولی کېدلې درې کاله چه څرنګه تېر شول سلطان حسين شرقي د بلاربه څېر د ډهلي په نيامت پولک سپاره او يو زر پيلان راولېږدول (۱) (اټاوه) ئې ونيوله او احمد خان ميواتی او د (کول) حاکم رستم خان ئې خپلې خوا ته بياواړول (۲) د بيانې حاکم د يوسف خان جلواني زوی احمدخان خو په (بيانه) کښې د سلطان حسين پر نامه خطبه هم وويله (۳) سلطان بهلول چه پخوا له دې بريد ته سترګې نيولې وې او په ډهلي کښې چمتو ورته ناست ؤ د لښکرو سره راووت په [بهټواره] ( ) [يا نهواره] (۵) [يا کودکان] (۵) کښې ئې د شرقي فوځو مخه ونيوله څو ورځې دواړو لښکرو سره امرولی وو پخوا تر دې چه جنګ وشي د (لودی خان جهان) په زيار بيار وغه وشوه سلطان بهلول ډهلي او سلطان حسين جونپور ته لښکرې ستنې کړې.

## مرسته غوښتل

سلطان بهلول په ۸۷۳ ه کال شيخ محمد پر ملې او د ګواليار د راجا زوی (کيپور چند) د استاځو په حيث د مالوې پاچا (سلطان محمود خلجي) ته ولېږل او د سلطان حسين شرقي په ضد ئې د بيانې د دوړ کولو په بدله کښې مرسته ځنې وغوښتله سلطان محمود خلجي په ځواب کښې ورته وويل: «ښه دی که سلطان حسين بريد وکړ زه به مرسته درولېږم (۷)

---

(۱) مرقع افغان ۵۸ مخ

(۲) تاريخ فرشته لمړی جلد ۱۷۷ مخ او شوکت افغان دريم جلد ۹۱ مخ (۳) خورشيد جهان ۷۸ مخ (٤) موقع ۵۸ مخ شوکت افغان دريم جلد ۹۰ مخ (۵) تاريخ فرشته لمړي جلد ۱۷۷ مخ (٦) خورشيد جهان ۷۸ مخ (۷) تاريخ فرشته دوهم جلد ۲۵٤ مخ

## د سلطان حسین شرقی دریم برید

له دوهمی روغی څخه لږ وخت نه ؤ تیر شوی چه سلطان حسین بیا پر ډهلی لښکری راولیږدولی سلطان بهلول ئی په (سنکهره) کښی مخه ونیوله (۱) څو ورځی جنګونه سره وشول یوه ورځ چه (کولی) رباط ته نژدی له سهار څخه تر ماښامه پوری لښکری په جنګ سره اړی وی سلطان بهلول ته دی خونریزیو خوند ورنه کړ سره ددی چه د شپیتو کالو سړی ؤ سلطان حسین ئی د یو ځای جنګ له پاره ډاګ ته راوباله سلطان حسین چه ځان ددی بښتانه پهلوان ساری نه لید پخپله ورته را ونه ؤت او خپل یو تلی پهلوان (رغبت خان) ئی ورته ورولیږه سلطان بهلول په دی ګمان چه دا پخپله سلطان حسین دی برید پرو کړ ډیری توری سره وخرڅیدی سلطان بهلول سره ددی چه څو ځایه د (رغبت خان) له لاسه ټپی شو پای ته ئی پر رغبت خان بری ومونده او وئی واژه د شپی تیاری چه لښکری سره بیلی کړی سلطان حسین چه د سلطان بهلول په ټپی کیدلو پوه شوی ؤ د شپی برید پری وکړ مګر سلطان بهلول د رسته شپه جنګ وکړ او په میدان کښی کلک ودر ته و درید و ائی پدغه شپه ډیر میړونه سره ووژل شول او شرقی فرځونه نا کام تر شا شول سبا ته بیا دامراؤ په زیار روغه سره وشوه سلطان بهلول ډهلی او سلطان حسین اټاوی ته ولاړ (۲)

## د ملتان برید

په ۸۷۶ (۳) یا په ۸۷٤ هـ کال (٤) چه د ملتان پاچا سلطان قطب الدین لنګار ای سهره ومړ او پر ځای ئی زوی (سلطان حسین لنګا) پاچا شو. سلطان بهلول د ملتان د پناه وروړی پخوانی پاچا (شیخ یوسف سهروردی) مرستی اسره د پنجاب واکمن تاتار خان لودی وګماره چه د شهزاده مبارک (باربک شاه) تر مشرتابه لاندی پر ملتان بریدو کړی د شهزاده مبارک لښکری د ملتان ښار ته

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۷ مخ (۲) خوشید جهان ۷۸ مخ
(٤) سیر المتاخرین ۱٤۷ مخ (۳) تاریخ فرشته دوهم جلد ۳۲٥ مخ

ورسیدلی او دعید ګاه سره ئې واړول سبا سلطان حسین دلسوزرو سرتیرو میړنو سره راووت په لمړی حمله کښې دشهزاده مبارك (بار بك شاه) لښکر و ماتې وکړه په لاره کښې ئې د(جسونت) یا (جنبونت) د کلا حا کم وواژه او پنجاب ته نا کام ستا نه شو ل .

## دکشمیر یانو لمړی برید

په ۸۷۷ ھ کال چه شاه حیدر د کشمیر پاچا شو ، د آدم خان زوی فتح خان ئې (چه بیا دفتح شاه په نامه د کشمیر پاچا شو ) له ډیرو لښکرو سره د پنجاب خوا ته ور واستاوه فتح خان ناڅاپه د داړی په صورت ترسر هند پوری تو لـی سیمی تالا کړی او بیر ته کشمیر ته و خوت (۱)

## دکشمیر یانو دوهم برید

په ۸۷۸ ھ کال چه د شاه حیدر زوی شاحسن د کشمیر پاچا شو ملك احمد ئې خپلواك وزیر شو . دجمو درا جوارې راجا (عجب د یو) دېنجا بی پښتا نه وا کمن (تاتار خان لودی) له لاسه ډ یر په عذا ب ؤ له ملك احمده څخه ئې مرسته وغوښتله ملك احمد یو درو ند لښکرد (ملك با ری بټ) ترمشر تا به لا ندی ورسره کړ دې لښکرو ناڅاپه پرپنجاب بریدو کړ ډیری سیمې ئې تالا کړی «سیالکوټ» ئې وران کړ او بیرته کشمیر ته وختل (۲)

## دسلطان حسین شرقی څلورم برید

۸۸۳ ھ

سلطان حسین شرقی چه « بد ا یو ن » د خپلی خسر ګنی له لا سه و کیښ « سنبهل » ته پسی ور تیر شو ، سنبهل ئې و نیو او دهغه ځای حا کم د تاتار خان زوی «مبارك خان» ئې بندی سارن تـه واستاوه (۳) دسنبهل تر نیولو وروسته ئې د۸۸۳ ھ کـال د لوی اختر په میاشت کښې خوراد ر ئی

---

(۱) تاریخ فرشته دوهم جلد ۳٤۸ مخ.

(۲) تاریخ فرشته دوهم جلد ۳٤۸ مخ (۳) مرقع افغان ۵۹ مخ دطبقات اکبري په حواله

لښکری چه تاریخ فرشته یې لیك وځلو ښت زره سپاره بللی دی له یوزر و شلورسوو پیلانو سره دډېلی لورته راولیږدولی(۱) سلطان بهلول که څه هم په دغه وخت کښې د کشمیریانو دایداد یه نیامت (۲) سرهند ته تللی ؤ.

مگر دفاعی ترتیب او انتظام ئې خورا مکمل ؤ، ځای پرځای لښکری برتې وی دسلطان حسین درا خوځیدو په اوریدلو سره ئې دخان جهان زوی [حسین خان] له [میرتهه] څخه مقابلې لره و گماره او بخپله له سرهنده څخه ډهلی ته راغی دسلطان حسین شرقی له خپل درانه لښکر سره د[جمنا] پرغاړه د[جوسا] گودرته نژدی واړول سلطان بهلول هم له اتلسو زرو پښتنو میړو سره ورته راووت او دسین پرهابله ژی ئی واړول (٤) له دواړو خواؤ په لښتو پیل سره وشو کله به یوه بری موند کله بل، دواړو لښکرو یوه لوی اوفیصله کن جنگ ته ستر گې نیولی وی. نکل کا چه دسلطان حسین شرقی دی درانه فوځ داپلا سلطان بهلول څه وارخطا کړ سلطان حسین ته ئې حال ورواییږه چه: «ډهلی تر اتلسو کروه پوری ماته راپر یږده نوری سیمی چه تا نیولی دی هغه ئې ستا! دمسلمانو وینی به نه سره توی وو اوته ما په ډهلی کښې له خپلې خوا دقا کلی حاکم په حیث و گڼه!» مگر په خپل قـوبت مغرو ره سلطان حسین دده دا کېږه غاړه نه ومنله (٤) وائی سلطان بهلول چه له روغی ناامیده شو یوه شپه دسید نا ښتانه بختیار قطب الدین کاکی[رحمة الله علیه] د زیارت ته ولاړ او هلته د رسته شپه اخ سر خدای ته په عجـز او نیاز ولاړ ؤ او هغه لوی د دربـار ته ئې د خـپلی سو بی لــه پـاره لاسو نه پـورته کـړی وو، سپـید و تــه نـژدی یــو ښـپا نـی پــوو ړ که گوری یو ناآشنا سړی ورته راغی کوتك ئې پلاس ورکړ او ورته ئې وویل: «ځه! هغه لیوان چه دلته راغلی دی له دغه ځایه وباسه!»

---

(۱) تاریخ فرشته دوهم جلد، ۳۱۰ مخ مگر تاریخ فرشته ددغه جنگ تاریخ ۸۷۸ ه کـال بولی او مرقع افغان ئې ۸۸۳ کـال گڼی. (۲) خورشید جهان ۷۸ مخ
(۳) تاریخ فرشته دوهم جلد، ۳۱۰ مخ (۳۱۵) مخ (٤) تاریخ فرشته دوهم جلد، ۳۱۰ مخ

سلطان بهلول چه‌داخوب ولید یرخپل بری ئې ټینګ باور وشو خد ای پاك ته ئې دشکر سجده وکړه خپلو لښکرو ته ئې مخ راوګرځاوه او د خدايي مرستې په توکل دهغو لیوانو دشر او په فکر کښې شو (۱)

ځینې وائې دمغروره سلطان حسین امیران او زیات شمیر لښکرې دشاه خوا سیمو ته ولاړې. سلطان بهلول چه‌دا موقع له خدایه غوښته سره ددې چه د جمنا دسیند دخوړ را طغیان وخت او دبرسات تابی ؤ؛ سلطان بهلول ترېوه پای ګدر خپلې لښکرې ورپورې ایستلې او دمغروره سلطان حسین پر لښکروئې ناڅاپه برید وکړ دسلطان حسین دلښکرو پاته امیران وارخطا شول او سلطان حسین ئې تېښتې ته مجبور کړ(۲) مګر ځینې وائې: لودی قطب خان چه‌څه وخت دمخه دجونپور په دربار کښې د جنګي بندی په حیث څو میاشتې او سیدلی او بیاد بی بی راجې ملکې دپاتیاله‌یاره‌دسلطان حسین حضور ته ورغلی ؤ او دسلطان حسین سره ئې له نږدې پېژندل په پټه دیوه‌استاځی په لاس دسلطان‌حسین شرقي دربارته پیغام و لیږه:

«زه ستا دمور (بی‌بی راجې مرحومې) زیات ممنون یم ځکه کله چه زه په جونپور کښې جنګي بندی وم دې‌پاك لمنې زما سره ډېر ښه کړی دي نوزه دهغو حقوقو له‌مخې چه ستا مورئې پر ما لري تاته سلا درکوم چه د سلطان بهلول سره روغه‌وکړې او بېرته‌لښکرې ستنې کړې دګډا بوری خوادې ستا وی او د ګنګاداخوا سلطان بهلول ته پریږده هیله کوم چه‌ته‌داومنې!» (سلطان حسین شرقي) هم داروغه ومنله او له ډهلې څخه ئې لښکرې ستنې کړې(۳) زمایه عقیده ددې د و هم سبب معقولیت نشته ځکه هغه سلطان حسین چه دسلطان بهلول یواځې دډهلې حکومت ئې هغه‌هم‌ږده‌له خوانه مانه‌او د سلطان بهلول پیغام ئې چه دډهلې تراتلس کروهی پوری مانه راپرېږده نوری دې تولې‌سیمې‌ستاوی! رد کړ. اوس څنګه بې قوته څخه دقطب خان لودی په

---

(۱) مرقع افغان (۲) تاریخ فرشته دوهم جلد ۳۱۰ مخ
(۳) مرقع افغان ۶۱ مخ دتاریخ‌داؤدی ۱۹۵ مخ په حواله‌او طبقات اکبری‌امېری جلد ۳۰۹ مخ

نش پیغام ترکمګا پورې دټولو نیولو سیمو په خوشۍ کړو او راضي کیږي او بې تکوبو لښکرې ستنوي په هرصورت د سلطان حسین د لښکرو د تیښتې پاستنیدلو په حال کښې سلطان بهلول له خپلو لښکرو سره ترشا برید پرو کړ، ټوله خزانه او جنګي سامان ئي چه پر آسو او پیلانو بار وو؛ په واجه کښي ځینې راو ګرزول او څلویښت تنه درانه امیران یې لکه قتلغخان وزیر (۱) چه (د خپل وخت په علم او هوښیارۍ منلی شخصیت ؤ) او ملك بدهو دعرض نائب بندیان ځني ونیول، دې ناځاپه برید د مغرور سلطان حسین لښکرې ښه وځپځپر لې، سلطان بهلول نور هم پسې ورتیر شو او دبټیالی کهپنل، جالیسر، شمشاباد، سکیت، کول، مارهره او جلالی سیمې ئي ځني ونیولې، خپل خپل حاکمان ئي پکښې وټاکل او سم په سلطان حسین پسې ؤ. (سلطان حسین) چه بې جنګه خپل خلاصون ځني ونه لید؛ مجبوراً ئې په (رام پنجهره) (۲) یا (راپړی) (۳) یا (پنجهوارن) (٤) کښې مخ راو ګرزاوه او جنګ ته ئې اېښې سره راو غښتلې مګر روغه سره وشوه او (دهنوپامو) ئې سرحد سره وټاکه په دې روغه سره دواړو پاچهانو پر خپلو ملکو سکته وکړه او دواړه فوځونه د جنګ له ډاګه سره تر شاشول، سلطان حسین په (راپړی) او سلطان بهلول په (دهنوپامؤ) (۵) یا (دهلی) (٦) کښې ورته راړول.

## د سلطان حسین شرقي هینځ برید

د سلطان حسین شرقي څلرم برید دده د پاچهۍ د رنګیدلو مقدمه وه مګر ښندی سلطان حسین کله په آرامه کښېنوست د ابل کال ئې بیا (۷) یا تر کال

(۱) دوغه قتلغخان وزیر نوم قاضي سماء الدین دی (۸۰ مخ تذکره علمای هند)
(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۷ مخ
(۳) مرقع افغان ٦۲ مخ
(٤) شوکت افغان دریم جلد ۹۲ مخ
(۵) مرقع افغان ٦۲ مخ
(٦) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۷
(۷) خورشید جهان ۷۹ مخ

لاد مخه (۱) دوه‌لی خواته لښکری راوبهولی په (سونهار) (۲) یا (سنهارن) (۳) کښې ئې سلطان بهلول مخه ونیوه له کلک جنګ وشو سلطان حسین بیاماتې وکړه (رابړی) ته ئې ځان ورساوه دیرجنګی سامانونه ئې داودیو په‌لاس کښېوتل سلطان بهلول یسی ورتیر شه په دهو یاموا کښې ئې ورته واړول.

## دلودی خان جهان مړینه

په دغه وخت کښې چه سلطان بهلول له سلطان حسین شرقی سره په جنګ بوخت ؤ دډهلی نیابت ئې (لودی خانجهان) ته چه دده خورا ورتېر وزیر ؤ سپارلی ؤ دخدای پیښې دی خان جهان لودی په همدغه وخت کښې چه‌سلطان په (دهو یامو) کښې اړولی ؤ په دهلی کښې‌ومړ سلطان دده زوی احمدخان ته دخان جهانی لقب او دډهلی نیابت ورکړ. (٤)

## دسلطان حسین تېښته

«۸۸٤ هـ»

سلطان بهلول چه دخان جهان لودی له یاتاڅخه فارغ شو بیر سلطان حسین ئې‌چه په (رابړی) کښې اړولی ؤ برید وکړ دسلطان حسین د فوځو پښې وختلی او سلطان حسین بخپله د (ګوالیار) لورته مخ‌ونیو د(جمنا) ترسین چه‌پورې ؤت دیر امیران اوسپاهیان ئې اوبو یووړل. ګوالیار ته چه ورسید دګوالیار راجا (کرت سنګه) (٥) یا (کرن‌سنګه) (٦) ئې مخی ته راووت ځو لکه تنګی دیراسان پیلان اونور جنګی سامان اوضروریات ئې دمرستې په نامه وروړاندی کړل اوتر «کالپی» پورې‌ئې‌ملګری ورسره وکړه (۷).

---

(۱) مرقع‌افغان ٦۳مخ

(۲) خورشید جهان ۷۹مخ‌اومرقع افغان٦۳ مخ

(۳)تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۷ مخ

(٤) مرقع افغان ٦۳ مخ

(٥)مرقع افغان ٦۳ مخ

(٦)خورشید جهان۷۹ مخ

(۷) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۷ مخ

## د اټاوې نيول

سلطان حسين چه له راپړي څخه ماتې وکړه سلطان بهلول د «اټاوې» سيمې ته لښکري وخوځولې دسلطان حسين ورور «ابراهيم خان» اوهيبت خان ئې په اټاوه کښې کلابند کړل ' دري ورځې ور وسته ئې امان رغوښت او [ اټاوه ] ئې سلطان بهلول ته وسپارله ' سلطان بهلول داټاوې حکومت [لودانۍ ابراهيم خان] ته ورکړ (۱) اوځينې سيمې ئې [ راى دانه] ته دجاګير په توګه ورکړې .

## دکالپي جنګ

سلطان بهلول چه اټاوه دسلطان حسين دورور له ګوتوو کښله کالپۍ ته ئې په سلطان حسين پسې بيړې راو غښتلې' سلطان حسين چه خبر شو د ګواليار راجا دمرستې په ډاډ ئې تر کالپۍ دباندې په [رانوکا](۲) يا [ راى ګاون] (۳) يا [زرنګار](٤) نومي ځاى کښې دسلطان بهلول دفوځو مخه و نيوله ځکه چه د[جمنا]سين ترمنځ ۇ.جنګ څومياشتې اوږد شو .يا ى ته د[بکسر] حاکم [راى تهراوك چند]دسلطان بهلول حضور ته ورغى او د [ جمنا] د سين تر يوه پې ګدر ئې دلوديو لښکري پورې ايستلې (٥)دسلطن بهلول د لښکرو په تشو ورپورې وتلو دسلطان حسين دفوځوپښې له ځکې وختلې اود[تهټه] دراجا ملك ته ئې مخ ونيو (٦)

## د قنوج جنګ

سلطان حسين چه د[تهټهي]لتې ته ورسيد دهغې لتې راجاهم لکه د ګواليار راجاځولکه تنګې'خراسان او پيلان ورورانده کړل اوځه خپل فوځ ئې تر

(۱) تاريخ فرشته لمړى جلد ۱۷۸ مخ(۲)مرقع افغان ٦٣ مخ (۳) تاريخ افاغنه ٤۹ مخ
(٤) خورشيد جهان ۷۹ مخ (٥) مرقع افغان٦٤ مخ د طبقات اکبرى دلمړى جلد ۳۱۱ مخ اودتاريخ داؤدى د۱۹مخ په حواله (٦) مرقع افغان ٦٤ مخ

جونپوره ورسره کړ(۱) سلطان بهلول چه خبر شو چه سلطان حسین [جونپور] ته مخ نیولی دی لښکری ئې [جونپور] ته پسی وروخوځولی، سلطان حسین د بهرایچ له لارې قنوج ته ځان ځنی وکیښ، سلطان بهلول سم پسی ؤ، څو قنوج ته نژدی د [رهت] د سین پرغاړه بیا سره ونښتل سلطان حسین ماتې وکړه بهار ته وتښتید ډیر مالونه او بندیان ئې دلودی لښکرو په لاس کښیوتل په دغو بندیانو کښې دسلطان حسین ملکه [بی بی خونزه](۲) دخضرخان دلمسی [سلطان علاء الدین عالمشاه] لورهم وه چه سلطان بهلول په خورا عزت او درناوی دوساتله (۳) او په ډیره درنه وضع او احترام ئې سلطان حسین ته ورواستوله(٤) سلطان بهلول تردې سوبې وروسته دجونپور حکومت [لوانی مبارک خان] ته وسپاره. قطب خان لودی او مبارز خان ئې په [مجهولی] کښې پریښوول پخپله ئې [بداون] ته لښکری ستنې کړې او هغه سیمی ئې ونیولې (٥)

## دسلطان حسین راستنیدل

(۸۸٤ هـ)

سلطان حسین چه دسلطان بهلول په ستنیدلو خبر شو سمدستی ئې بیرته لښکرې پر (جونپور) را وبهولې (لوانی مبارک خان) چه ئې په ځان کښې دجنگ توان نه لید (جونپور) ئې ورپریښود او (مجهولی) ته ئې قطب خان لودی ته ځان ورساوه سلطان بهلول چه دا واوریدله دستی ئې بوتکړه لښکر

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۸ مخ

(۲) خونزا دهغو وختو دشهزادګیو له پاره معمول خطاب ؤ دسلطان احمدشاه بهمنی دلور (حمیرا) خطاب (خوانزا) ؤ دا شهزادګی د شاه محب الله ښځه وه دسلطان محمد شاه بهمنی دیوې لور (فاطمې) او دبلې لور (نظام) خطابونه هم (خوانزا) وو (خوانزا فاطمه) دشاه محب الله دزوی (شاه عطیت الله) او (خوانزا نظام) دشاه محب الله دبل زوی (میرزا ادهم) ښځه وه (دبرهان مأثر تاریخ ۸۱، ۱۳۷، ۱۳۸ مخ)

(۳) تاریخ خورشید جهان، تاریخ افاغنه او شوکت افغان د (ملکه خونزا) بند د ۸۸۳ هـ کال په جنګ کښې بولی.

(٤) سیر المتاخرین ۱۳۹ مخ او تاریخ افاغنه ٤۸ مخ

(٥) خورشید جهان ۷۹ مخ

دخپل زوی مبارك خان (باربکشاه) ترمشرتابه لاندي دقطب خان مرستي لره ورولیږه او ترشائي دري لښکري پخپله جونپور ته یسي ولیږ دوي سلطان حسین چه دسلطان بهلول دوررسېد لوزغ واروېد بي له جنگه ئي جونپور پرېښود او بهار ته وتښتید (۱) پدغو ورځو کښي قطب خان ومړ (۲) سلطان بهلول څوورځي د(دهلي) په کلي کښي دقطب خان لودی دپا نـالـه پـاره واړول ترپا تا وروسته ئي جونپور ونیوخپل زوی مبارك خان ته ئي د(باربکشاه) خطاب ورکړ او په ۸۸٤ھ کال ئي دجونپور پر تخت کښېناوه (۳)

## تر دهلی پوری

سلطان بهلول چه خپل زوی (باربکشاه) دجونپور پر تخت کښېناوه او دلمرختیز و سیمو له انتظـامه ئي فراغت وموند، له جونپوره ئي لښکری راستني کړي کالپی ته راغی د کالپی حکومت ئي تر (دیوگړه جاندیه) پوري خپل لمسی اعظم همایون (دخواجه بایزید زوی) ته وسپاره له کالپی څخه ئي د(چندوار) له لاري لښکري (دهولپور) ته وخوځولی د(دهولپور) را جائي حکم ومانه پنځوس منه سره زرئي ور وړاندي کړل سلطان له دهولپور څخه (باری) (٤) یا (نداره ماری)(۵) ته راغی ددغه ځای حاکم (جمال خان)(٦) یا (آفتاب خان) (۷) ئي هم حکم ومانه او (اوه منه) سره زرئي دڅپلی گنډیه تو که دسلطان حضورته وړاندي کړل سلطان د(باری) حکومت بېر ته ده ته وسپاره او د(لهایور) او [رنتهپور] لورته ئي لښکري ولیږ دوي هغه سیمی ئي تالا کـړي بتخانی ئي ونړولي او دهغو پرځا ئي مسجدونه ودان کړل مؤذنان، خطیبان ئي پکښې وگمارل اوله هغه ځایه دهلي ته بریالی را ستون شو (۸)

---

(۱) خورشید جهان ۷۹ مخ

(۲) خورشید جهان دغه قطب خان داسمعیل خان زوی بولی او تاریخ افاغنه ئي لودی قطب خان د اسلام خان زوی گڼی (٤۹ مخ) او دادو همه نظر یه صحیحه ده.

(۳) خورشید جهان ۷۹ مخ (٤) خو ر شید جهان ۷۹ مخ

(۵) تاریخ افاغنه ٤۹ مخ (٦) خورشید جهان ۷۹ مخ

(۷) خور شید جهان ٤۹ مخ (۸) تاریخ افاغنه ٤۹ مخ

## دسوبې (فتح) جشن

سلطان بهلول چه دجونپور، کالپی بدایون، دهولپور، باری، او نتهپور له سوبو څخه ډهلی ته راستون شو یو پاچاهی جشن ئې جوړ کړ دهغو ښتنو میرو برسروئې چه پهدغوسو بو کښې ئې توري وهلی او میړانې کړیوې په عام دربار کښې طلاوی او مرغلرې وپاشلې ډیر بخششونهئې ور ته وکړل، سپاهیان ئې ونازول او دمحتاجو رعتیوپرمخ ئې دخزانو دروازې خلاصې کړې (۱).

## د(پالن پور) برید

په ۸۸۹هـ کال سلطان بهلول دمالوې دپاچاهی برېوه شمالی سیمه «پالن پور» برید وکړ پدغه وخت کښې دمالوې پاچا «دخلجی سلطان محمود زوی» سلطان غیاث الدین «۸۷۳ـ۹۰۶هـ» ؤد «چندیری» حاکم شیرخان ئې د «دسارنګپور» او «بهیسلی» دلښکرو سره دسلطان بهلول جنګ ته راولیږه، شیرخان چه بیانی تهرا رسیده سلطان بهلول ډهلی تهستون شو. شیرخان چه تر بیانې پسې وزتپربده د«پالن پور» په بیرتهور کړه روغهسره وشوهاولښکرې خپلو خپلو مراکز وته سره ستنی شوی ۲».

## دګوالیار لمړی برید

سلطان بهلول دپالن پور تر ببنبیوروستهدګوالیار لورتهلښکرې وخوځولی دګوالیارراجادوهلکه سرې تهنګی وروړاندې کړې سلطان هغهځنی ومنلی نور ئې څهورتهوننهوبل (اتاوی) تهولاړ. داتاوی حکومت ئې چه څهوخت دمخهد (رای داند زوی (سکیت سنګهه) تهور کړیؤبیرته ئې ځنې واخیست د (ګور کهپور) لورته پسې ولاړ اودهغې سیمې حکومت ئې (معظم خان علیزی) ته ورکړ اوډهلی ته راستون شو. (۳)

---

(۱) خورشید جهان ۷۹ ۸۰ مخو نه

(۲) تاریخ فرشته دو هم جلد ۲۵۷ مخ

(۳) خورشید جهان ۸۰مخ

## دهیوادولایاتو ویش

سلطان بهلول چه د ګوالیار له یرغل څخه راستون شو ، عمر ئی اتیا کلو ته نژدې ؤ په ځان کښې ئی د ضعف علامې ولیدې او ملک ئی دادارې په غرض برخې برخې کړ ، هرې برخې راګ ئی په لاندې ډول یوه یوه سړی ته وسپاره او هغه ئی مسئول وتاکه :

جونپوراولمرختیزې سیمې ئې خپل زوی (باربکشاه) ته

بهرایچ ئې خپل خوریی [کالاپهاړ] ته

کړه مانکپور ئی خپل زوی [عالمخان] ته

کالپی ئی خپل لمسی ( اعظم همایون ) ته

بداون ئی دخان جهان لودې زوی خان جهان ته

دهلی او دوآ به ئې شهزاده نظام ته ورکړاو دولیعهدۍ لپاره ئی هم شهزاده نظام وټاکه (۱) ځکه چه د سلطان ترټولو مشر زوی [خواجه بایزید] د یوه مریی له لاسه وژل شوی ؤ .

## دسیدانو مرسته

د کشمیر پاچا شاه حسن چه ومړ سید حسن خسر ئې اوه کلن زوی محمد شاه پاچا کړ د کشمیر واک ټول دسیدانو پلاس کښې ؤ . نورو امراو دجمو دراجا په سلا [چه د لودی تاتارخان له بیرې ئې کشمیر ته پناه وړې وه] یوه شپه نومړی سید حسن د دبرشو تنو نورو سیدانو سره و واژه . د سید حسن زوی سید محمد [چه د محمد شاه ماماؤ] د مخالفینو جنګ ته لیځی راوغښتلې او د پنجاب حاکم لودی تاتارخان څخه ئې مرسته وغوښتله ، لودی تاتارخان هم په ۸۹۲ هـ کال یو تکړه لښکر دسیدانو مرستې لره د کشمیر پرخوا وخوځاوه خو دننیر پاچا (دهنش) مخه ورته ونیوله ډیر میړونه ووژل شول او د پنجاب لښکرې بیرته راستنې شوې . (۲)

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۸ مخ

(۲) تا ریخ فرشته دوهم جلد ۳۴۹ م .

## دگواليار دوهم بريد

سلطان چه دملك اداره سره ويښتله دآرام او هوسايۍ لپاره (حصار فيروزه) ته ولاړه څه وخت ئې هلته تير کړ چه ډهلی ته راستون شو اتيا کلن پهلوان ته دکارۍ ژوند خوند ورنه کړ سمدستي ئې انبکرۍ سره تياري کړلي او د گواليار لورته ئې بيا وليږدوای دگواليار راجا ورته ابل شو او اتيا لکه تنکې ئې دنذر په توګه دسلطان حضور ته وړاندې کړلې (۱) سلطان بيرته دگواليار حکومت د ده ته وروسپړښود او د (اقاوي) له لارې دډهلی په نيامت راوخوځيد (۲)

## دسلطان بهلول مړينه

سلطان بهلول چه دگواليار له بريد څخه دډهلی په نيامت (اقاوي) ته راوخوځيد پرلارې ناروغه شوچه له اقاوي څخه د (سکيت) په شاخوا کښې تلا و لی (علی کړه ضلعی) ته راورسيد ناروغی دمرګ شوه ځکه چه بخوائی لا دوليعهدۍ له پاره شهزاده نظام تاکلی ؤ نوئي دخپل يوه خوراورتيرا ميرپه لاس د ده ته دادوه و ضيتونه ورو ليږل :

۱- د (سور) له قامه څخه به هيڅوك اميرياخان نه مقرر کوي ځکه ددوي په سرو کښې دپاچاهۍ خيال دی .

۲- د (نيازی) قام هيڅ به نه نوکر کوي ځکه چه داخلق بې مروته او نمکحرامه دي .

وائي په غوڅتو کښې دوليعهدۍ پر خبره داميرانو ترمنځ څه اختلاف پيښ شو د يرپيا وړی اميران دخواجه بايزيد دزوی اعظم همايون دوليعهدۍ له پاره تينګ ؤ سلطان ځکه مجبور شو چه شهزاده نظام له ډهلی څخه راوغواړي اما شهزاده نظام چه دې خبرې ته ملتفت کړ شو ؤ دپلار په ژوندئی د ډهلی پرې نه ښود. (۳)

---

(۱) مرقع افغان ٦٥ مخ دتاريخ داؤدی د ۲۰ مخ په حوال .

(۲) مرقع افغان ٦٥ مخ دتاريخ داؤدی د ۲۰ مخ په حواله .

(۳) تاريخ فرشته لمړی جلد ۱۷۸ مخ

سلطان بهلول د۸۹٤ ه کال د برات (شعبان) په میاشت کښې داتیا کالو په عمر د تاریخ داؤدی په قول تر څلور څلویښتو کالو او د طبقات اکبری په قول ترانه دېرشو کالو او اتو میاشتو او اتو ورځو پاچهي وروسته په (ملا ولی) یا (بهداولی) پاجلالی نومی ځای کښې (چه د سکیت په شاخوا کښې دی) بوربری کړ، جنازه ئې ډهلی ته راوړه شوه «او د سیری» په کلا کښې د نصیرالدین چراغ ډهلی د هدیری ترڅنګه ښخ کړشو (۱) (انالله وانا الیه راجعون) د سلطان دوختو یوه شاعر د د ه مړینی نیټه داسې لیکلې د ه:

به هشصد و نود و چهار رفت از عالم * خدیو ملک ستان وجهان کشا بهلول
به تیغ ملک ستان بود لیك دفع اجل * بود محال به شمشیر و خنجر مصقول


## د سلطان بهلول پر هدیره

شیخ سماءالدین «۲» چه د دغو وختو یو خورا منلی عالم او رسیدلی ستاند ؤ یوه روځ د سلطان بهلول هدیری ته ورغی. نکل کا کله چه ئې سر له مراقبې څخه راهسك کړ، وی فرمایل: « که څه هم د دې سړی ژوندیه عیش و عشرت او کامیابی کښې تیر شوی دی آخره ئې هم خدای پاك د ښو سړو سره د ناستی ولاړی په نسبت په خیر کړیده او اوس هم غوره رتبه لري » (۳)


(۱) داځای تر او سنی ډهلی د باندی تقریباً لس میله لیرې دقطب صاحب لمر ختیز پلو ته دیو میل په فاصله واقع دی ددغه کلی پر شاو خوا یوه کلا هم را گرزیدلی ده او س دغه کـلی دشاه چراغ ډهلوی د هدیری په نسبت دچراغ په کلی نومل شوی دی.

(۲) شیخ سماءالدین (رح) دمخدوم جهانیان دلمسی سید کبیرالدین اسمعیل خلیفه او د علامه سید شریف جرجانی دشاگرد (مولانا ثناءالدین) شاگرد ؤ په ۹۰۱ ه کال ومړ او په ډهلی کښې دحوض شمسی سره ښخ کړ شو (خزینةالاصفیا دوهم جلد)

(۳) خزینته الاصفیا دوهم جلد ۷۵ مخ.




دچراغ کلاور له دباندی خوا څخه
(په دغه کلا کښې دسلطان بهلول لودی هدیره ده)




د حصاري کلاور له دننه خوا څخه


(په دغه کلا کښې سلطان بهلول لودي هم بيره ده)




د دهلي په چراغ کلا کښې
دالمتوکل علی الرحمن سلطان بهلول لودي (۸۵۰-۸۹۴ه) هديره



دالمتوكل على الرحمن سلطان بهلول لودی دمدیري یوشیشاك چه قل هو الله احدا وقل اعو ذ
برب الفلق ئې پرده برو نقش شویدی



د المتوکل علی الرحمن سلطان بهلول لودی قبر .



دشیخ نصیر الدین (چراغ دهلی) هدیره چه سلطان فیروزشاه (۷۵۲ - ۷۹۰ ھ) کښې بیا جوړه کړې ده
دشیخ نصیر الدین مړینه (۷۵۷ ھ) کال د روژې د میاشتې په اتلسمه پېښه شوې ده

# دسلطان بهلول دوختو خطابونه

په هندوستان کښې دمسلمانانو دپاچهۍ په هره دوره کښې دا دود چه له پاچاهۍ دربار شخه به ځینې ځینې خطابات او القاب ددربار مقربینو ته ورکړه کېدل لکه :

الغ خان، قتلغ خان، قدرخان، ارکلیخان، باربك، نایب باربك، غرس خان ظفرخان، دریاخان تاتارخان، خسرو خان. بهرام خان، نصرت خان شېرخان، کشلوخان، دستورخان. مبارزخان، اقبال خان، دولت خان، اعظم الملك معین الملك، سرور الملك، اسلام خان، صدرجهان، خانجهان، خان خانان او نور.
دسلطان بهلول غازی او دده داولادې دوختو دربا ری څو خطابات دادی :

**١ - مسند عالی :**

دا لقب لمړی ځل خضر خان چه تر کوډ تیمور وروسته دډهلی پاچاشو، دځان له پاره غوره کړ دېښتنو سیدانو په پاچهۍ [خضرخانی کورنۍ] کښې دا لقب تر ټولو غوره او خورا ممتاز لقب ؤ، سلطان بهلول بې [عمرخان شروانی] ځخه بل چاته دا خطاب نهٔ ورکړی مګر درنو امیرانو ته چه به ئې فرمانونه لیکل دغه خطاب به ئې عام ورته لیکه. دا خطاب دډهلی له دربار ځخه نورو دربا رو ته هم ولاړ دمالوې دخلجی پاچهانو په کورنۍ کښې دسلطان هوشنګ زوی [محمد شاه هم په ٨٣٨ھ کال خپل یوه خورا ورتیروزیر [ملك مغیث] ته دا خطاب ورکړ (١) دسلطان ابراهیم لودی په وختو کی دا خطاب بهکهاری خان پرملی درلود (٢).

**٢ - اعظم همایون:**

دا خطاب لمړی ځل دمالوې پاچا سلطان محمود خلجی په ٨٣٩ھ کال خپل یو خورا ورتیر امیر [خان جهان] ته ورکړ (٣) او دمالوې له دربار ځخه دسلطان بهلول دربار ته هم ورسید سلطان بهلول دا خطاب یوا ځې خپل

---

(١) تاریخ فرشته دوهم جلد ٢٤١ مخ
(٢) مخزن افغان ١٢٤ مخ .
(٣) تاریخ فرشته دوهم جلد ٢٤٣ مخ

لمسی[دخوا نیمرگ خواجه بایزیدزوی] ته ور کړی دی، دسلطان سکندر په وختو کښې دپرملی خان خانان لمسی خسرو خان او باشیروانی اعظم همایون ته داخطاب ورکړ شو، بابرمغل داخطاب دخیل زوی [همایون] په نسبت ایسته کړ(۱)

### ۳_ خان جهان:

داخطاب دخلجیانو تر دوری دمخه لا معمول ؤ(۲) دتغلقشاهانو په دوره کښې زیات شو او دشاهجهان مغل ترزمانی پوری باب «رواج» ؤ دسلطان بهلول په وختو کښې داخطاب یوالحې [لودی خان جهان] ته ورکړ شوی ؤ چه هغه ومړ بیائی زوی ته داخطاب پسی ورکړ شو او دسلطان سکندر په وختو کښې دپرملی خان خانان زوی ته دخان جهان لقب ورکړ شو، بابرمغل پښتانه امیر [فتح خان شروانی] ته دالقب ورکړ(۳)

### ٤_ خان خانان:

دډهلی دخلجی پاچاهانو په وختو کښې رواج ؤ. سلطان جلال الدین خلجی خپل مشر زوی ته دالقب ورکړی ؤ(٤)

دپښتنو سیدانو دکورنۍ خوراو تلی خطاب ؤ په ۸۲٤ هـ کال داخطاب دسلطان محمدشاه له خوا سلطان بهلول ته ورکړ شوی ؤ دسلطان بهلول په وختو کښې داخطاب پرملی خان خانان، لوانی خان خاناخان اوداسدخان زوی خان خانان ته ورکړ شو دسطان سکندر په زمانه کښې دخان خانان خطاب چاته نه دی ورکړ شوی، دسطان ابراهم لودی په وختو کښې علیخان پرملی خان خانان ؤ، داخطاب دبابری مغلو په پاچهۍ کښې هم تر ډیره رائج ؤ او خوراالود

---

(۱) بابرنامه ۲۰۱ مخ
(۲) طبقات اکبری لومړی جلد ۱۰۵ مخ
(۳) بابرنامه ۲۰۱ مخ
(٤) طبقات اکبری لومړی جلد ۱۱۷ مخ

گڼل کېده بابر د ناسيا له دولت خان لودي‌زوی (دلاورخان) ته دا خطاب ورکړ او داکبر مغل په زمانه کښې بيرم‌خان ترکمن ته ورکړشو.

## سلطان بهلول او پښتونخوا

سلطان بهلول سربېره پردې چه د(روه)او کسې غره دپښتنو سره ځورا نږدې تعلقات ارل او تل به ئې خپل فوځي طاقت د کسې غره په تازه دموځلميوزيا تاوه، دقندهار دسيمو پښتانه ئې هم نه‌روهېر کړی ده‌او دده دزوی( سلطان سکندر) په‌وختو کښې دقندهار دابداليو مشر بامی خان (چه دبامیزو پلاردی)ؤ (۱)سلطان بهلول به تل ښه ښه سوغاتو ته ورته ليږل اوپښتنوالي او قام ګلوی مناسبات ئې ورسره ساتل(۲)ځکه بامی پرخپل بوه لمسی(بهلول)نوم ايښې ؤ (۳) سلطان ابراهيم هم دبلاراو نيکه دادود ويا له او دتخت نه ختلوپه جشن کښې ئې دبابل خان اودلاورخان په‌لاس دقندهار او کسې غره پښتنو مشرا نوته درانه سوغاتو نه وليږل(٤)دسلطان سکندر په‌دربار کښې مشوانی محبت خان او خليل خان، اودل [درانی]چه په هيبت‌خان مشهورؤ اود سلطان ابراهيم په‌با چهی کښې دسر هند حاکم. کريمداد توخی، دملتان دځينوسيمو حاکم معرفت‌خان ابدالي اودخوساب حاکم‌عيسی‌خان اودل(درانی) قندهاری اميران وو(٥) د [رهتک] په [کوهانه] کښې چه کاکړان آبادی دوی نيکه ګان دسطان ابراهيم په‌وختو کښې له‌بوری شخه دعبد العلی کاکړ ترمشرتا به لاندی ورغلی‌دی (٦)اودبهار د[سارن]دسيمو قند هاری پښتانه دسلطان سکندر په‌وختو کښې آبادشوی دی (۷)

## سلطان بهلول او پښتو شاعری

سلطان بهلول خپل‌دربارته پښتانه‌شاعران را بلل‌او دوی شعرونه به ئې اروېدل(۸)دی‌پخپله‌هم دپښتو وتلی‌شاعرؤ دده‌له‌ځغی‌بوې فی‌البديهه رباعی

---

(۱) بامی دحبيب‌زوی دبوبل(چه دپوپلزوپلاردی)لمسیؤ (۲)دګابل‌د۱۳۱۵کال‌کالنی
(۳) حيات افغانی ۱۳۲مخ (٤) خورشيد جهان ۹۰ مخ (٥) خورشيد جهان ۹۱ مخ
(٦) حيات‌افغانی۲٤۷ مخ (۷) خورشيد جهان ۸۳ مخ(۸) آريانا دائرة‌المعارف ۷۱۲مخ

شخه چه پټه خزانې ضبط کړ یده موږ ته ددې دپښتو شاعرې دوتلې مقام څرګندیږي او خیال کاوه شي چه نورې ادبي مرغلرې به ئې لکه نور دپښتو امیلو نسه دزمانې په تاتار نو کښې خواره واره شوې وې، محمدرسول کلا توال هوتك پخپل بیاض کښې لیکلې دي:

« په هندوستان دبرسات په موسم خلیل خان نیازي هسې رباعي انشا کړه او دسلطان بهلول پاچاپه مخ کښې ئې وویله:

خړې وریځې ژاړي له یا سه کوبله زغ کا، بیلتون له لاسه
په اهغه لونې ګوهر به خول ستا دامرحبا کاستا زمو ز موا سه!

سلطان بهلول (رح) چه دا رباعي ونغوزه په ځواب ئې دار باعي سمدستي وویله:

ملك په زرغون کړم په ور کړه راسه ګوره اوریځې دداد له یا سه
خول مې دعدل په درو رون دي جهان به زیب مومي زما له لاسه (۱)

# دپاتا دوداړول

دسلطان بهلول تر پاچهۍ دمخه په ډهلي کښې دادود ؤ چه دپاتا په دریمه به ئې راتلو نکو ته شربت، پان، مسري، اوخه شکره وروېشل، سلطان بهلول دسیما له مخې دغه دود کوږ کړ اووې فرمائل: «دادود موږ تشو پالالای ځکه که یوغریب پښتون ومري په لکو پښتانه ئې پاتانه ورځي نو داغریب پښتون کور به دغه دودځنګه پالي؟ پس له دې باید په تشه خوشبوئي سکته و شي(۲)

له هغه وخته تراوسه په هندوستان په تیره بیا دډهلي په شاو خوا کښې دپاتا په دریمه ګلان ویشي او ګلاب شیندي، په هغو سیمو کښې په دغه مناسبت دپاتا دریمې ورځې ته پهول (ګل) وایه شي (۳).

---

(۱) پټه خزانه ۷۵ مخ
(۲) مرقع افغان دتاریخ داؤدی د۱۲مخ په حواله.
(۳) مرقع افغان ٤۰ مخ

## بهلول پور

دسرهند په شاو خوا کښی (بهلول پور) یا (بهلول پوره) نومی ځای شته (۱) اغلباً دا ځای به سلطان بهلول ته منسوب وی په ۹۳۲هـ کال چه بابر مغل دسلطان شهاب الدین غوری ودان کړی (سیالکوټ) وران کړ؛ دسیالکوټ او سیدونکی ئې تول د (بهلول پور) کلانه راولیږدول (۲) بابر مغل دبابر نامې په ۱۶۶ مخ کښی لیکلی دی: دبهلو لپور دا کلا دچناب دسین پرژۍ پر یوه لوړه واقع ده.

## دقطب منار مرمت

قطب منار چه په مهرولی کښی واقع او ۲۳۸ فټه لوړ منار دی دادپښتنو یادګار سلطان قطب الدین ایبك په ۱۲۰۰ ع کال ودان کړ سلطان شمس الدین التمش پسی بشپړ کړ مرمت ئې یوه پلا (سلطان فیروز شاه) وکاوه بیا سلطان بهلول دغه تاریخی اثراو پښتنی آبده داسی مرمت کړه چه تراوسه ئې بیا مرمت ته ضرورت نه دی پیښ شوی (۳).

## دسلطان بهلول سیکی

په هغه کتاب کښی چه (نیلسن وایټ) ددهلی دپاچهانو دسکو په باب کښی لیکلی او په ۱۹۳۷ ع کال ددهلی مینجر پبلیکیشن له خوا خپور شوی دی دسلطان بهلول دوې سیکی فوټو ګرافی شوی دی - دلومړۍ سیکی پر یوه خوا (سلطان بهلول شاه بحضرت دهلی) او پر بله خوائې (الخلیفته المومنین امیر خلدت خلافته) لیکلی دی ددوهمی سکې پر یوه خوا (المتوکل علی الرحمن شاه سلطان بهلول بحضرت دهلی) او پر بله خوائې (فی زمن امیر المومنین خلدت خلافته) لیکلی دی

---

(۱) خزینته الاصفیا لمړی جلد ۶۲۹ مخ

(۲) سیرالمتاخیرین ۱٤٤ مخ

(۳) دخان غازی یاد داشتونه.

# دسلطان بهلول رښتي(اخلاق)

مرقع افغان ليکي :

سلطان بهلول دېنداره ، زړه ور ، توريالی ، زغمونکی ، پهلاس کی خلاص او کريم النفس ميړه ؤ ، په کلکه ئې شريعت پاله او په دغه لاره کښې ئې هيڅکله خپل وس ندی سپمولی تل ئې د شريعت له مخالفته ډډه کوله ، پنځه وخته لمونځ به ئې په جماعت کاوه او ډيرژوندئې د پوهانو مشائيخو او ستانه ؤ په صحبت کښې ، تيراوه ، تول کارونه ئې دآرا کښيو او پوهانو په سلا کول ، پهلاس کښې دومره خلاص ؤ چه هيڅکله ئې د سائل غوښتنه نده رد کړې خورا پراخ او لوی سترخوان ئې ؤ ، د ډوډۍ پر وخت به ئې حجابان ولاړول چه هر څوك چه زړه ئې وغواړي ډوډۍ تهرا تلای شي په عدل او نياو (انصاف) کښې ئې ډيرزيار يوست دعېتو عرضونه ئې پخپله اورېدل او په وزيرانو ئې هيڅ اړه نه درلوده ، کسار دانی ، بې آزاري ، رعيت پالنه او پيرزو ينه ئې مشهوره ده سپاهيان ئې ډير ښه روزل او هيڅ ئې نه ځنی سپمول ، خزانی ئې نه د کولی او د ځان له پاره ئې څه نه تروښول .

وائي : کله چه ئې د ډهلی خزانی پلاس ورغلی تولې ئې پر خپلو امراوو ويشلې او په خپله هم ديوه اميرپه شان برخه واخيستله ، مساوات ئې تردغی اندا زی ؤ د کوم امير يا سپاهی په ناروغۍ چه به خبر شو په خپله ئې پوښتنې ته ورتله هيڅکله په خاص يا عام دربار کښې پر تخت نه دی کښينستلی ، د امراو سره به څنګ پر څنګ پرغاليو ناست ؤ ، دده په دربار کښې اميران له ولاړې منع ؤ امراؤ ته چه به ئې فرمانو نه ليکل مسند عالی (چه په هند کښې د پښتنو پاچهانو د ز مانې د پاچاهۍ امراو له پاره ترټولو غوره او امتيازی خطاب ؤ ) به ئې ورته ليکه . ترخپله وسه پورې ئې څوك نه خوابدی کاوه که به کله کوم امير ور ځنی خوابدی شو دومره ئې د هغه زړه ساته چه پخپله به ئې کورته ورغی خپله توره به ئې له ملا خلاصه کړه د هغه ترمخ به ئې کښېښود له او

ورته‌ویل بې: «که‌ته ما ددې منصب ورته بولې بل څوک ورته وتاکه. او ما ته‌ بل کار را کړه» (۱) دټولو امراوو سپاهیانو سره‌ئې خورا مساوي یا نه او دوررور ګلوي سلوک کاوه دسلطان بهلول پاچا زغم د ستا ینې وړدی قهرئې کرت نه درلود ټولې شخړې به‌ئې په خورا متانت او برد باری دخلاصولې وائې: یووخت دجمعې په روځ دډهلی په لوی جماعت» جامع مسجد» کښې زاوه شاهی خطیب (ملاقادن) (۲) چه‌له ممبره څخه را کښته کیده دسلطان بهلول پاچا ترمخ وویل: «سبحان الله! پښتون هم عجیب قوم پیدا شوی دی معلومه نده‌چه دجال به په‌دوی کښې و یاڅې کنه؟

دائې ژبه‌د. چه‌مان ته (مور) بهائی ته (ورور) سیاه‌ته (تور) او د ګړته (نور) وائې» دوخت مقتدر پاچا (بهلول) دسمال پرخو لـه کښېښو د اوپه مسائې ملاقادن ته وویل: «بسته! آخر موږهم دخدای بنده ګان یو» د داسې زغم مثال چه یوخطیب دې دزړو خلقو په مخ کښې (چه هغه هم مختلف قامونه وی) دپاچا قام ته «دجال» ووائی اوژبه دی ئې وغندی پاچا دی وهسې او نصیحتاً دی ورته ووائې: موږهم دخدای بنده ګان یو» اودایداد (توبیخ) خیال دی ئې لاژړه ته ورتیر نه‌شی آیا نور قومونه بښو ولای شي؟ (۳) سلطان بهلول پاچا له وړلی او ونو نویو او څخه کر که کوله پخپله ئې جنګ نه بشلاوه اوتل به ئې ترخپله وسه‌پورې له‌جنګه څخه‌ډډه کوله ځکه نو ده دپاچهۍ په اوږده زمانه کښې ډیر لږ جنګونه و شول او څه جنګونه چه

شوي دی هغه هم ټول دفاعیؤ خو کله چه به دفاعی جنګ ته اړشو هلته بیا دیوه خورا تورزن جنګیالی اوپښتونه تېزی سپاهی غوندې جنګیده ځکه

---

(۱) مرقع افغان دتاریخ داؤ دی د۱۱ مخ په حواله

(۲) شوکت افغان ئې نوم (ملاقادن) ضبط کړی دی (دریم جلد۹۸مخ) په طبقات اکبری کښې ملاقادن ضبط دی. په‌تذکرۀعلمای‌هند کښې ئې نوم میاقادن او د پلار نوم ئې (شیخ‌جونو) ضبط دی (۲۷۳مخ).

(۳) مرقع افغان ۴۱ مخ دتاریخ داؤدی د۱۲ مخ اوطبقات اکبری دلمړی جلد د۲۹۸ د مخ په حواله

او د ۸۰ کالو اوږده ژوند په هیڅ جنګ کښې ترشا نشو او تل بریالی ؤ (۱)

محمد قاسم هندوشاه لیکی :

سلطان بهلول هوښیار ، زړه ور او سپاهی میړی ؤ په پاچهی ډیر ښه پوهید، په کارو کښې ئې تلوار نه کاوه عدل او نیاوئی ټینګ کړی ؤ پرشریعت کلك ولاړ ؤ په حضراوسفر کښې ئې له علماو او مشایخو سره ژوند تیرېده دپښتنو امراو سره ئې دومره مساویانه سلوك کاوه چه ددوی ترمخ پر تخت نه کښېناست ددوی پر آسوبه سپریده اوددوی د کورو ډیره به ئې پرپاچهی دسترخوان خوړله (۲)

خواجه نظام الدین احمد لیکی :

« سلطان بهلول په صلاح آراسته اودشریعت خورا پابندپاچا ؤ تل ئې شریعت چلاوه اوپه عدل اوانصاف کښې ئې مبالغه کوله ډیر ژوندئې د علماو صلحاو اوفقراو په صحبت کښې تیروا اودمحتاجانو پر حال ئې ډیر نظرؤ » (۳)

سلطان بهلول هغه پوالحیتی پاچا دی چه پخپله ٤٤ کاله پاچهی کښې ئې پو خپل امیرهم ونه واژه.

## دسلطان بهلول اولاده

دسلطان دوې ښځی موږ ته معلومی دی چه یوه ئې (شمسه میرمن) دده خپله ترله دسلطان شه اسلام خان لورده چه د ۸۳۹ هـ په حدودو کښې ئې واده کړې وه اوبله ئې دسرهند دیوه زرګر لورده چه زیبا (٤) یا (هیما) (٥) نومیده، احمد یادګار وائی دغه ښځه سلطان دسرهند دحکومت په وختو کښې لیدلې وه چه دپاچهی پر تخت کښېنوست واده ئې ورسره و کړ، پدې صورت نوددې واده نېټه تر ۸۵۰ هـ کال وروسته تا کلای شو دسلطان نه زامن وو پدې ډول :

## خواجه بایزید

چه د (شمسی میرمن) زوی دی په ۸۵٦ هـ کال نوی ځلمی ؤ پلار چه ئی

---

(۱) مرقع افغان ٤٠ مخ

(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۹ مخ (۳) طبقات اکبری اج ۲۹۹ مخ

(٤) تاریخ سلطانی (٥) مرقع افغان ۷۰ مخ داحمد یادګار دتاریخ افاغنه په حواله.

سرهند او دیپالپور ته‌ولاړ، د دهلي نیابت ئې ده اوخانجهان ته پر پښود (۱) بیا چه د (بدایون) سیمه سلطان ونیوله دی ئې دهغې سیمې (بدایون) وا کمن و تا که د سلطان د ژوند وروستیو کلو کښې د خپل نو کر له‌لاسه ووژنه شو (۲) دده یوزوی اعظم همایون تاریخ‌خوراوری دی چه دنیکه په‌ژوند د (کالپي) وا کمن ؤ او دسلطان بهلول دمرګ په‌حالت کښې ځینې پښتانه امراءدې ته‌تینګ ؤ چه دی دې ولیعهد کړی دسلطان سکندرپه‌وختو کښې بیاد (لکهنوتی) وا کمن شو دسلطان ابراهیم‌په‌وختو کښې‌ئې د ګوالیارله کلابندۍ څخه (لکهنوتی) ته‌مخ ونیو اودسلطان ابراهیم په‌مخالفت ئې لاس پوری کړ.

## ۲- شهزاده‌نظام‌خان (سلطان سکندر):

شهزاده نظام دسلطان د ګرانې ماینې (هیما یازیبایا زیبنا میر منې) زوی دی چه‌په بی‌بی ستاری مشهوره وه (۳) دی دسلطان دتخت دنشینې پراوم کال (۸۵۷ ه) زیږدلی دی (٤) په ۸۸۶ کال چه‌سلطان دشرقی سلطان محمود سره په شمشاباد کښې جنګیده بوه برخه لښکرئې د ده‌اوشهزاده جلال خان تر مشر تا به‌لاندې دخپل امیر (رای کرن) مرستې لره‌و ګمارل د ۸۹۰ ه کال به‌شاوخوا کښې دپلار له‌خوا دسرهند او پانی پت دسیمووا کمن‌شو او هلته ئې په نوي ځلمیتوب کښې دتاتارخان سره کلک جنګ وکړ، تاتارخان ئې ووژه اودهغه ملك اوسیمې ئې د پلار په پاچهۍ را کښې ایسنلې. سلطان دژوند په‌ورستیو کلو کښې ددهلي ایالتې وا‌ك هم ده ته وسپاره په ۸۹٤ ه کال چه ئې پلارومړ، دی ه‌همدغه کال د برات د میاشتې پراولسمه دجمعې په‌ورځ دپلار پر تخت کښېنوست او د «سلطان سکندر غازی» لقب ئې غوره کړ.

---

(۱) تاریخ سلطانی (۲) مرقع افغان ۷۰ مخ دا حمدیادګار دتاریخ افاغنه په‌حواله.

(۳) مفتاح التواریخ ۲۰۷ مخ.

(٤) مرقع افغان ۷۱ مخ د احمدیادګار دتاریخ افاغنه په‌حواله

## ۳- مبارك خان :

دپښتنۍ شمسي بي بي زوى يعني دقطب خان لودي خوربى دى ځکه نو دسلطان د مړينې په حالت کښې دوليعهدۍ له پاره تر نظام خان پښتنو امراو دى خوښاوه په ۸۷٦ه کال چه سلطان بهلول دملتان دپناه وروړى پاچا (شيخ يوسف) په مرسته دپنجاب حاکم تاتارخان پرملتان دبريد له پاره و ګماره دفوځ مشرتوب ئې دمبارك خان په نامه کړ خوپد غه جنګ کښې مبارك خان په ماتې ډهلى ته ستون شو (۱) په ۸۸٤ ه کال چه سلطان جونپور ونيو د (بار بکشاه) په نامه ئې پرشرقي تخت کښېښناوه (۲) په ۸۹۵ ه کال ئې د سلطان سکندر (مير يزى ورور) سره جنګ وکړ مغلوب شو غلام حسين طباطبائي دى تر نظام خان مشر ګڼي. (۳) او فرشته ليکي : کله چه سلطان بهلول ومړ په ژوندیو زامنو کښې ئې باربکشاه ترټ، لو مشرؤ (٤) مخزن افغان هم باربك شاه تر سلطان سکندر ، مشر بولي (۵) .

## ٤- شهزاده عالم خان (سلطان علاء الدين) :

د ۸٦۲ ه کال په پاى کښې چه دسلطان محمدشاه شرقي له ملګرى څخه ده ورور (شهزاده حسين) د ۳۰ زرو سپرو سره د (سرستى) د جنګ له ډاګه قنوج ته مخ ونيو ؛ سلطان بهلول يو لښکر ددغه شهزاده عالم خان ترمشرتابه لاندې پسې وليږه ، دشهزاده حسين لښکرى ځنې تللى وې .

خودسلطان محمد شاه بل ورور (شهزاده جلال) ئې ونيواو بندى ئې پلار ته راوست (٦) عالم خان د پلار په ژوند د کړه مانك (مانکپور) وا کمن (نائب الحکومه) ؤ (۷) په ۸۹۵ ه کال خپل ورور سلطان سکندر ته پورته شو

(۱) تاريخ فرشته دوهم جلد ۳۲٦ مخ اوسير المتاخرين ۱٤۷ مخ (۲) خورشيد جهان ۷۹ مخ
(۳) سير المتاخرين ۱۳۹ مخ (٤) فرشته لمړى جلد ۱۷۹ مخ (۵) مخزن افغاني قلمى ۱۲ مخ
(٦) مرقع افغان ۵۳ مخ (۷) فرشته لمړى جلد ۱۷۵ مخ

اود سلطان علاءالدين په نامه ئې دپاچهۍ نغاره وډنګوله سلطان سکندر چه پسې ور ووت سلطان علاءالدين (بټيالي) او بيا (کـ الپی) ته و تښتېد خو سلطان سکندر دبر زر پخلا کړ اود اتاوې حکومت ئې ور وسپاره. په ۹۳۰ هـ کال د ګجرات پاچا (دوهم مظفرشاه) څه لښکرې اوڅه روپۍ ور کړې د ډهلۍ پرخواد خپل وراره سلطان ابراهيم جنګ ته راز خو ځيد (۱) ځکه چه په غو وختو کښې بابر مغل پنجاب تر ديپا لپور پورې نيولي ؤ د پا چهۍ په مينه پرو ند شهزاده عالم خان (بابر مغل) ته ورغی او دخپل وراره پرضد ئې مرسته ځنې وغوښتله هغه د (بابا قشقه مغل) په ګډه او اشتراك د (د يپا لپور) حکومت ور کړ اود سلطان ابراهيم سره جنګ ئې بل وخت ته پرېښود.

(بابر مغل) چه کابل ته لښکرې ستنې کړې (دولت خان) لودی اوغازی خان زوی ئې پر ديپالپور بريد وکړ عالم خان کابل ته و تښتېد (بابر مغل) دلاهور پرمغلو امراوليك ور کړ چه دسلطان ابراهيم پرضد دده مرسته وکړی! عالم خان چه پنجاب ته راغی (دولت خان لودی) دسلطان ابراهيم جنګ ته ليځی راغښتې وې دی ئې دځان مل کړ اوده (سلطان علاءالدين) په نامه ئې دسلطان ابراهيم جنګ ته لښکری وخوځولې خو ډېر ژر پښمانی پنجاب ته راستون شو.

په ۹۳۲هـ کال چه بابر بيا پرهندوستان بريد وکړ چه سيالکوټ پاملوت ته راور سيد سلطان علاءالدين عالم شاه بيا ورغی (۲) او ديانی پت په ډاګ کښې دسلطان ابراهيم پرضد دبابر مغل ترڅنګ ولاړ ؤ د لوديو د پاچهۍ ترړنګولو وروسته په ۹۳۳هـ کال چه بابر درانا سنګا او دسلطان سکندر د بل زوی (سلطان محمود) سره [بيانې] ته نژدې وجنګېد سلطان علاءالدين ئې دخپلو دوو زامنو [جلال خان] او [کمال خان] سره ترڅنګه ولاړ ؤ (۳) مګر [بابر دده ددې تولو قومی خيانتو قدرونه کړ

(۱) تاريخ فرشته دوهم جلد ۲۱۱ مخ
(۲) تاريخ فرشته لمړی جلد ۲۰۳ مخ (۳) تاريخ فرشته لمړی جلد ۲۰۹ مخ

خپلې هغه تولې وعدې ئې چه دهندوستان تر نيولو دمخه ورسره کړې وې پوره نه کړې او بندي ئې کړ، بدخشان ته ئې ديوه برغمل په صورت واستاوه [سلطان علاءالدين] چه دمغل پاچا دا دروه او د خپل قومي خيانت نتيجه و ليدله دبابر تر مرګ وروسته دبدخشان له [قلعه ظفره] څخه وتښتيد او دبلوچستان له لارې ئې د ګجرات پاچا بهادرشاه ته پناه وروړه (۱) په ۹۴۰ھ کال نو موړي بهادر شاه دمغلو پرضد دده زوی [تاتارخان] ته ديرى لښکرى اوروپى ورکړى تاتار خان [بيانه] ونيوله ميرزا هندال مغل پسې راوروتى جنګ و نښت [تاتارخان] په جنګ کښې ووژه شو د سلطان علاءالدين دادا ميد ورو ستنى زني هم وخوت (۲) او ترمرګه د ګجرات په دربار کښې پسې پاته شو. په ۹۵۰ھ کال چه دريا خان غوري د ګجرات دپاچا سلطان محمود او عالم خان لودي جنګ ته راووت دى هم ورسره ملګرى مګر کله چه په لښکر کښې سلطان محمود داحمد آباد پاچا شو سلطان علاءالدين ئې د دريا خان دمرستې په ګناه په دار کړ، درې ورځې پدار ځړيده څو بياعالم خان لودي د پاچاي اجازې ښخ کړ او دخپلې کورنۍ دپاچاهۍ رنګولو او قومي خيانت ايداد ئې وليد (۳)

## ۵- شهزاده جلال خان:

په ۸۶۲ھ کښې چه دسلطان بهلول او سلطان محمود شرقي ترمنځ په شمسا باد کښې جنګ و نښت سلطان بهلول ددغه جلال خان او نظام خان تر مشرتابه لاندې يو فوځ د (راى کرن) مرستې لره وګماره (٤)

## ۶- شهزاده فتح خا :

په ۹۰٤ھ کال هيبت خان شرواني او نورو اميرانو چه دسلطان سکندر مخالف شول؛ شهزاده فتح خان ئې دسلطان سکندر مخالفت ته وپاراوه، خو ده د مور په سلا

(۱) ماثر رحيمي لمړى جلد ٥٢٤ مخ (۲) تاريخ فرشته لمړى جلد ۲۱٤ مخ
(۳) مرآت سکندري ۲۷۹ مخ (٤) مرقع افغان ٥١ مخ

داحال سلطان سکندر ته و وایه.

## ۷-جمال خان:

## ۸-میامحبوب خان(۱) یامیا یعقوب خان (۲)

## ۹-موسی خان:

د سلطان دوی لوئی موزنه څر کندي دي :

۱-**دشاه عبدالله قریشي ښځه**: په ۸۵۹ھ کال چه دملتان پاچا(شیخ یوسف سهروردی) چه دشیخ بهاء الدین ذکریا(رح) لمسی ؤ سلطان بهلول ته پناه راوړه سلطان ئې زوی (شاه عبدالله)رحمت الله علیه ته خپله لور ور کړه(۳) شاه عبدالله دیرمرتاض اوغورمسالك ؤ په ۹۰۰ھ کال ومړ(٤)اوزاړه ډهلی ته نژدي ښخ شو هدیره ئې دشاه عبدالله په روضه مشهوره ده (٥)

## ۲-دشیخ صدرجهان سروانی ښځه :

شیخ صدرجهان داحمد زنده پیر زوی اودمشهور شیخ ملی قتال شروانی کړوسی ؤ له(درابن)څخه هندوستان ته ولاړ(٦)وائی سلطان بهلول چه په ۸۵۰ھ کال دډهلی دنیولو په نیت له سرهنده لښکری وخوځولي د شیخ صدر جهان سروانی کوډلي ته نژدي چه دستلج د سیند پرغاړه په[ بهوم ] کلی کښی وه لښکرو واړول، دشپی باه ونه راوالوتل دخیمو مراندي ئی و شلولی او رونه اوډیوی ئې مړی کړي .یدغه حال کښی سلطان کنل چه دشیخ د کوډلی دډیوی لمبه ښوری لانه، دامراؤ سره دشیخ کوډلی ته ورغی او دسوبی دعائی ځني وغوښتله هغه هم دعا ورته و کړه اوسلطان په زړه کښي وویل: « که مي دا سوبه روزی شوه خپله لور به دغه پښتانه شیخ ته ور کوم » کله ئی چه دډهلی پاچهی ومونده له خپله لور ئې هغه فقیر[شیخ صدرجهان سروانی ]ته ورواده او ٥٦ واړه او ۱۲ لوی کلی ئې دجهیز په تو گه ورسره ور کړل(۷)دغه صدر جهان په ۹۲۱ھ کال د۷۱ کالو

---

(۱)مرقع افغان ٧٦مخ(۲)خورشید جهان(۳)تاریخ فرشته دوهم جلد ۳۲۵ مخ
(٤)خزینة الاصفیا دوهم جلد ۷۳ مخ (٥)اخبار الاخیار ۲۱٥ مخ
(٦) شوکت افغان دریم جلد ۳۱ مخ (۷)تاریخ خور شید جهان ۲۳٤ مخ

په عمر ومړ او په مالیر کښې ئې زیارت مشهور دی (۱) د پنجاب د مالیر کوټلې نوابان د همدغه صدر جهان اولاده ده، مالیر کوټله ۱۶۵ میله رقبه او یو لك نفوس لري (۲)

## دسلطان بهلول دوخت و حکام

۱ـ خواجه بایزید: د سلطان مشر زوی لمړی د [ډهلی] او بیا د [بدایون] حاکم ؤ.

۲ـ اعظم همایون: دخواجه بایزید زوی د کالپی [لکهنو] حاکم ؤ.

۳ـ مبارك خان [باربك شاه]: دسلطان زوی د [جونپور] حاکم ؤ.

٤ـ شهزاده عالم (سلطان علاءالدین): د سلطان زوی د کړه مانك (مانکپور) حاکم ؤ.

٥ـ شیخ محمد پرملی (کالاپهاړ): دسلطان خور یې د (بهرایچ) حاکم ؤ.

٦ـ شهزاده نظام (سلطان سکندر) دسلطان زوی دپانی پت، سرهند، دوآبې او ډهلی حاکم ؤ.

۷ـ خان جهان لودی: دخواجه بایزید ترمړینې وروسته د (بدایون) حاکم ؤ.

۸ـ تاتارخان لودی: دپنجاب او لاهور حاکم ؤ.

۹ـ عیسی خان لودی: د تاتار خان لودی زوی (۳) د (پټیالي) حاکم ؤ او دسلطان بهلول تربور، د سلطان سکندر سره په جنګ کښې زخمی شو او په ۸۹۵ھ کال ومړ هدیره ئې دډهلي په نظام پور کښې تر او سه شته (٤)

## دسلطان بهلول د دربار امراء

مؤرخین دسلطان بهلول دامراؤ شمېر (چه په هغو کښې ځینې هندوان امیران هم شته) څلور دیرش ښووی، خو په دې تولو کښې دسوری او نیازی پښتنو یو سړی هم نشته، ده هندوانو ته لاامیری ور کړې مګر پرسور یو او نیاز یو ئې

---

(۱) شوکت افغان دریم جلد ۳٤ مخ (۲) شوکت افغان ۲ جلد ۵۱ مخ

(۳) طبقات اکبری لومړی جلد ۳۱٤ـ۳۱۵ مخ (٤) دخان غازی یاد داشتونه.

دومره ویسا او بیرزونه وه چه په خپل وخت کښې لاځه بلکه دده داولاد په وختو کښې دې لاکومه عهده یا امیري ومومی (۱) داځکه چه په سوربو کښې ئې دیاچهی هڅه اوپه نیازبو کښې ئې دده په قول بې مروتی لیدله او دده تدبر او میراني اجازه نه ورکوله چه داد وه پلاره پښتانه دی دده په دربار کښې لار ولري دده دپاچهی څرګند امراء دادی :

۱ - **قطب خان لودی** : دسلطان اخښې اوتربورځ په ۸٤۰ ه کال چه اسلام خان پلار ئې ومړ دسرهند پرجاګیرئې دسلطان سره وخوړل او دډهلی لښکري ئې پرسرهند و روستلې لږ وخت وروسته ئې بیرته د سلطان سره روغه وکړه او بیا نو دسلطان ترڅنګ په هرجنګ کښې په خورا میړانه او وفاداری ولاړ ؤ په جونپور کښې اوه میاشتې جنګی بندی ؤ تر سلطان څوکاله دمخه په ۸۸٤ ه کال په مجهولې کښې په خدایی مرګ ومړ او مړی ئې سرهند ته یو وړل شو او هلته خاورو ته وسپارل شو (۲) .

۲ - **خان جهان لودی** : دسلطان خوراو رتیروزیر ؤ دسلطان سره ئې خپلوی درلوده په ۸٦۷ ه کال چه سلطان پنجاب ته ولاړ دډهلی واک ئې ده ته او قطب خان لودی ته سپارلی ؤ په ۸۸٤ ه کال چه سلطان دسلطان حسین شرقی جنګ ته ورووت هم ئې دډهلی واک ده ته سپارلی ؤ ، چه سلطان (دهوباٮو) ته ورسید دده دمړینی خبر ورغی ددغه خان جهان یوزوی حسین خان نومید په ۸۸۳ ه کال چه سلطان حسین شرقي پرډهلی برید وکا سلطان بهلول دی له میړتیه څخه دسلطان حسین مخ نیوی لره وګماره .

## ۳ - دخان جهان لودی زوی خان جهان :

چه خان جهان لودی په ۸۸٤ ه کال ومړ ، سلطان ئې زوی (احمدخان) (۳) ته هغه خطاب (خان جهانی) ورکړه او دډهلی نیابت ئې ور وسپاره

---

(۱) مرقع افغان

(۲) مخزن افغانی

(۳) مرقع افغان ٦۳ مخ

دسلطان سکندر په وختو کښې ئې دواس زری منصب درلوداو در ایړی (U.P- مین پور ضلعه) حاکم ؤ مگر دسلطان سکندر ورسره جوړه نه وه (۱) دسلطان ابراهیم په وختو کښې سلطان ابراهیم ته پورته شو .

۴ - ملا منهاج:

ملا منهاج په کچنیوالی کښې له لاهوره څخه ډهلی ته په علم پسی ولاړ هلته منلی عالم شواو دسلطان بهلول غازی په وختو کښې د ډهلی مفتی ؤ (۲)

۵ - شروانی عمر خان:

دسلطان په زړه پوری وزیرؤ دمشر (خان جهان) ترمړینی وروسته دهیواد انتظام دده پرغاړه ؤ. مسند عالی خطاب ئې درلود چه دهغو وختو له خورا غورو خطاباتو څخه ؤ .

عمرخان ډیر پوه زړه ور توریالی او خوراوفا داره میړؤ شهزاده نظام (سلطان سکندر) چه دپلار په حکم له یاغی ټیټه څخه پسر تاتار خان بر ید وکړ دی ور سرہ ؤ خو کنده توره ئې وکړه دوست او دښمن و ما نه او هم دده په استرید کلکه حمله کښی نوموړی تاتار خان وواژه او وروړئی و تیوه شو. دعمر خان زوی (ابراهیم) هم پدغه جنګ کښې ښه زړه و کړه (۳) عیسی خان شروانی چه دشیرشاه له لویو امیرانو څخه ؤ دده زوی یا لمسی ؤ (۴) د(علی کړه) مشهور معاصر مولینا حبیب الرحمن خان شروانی د علمای سلف، ذکر جمیل اودسیرة الصدیق مولف چه (حسرت) ئې تخلص دی. دده له لمسیانو څخه دی (۵)

۶ - شهاب خان:

دسلطان ددربار دبیر (سرمنشی) ؤ (۶)

---

(۱) تذکره علمای هند ۸۵مخ او اخبار الاخیار ۲۲۵ مخ
(۲) » » » » ۲۲۶ مخ
(۳) مرقع افغان ۱۶۴ مخ
(٤) خورشید جهان ۱۰۶ مخ
(۵) دکاروان خیال دیبا چه
(٦) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷٤ مخ

۷ - شیخزاده محمد پرملی (۱) خان خانان:

دسلطان خورا ورتیر امیرۀ دسلطان سکندر په وختو کښې د دربار له حاضرباشو امراو څخه شوی په ۸۹۵ ه کال چه سلطان سکندر (راپړی) له سلطان علاءالدین څخه ونیوله ده (پرملی خان خانان) ته ئی وسپارله په ۸۹۷ ه کال چه (۲) ئې بیا (بیانه) ونیوله هغه ئې هم ده ته وسپارله پر سلطان سکندر هم خور اګران ۀ په ۹۰۷ ه کال ومړ. (۲)

۸ لوانی خان خانان:

۹ - پرملی میا معروف:

نوم ئی میا فرید ۀ سلطان ابراهیم ته بورته شواود ګنګا تر رود پورې خوائی دبغاوت نغاره وډنګوله دسلطان ابراهیم ترمرګه پورې لا ژوندی ۀ دسلطان ابراهیم تر شهادت وروسته ئې د بابر د لښکر و پر ضد ډېر جنګونه وکړل اود ګنګا دپورې خواپه ونلو امراؤ کښې ۀ - په ۹۳۴ ه کال ئی زوی هم له قنوج څخه وروتښتېد اود پلار مل شو.

۱۰ - لوانی مبارك خان:

دسلطان دپاچهی غورۀ امیرۀ اودسلطان په وختو کښې ئی هم خوراعزت درلود دریاخان زوی ئې هم دسلطان بهلول دپاچهی له امراؤ څخه ۀ - مبارك خان د ۹۰۰ ه کال په شا ۀخوا کښې په پټنه کښې ومړ (۳)

۱۱ - لودی دریا خان

د ده دژوند سوانح دسلطان بهلول ترپاچهی د مخه راوړه شوي ده.

۱۲ - تاتار خان یوسف خیل

تاتار خان ددریاخان لودی زوی دی (٤)

---

(۱) پرملی ځانونه کاکړان بولی (خلاصته الانساب قلمی ۳۹ مخ) پرمل ګردیز ته نژدې دیوه ځای نوم دی شیخ زاد ګانو چه په هندوستان کې دپښتنو په پاچاهی کې عزت درلود دشیخ محمد سلمان اولاده ده، دغه شیخ دپرمل ۀ (۸۸ مخ بابرنامه)

(۲) مرقع افغان ۱٦۵ مخ او تاریخ فرشته لومړی جلد

(۳) پټنه یا (پښته) دبهار یو کلی ۀ چه د «باړی» او «قتلغپور» ترمنځ پروت ۀ داهغه لویه سیمه (پټنه) نه ده چه مشهوره ده.

(٤) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷٤ مخ

دی دبابر نامي په‌قول دپښتنو له‌هغو شپیږو ، او و ، لویو سردار انوڅخه ؤچه‌شمالی‌هندوستان‌ئي‌ونیواو بهلول ئې پاچا کړ. دستلج دسین شمالی‌برخه تو له‌دتاتارخان په‌لاس کښې‌وه سلطان سکندر دتا تارخان ترمرگ وروسته داسیمی دتاتار خان د اولادي له‌لاسه وکښلې (۱)

**۱۳ ـ قطب خان:**

قطب‌خان د حسین‌خان‌پښتانه زوی‌دی دسلطان بهلول سرد سودا گری په‌وختو کښې مل ؤ بیاد خضرخانی سلطان علاء الدین عا لمشاه له امیرانو څخه شو په ۸٦۱ ه چه سلطان بهلول دمبارك شاهی سیمو په‌دوره ووت:دی په (رابری) کښې کلابند شو دسلطان لښکرو بری پرمومونه‌ دی، داو دی خان جها ن په زیر مه و با خښه شو او پرخپل جا گیر پا ته شو بیاپه ۸٦۳ ه کا ل د سلطا ن حسین شرقی خواته ورو او ښت .

**۱٤ ـ میواتی احمدخان:**

دخضرخان‌د کور نی په‌پاچهیو کښې‌امیر ؤ،خضرخانی دسلطان علاء الدین عالمشاه په کمواکي پاچهی کښې ئی پریوه لویه لته غیښ راو کرزو له اوتر (مهرولي) پوري ئې (چه‌دهلی ته‌خورا نږدې ده) تربوې اندازی خپلوا که پاچهی‌لر له‌سلطان بهلول چه‌په ۸٦۱ ه کال دمبار کشاهی‌سیموپه دوره‌ووت دی ور ته ایل شو بیا په ۸٦۷ ه کال د سلطان حسین خواته ورو اوښت د (چند وار) تر جنگ وروسته بیر ته دخان‌جهان لودی‌په‌زیرمه‌دسلطان بهلول په امراؤ کښې دا خل کړه شو .

**۱۵ ـ خاص خیل یوسف خان.**

**۱٦ ـ جلوانی یوسف خان.**

**۱۷ ـ سیستانی احمدخان .**

**۱۸ ـ ترك علی خان.**

**۱۹ شروانی شیخ احمدخان.**

**۲۰ ـ نهنگ خان.**

**۲۱ ـ لښکر خان.**

**۲۲ ـ رستم خان**

---

(۱) بابر نامه ۱٤۳مخ

**۲۳-جونا خان:**

جونا خان د غازی خان زوی دی د سلطان بهلول له امراؤ څخه ؤ په ۸٦۱ هـ کال له سلطان څخه خوابدی شو او د سلطان محمود شرقی خوا ته وړاوښت، سلطان محمود د (شمشابات) جاګیر ورکړ.

**۲۴-سارنګ خانی جمال خان:**

د سارنګ خان لودی له اولادې او د سلطان بهلول د پاچهی له امراؤ څخه ؤ (۱)

**۲۵- رای پرتاب:**

د سلطان له امراؤ څخه ؤ

**۲٦ رای کرن**

د سلطان له امراؤ څخه ؤ، سلطان چه په ۸٦۲ هـ کال شمشابات ونیو، دی ئې د (شمشابات) حاکم وټاکه.

**۲۷- وزیر خان (خان خانان):**

د اسد خان زوی.

**۲۸- شمشیر خان.**

**۲۹- رای کهن.**

**۳۰-شیخ سعید پرملی:**

د سلطان سکندر په امراؤ کښې ئې تفصیل ولولی.

**۳۱- بهادرخان مهته**

**۳۲- ملك چمن.**

د عماد الملك لمسی.

**۳۳- شیخ جمال-**

**۳۴- شیخ عثمان**

## د سلطان بهلول د وختو مصنفین

**۱ شیخ ابوالفتح کالپوی:**

د دغو وختو ډیر ستر عالم ؤ په طریقت کښې ئې د سید محمد ګیسو دراز (رح) خلافت موندلی ؤ په نحو کښې (تکمله) او په تصوف کښې (مشاهده) دده له اثارو څخه دی. په ۸٦۲ هـ کال وړ او په (کالپی) کښې ښخ کړه شو (۲)

**۲-شیخ سعد الدین:**

د خپل وخت د مشهور فقیه (مولانا اعظم) شاګرد دی، منلی ستر عالم ؤ په طریقت کښې ئې د (شیخ مینا) لاس نیولی ؤ. پر (رساله مکیه) ئې د (مجمع السلوك) په نامه شرحه لیکلې ده پر (کافیه) او (مصباح) هم شرحې لری په ۸۷۲ هـ کال مړ دی (۳)

---

(۱) بشپړ حال ئې د سلطان سکندر په امراؤ کښې ولولی.

(۲) خزینة الاصفیا لمړی جلد ۳۹۷ مخ (۳) خزینة الاصفیا لمړی جلد ٤۰۱ مخ

**۳-سیدمحمد الحسینی:**

د خپل وخت خورا منلی ستانه او دسلوك به لارو زښت ډير پوه عارف ؤ د(بحرالمعانی)به نامه په توحیداومعرفت کښی غوره اثرلری(اسرارالروح) او(بحرالانساب)هم دده له اثارو څخه دی په ۸۹۰ھ کال مړدی (۱)

**۴-شیخ حسین ناگوری:**

د شیخ حمید الدین ناگوری لـه اولادی څخــه دی(۲)

دخپل وخت جیدعالم ،مجردستانه او په سلوك کښی د شیخ کبیر (رح) له لویو خلفاؤ څخه ؤ. د(نورالنبی)په نامه ئی بو تفسیر په ۳۰جلدو کښی لیکلی دی د(مفتاح)پردریم ټوك او د امام غزالی پرسوانح هم شرحې لری ، مکتوبات ئی هم شته په۹۰۱ھ کال مړ دی (۳)

**۵-شیخ فیروز ډهلوی :**

شیخ فیروز د مشهور محدث شیخ عبدالحق ډهلوی ورنیکه دی د سلطان بهلول د پاچهی په اوائلو کښی ژوندی ؤ په ۷۵٦ ھ کال چه سلطان محمود شرقی پرډهلی بریدو کاوښارئی کلابند کړ سلطان بهلول چه له دیپالپور څخه راغی ورسره وجنگید اوسلطان محمودته ئي ماته ورکړه شیخ فیروز دغه نکل ټول په شعر لیکلی دی چه لههغه څخه دوه بیته دادی:

سلطان بهلول لودی ته وائی:

| | |
|---|---|
| ا یا قا بض شهر د هلی شنو | حیانت چوخواهی ازینجا برو |
| منم قابض ملك ما را است ملك | خداداد مارا خدارا است ملك |

شیخ عبدالحق ډهلوی په خپل کتاب اخبار الاخیار کښی لیکی چه دغه رساله زمونږ کره وه خواوس نه لیده کیږی (٤)نوموړی د بهرایچ په غزاو کښی په ۸٦۰ھ کال ومړ او هلته ښخ شو.

---

(۱) خزینة الاصفیالمړی جلد۲ ٤۰مخ.

(۲)تذکره علمای هند ٤۹ مخ (۳) خزینة الاصفیا لمړی جلد ٤۰۷ مخ

(٤)داخبار الاخیار تکمله ۳۰۰مخ



ابوالمظفر غازی سلطان سکندر لودی
(٨٩٤ - ٩٢٣ھ)

# ابو المظفر غازی سلطان سکندر لودی

## (۸۹٤ - ۹۲۳ھ)

[سلطان سکندر یو غښتلی پښتون پاچا او په لودیو کښی تر ټولو لایق ټولو اک ؤ ده د پاچهی انتظام خورا ښه پرؤ ده په پاچهی کښی په درست ملك کښی کراره کراري او زیاته ارزانی وه دهند طلائی تاریخ] (۱)

« دا هغه ورانی و یجاړی چه د گود تیمور یرغل د هند سیاست او تمدن ته ور پیښی کړی وې د سلطان سکندر په وختو کښی لیری کړې شوې او هغه دبی تمیزی طوفانونه چه خواص او عوام به ئی له بیری ریږدیدل پرمخ ورك شول دعدل او انصاف دوره شوه او ټول رعیت پخپل ژوند وپوهیدله د ده تقریباً دیرشو کلو پله پورې ادب پالنی او فیاضی د علم او ادب په مړه کالبوت کښی نوی ساه پو کړه زړو علومو او هیرو شو و فنونو ته ئي هغه رونق ور کړ چه په شهرت ئي ملکونه ډك شول تر داسی حده چه قدامت پسند و هندوانو لاهم اسلامی ادبیاتو او لسانیاتو ته مخ راو گرزاوه » (اورینټل میگزین)

« د سلطان سکندر په پاچهی کښی دزمینداړانو (جاگیر دارانو ) د ظلم او تیری لاسونه لنډ شوی وو. ټولو ئی حکم ته غاړې اېښې وې غښتلی او کمزوی که په یوه ستر گه کتل کیدل سلطان سکندر په ټولو چارو کښی لور او پیرزوینه لرله پر خلکو زړ سوانده او له ښیګنه بیرید و نکی ؤ ' د بد نفس پرغوښتنه نه ته » [ طبقات اکبری ]

« سلطان سکندر خورا ځیرك . یوه او پر امیرانو ضابط پاچا ؤ 'سلطان خپلواکه پاچهی لرله ' نیاو او عدل ئي و کا اسلامی ښښې او شرعی احکام ئي جاری کړل ' ده په وختو کښی رعیت په خورا داد او پوره زړه په خپلو چارو بخوت ؤ ' ځکه نو خورا ارزانی وه » [طباطبائی سیر المتاخرین] (۲)

---

(۱) دا تاریخ ( ویشوا ناتهه ) په هندی ژبه لیکلی دی نوم ئي (گولډن ایتهاس بهارت ورشو) دی.

(۲) غلام حسین طباطبائی سره ددي چه له پښتنو سره خورا ګلك تعصب لری بیا هم د سلطان سکندر داوصافو لمر د تعصب په دوو گوتو نه شی پټولای.

«دسلطان سکندر پاچهي ددینداری، امانت، حلم، وقار، صلاح، او تقوی زمانه وه، ده‌دپوهو، ستانه‌ؤاودر نوخلقوسره مینه لرله ځکه نو دغسی خلق به خـورا بیره د نری له هره گوټه څخه ځیني دده په غوښتنه او ځینی په خپله خوښه دده په پـای تخت کښی راغونډ او هلته یسی میشت شول .

په رښتیا سره ددي بختور پاچا دزماني ښېگڼي ترلیکلو وتلی دی او پخپله دده دفراست او کرامت په باب کښې خورا ډېر نکلونه کـاوه‌شی.»

گر این جمله را سعدی املا کند    مگر دفتر دیگر انشا کند

(اخبار الاخیار)    (۱)

«سلطان سکندر دآسیاله واکمنو او نومیالیو پاچهانو څخه تېرشوی دی په علم او فضل کښې ئی غښتلی لاس درلود دده په وختو کښې پوهو او فاضلــو خلقوته په‌خورادرنه سترگه کتل کېدل» (شېرشاهی تاریخ) «سلطان سکندر دذهن اوذکا نبوغ دمنلو نه‌دی دده دنیاو(عدل) او احسان له‌لاسه دظلم او تېری منې ستر گی نشی ښکاره کولای.

دده په‌وختو کښی هرلوری ته علم او فضل نوی رونق وموند دسخاو، او ښېندنو بازارخپور شو.

پوهانو په‌هرعلم کښې تالیفات وکړل او منلو شعر اؤ دهری سوبې له پاره فتحنامې ولیکلې» (معدن الشفأ سکندری) (۲)

## دشهزادگی وخت

شهزاده‌نظام (سلطان‌سکندر) دپلار (سلطان بهلول) دتخت ته‌اخستلو پراوم کال وزیږېد ځکه چه‌په دغووختو کښې ئې دپلار پاچهي څه‌نظام موندلی ؤ نوئې دده لوم (نظام‌خان) یا (میا نظام) کښېښود (۳)

---

(۱) اخبار الاخبار دډهلی دخورا منلی اومشهورمحدث شیخ عبدالحق تالیف دی. شیخ په ۱۰۵۱ه کال مړدی (اخبار الاخیار) ۲۲۷مخ-(۲) معدن الشفا سکندری دسلطان دوزیر (میابهوا) تالیف دی (۳) مرقع افغان ۷۰مخ داحمد یادگار دتاریخ افاغنه په‌حواله.

شهزاده نظام خان لوړ کيني شخه زښت ډېر ځیرك خورا هوښيار او ښځی وتلی ښکلی ؤ، ددهٔ ښکلا په باب کښې مورخین په ګډه لیکی :

«په دغه زمانه کښې په ټول هېواد کښې سرتريا په د شهزاده نظام دښکل اوجمال سارى نه ؤ او ترا يرو ليرو ملكو پورى ددهٔ دښکلا کوکې خپرې وې».

نکل کاچه له( شهزاده نظام )سره دنوی ځلميتوب په وختو کښې د شيخ ابوالعلاء دلمسی (شيخ حسن علائی) چه پوخور ارسپېدلی ستانه او مجذوب سالك ؤ (۱) مینه مونده شوه یوه ورځ شهزاده په ژمی ډیا چاهی ماڼئ په یوه خونه کښې ناست ؤ سره ددې چه شاؤخوا پیرې (پهرې) پر راخر خپدلی او ځای پر ځای حاجبان ولاړؤ دغه مجذوب ستانه (شیخ علائی) نا ببره بې اجازې په خونه ورننووت.

شهزاده چه دده دمینې نکلو نه له ځا نه سره اوریدلی ؤ او په بنهٔ ئې هم پېژانده دهٔ له دغسی آزاد اوېي اذنه ورتګه شخه هك حيران شو در دورغی مخ ئې پررا و ګرزاوه چه :

«ځای پر ځای حاجبان ولاړ ؤ ته څنګه بې اجازې پا چاهی ماڼئ ته راننوتلې؟» لېونی ستانه ورته وویل :

«ما ته څه معلومه ده؟ نه پخپله ځان په پوه کړه»

شهزاده و پو ښتېد :

ته پر ما مین شوی ئې ؟

ځواب ئې ور کړ :

«په دې باب کښې زما خپل اختیار نه دی »

شهزاده چه دا ځواب واوريد له قهره پر له وايشيد ځان ته ئې ور وبـا له

---

(۱) دا نیکه او لمسی دواړه د( u·P )سیمې دمینپورضلعې په« راپرې » کښې ښخ دی (مرقع افغان)، خزینه الاصفیائی نوم شیخ حسن مجذوب لیکلی دی وفات ئې په ۹۱۷ه کال او قبر ئې په ډهلی کښې بولی او دنیکه نوم ئې شاه (اعلی) راوړی (خزینة الاصفیادوهم جلد ۲۹ ٤ مـخ

پهٔغبر گولاسوئي ترخټ ونيواو ككرئ ئي پهٔله اوره ډك نغري ومنډ،اه دليوني ستانه ترخواه يوزغ هم راونه ووت او نهٔئي سرځني وښوراوه، پهٔ دغه ترخ کي دشهزاده اتاليق (لوانى مبارك خان) چه دسلطان بهلول ددربار يو درونډ اميرؤ پرراننووت او پرشهزادهٔئي زغ کړه :

«ها! له خدايه نهٔ بيريږي! څه كوي؟

لهٔدي ده تهٔځه زيان نهٔرسي، پرخپل زيان وبيريږه» شهزاده دمبارك خان پهٔزغ دليوني ستانه ككرئ خوشي كړه، مبارك خان چه دشيخ علايي ككرئ لهٔنغرئ را وايستله کهٔئي كتل چه يو ويښته ئي هم نهٔدى سوځلى، مبارك خان چه له خوني ووت دشهزاده پهٔحكم (شيخ حسن) تهٔ بيرئ ورواچولي شوي او شهزاده تهٔنژدي پهٔ يوه كوټه كښي بندي كړ شو، لبز كړئ وروسته شهزاده تهٔ خپلو خلقو حال را وړ چه شيخ علايي پهٔ بازار كښي گرزي.

شهزاده چه دهغې كوټي كړ كئ وبرانيتله كه گوري ځنځيران او بيرئ پرتي دى (شيخ علايي) پخپله نشته، شهزاده پهٔ (شيخ حسن) پسې سړي وليږل شيخ چه راوستل شو شهزاده ورته وويل :

«يوڅو ارمې دميني دعوه كوي بيا مې له بنده څخه تښتي» ليوني ستانهٔ پهٔ خورا سپپدلتيا ځواب وركړ :

«زه پخپله نهٔ وم تللى نيكه وايستلم» (۱)

وائي شهزاده تردغې ورځي پس بيا هغه ليوني ستانه (شيخ حسن علايي) ونهٔ ځوراوه او نهٔئي پهٔ سپكه ستر گه ورته وكتل. (۲)

## دشهزداه غشي و يشتل.

نكل كا چه سلطان بهلول د (ميواړ) د (ارده پور) د (رانا) جنگ تهٔ ورووت د مرغ (فال) پهٔ نوگه ئي پنځه كلن شهزاده نظام (چه پهٔغشي اولينده ئي هلته لوبي كولى) وگماره چه ديوه تا كلي بوټي پهٔ يوه

---

(۱) مرقع افغان ۷٤ مخ د تاريخ افاغنه په حواله
(۲) مرقع افغان ۷۵ مخ دتاريخ داؤدى په حواله

ځانګه کښې تا کلې خوړند ګل وولي، شهزاده چه لیندۍ راکښله دغـشي ځو کې ئې ګل داسې‌سیك وسکښت چه بوټي و نه ښوریدل.

سلطان لـه‌خو شالۍ‌وزوغور ځيد پرتندۍ ئې‌مچ کړاوسمدستي ئې دسرهند جاګیر او حکومت دده پرنامه و لیکه.

سلطان چه د(رانا) له جنګه بریالی را ستون شو که څه‌هم شهزاده پخواهم زتولو زامنو پرګران ؤ دلته ئي پوه خاصه توجه ورته مـونده شـوه اودده روزني لره‌ئې په خورابیره‌مخ‌ورو کړزاوه، له کورهئي‌بیل کړ او د( خان‌خانان) اتالیقۍ ته‌ئې وسپاره نورپو هان‌ئې هم دده ښوو نې ( معلمۍ) لره و ګمارل ځکه نوشهزاده نظام پوازې تکړه او ګړندی سپاهی‌راونه ووت بلکه پوبیاوړی پوه نومیالی مدبر هم شو.

## د فوځ مشر توب:

په ۸۶۲ ه کال (چه دشمشابات) په شاو خوا کښې سلطان بهلول دشرقي پاچا (سلطان محمود) جنګ ته‌پخپله دلښکر و سره رووت پوفوځ‌ئې دشهزاده جلال او شپږ کلن شهزاده نظام اوعمادالملك ترمشر تابه لاندې دخپل امیر (رای کـرن) مرستي لره و ګماره چه‌د(شمشابات) په کلا کښې د شرقي فوځو له‌لاسه کلا بندؤ(۱).

## دسرهند حکومت

لکه څنګه‌چه موده‌مخه‌ولوستل دسرهندحکومت‌په‌خوراوړ کینه کښې‌لا(سلطان) دشهزاده‌نظام پرنامه لیکلی ؤ خو نګه چه ننګی ځلمی شو سمد ستي ئې دسرهند اوپانی پټ واك ورو سپاره او د انتظام او دفتر دا ری له پاره ئې (شیخ سعید پرملی)چه خورا پوره عالم، منلی مدبر اود شهزاده ښو ونکی ؤ وزسره کړ.

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد

دسلطان ددربار خورادرانه او منلی امیران عمر خان شر و انهی او مبارك خان لوانی هم دخپلو لښکرو سره ورسره کړه شول او شهزاده نظام خپل جاګیرته ولاړ اوده غو سیمو دحکومت واګی ئې په لاس کښې واخیستلې .

## دتاتارخان جنګ (۱)

سلطان بهلول پرخپلو امیرانو زیاته پېرزوینه لرله لوی لوی جاګیرونه ئې ور کړی ؤ اوهلته په دوي خپلواك حکو متو نه کول .

په دغو امیرانو کښې دوه خورا غښتلی او نامتو امیران (تاتار خان اوهیبت خان) ورته پوره ښول اودخپلو سیمو د شاؤ خوا پرپا چاهی سیمو ئې لاهم غېږې پسې راو ګرزولې .

نکل کاچه: په‌دغو وختو کښې شهزاده نظام (دپانی پت) حکومت لاره' ده هم دشاؤخوا دځینو بهلولی امیرانو دجاګیرخو کلیو ته لاسو نه وراو زده کړل او پخپل جاګیر ئې راکښېایستل' هغو امیرانو سلطان ته شکایتو نه ولېږل .

سلطان دشهزاده اتالیق او دفتردارخوجګی شیخ سعید پرملی ته ولیکل:

«تنکی شهزاده داتجاوزات ستاپه سلا کړی دی 'نه که دو مره مېړه ئې دپاغی تاتار خان سیمې چه خو را لږ درخرمه دی(۲) ونیسه دا پلو امیرانو دسیمو نیول اوتالا څومره مېړانه نه‌ده ځیرك اوموقع پېژندونکی اتالیق چه دافرمان ولوست سمدستی شهزاده ته‌ورغی اودپاچهی مبارکی ئې ور کړه .

شهزاده چه‌دشیخ سعید داوینا او نغوز له‌ هېش؛ پاته شو په خورا ترهورتیا ئې وویل : «خیردی؟»

ځکه‌چه‌ده له‌دغې مبارکی څخه دپلار دمرګ معنی کښلې وه ' نوشیخ داده کړ اوورته ئې وویل :

---

(۱) دانکل له‌مرقع افغانی څخه راخیست‌شویدی په مخزن افغان کښې دفتح خان نامی سره دشهزاده جنګ ضبط دی .

(۲) تاتارخان دجالند هراو شاؤخوا سیمو واکمن ؤ

«خیرخیر بت دی خودیا چاله حضوره پخپل لاس تاته یا چهی درسپارلي شوې ده»
شهزاده و پوښتېد !
« تاته څنګه داخبر ګنده شوې ده ؟»

شیخ پاچاهی فرمان دشهزاده مخې ته وغوړاوه، شهزاده چه په فرمان کښې دخپلې پاچهی کوم ذکر و نه لید اوسر بېره پرد ې ئې یوه کټره (طنز) هم ولوسته شیخ ته ئې مخ راو اړاوه چه :
عجیبه پاچهی راکوې؟»
شیخ په خوړا سړه سینه ورته وویل:
« تنکی شهزاده! پاچهی وړیا نه موندله کېږي کوم کار لره چه پاچاته ګمارلی ئې داستاد ازموېښت یو خوړا مهم میدان دی، که تادا کار تر سره کړ، نو پاچهی یقیني ده، ځکه چه پاچا پخپل ژوند تاهغه جنګ لره ګماری چه دده زړه غواړی اوپه دی کښې ستا سپاهی توب آزموئي، باور وکړه چه داستاد دپاچهی یوه ګنده اشاره ده ځکه نوته زړو پاڅېږه اوقسمت دې وآزموېه»

شهزاده دشیخ داسلاخو ښه کړه اوخپل حربی مشاورین او منصبداران ئې لکه مبارك خان لوانی او دریا خان زوی ئې، عمرخان شروانی او ابراهیم خان زوی ئې او پخپله شیخ سعید پرملی اومیاحسین زوی ئې سلالره راغونډ کړل، ټولو په ګډه دتاتارخان دبرید سلا ور کړه .

شهزاده جنګی تیاری ونیولې په دغه وخت کښې له ده سره یونیم زر سپاره سپاهیان او دغو مره هم دده خپل نوکران ؤ، دې ټولو ته ئې خوړا ښې وسلې آسونه اونور لوازم ورکړل او داووړ مګر خوراکړه او توریالی لښکر دتنکی ځلمی شهزاده نظام په مشر توب د (انبالې) خواته وخوځېد .

تاتارخان هم ناخبره نهٔ دیوه لوی لښکر سره دشهزاده مخ نیوی لره راووت اوپه (انباله) کښې فوځونه سره مخامخ شول .

تکل کاچه : د جنګ په ورځ دشهزاده‌د کوچنی مګر خورا مېړنی او غښتلی لښکر (چه ټول دمیدان مېړونه وه) تر مخ شیخ سعید برملی ولاړؤ هر آن به‌ئې شهزاده ته‌تر شا کتل،شهزاده سبب ځنې و پوښتېد. شیخ ورته‌ږدې شو او کرارئې ورته وویل : « زه‌ستا پرچارپېر خورا تکړه او تو ریالی ځلمی وینم اوباور لرم که ته مشرتوب ټینګ کړ ای شې 'نوسوبه' به زموږ وی' که پېښی دې تامشرتوب ټینګ نه کړای شوای ته‌خپل اختیار لرې خوڅوك چه تادر سره راغوږ کړی دی دهغو ټینګـار ' مېړانو او توروته هم و ګوره ابزه شپېه ودرېږه اوو ګوره چه دوی څه ډول سرو نه ښندی ' کـه څه هم د تاتارخان سره‌ېنځه لس زره لښکر دی‌خوستا دملګرو غوندی لس‌تنه مېړونه او توریالی هم پکښې نشته .

شیخ سعید که څه هم شهزاده ته‌داد مېړانی ټینګـاراو زړه ورتوب خبری وکړې خوورېسی ئې داهم ورته و ویل :

« که‌دخدای‌په‌مرسته موږ بری‌موند خو'سوبه دې تر سره‌شوه او که‌داسی ونه‌شوه نو تر تا هغه آس‌لاندی دی‌چه باد ئې سیالی نه‌شی کړای؟پوره ئې کړه او ډاډه اوسه چه څوك ستا ګرزته لانشی در رسېدلای » .

شیخ برملی غوښته چه په دې خبره تنکی شهزاده‌ډاډه کړی چه تا ته هیڅ خطر نشته ځکه دی بېږېده چه‌شهزاده لا هلك دی که پرخپل چارپېر د تورو برېښ دوینو ولې ' د ځلمو خبر کی ' د کـکر پولغړ بدل' دتنو ټېپدل'وویني اود (و نیسه او مه پرېږده) چیغې واوری تر هور به شی .

د شیخ برملی ترخولې لاد اوبنا بشپړه نه‌وه را وتلې چـه شهزاده ومسل . او په خورا درنه وضعه ئې و رته و ویل :

ستـادآس سوې‌پر مځکه سربېره وینم. خودخپل آس پښې ترسینې‌به مـځکه ننوتلی ګنم نوزه به‌چېرې تلای شم »

شیخ چه داپښتنی لهٔ غیرته ډك ځواب واورید له آسه سپك راوغورځید شهزاده ئې ترښې موټ ونیواو په خورا خوشالۍ ئې ورته وویل:

«دلښکر ودمشر دومره میړانه او ټینګار د سوبې څرګنده نخښه ده »

ددواړو خوا لښکري سره ودرېدلې دشهزاده له خوا ترټولو لمړی (لوانی دریا خان) له دېرشو میړو سره دجنګ ډاګ ته ووت، دتاتارخان دلښکر و پنځوسو ځلمو مخه ورته ونیوله توری سره وخرڅېدلې وېنې سره وبهېدلې پای ته دتاتار خان ځلمو ترشاتر پلل او په لښکر ننوتل دریاخان چه وکتل چه هیڅوك نور ورته راونه وتل خپلو توریالیو ملوته ئې مخ راواړاوه:

«دا بری دخدای مرستې زمونږ میړانې او دمشرتندی راکړلی دی اوس نوتاسې دلته ودرېږئ زه یوازې برید کوم»

دریاخان لوانی درې پلا دغلیم پر لښکر وبرید وکړ هره پلا ئې دغلیم ځلمی په وینو ورنګول او دی په خپله روغ رمټ خپل لښکرته راستون شو تردهٔ وروسته دخواجګی شیخ سعید پر ملی زوی (میاحسین) (۷۰) میړو سره دجنګ ډاګ ته ووت دتاتارخان لخوا یونیم زرو سپرو مخه ورته ونیوله او دمیاحسین پر ملګرو ئې درې پلا پله پسې برید ونه وکړل خو [میاحسین] هم درې سره واره بری وموند او روغ رمټ خپلې خوانه راستون شو تردوی وروسته شیروانی عمرخان دپنځوسو سپرو سره شهزاده ته راغی او د[دریاخان] او [میاحسین] ترستاینې وروسته ئې میدان ته دوروتلو اذن وغوښت پدغه ترخ کښې ددهٔ زوی [ابراهیم خان] آس را پورنده کړ دپلار ترمخ ودرید قسم ئې ورکړ چه میدان ته به نه ځې او ورته وې ویل:

«لکه څنګه چه تا دمبارك خان او شیخ سعید دزوی توری ولیدلې اوس دخپل زوی د تورې ننداره هم وکړه »

پلار ئې ځواب ورکړ:

«مونږ تول جنګ ارهٔ راوتلي یوزه اوته توپیر نه لرو »

ابراهیم خان دېلارخبره ونه منله د آس مخ چه ئې و گرزاوه وې ویل :
«په کډه برید کښې مېړانې نه ښکارېږي، یو اځې بواځې وتل بو به»

آس ئې پونده کړ او دغلیم په لس، پنځه لس ذره لښکر ننووت ښو تنه ئې په وینو ورنګول او روغ رمې ځنې راووت، شېروانی عمرخان چه د زوی د انوره ولید له د جنګ چیغه ئې وکړه او د تاتارخان پر فوځ له څېای ډلی سره ور ننوی شو. په دغه برید کښې تاتارخان پخپله ووژه شو (حسن خان) ور ور ئې ژوندی د شهزاده د سپاهیانو په لاس کښېووت، د تاتارخان د فوځ خپه مره شول میدان ئې پرېښود او شهزاده سو به بو وړه، د شهزاده د غه امړی سوبه دده د عمر او حربی طاقت په نسبت خورا ستر کارؤ، د خلقو په زړو ئې بېره ننوتله او هرچا ئې توره او مېړانه ومنله، سلطان ته چه د دغی سو بې زیری ورغی له خوشالی په کمیسه کښې نه ځائېده او په زامنو کښې ئې د (شهزاده نظام) اهلیت و ما نه ترېخوازیات ورته او پر گران شو، وائی سلطان ته له دغه وخته د (شهزاده نظام) د ولیعهدی فکر موندلی شو (۱)

## دتهانیسر پېښه

تهانیسر (کرو کیشتر) (۲) د پانی پت په شاؤ خوا کښې دیوه ځای نوم دی هلته له لرغونه څخه په کال کښې یو وار دهند وانو خورا لویه او د رنه مذهبی میله کېږی له لېرو لېرو ملکو څخه هندوان د زیارت په نیامت ور ته راځی هلته یو لوی ناور (تالاب) شته په هغه کښې لامبی د (کرو کیشتر) په خورا لوی او تاریخی مندر (دهرم سال) کښې څورځی عبادتونه کوی او بېرته خپلو خپلو ځایو ته ستنېږی کله چه شهزاده نظام (سلطان سکندر) د پانی پت حاکم ؤ هم دا مېلې کېدلې ده وغوښتله چه په خپل حکومت کښې دا دود کوره

(۱) د مرقع افغان له ۱۳۵ مخ څخه تر ۱٤۲ مخه پورې د تاریخ داؤدی په حواله.

(۲) په خلورمه هجری پېړۍ کښې د تها نیسر په ښار کښې د سرې دقدیه انداز ه د پیتلو (چکرسوام) نومی بت پروت ؤ هندوانو ئې زښت ډېر عزت کاوه غازی سلطان محمود چه تها نیسر و نیو هغه بت ئې غزنی ته یووړ (دالبیرونی کتاب الهند ۱۱ باب ۱۵۱ مخ).

کړی ځرنگه چه شهزاده بهٔهرومرو په هره چاره کښې سلا کوله نوئی خورا وټار وتلی ملایان فتوی لره راغونډ کړل، ملك العلماء اجودهنی ملا عبد الله (چه دخپل وخت یو خورا ښیاوړی او حق وونکی ملاؤ) هم دغی غونډی ته راغلیٔ ؤ، شهزاده چه خپل فکر او اراده ځرگـنده کړه او فتوی ئي وغوښتله ملك العلماء یوښتنه ځنی وکړه:

«شهزاده! هلته څه کیږی؟»

شهزاده ځواب ورکړ: «هلته هندوان لامبی او عبادتونه کوی»

ملك العلماء وویل:

«دادې دله کومه وخته کـاوه‌شی؟»

شهزاده ورته وویل:

له ډیره ارغو نه څخه!

ملك العلماء وفرمایل:

«تردې بخواهم دلته اسلامی پاچهی تیری‌شویدی هغو مسلمانانو پاچهانو ولی دادود کوره نه کړه؟»

شهزاده سمدستي ځواب ورکړ:

«دوی توفیق نهٔ ؤموندلی»

«ملك العلماء په ځواب کښې ورته وویل:

«شرعه داهل ذمهٔ دزړو بتخانو دنړولو اجازه نهٔ ورکوی او نهٔ دهغو دودو دکوره کولو حق چاته ورکوی چه له لرغونه څخه یه هغو قومو کښې کـاوه‌شی»

شهزاده چه داوینماو نغوز له له قهره یرله وا پشپد او په خوراز یږه لهجه‌ئي ملك العلماء ته وویل:

«څوك چه د کافرانو او مشرکانو پرسیله دریږی په توره به ئي سرغوځ کړه‌شی!»

ملك العلماء هم په هغسی زیږه لهجه ورته وویل:

«مرگ حق دی او دځښتن بی حکمه څوك نه مری څوك چه د کوم ظالم پاچا

مخې ته درېږی هغه ترخپل سرتېر وی ، ما شرعی مسئله درته وویله : که په شرعه بنده نه ئی نو پوښتېد لم دي ولی ؟ څه چه ما باید ویلی وای هغه مې وویل زیاتی ته پوهېږی هر څه چه کوی » .

شهزاده چه دملك العلماء داشرعی حکم واورېد، وئې ما نه او له خپلی ارادی څخه وګرز ېده .

## دډهلي حکومت

سلطان بهلول دژوند په وروستیو کلو کښي دډهلي حکومت هم شهزاده نظام ته وروسپاره په ۸۹٤ هـ کال چه سلطان د ګوالیار له جنګه څخه دراستنېدلو په لاره کښي ناروغه شو شهزاده ئی له ډهلي څخه (سکیت) ته وروغوښت عمر خان شروانی اودشهزاده موری بی بی سنهاری (زیبا ملکی) چه دسلطان په سپرلی کښي وو ، بې حال ور ته را استاؤ چه ډهلي پرېږدی ، سلطان چه دوهمه پلا په خورا شدت وغوښت شهزاده دسلطان حسین شرقی دوزیر « قتلغ خان چه پومنلی مدبر او په دغو ختو کښي به ډهلي کښي بندی ؤ به سلا تر ډهلي دباندی د کرچ په نامه خپمې و نجتلې مګر تر څو چه سلطان دمړینی حال ورته رانه غی « سکیت » پر خوا و نه لېږدېد . (۱)

## تخت ته ختل (جلوس)

د ٨٩٤ هـ کال دبرات په میاشت چه سلطان بهلول د(سکیت) په شاؤ خوا کښي له دی دنیا څخه ستر ګې پټی کړی له وصیت سره سم ئی دمړینی حال دستی ډهلي ته (شهزاده نظام) لره ولېږه شو ، شهزاده دډهلي واك (سارنګ خا نی جمال خان) ته وسپاره او پخپله د(سکیت) خواته تر لېږد پدلو پخوا دډهلي منلی ستا نه او خورا اوخار سا لك (شیخ سماء الدین کنبوه) ته ورغی تر روغبړ ورسته ئی ورته وویل :

« ستر ستا نه ! را غلم چه پرتاسی (میزان الصرف) ولولم » .

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۸ مخ او تاریخ افاغنه لمړی برخه ٥٠ مخ .

شیخ سماءالدین (رح) چه ورته ښه کړه! شهزاده کتاب ورته پرانست
ځکه چه د نوموړی کتاب په سر کښې لیکلی دی چه:

بدان اسعدك الله فی الدارین (پوه شه؟ څښتن دی په دوارو جهانو کښی
ښېګڼی او نېکمرغی په نصیب کړه).

نوشیخ پورتنی جمله ولوستله شهزاده دبیا بیا لوستلو هیله څرګنده کړه
دریم لا دا جمله ولوستله - شهزاده کتاب کت کړ او د شیخ لاس ئې مچ
کړل د شیخ دغه دعائې ښه مرغ (فال) وګڼه دامراؤ سره یې خورا تلوار
د (سکېت) لورته وخوځید (جلالی یا بهداولی) ته ئې دېلار پرمړی ځان
ورورساوه او ترشرعی دود وروسته ئې د ښخولو د پاره ډهلی ته جنازه راواستوله
که څه هم دده پرپا چهی باندی د سلطان بهلول نوربه «عیسی خان»
(۱) او پرملی خان خانان ترمنځ څه خوابدی پیدا شوه خو د برژر دده پر وسیله ولاړ
پرملی خان خانان لودی خان جهان اونورو درنو امیرانو جلالی ته نژدی
د کالی ندی) برژی د سلطان فیروز په مانۍ کښی د ٤ ٨ هـ کال دبرات
پر اولسمه د جمعې په ورځ د پاچاهی تاج د «شهزاده نظام» پرسر کړی
کښېښود، ده ځان لره د [غازی سلطان سکندر] لقب غوره کړ.

## دعیسی خان لودی ترټنه

سلطان بهلول چه ومړ د سلطان تربوره د تاتارخان زوی عیسی خان نه غوښته
چه شهزاده نظام (سلطان سکندر) پاچاشی او دی دقطب خان لودی د خوربی
شهزاده مبارك خان (باربکشاه) پر سیله کالك ولاړ ؤ، سلطان سکندر چه په
(جلالی) کښې دپاچاهی تاج پرسر کښېښو د ښخوا تر دې چه پایتخت (ډهلی)
ته راشی او دپلار د ښخولو په دود کښی ګډون وکړی د عیسی خان د ترټنې په
نیامت د پرملی خان خانان او نورو درنو امیرانو سره (پټیالی) ته وخوځید،

(۱) عیسی خان د (باربك شاه لودی) دپاچهی پرسیله ولاړ ؤ. تاریخ فرشته.

عیسی خان ئې ترماتې وروسته وباخښه او سلطان پخپله دهلی ته ځنی راغی(۱)

## دتخت ته ختلو جشن

سلطان سکندر چه د(پټیالې) له سوبې دهلی ته راستون شو د تولو امیرانو په مخ کښې ئې په دهلی کښې د تخت نشینۍ دود پر ځای کړ (۵۳) امیرانو ته ئې آسونه، خلاتونه، جاگیرونه او منصبونه ور کړل و ئې نازول او تول رعیت ته ئې دیوه کال خراج وروباخښه (۲) تولو پاچاهي سپاهیانو ته ئې د دوو میاشتو تنخواوې دانعام په توگه ور کړې(۳)

## د((نه برید)) تړون

د ملتان پاچا شاه حسین لنگا (۸۷٤ – ۹۰٤ ه) چه د سلطان بهلول په مړینه خبر شو دیاتا او مبارکۍ لیک ئې له ډیرو سوغاتو سره دیوه هیئت په لاس (سلطان سکندر) ته ولیږه او په دغه ترخ کښې ئې د «نه برید» د تړون هیله هم څرگنده کړه. سلطان سکندر د ده دا هیله ومنله او په دې توگه د «نه برید» تړون د ملتان او دهلی د پاچاهیو ترمنځ لاس لیک شو چه:

۱- د دواړو پاچهیو لښکری به تر خپلو خپلو تکو (سرحدو) نه سره تیرېږی او یو د بل پر خاورو به برید نه سره کوی.

۲ - که مری پاچهی له بلی پاچهی څخه مرسته وغوښتله ځان به نه ژغوری

د هیئت غړو ته سلطان سکندر ډیر خلاتونه او سوغاتونه ور کړل، او په خورا درناوی ئې ملتان ته رخصت کړل، (٤).

## دشهزاده عالم خان پورته کیدل

سلطان بهلول چه مړ کېده شهزاده عالم خان زوی ئې د (کړه مانك) او (رابړي) د سیمو واکمن ؤ، د پلار تر مړینې څو میاشتې وروسته ئې هلته د پاچهی نغاره و ډنگوله او (سلطان علاء الدین) لقب ئې ځان ته غوره کړ.

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۰ مخ.

(۲) تاریخ افاغنه لمړی برخه ۵۰ مخ (۳) خورشید جهان ۸۱ مخ.

(٤) تاریخ فرشته دوهم جلد ۳۲۷ مخ.

سلطان سکندر چه واوریدله، نه ډهلي څخه ئې لښکري پسې ور وا ستلې. سلطان علاءالدین چه په (چندوار) کښې کلابند شو تر څو ور ځو کلا بندۍ و روسته (پټیالي) حاکم عیسی خان لودی ته و تښتېد او له هغه ځایه څخه خپل ورا ره (اعظم همایون) ته چه د (کالپې) حاکم ؤ ولاړ، سلطان سکندر د (زایرې) واك پر ملي (۱) یالواني (۲) خان خانان ته و سپا ره ، بیخپله (اټاوې) ته پسې ور تېر شو او ه میا شتې ئې هلته تېرې کړې څو خپل ورور (سلطان علاءالدین) ئې بیخلا اوله (اعظم همایون) څخه را بېل کړ د (اټاوې) واك ئې سلطان علاءالدین ته و سپاره (۳) او بیخپله د هلی ته را ستون شو ، (٤)

## دبیانی برید

سلطان چه له اټاوې څخه ډهلي ته را ستون شو د بیانې سیمې ته ئې لښکری و خوځولې دهغې سیمې سر کښان چه ئې څه سره و ځپل بېر ته ډهلي ته راستون شو.

## د شهزاده باربکشاه پورته کېدل

شهزاده باربکشاه د پلار په ژوند د (جونپور) واکمن ؤ د ده اداره څه کمواکې وه د سلطان بهلول تر مړینې وروسته دلمرختیزو سیمو جاگیر دارا نو سرو نه پورته کړل او ځینو امیرانو دی هم د سلطان سکندر مخالفت ته یاراوه، ځکه نو سلطان سکندر د ۸۹۵ھ کال په پای کښې دلمرختیز و سیمو و اك خپلو خو را درنو او غښتلو امیرانو ته وروسپاره او دجونپور په دربار کښې ئې هم خپل معتمدان و گمارل، مگر (باربکشاه) داو نه ز غملای شوای او د بېرته سلطان سکندر نه پورته شو، د (پټیالي) حاکم عیسی خان او د بهرایچ حاکم شیخ محمد پر ملي کالاپهاړ هم ورسره مل شو عیسی خان د سلطان بهلول تر بوراو شیخ محمد پر ملي د سلطان بهلول خوریی ؤ .

---

(۱) تاریخ فرشته (۲) تاریخ افاغنه ۵۰ مخ طبقات اکبری ج ا ص ۳۱۵
(۳) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۰ مخ (٤) مرقع افغان ۱۱۹ مخ.

# دسلطان سکندر ورو تل

سلطان چه د «بیانې» له سوبې څخه ډهلی ته راستون شو دري ورځې لا نه وې تېرې شوې چه دسانګي په ډاګ کښې له جونپور څخه د باربکشاه دېورته کېدلو حال ورته راورسېد.

سلطان سانګه وغور ځوله او هغه آن ئې دلوانی اسمعیل خان په مشرتابـه جونپور ته یو تکړه فوځ ولېږداوه او پخپله ئې له یو مدرانـه لښکر سره پټیالي خواته مخ ونیو. د پټیالي په شاؤ خوا کښې عیسی خان مخه ورته ونیوله په جنګ کښې پخپله تپی شو لښکروئې ماتې وکړه سلطان د اېلابیا و باخښه مګر له دغه تپه څخه د بېر ژرومړ او دپټیالي حکومت سلطان رای ګهېن ته (۱) چه دباربکشاه له خوا ورته را اوښتی ؤ ورکړ.

سلطان چه دپټیالي له شخړې فارغ شو اونهی اسمعیل خان ئې د روغی لـه پاره باربکشاه ته ولېږه مګر کله چه اسماعیل خان ناکام راستون شو (۲) نو سلطان دجونپور اورته لښکري ولېږ دولې له هغې خوا باربکشاه هم د خپلو فوځو اودشیخ محمد کالاپهاړ دفوځو سره مخ پر قنوج راروان شو، قنوج ته نږدې دواړه لښکرې سره مخامخ شوې جنګ و نښت.

نکل کـاچه: په دغه ترخ کښې یوه ملنګ سلطان ترلاس ونیو او ورته ئې وویل: «بری ستادی!» سلطان په خوراکړ که لاس ځنې کش کړ ـ ملنګ په حیرت ورته وویل: «زه پر تا د بری زیرې کوم ته په کړ که لاس راځخه کاږې!» سلطان ځواب ورکړ:

«دوه مسلمان فوځونه سره جنګېږي په دغسې وخت کښې د یوې خوا پر سیله ګرېدل نه ښه یې بلکه هسې بهدې ویلې وای: «په څه کښې چه داسلام خیر وی هغه دې خدای پېښه کړی ـ ځکه چه دهري خوا په سو به کښې چـه داسلام خیروی. دهغه له پاره باید دعاو شي»

---

(۱) تاویخ افاغنه ئې نوم (رای ګهنیش) لیکلی دی او دباربکشاه مصاحب ئې بولی (۵۰) مخ

(۲) تاریخ افاغنه ۵۰ مخ

وایی په دغه جنګ کښې کالاپهاړ چه له خپلې یوې ډلې سره د سلطان سکندر د لښکرو پرزړه برید وکړ و نیوه شو او په عین جنګ کښې سلطان ته بندي ورواندې کړ شو ـ سلطان چه ولیده له آسه ور ته را کوز شو و په غېږ کښې ئې و نیوه برئې و نازاوه او ورته وئې ویل: «ته زما دپلار پرځای ئې ما پخپله زوی والی ومنه».

کالاپهاړ د سلطان په دې وضعه ډېر خجل شو او وئې ویل:

«زه ستا د دومرو ښېګڼو بدله بې له بوه سر څخه بل څه نه لرم یو آس دې را ته را کړی چه د اسر ستا له پاره وښندم» سلطان دی پر آس سپور کړ او په ګډه ئې د بار بکشاه پر لښکرو برید و کړ، د جونپور لښکرو ماتې و کړه او بار بکشاه بدایون ته و تښتېد، سلطان ترشا یه پسې ؤ او هلته ئې کلا بند کړ بار بکشاه مجبور شو چه وسله کښېږدي، سلطان چه پر خپل ورور بار بکشاه بری ومو ند بېرته ئې خوشاله کړ، ډېر ئې و نازاوه جونپورته ئې بوت او تر انتظاماتو وروسته ئې د پخوا په څېر بیا د جونپور او لمرختیز وسیمو واک ده ته پر پښود مګر په دربار کښې ئې خپل معتمدان ورسره و ګمارل او جونپورته د نژدې سیمو واک ئې د خپلو درباری امیرانو په لاس ور کړ، پخپله (کالپي) ته وخو ځید.

## دکالپی حکومت

د کالپی حکومت سلطان بهلول د خواجه بایزید زوی اعظم همایون (خپل لمسی) ته ور کړی ؤ په ۸۹٦ هـ کال چه سلطان سکندر له جونپور څخه هغو سیمو ته ورغی د (کالپی) واک ئې له ده څخه واخیست ا (محمود خان لودی) ته ئې وسپاره له (کالپی) څخه ئې (جهتري) ته مخه و کړه د (جهتري) او (کهتري) حاکم تا تارخان ئې مخې ته راووت ده حکم ته ئې غاړه کښېښو ده سلطان هم د (جهتري) حکومت بېرته ده ته ورپرېښود (۱) او کهتره ئې په پاچهی د فتح کښې اېستله (۲) پخپله ئې د (بیانې) لورته لښکرې وخو ځولې.

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۰ مخ (۲) تاریخ افاغنه ۵۱ مخ

## د ((گواليار)) د راجا مناسبات

سلطان چه له(جهتري) څخه لښکرى د(بياني) لورته خوځولى پخوا ترهغه (شيخ محمد پرملى) (١) دخورا درنو خلانو او سوغاتو سره د گواليار راجا (مان سنگهه) ته وليېږه٠

(راجامان سنگهه) هم دسلطان استاځى په خورا درناوى دپنځه ويشتو زرو طلاوا وسلو آسو سره ورته راستون کا او د اطاعت دځر گندو لو له پاره ئي خپل وراره دزرو سپرو سره دسلطان دربارته راولېږه (٢)

## له(بياني)بريد

سلطان چه له(جهتري) څخه (بياني) ته ورسېد د (بياني) وا کمن د احمدخان جلوانى زوى(٣)(سلطان شرف)ئي مخې ته راووت او دسلطان سکندر حکم ته ئي غاړه کېښېښوه او سلطان ده ته د(بياني) پرځاى دجاليسر، چندوار، ماهره او سکېت سيمې په جاگير کښې ور کړې او شروانى عمر خان ئي د (بياني) د کلا د کليو ورسپارلو په نيامت و رسره کړ سلطان شرف جلوانى چه د(بياني) کلا ته ننووت دروا زې ئي وتړلې او کلابند شو سلطان سکندر چه د (جمنا) پرغاړه په ښکار اخته ؤ ځان ئي نا گمانه واچاوه او لښکرې ئي د(اگرې) لورته وخوځولې دسلطان شرف له خوا وا کمن ( شرو انى ) يا جلوانى (هيبت خان) د کلا دروازې دسلطان سکندر دلښکرو پرمخ وتړلې او کلا بند شو سلطان د پرېه فهر شړ څه لښکرې ئي د اگرې کلا بندۍ ته پريښو د لې او پخپله ئي درنې لښکرې د(بياني) خوا تـه ستنې کړې (سلطـان شرف) بيا کلا بند شو، پښتنو لښکرو له هرې خوا لارې پرو تړلې مځکه ئي خورا پرسره کړه سلطان شرف امان وغوښت او د(بيانى) کلائې د٨٩٧ هـ کال په اوايلو کښې سلطان سکندر ته وسپارله، سلطان د «بياني» حکومت پرملى خان خانان ته ور کړ او «سلطان شرف جلوانى» ئي د گواليار لتى ته فرار کړ- د « بياني»

---

(١) داشيخ محمد پرملى د شهاب خان دبير زوى دى (٢) خورشيد جهان ٨٢ مخ

(٣) تاريخ افاغنه ٥١ مخ طبقات اکبرى ج ١ صفحه ٣١٦

تر انتظامانو وروسته سلطان لښکری اکرې ته‌راو لېږدواې [اکره]چه‌ئې هم د[هیبت‌خان] له‌لاسه و کښبله ډهلی‌ته‌راغی(۱)

## دجونپور اړو دوړ

ساطان حسین شرقی چه‌دسلطان بهلول‌له تور بر ښبه څخه په ۸۸٤ هـ کال دجونپور له‌تخته‌لاس پر یوی د «بهار» خواته ولاړ، هلته د «جونپور» دتخت دبیانیولو له‌پاره‌په‌خزه کښې‌غلی ورته ناست‌ؤ چه کله به دډهلی د پاچهی غږی په‌خپل‌منځ کښې‌سره ونښلی اودی به‌د پلار او نیکه ورڅخه‌تللې پاچهی بېرته لاس‌ته راولی‌اوتل به‌ئې دهمدغه‌غرض له‌پاره‌د «جونپور» جاګیرداران لمسول اوپه لمرختیزو سیمو کښې به‌ئې‌دانو دوړله‌پاره زیار یوست.

سلطان سکندر چه‌د «بیانې» په‌نیولو بوخت ؤ، ده دجونپوریوزمیندار چه «جوکا» نومېد دسلطان سکندر پرضد بغاوت ته ولمساوه، روبی‌ئې ورولېږلې «جوکا» هم په «پنجکوتی» کښې تقریبا بولك‌تنه لښکرپرخان راغونډه کړ دجونپور نور جاګیر داران هم ورسره ملګه شول، د «کړې» یاقنوج پر حکومت ئې بریدوکړ ددغه‌ځای حاکم «لوانی مبارك خان» په جنګ کښې مات‌شو، دګنګا د سین تر [پرستی‌پال] (۲) یا (جوسی‌بیاګ) (۳) ګدر چه‌پوری‌ووت، مانوکانو ونیو اود (تهټهې) راجا (رای بهید یا شهید یو) ته‌ئې په‌لاس ورکړاو هغه بندی‌وساته. دمبارك‌خان‌ورور (شیرخان) په دغه جنګ کښې‌شهید‌شو، دجونپور دیري سیمي د (جوکا) په لاس ورغلې (باربکشاه) ویوهېد چه‌ز ه هم ورته تېرکېد لای نشم کله چه یاغیانو دجونپور ښارته مخه وکړه باربکشاه (بهرایچ)

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۰ مخ
(۲) تاریخ فرشته
(۳) مأثر رحیمی لمړی جلد ٤٥٥ مخ طبقات اکبری ج اصفحه ۳۱٦ پر دغه ګدر باندی اکبر مغل د (اله اباد) ښارو دان کړ.

تهٔ ولاړ او دعمه زوی شیخ محمد پرملی (کالابهاړ) تهٔ ئي پناه وړوړه د جونپور انتظام ګېږو شو (۱) .

# دجونپور دوهم جنګ

## (۸۹۷هـ)

دا یلا بیا چه سلطان د(بیا نې) له سوبې څخه ډهلی ته راستون شو هغه ئي لا بشپړه نهٔ وه نیره کړي چه د سانګی وهلو (Polo) په دا ګ کښي د جونپور دا رو دوړ حال ورته را ورسېد، هیښ پاته شو چه څرنګه بوه واړه زمیندار دومره لوی لښکر راغونډ کړ او د جونپور پاچهی ئي ونیوله! سمدستي ئي سانګه وغورځوله او برابر دخان جهان کره ورغی حال ئي ورته ووایه او سلائي ځني وغوښتله .

وایي په دغه وخت کښي (خان جهان) پر دوړي ناست ؤ سلطان تهٔ ئي وویل دا ښه مرغ (فال) دی! تهٔ دوړي وخوره بیا به ګوره، سلطان له دوړی خوړو څخه نټه و کړه راووت کوزته تهٔ ولاړ د ډهلی ترښار دباندي ئي پاچاهی خیمه ووهله امیرانو او لښکر و ته ئي دتیارسيء حکم ورکړ چه تیاري بشپړي شولي بوو یشتمه ورځ سلطان اله هغې خیمي څخه دخورا درنو لښکر وسره په خورا تلوار د جونپور او ته وخوځید تر ګنګا چه ورېږي ووت په (دلمئو) کښي (۲) باربکشاه ځان ورته راورساوه ډېرئي ونازاوه، دتهټهې (۳) راجاهم له بیري مبارك خان لوانهی خوشی کړ او له سوغاتو سره ئي سلطان تهٔ راواستاوه ګرندی سلطان سکندر په لوړو ځو کښي ځان د باغی (جوکا) سیمی تهٔ ور ورساوه او د(کړیې) دسین پرغاړه ئي ورته واړول، حربی جاسوسانو چه بخوالا

(۱) مرقع افغان ۱٤٥ ـ ۱۵۰ مخ

(۲) دلمئو اوس د(رای بریلی) ضلعه ده تاریخ افاغنه‌ئي نوم (ډلمهو) لیکلی دی او په (میموری آف بابر) کښي لیکلی دی چه (دلمئو) دګنګا دسین پرغاړه د(بریلی) جنوب شرق ته واقع دی .

(۳) دا تهټهه دسند تهټهه نه ده .

ليږل شوي ؤدياغي لښكرو حالات ورته راوړل اووي ويل: چه اوس ترياغي لښكرو پورې لږه لار پاته ده ځكه نوسلطان دهغو لتومسلمانانو چاګيردارا نوته حالونه ور كړل .

«داسيمې او كلاوې چه اوس ستاسي په لاس كښې دي ماتاسي ته دربخښلې دي خداى دې ئې ستاسي روزي كړي، زه نش د(جوكا) كافرايداد اوځېلو لره راغلى يم كه تاسي بخپله ده نه ايداد ور كولاى شىء نه - كنه له كلائي راوباسىء زه دغه كافرته خورا كلك ايداد ور كولاى شم او تينګ باور لرم چه تاسي به د كافرملاونه ترىء» .

سلطان لهيوې خواد(جوكا) ملهجا ګيرداران ورته پارول او له بلې خوائې خپلې لښكرى لهشاؤ خوا څخه د( كاتهه ګړ پر كلا ر څرخولى او ديوه لوى بريد ترتيبات ئې نيول، په دغه ترڅ كښې سلطان حسين د(جوند) له كلا څخه خيل بودروند امير (ميران سدخان) داستاځى پهحيث لهدې ستوخ او سپور پيغام سره (چه جو كازما نوكردې يام كوه ستاپلار سپاهى سړي ؤ ځكه ماله هغه سره خپله توره آزمويله او ته چه لهدغى ناپوهى څخه لاس نهاخلې تا ته بهنود تورې پرځاى په موچنه ايداد در كرم) دسلطان سكندر دربار ته راوليږه او پهدې توګه ئې دخپل لمسون اوراتګ خبره چه تراوسه پورې پټو له څر ګنده كړه (١) .

باحوصله سلطان سكندر د دې ستوخ او سپور پيغام په ځواب كښې پهخورا سره سينه دومره وويل: «تردې پخوا ما (سلطان حسين) ورور بللى دى

---

(١) مرقع افغان مؤلف په دغه باب كښې ليكي: ګمان نه كوم چه په هيڅ زمانه كښې به هيڅ يوه تښتيدلى او ترټلى پاچايوه بلوړ(غالب) اوپرتخت ناست پاچاته په سركارى ډول داسې ستوخ او تريخ پيغام ليږلىوى بلكه سره مساوى پاچهانو بههم دجنګ او مخالفت په وخت كښې دپاچهى آداب نهوى سره پرې ايښى دده سلطان حسين په باب كښې دسلطان سكندر داوينا رښتياده چه «قسمت او عقل لكه ګنډ اولمن سره نښتي دى دچا چه نصيب بد شي سدئې هم له سره ځي»

هغه ادب پسې پالم زه دي سيمو ته دکافرانو دايداد او ځبلو په نيامت (قصد) راغلی يم، دې چه دکافرانو پر سيله در پېژې ده نه به پخپله ځر ګنده شي چه پخپله نا پوهې کوې دا تول مسلمانان دا اورې له کومې خولې چه دموچنې توري راوتلي دي که خدای ګول پرهغه خوله به وتښتلي »

سلطان سکندر تردغې وينا وروسته دسلطان حسين استاځی (ميران سيدخان)، ته مخ راو ګرزاوه او ورته وې ويل :

« ته خودنبي [ص] اولادې ولې دده غوږونه نه ورخلاصوې داومنه چه بيا به پای ته پښيماني کوې! » ميران سيدخان بې له دې بل ځواب نه دراود چه : « زه دخپل سلطان ترخبرې نشم تېرېدلای او دده تروانشم و تلای » سلطان وفرمايل :

« قسمت او عقل لکه ګندولمن سره څرمه او پر له ښتې دې دچا چه نصيب بدشي سدئې هم له سره ځې رښتيا داده چه ته ملامت نه ئې، خو سبا چه (که خدای ګول) دې (سلطان حسين) وتښتې او ته ونيول شې زه به داخبره در يـاده کـړم چـه کـه تا (سلطان حسين) پوه کـړی وای نه بـه وو »

تردغو خبرو واترو وروسته د سلطان حسين استاځی رخصت کړ شو او سلطان سکندر د (جونپور) دجا ګير دارانو پرځای دجونپور دښتېدلي پاچا جنګ ته لېځی را وقنبتلي دا جنګ د سلطان سکندر د پاچهۍ دوختو لمړی لوی جنګ و ځکه ئې نوديلار دوختو درانه او توريالي اميران څه چه په لښکرو کښې ورسره وو راوبلل او ورته وې ويل : « د مړه سلطان پـه وختو کښې تاسې ډېرې تورې کړې دې او دنمك حق موادا کړی دې مګر زما په پاچهۍ کښې دالمړنۍ آزموينه ده زه ټينګ باور لرم چه تاسې به زما پهوختو کښې هم ځلانونه ونه سپموئ »

اميرانو ټولو ورکړ او په ګډه ئې ورته وويل « زمونږ ګکرۍ ستا ترمخ دی » سلطان ډېر خوښ شو او سبا تـه پ دجنګ دتياری حکم ور کړ .

# دجنګک ډاګ

سبا وختي د جنګ نغاري وډنګېدې پښتانه ځلمي سره را ويـاڅېدل سلطان سکندر د لودي اوشاهو خپلو فوځ ته د لښکرو په زړه کښې ځـاى ور کړ – کيڼ پلوته ئې لوانيى فوځ – ښي لاس ته ئې پرملي فوځ اوشانه ئې دشروانيو فوځ و دراوه منځلى توريالى اوازمويلې زړه ور شروانيى عمرخان ته ئې يو درونده کډفوځ دسرلاښ (قراول) په تو ګه په لاس ور کړچه دټولو فوځو تر مخ دسلطان حسين پرخوا وليـږديد – عمرخان چه دلښکرو ترمخ پر يوه جنګي پيل سپور ؤ، د[جوند](۱) يا[جموند] (۲) پر ځګه اولوړه کلا ئې چه ستر ګې ولګيدلى وي ويل : «داهغه کلا ده چه غليمان پري نازيږي مونږ بيا هم څه تحمل و کړو بريد به وځنډوو، سره د دې که دوى سمې لارې ته رانه غلل بيانو زمونږ ګـناه نه ده» .

سلطان حسين بى بخته چه په خپلو لښکرو مغرور ؤ د[جوند] له خوا تينګې کلا څخه ورته راووت او د شېروانيى عمرخان له فوځ سره و نښت خورا کـلك جنګ وشو مګر ډېرژر سلطان حسين همت بايلود ميدان ئې پرېښود له وار خطا ئې د «جوند» تر تينګې کلا نيرشوا و بيائې د(بهار) لور ته تريلل ډېر درانه اميران ئې چه (ميران سيدخان استاخى) ئې هم پکښې ؤ دعمرخان د لښکرو پلاس کښېوتل او لوځې پښې، لخ سرونه په خپلو خپلولنګو تونړ اې موټې دسلطان سکندر حضورته (چه پسې راورسيد) وروستل شول مګر دسلطان شر افت داونه منلاى شواى مخ ئې ځنىو ګرزاوه حکم ئې وکړ : «ددوى موټې خلاصې کړىء لنګوټې ور وتړىء پر آسونې سپاره کړىء بيائې نوراولىء» سمدستي دسلطان حکم پر ځاى کړ شوا و په خوراعزت سره (ميران سيد خان) اونور نيولي اميران دسلطان مخې ته وروستل شول، سلطان ورته وويل :

---

(۱)مرقع افغان ۱۵۱ مخ

(۲)شوکت افغان دريم جلد ۱۰٦ مخ

«ښځېتن دې پر تاسې ورحمېږي څه چه تاسې وکړه هغه دوفا تقاضا وه دسلطان حسين بخت ګرزېدلی دی، هغه تاسې څه کوی تاسې ډا ډه اوسئی!»

سلطان تردی وېناوروسته هر يوه امير ته دوه دوه آسونه زر و بخښل او حکم ئې وکړچه ژر دې دهر امير له پاره بېله بېله سراپرده، بوه بوه څلور اڅکيزې خيمه، يو يو سايوان «چتر» و بخښل شي، اس لس پرده داره پلنګونه او نور ضروری سامانونه دې هم ورکړل شي داټول شيونه ډېر ژر مهيا کړل شول خيمې وسرا پردې ونجتلی شوی بيا نو سلطان هغه ټول شوی اميران له خپل حضوره خپلو سرا پردو ته رخصت کړل.

نکل کاچه تردغې سوبې وروسته (قنوج) يا کړی پخوانی حاکم لوانی مبارك خان په دربار کښې ولاړ شو دسلطان حسين تيښته او سپيتا نه ئې وغندله او دسلطان سکندر پر زړه او توره ئې اشکی (آفرينونه) وو يل:

سلطان پردی خبره په قهر شوئی تر اته او ورته وی فرمايل:

«سلطان حسين مونږ وتاسې ته دی تښتولی بلکه د ښځېتن قهر وتښتا وه دا هغه سلطان حسين دی چه تاسې ئې تښتولی واست - کوم ښځېتن چه دی مات کړ هغه ښځېتن دی بيرته بريالی که لای شی دخدای کړو ته کوری ءلوبی مه کوی ء غټی خبری نه نه وی - سلطان حسين ته اه خپله غروره څخه دا کاني ور پېښې شولي (١) سلطان سکندر د سلطان حسين تر تېښتې وروسته دجونپور ياغي زميندار ان و ځپل ددوی سيمې ئې تالا کړې - پښتنو ځلميو ته خوراډېری ولجې په لاس ورغلې او د (کهکر) په سيمه کښې د ډېرو پښتنو مشرانو ته خور ادرا نه درانه جا ګيرونه ور کړل شو (٢) سلطان سکندر چه دزمين دارانو له ځپلو فراغت وموند (جونپور) ته ولاړ بيرته ئې د (جونپور) واك خپل ورور (باربکشاه) ته وسپاره او په خپله چه ئې يوه مياشت هلته په ښکار او هوسا بی تيره کړه (اوده) ته ځنې وخوځېد.

---

(١) مرقع افغان ١٥٣ مخ د تاريخ داؤدی د ٤٤ مخ په حواله (٢) خورشيد جهان ٨٧ مخ

# دجونپور دریم جنگ

سلطان چه له (جونپورة) څخه (اوده) ته ولاړ هلته ئې یوه میاشت په ښکار تیره کړه حال یې ورغی چه (باربکشاه) بیا د زمینداړانو له لاسه تېزدې دی چه جونپور پرېږدی سلطان ته ور دورغی شیخ محمد پرملی (کالاپهاړ لوانی یا پرملی خان خانان او شروانی اعظم همایون ئې وګمارل چه د (اوده) له لارې جونپور ته له لښکر و سره وخوځېږی او لوانی مبارک خان ئې وګمارہ چه د [کړې] له لارې پر [جونپور] ورسې او (باربکشاه) بندی ورته راوستوی د لښکري له دواړو خواوو پر جونپور ورغلې دجونپور سر کښه زمینداران ئې وځپل [باربکشاه] ئې سلطان ته راووست سلطان «باربکشاه» هیبت خان لوانی او عمر خان شروانی ته وسپاره او دجونپور حکومت ئې مبارک خان (١) ته ورکړ او پخپله ئې لښکري د «چنار» د کلا اور ته راښېږدولې دسلطان حسین څینو امیرانو چه هلته ځانونه رسولی وو، جنګ ته راووتل تریوه سپك جنګ وروسته په کلا ننوتل ځکه چه کلا ډېره ټینګه وه نو سلطان خپلی لښکري د «پټنې» دلتې «کټبی» یا [تهتهې] سیمې ته وخوځولې «راجا بهید» یا «راجا بلبهدر» ئې دسوغاتو سره مخې ته را ووت ـــ سلطان هم دده سیمه ده ته ور پرېښودله [اړیل] ته پسې ور تېر شو په دغه ترڅ کښې [راجا بهید] یا [رجا بلبهدر] له بېرې څخه کور کهول او ملك او مېنه پرېښودله او یوازې ئې [پټنې] ته مخ ونیو، سلطان چه په خبر شو دده تول مالونه او نوکران ئې له کور و کهول سره په خوراډر ناوې ور ولېږل او پخپله «اړیل» ته ولاړ، «اړیل ئې ولوټه د« کړې » له لارې « دلمئو» ته ولاړ. (٢)

---

(١) دا مبارك خان (لوانې مبارك خان) نه دی (تاریخ فرشته لمړی جلد ١٨٢ مخ) بلکه موجی خېل لودی مبارك خان دی

(٢) دا نوم خورشید جهان (دیو ګړهه) او تاریخ فرشته (دلپور) او مرقع افغان (دلمئو) ضبط کړی دی .

هلته ئي دشهيد شيرخان لوانی او (١) يا کوټه (٢) وکړه شمشا بات ته پسې ورنږير شو هلته ئې د ٨٩٩ ه کال رووستی شپږ مياشتې تيرې کړي او دغو سيمو ټول علماو دايره ماران ئې پوپنا کړل په دي توگه دسلطان سکندر تقريباً دري کلونه پرله پسي تريا يتخت (دهلی) دباندی په جنګو او انتظام کښې تير شول اوهغه چه په ٨٩٧ ه کال دجونپور دوهم جنګ ته دډهلی تر ٢ ورځو اوسيدلو وروسته رانرتلی ؤنر ٩٠٠ ه کال پوري په لمر ختيز وسيمو کښې پسې پاته شو.

## د ((سرکچهه)) او ((شهديو)) سوبه

### ((٩٠٠ ه))

چه پشکال (برسات) تير شود ٩٠٠ ه کال په نوی سلطان سکندر له شمشابات (شمس آباد) څخه خلپې لښکري د (بهټني) لورته د (راجا بلبهدر) ځبلولره وخوځولې بنارس ته نږدې په (کهارن کهانی) (٣) يا (مکهان کهالي) (٤) کښي د [ رای بلبهدر ] زوی ( ارسنگهه ) مخه ورنه ونيوله جنګ ونښت کسافرانوماتی وکړه او ( نرسنگهه ) بخپله ( بهټني ) ته ونښتيد سلطان چه (بهټني) ته پسې ورغی ( رای بلبهدر ) د ( سرکچهه )(٥) لورته ونښتيد او پرلاري په تير شو (٦) سلطان چه (دبهټني) له (سرکچهه) څخه (شهديو) ته ولاړ، ځکه چه له يوي خوا لار خوراسخته وه او له بلې خوا د غلو او وښو خورا کاختی وه دسلطان دفوځ په سل کښې نوی آسونه ضايع شول (٧)

---

(١) خورشيدجهان ٨٢ مخ (٢) تاريخ فرشته لمړی جلد ١٨١ ــ او تاريخ افاغنه ٥٢ مخ او مخزن افغانی ٩٩ مخ، شوکت افغانی دريم جلد ١١١ مخ (٣) تاريخ فرشته لمړی جلد ١٨١ مخ

(٤) تاريخ افاغنه ٥٢ مخ.

(٥) ددغه ځای نوم خورشيد جهان (مرکچهه) ليکلی او د (چهار کندو) غرونه هم ورسره راوړی.

(٦) تاريخ فرشته لمړی جلد ١٨١ مخ

(٧) مرقع افغان ١٥٤ مخ

ځکه نوسلطان برمخ نه ولاړ او بېرته ئې (جونپور) ته لښکرې پلې راستنې کړې چه ګوندې هلته به دفوځ سامانونه وربرابر کړی او لښر به سپاهیان هم دمه او هوسا شی سلطان چه جونپور ته را ورسید هلته شپېږ میاشتې (۱) واوسید او دلښکرو به انتظام لګیاؤ (۲).

## دسلطان حسین وروستی جنګ

## (۹۰۰ﻫ)

دچونپور زمیندارانو په تیره بیا د (رای بلبهدر) زوی (لکهم چند) چه دسلطان سکندر دلښکرو دا بده ورځ او کنډو کپړ حال ولید سلطان حسین شرقی ئې بیا جنګ ته وپارا وه سلطان حسین هم دخورشید جهان په قول دیو لك سپرو او سلو پیلانو سره له بهاره مخ پرجونپور راوکوچیده سلطان سکندر چه په خبر شو، ځکه چه خپلی لښکرې ئې لا نه وې چمتو شوی نوئې خان خانان دېهنې (۳) راجا (رای سالباهن) ته ولیږه او خپلی مرستې لره ئې راو باله دېهنې مرسته لا نه وه رارسیدلې چه سلطان حسین بیاد بنارس (٤) یا جونپور (۵) اتلس کروهی ته را ورسید سلطان سکندر هم ور ووت په لاره کښې رای سالباهن هم له خپلو فوځو سره ورته را ورسید سلطان سکندر چه دسلطان حسین دلښکرو اوه کروهی ته ور ورسید دخپلو لښکرو شمیر ئې واخیست په اویا زرو پښتنو میړونو کښې اوه زره سپاره او په نورو دیرشو زرو سپاهیانو کښې دری زره سپاره پاته وو نور ټول پلې شوې بی آسه ؤ، سلطان سکندر د خدای په مرسته پر مخ ېسې ور تیر شو د (کنهیت)

(۱) شوکت افغان دریم جلد ۱۱۲ مخ

(۲) مرقع افغان ۱۵٤ مخ

(۳) پټنه له بنارسه ځخه ۶۷ کروه لیری په ۱۱۹ درجې او ۱۱ دقیقې طول البلد او ۳۶ درجې او ٤۰ دقیقې عرض البلد کښې پرته ده

(٤) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۱ مخ شوکت افغان دریم جلد ۱۱۲ مخ

(۵) مرقع افغان

پر سکندر تر کنګاور پورې ووت(۱) لښکرې سره مخامخ شولې جنګ ونښت د سلطان حسين يو لکو سپرو پر پښتنو مځکه خوراسره کړه او په دغه ورځ درې پلا پښتنو د لښکرې له ځايه بېځايه شوې خو پښتنو مېړو نو ټينګښتې ته غاړه نه کښېښو وله او بيا به لکه داوسپنې غرونه کلك ورته ودرېدل په دې جنګ کښې پښتنو هغه توري ووهلې چه د رستم رخه به کيدله .

د سلطان حسين د لښکرو په سرلاړ (مقدمه) کښې ټول پيلان در ول شوي وو دا پيلان چه ئې پر پښتنو راهی کړل د بر ځلمی ئی سره وځېل او د پښتنو په صفو کښې ئې درزونه وا چول .

تکل کا چه په دغه ترخ کښې يوه خورا مست جنګی پيل پخپله سلطان سکندر په شونډك کښې وا خيست له ډا ګه ئې راوويشت خو مېړنی سلطان خدای وسا ته هيڅ پرې ونه شوه او په دغه حال کښې ئې هغه پيل پر شونډك هسې په توره وواهه چه په رمباړوئی تر شا ترپلل او وتښتېد .

پښتنو چه د خپل پاچا دا مېړانه يا کرامت وليد بيا تا وده شول په يو د پلا د سلطان حسين د لښکرو پر زړه ورتوی شول او په همدغه بريد ئې د سلطان حسين د لښکرو پښې له ميدانه وکښلې سلطان حسين د [بهار] لور ته وتښتېد او سلطان سکندر تر بهاره سم په پسې ؤ (۲)

سلطان حسين د [بهار] کلا خپل يوه امير [ملك کهندو] ته وسپارله او پخپله د لکهنوتی [بنګال] پاچهی ته واوښت د بنګال پاچا په ښه ستر ګه ورته وکتل ځا ګيرونه ئې ور کړل او سلطان حسين له دې ما تې وروسته بيا تر مرګه پورې د پاچهی نوم وانخيست (۳) مګر مرقع افغان ليکی چه سلطان حسين د لکنهوتی په [بګهل ګاون] کښې د سلطان سکندر د سړو په لاس ورغی خو دا خبره نورو تاريخونه د ه راوړې (٤)

(۱) شوکت افغان ۳ جلد ۱۱۲ مخ
(۲) خورشيد جهان ۸۳ مخ (۳) فرشته لمړی جلد ۱۸۱ مخ
(٤) د تاريخ داؤدی د ٤۸ مخ په حواله .

# د((بهار)) او((تیرهوت)) نیول

(۹۰۰ هـ)

ځینی وائي دسلطان حسین لښکروچه ماتې وکړه٬سلطان حسین[پټنی] ته مخ ونیوسلطان له لښکروسره په پسې ؤ خو په پټنه کښی خبرشو چه سلطان حسین[بهار]ته ځان رسولی دی٬ بېرته راستون شو او پس له تهو ورځو چه خپلو لښکروته راورسېد ــ دبهار خواته ئې مخه وکړه سلطان حسین چه خبر شو پخپله[لکهنوتی]ته وتښتېد اودبهار کلائې[ملك کهندو]ته وسپارله (۱) سلطان سکندر چه [دیو باري ] ته ورسېد بو فوځ ئې ترمخ د ملك کهند و خپلو لره د[بهار]د کلالورته واستاوه٬ [ملك کهندو] چه داراورېد له د وې پښې ئې خلور کړی اوهسې ئې په تښته ځوزوله خلاص کړل د سلطان سکندر لښکرو بې له جنګه په ۹۰۰ هـ کال بهارونیو سلطان هم پسې ور ورسېد، بهارئې [مشوانی محبت خان]ته چه نوی له قندهاره ورغلی ؤ وسپاره (۲)

نورځه امیران ئې هم ورسره پرېښوول او پخپله ئې لښکرې [درویش پور] ته وخوځولې په[درویش پور] کښی ئې دپلو لښکرو مشرتوب [خان خانان] او [خانجهان] ته وسپاره اوهلته ئې پرېښود٬پخپله ئې د سپرو لښکرو سره دترهت [تیرهوت]خواته مخه وکړه د[ترهت]راجائې مخی ته راووت او دکال ئې خولکه تنګي خراج ومانه سلطان لوانی مبارك خان هلته ددغه کال خراج ټولولو ته پرېښود پخپله تر ۱۵ ورځو سفر وروسته [درویش پور] ته ستون شو (۳)

هلته چه ورورسید د ۹۰۱ کال دشوال پر ۱۶ (٤)د پلو لښکرو مشر [خانجهان] ومړ سلطان ئې زوی خسروخان[٥]يااحمدخان[٦] ته دولس

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۱ مخ .

(۲) خورشید جهان ۸۳ مخ .

(۳)تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۱ مخ(٤) طبقات اکبری ج ۱صفحه ۳۲۰ (٥) تاریخ فرشته لمړی جلد۱۸۱ مخ(٦) مرقع افغان ۱٦۱مخ .

زری منصب [نایب سالاری] دپلار جاگیراود [اعظم همایون] خطاب ورکړ، بیا نودهندوستان دمشهور ولی شیخ منیری رحمة الله علیه (۱) زیارت ته ولاړ دېری روپۍ ئې محتاجانو ته ورکړې، بېرته [درویش پور] ته راغی (۲)

## دبنګال برید

سلطان سکندر چه شیخ شرف منیری له زیارته (درویش پور) ته راغی. دبنګال خوانه ئې چه (سلطان حسین پناه ورودی وه) لښکری وخوځولی، دپښتنو لښکری چه [قتلغ پور] ته ورسیدلې. دبنګال پاچا سلطان علاءالدین [۹۰۰ھ – ۹۲۷ھ] ئې (۳) د خپل زوی شهزاده دانیال ترمشر تابه لاندې یو تکړه او خورا دروند فوځ چه خورشید جهان ئې یو لك سپاره او پنځه زره پیلان ګڼی مخ نیوه لیږه وګماره لنه دې خوا سلطان سکندر هم د محمود خان لودی هیبت خان او دل [درانی] او مبارك خان لوانی تر مشر تابه لاندې یو ګرندی لښکر چه شلو پښتو زرو سپرو ته رسیده ورو استاوه په (باره) کښې دالښکری سره مخا مخ شولې، تربوه سپك جنګ وروسته په دې تو که روغه سره وشوه:

۱– یو د بل په سرحدو کښې به مداخلت نه سره کوی.

۲– یو دبل دغلیمانو پر سیلمه به نه سره دربېزی او پناه به نه سره ورکوی.

تر روغی وروسته محمود خان لودی هیبت خان او دل [ابدالی] او مبارك لوانی خپلې لښکرې [قتلغ پور] ته راستنې کړې پرلارې دبهار په [پټنه] یا [بپټنه] نومی کلی کښې مبارك خان لوانی ومړ، هیبت خان اودل او محمود خان چه [قتلغ پور] ته ورورسېدل سلطان سکندر لښکری [درویش پور]

---

(۱) شیخ شرف الدین ابن یحی منیری دډهلی دشیخ نجیب الدین فردوسی مأذون ؤ ارشاد السالکین، شرح آداب المریدین اومعدن المعانی دده مشهور تصنیفونه دی په ۷۸۲ھ کال ومړ، دی دخپل وخت خورا مرتاض. عابد او زښت ډېر متقی ستا نه ؤ دده شهرت خورا ډېر دی (خزینة الاصفیا دوهم جلد ۲۹۱ مخ).

(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۱ مخ

(۳) خورشید جهان ۸۳ مخ

ته را ستنني کړ ی تر څو میا شتو او سېدلو ورو سته ئې د [ درویش دور ] حکومت د مرہ خانجهان زوی اعظم همایون او د [بهار] حکومت ئې دمړه مبارك خان لوانی زوی [دریاخان] ته و سپاره پخپله ئې د [ سارن] (۱) یا [سارده] (۲) لورته لښکری ستنې کړې دهغو ځواځ ځینی سیمی ئې د پخوانیو جاګیر دارانو له لاسه وکښلی او هغو پښتنو ته ئې ورکړلې چه نوی له قندهاره ، ارغستان او کسې غره [ کوه سلیمان] څخه ورته ورغلی وو (۳) .

پس له دې سلطان د [مچهلی ګتر ه] له لارې [ جونپور] ته راغی او هلته ئې لښکرو ته شپږ میاشتې هو سایې ورکړه .

## د ((پټنې)) برید

[۹۰٤ هـ]

په ۹۰٤ هـ کال سلطان خپلی لښکرې له جونپور څخه د [پټنې] لورته وخوځولې هغه سیمې ئې تالا کړې د(پټنې) پایتخت (باندهو ګړ) ته چه سلطان ورسېد راجا کلا بندشو پښتنو ځلمیو د برز یارو پوست خوهغه ټینګه کلا ئې فتحه نکړای شوای (٤)

سلطان سکندر بیرته خپلی لښکرې جونپور ته ځنې راستنې کړې .
بېدې برغل کښې سلطان د(پټنې) دراجا زوی کیش او همدغه ئې مطلب ؤ چه که سلطان ډهلی ته ولاړ شی بیا پر جونپور باندې د برید فکر په کوم سر کښې پاتـه نه وی .

---

(۱)تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۲ مخ (۲) خورشید جهان ۸۳ مخ
(۳) خورشید جهان ۸۳ مخ .

(٤) مرقع افغان په ۱۵٦ مخ کښې لیکی : د( باندهو ګړ) راجا تر یوې سبکې نښتې وروسته د سلطان سکندر اطاعت ومانه .

# دموجی خېل ((مبارك خان)) ترتل

سلطان چه له (پټني) څخه جونپور ته راغی د جونپور له حاکم مبارك خان څخه ئې د مالیاتو حساب وغوښت سړی ئې وګمارل چه د کار بلتهنه ئې وکړی په نتیجه کښې څرګنده شوه چه مبارك خان به خپل شپېږ کاله حکومت کښې خورا ډېرې روپۍ ګروپ وهلې دی سلطان حکم وکړ چه ټولې خوړلې روپۍ دې ځنې تحصیل کړې شی څرڅه چه پښتنو امیرانو دده زیرمی وکړې وَنه منلې شوې او سلطان دې له پاره چه انتظام وران نشی سره ددې چه پردې خبره څه پښتانه امیران له سلطان څخه خوابدی هم شول تر خپل حکم تېر نه شو (۱)

# دشهزاده فتح خان پورته کول (۲)

دسلطان کسرت (ورزش) سانګه وهل Polo وُ، هره ورځ ئې داد سپاهی توب کسرت له امیرانو سره کاوه، یا ته ئې نه درلوده.

یکل کا چه په ۹۰٤ھ کال یوه ورځ دسانګی په ډاګ کښې دا ببره د (شروانی هیبت خان) سانګه د دریاخان (۳) دزوی (سلیمان خان) د سانګي سره داسې وجنګېده چه دسلیمان خان سر په مات شو.

دسلیمان خان ورور (خضرخان) بې پوښتنې او ګروېږنې دپاچا په مخ کښې په لوی لاس سانګه پورته کړه او دهیبت خان ککری ئې ورماته کړه.

دلوبو په ډاګ کښې اله ګوله جوړه شوه لودی محمود خان او خان خانان په منډه ځان ور ورساوه ګواښ ئې وکړ هیبت خان ئې تر کوره ورساوه لوبی یاته شوې.

---

(۱ تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۲ مخ

(۲) تاریخ فرشته او تاریخ افاغنه دا پېښه په (جونپور) کښی بولی، مګر مرقع افغان ئې په سنبهل کښې ګڼی او دسلطان دځلور کالنی استراحت په وختو کښې ئې راوړی.

(۳) تاریخ فرشته او خورشید جهان دریاخان لودی ګڼی مرقع افغان او طبقات اکبری ئې شیروانی بولی

سلطان هم ولاړ څلور ورځې سانگې وهل پاته شوه . څلورمه ورځ سلطان پهدې فکر چه اوس به نود واړی ډلی سره پخلا شوی وی دسانگی ډاگ ته راووت که گوری چه دښمن وانړی هیبت خان یو خپل ( شمس خان ) هلته غلی سانگه په لاس کښې له قهره سره پرسېدلی ولاړدی چه ستر گی ئې پر خضر خان ولگېدلې وروئې دانگل او سانگه ئې پر ککری ور وکتل ،

سلطان چه دمخه لا څارو ؤ پېښه ئې بخپلو ستر گو ولید له ، شمس خان ئې ورغوښت او بخپله ئې خورا وډباوه . له ډېری خوا شینۍ څخه ئې کسرت (ورزش) پرېښود او کورته ننووت ، داشخړه ډېره پسی اوږده شوه ، پښتانه امیران سره دوې ډلی‌شول ، یوه ډله دپاچا مخالفه‌شوه‌او بله موافقه سلطان په خبر شو ، مگر هیڅپاته ئې څه ونه ویل دومره ئې وکړه چه هغه امیران ئې چه ده ویسا پر درلوده دځان ساتنې لره وګمارل .

مخالفی ډلی وغوښته چه دسلطان سکندر کشرورور (شهزاده فتح خان) دځان‌مل کړی او د سلطان پر ځای ئې پر تخت کښېنوی . شهزاده نه ئې داراز وواېه او د پاچا مخالفت ته ئې ولمساوه‌مگر شهزاده‌خپل ورورسلطان سکندر ښه پېژاند او پوهېدی ء چه سلطان که ساه خولی ، متحمل‌اوزده سواند دی ، مگر متجسس ، مدبر ، سپاهی او سخت گیره هم دی‌دده دتدبیر په مخ کښې داسې توطئې نشی کېدا میا بېدلای او نه کومه توطئه پټه ځنې پاتېدلای شی او که پر چا بد گمانه شو بیا دهغه خلاصون هم څه آسان کار نه دی ، ځکه ئې نو خپلې مور او خپل پیراواستاد شیخ حسن طاهری رحمة الله علیه ( ) ته داحال وواېه او سلائې ځنې وغوښتله ، دوی دداسی اقدام ناوړی نتیجې وروښوولی دی ئې له دغه کاره څخه را وگرزاوه او سلائې ورکړه ، پخوا تردې چه‌سلطان په دې نکل خبر او پر تا بد گمانه کېږې

(۱) شیخ حسن طاهری دهغو وختوله خورا منلو عالمو او زاهدو خلقو څخه ؤ .

ته ورسه او سلطان ته دا تکل سر تر پايه وکړه هسې نه وې چه د هغو مخالفو بد اندیشانو په اورته ونه سوځي.

دشهزاده فتح خان هم دا سلا خوښه شوه خپل وروروسلطان سکندر ته ورغی تکل ئي سر تر پايه ورته عرض کړ ـ سلطان دده پر و ینا سکته و نکره، پخپله ئي هم پلټنې و کړې چه حقیقت ور ښکاره شو نوئي هغومخالفو امیرانو ته خوراسره لیږی لیږی جاګیرونه ور کړل او په دې ډول ئي هغه فتنه چه د پری وینی به په ښکنبې توی شوې او ډیرې ځوانی به پکښې نیمه خوا شوی وای پرمخ ور که کړه (۱)

په دغه لړ کښې ئي په ۹۰۷ هـ کال سعیدخان شروانی چه له مخالفته ئی لاس نه اخیست له لاهوره راوغوښت او دېرملی تا تارخان اولودی محمدشه سره ئي د ګجرات خواؤته فرار کړل . (۲)

## د ((سنبهل)) مینه

### (۹۰۵_۹۰۹هـ)

سلطان سکندر اوه کاله پله پسی دهیواد دلمر ختیزې سیمې په انتظاماتو بوخت ؤ دهغو سیمو یاغي زمینداران ئي وځپل د (پټنې) دراجا زړه ئي و کیښ او دبنګال دپاچهی سره ئي د (نه برید) ترون وکانده سلطان حسین له پاچهی نه تو به و کښله اوس نو په شرقی خواؤ کښې څوك پاته نه شو چه سر پورته کړی ځکه نو سلطان خپل فوځونه له جونپور څخه راولیږ دول، خو بیاهم ځکه چه دهلی د هیواد له شرقی سرحد څخه ډیرلیرې پروت ؤ نو ئي سنبهل ( او سنی مر اد آباد ) چه له د هلي څخه لمر ختیز پلو ته پروت دی خپلې استو ګنې له پاره و ټاکه او څلورو مسلسلو کلو له پاره هلته ورته میشت شو دده دی څلور و کلو مینې د (سنبهل) ښار کی د ډهلي ساری کړ اودلوه یود پاچهی له لوبو ښارو څخه شمیر شو، د سلطا ن دا څلو ر کاله په ملکی تنظیم، علمی څیړنو سانګې

(۱) مرقع افغان ۱۲۲ مخ .
(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۳ مخ .

وهلو ښکار او سپیر تېر شول په دغو کلو کښې د پېرې لړي داسې پېښې شته چه بايد ذکر شي کومې چه د ذکر وړ دي هغه دادي :

## د ډهلي حکومت:

دقوام الملك زوی اصغرخان دسلطان له خوا دډهلي حاکم ؤ د۹۰۷ھ کال په نوي دره دناوړه کارو له امله سلطان ورته په قهر شو، (ما چي واړي) یا (سرهند) حاکم (خواص خان) ئې وګماره چه ډهلي ته ولاړشي او اصغرخان بندي (سنبهل) ته ور واستوي، خو اصغرخان چه په دې حکم خبر شو پخوا تردې چه خواص خان ور ورسېږي دخپل اطاعت دځر ګندولو په نامه خپل زوی فيروزخان (سنبهل) ته د سلطان حضور ته ولېږه ـ سلطان دفیروزخان د بند حکم وکړ خواص خان چه ډهلي ته ورسېد اصغرخان ئې هم بندي (سنبهل) ته پسې واستاوه د ډهلي ئې خپل زوی اسمعیل خان ته وسپاره او پخپله بیر ته خپل حکومت ته ولاړ (۱)

ځيني مورخين ليکي چه اصغرخان پخپله د خواص تر ورسيد لو دمخه د۹۰۷ھ کال دصفرې پر.... دشنبې په شپه دډهلي پر پښو د او دسلطان حضور ته (سنبهل) ته ورغی (۲)

## دګواليار دراجاستاځی:

په ۹۰۷ھ کال د ګواليار دراجا (راى مان سنګه) ستاځی (نهال سنګه) دسلطان دربارته له ډېرو سوغاتو سره راغی خو دستاځي ژبې ژبې سلطان مجبور کړ چه دده درخصتو لو بوخت کښې دخپلو ور تلو او د ګواليار دنيولو وعده ورکړی

## دپرملي خان خانان مړينه:

په ۹۰۷ھ کال دبیانې حاکم (پرملي خان خانان) چه دسلطان له خورا ورتیرو امیرانو څخه ؤ ومړ، سلطان دبیانې حکومت دده لمسیانو احمد سلیمان او

(۱) خورشيد جهان ۸۴ مخ (۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۰ مخ

عمادته وسپاره (۱) خو یو کال وروسته ئې له دوی څخه (بیانه) ځکه واخسته چه د دی بې اجازې د سلطان حضور ار ه سنبهل ته ورغلل (۲) او خپل یو خور را گرندی او نور یالی امیر خواص خان ته ئې وسپارله ، دوی ته ئې د (شمشابات کیتهل، جالیسه او شاه آباد) سیمې په جاگیر کښې ور کړې.

## داجمیر حکومت

سلطان داجمیر حکومت او دینځو زرو سپرو منصب او جاگیر (شیخزی صفدرخان) ته ور کړ (۳) او دا گرې د ضبط له پاره ئې هم و گماره:

## د راپړی حکومت:

په ۹۰۸ ه کال سلطان د (راپړي) حکومت لوانی خان خانان ته وسپاره.

## دمیوات حکومت.

په همدغه کال دمیوات حکومت دسلطان له خوا (لودی عالم خان) ته ور کړشو (٤)

## دلاهور حکومت:

په ۹۰۸ ه کال سلطان دلاهو ر حکومت (تاسیاله دولت خان لودی) ته ور کړ په دغه وخت کښې د (بهیره) حکومت دمیر علی بیك دلمسی دغازی خان دزوی سیدعلی مغل و او خطبه ئې د سلطان بهلول او سلطان سکندر په نامه ویله دولت خان د بابر مغل سره دار تباط له پیري دا حکومت له سیدعلی مغل څخه و اخیست او خپل مشر زوی علی خان ته ئې وسپاره (٥) د سید علي مغل زوی (منوچهر) د بابر مل شو (٦)

## د ((دهولپور)) سوبه

## (۹۱۰ ه)

په ۹۰۰ه کال سلطان سکندر د بیانې حاکم (خواص خان) دمیوات حاکم (لودی عالم خان) د راپړي حاکم (لوانی خان خانان) وگمارل چه د خواص خان

(۱) خورشید جهان ئې دخان خانان زامن بولی ۸٤ مخ (۲) تاریخ افغنه ٥٥ مخ
(۳) خورشید جهان ۸٤ مخ (٤) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۳ مخ (٥) بابر نامه ۱٤۳،۱٤۲ مخ (٦) بابر نامه ۱٤٥ مخ.

ترمشرتا بهلاندې پر (دهولپور) بریدوکړی، نوموړو خپلی لښکری پر (دهولپور) ورو بهولي ددهولپور راجا (مانك دیو) یا (نایك دیو) لهپنځو سوو را جپوتو سپرو سره مخهورته ونیوله، داسې کلك جنګ ونښت چه تازیانو درې ورځې پلهپسې داسانو لهشاؤ څخه ځینان رانه خستلای شوای (۱) دیر تور یالي پښتانه لکه: (خواجهبین) چه پهیوه سر بهئې لښکری ماتولي پهدغه جنګ کښې شهیدان شول (۲) (نایكدیو) پهخورامیرانهپښی ورتهوځرلی او خواص خان هیڅ پرمخ نهولاړ (۳)، سلطان ته چه داحال ورسېد پهخوراتلوار ئې دهمدغه کال در وژې دمیاشتې پرلښپږ سه دجمعې پهورځ له (سنبهله) څخه خپلی درنې لښکری د (دهولپور) اورتهوخوځولی، هلتهچه ورورسېد (مانك دیو) یا (نایك دیو) چه د سلطان دلښکرو سره دجنګ تاب پهځان کښې نهلید خپل کور کهول او لښکری ئې د (دهولپور) په کلا کښې پرېښوولي او پخپله ئې د (ګوالیار) اورتهمخ ونیو - دکلاخلکوچه هم پهځان کښې دجنګ سېك (طاقت) نهلیدی دشپې ئې کلاخوشې کړلهاو پرېښو ئې مخ ئهونیول د (دهولپور) سیمهبې جنګه سلطان ته پاته شوه سباسهار چهسلطان په کلا ورننوت ترهرڅه لمړیئې دوهرکعاته نفل لمونځ وکړ اوپاك خدای تهئې دشکر پهسجدهتندی پر خاورو کښېښود بیائې محتاجانو تهخیراتونه اوامیرانو تهخلاتونهاو منصبونه ور کړلدسوېې نغارې و ډنګېدلی پښتنو لښکرو د (دهولپور) سیمې تالاکړې او دسلطان پهحکم ئې هغه ځنګلونه اوباغونهچه اوه کروه پلهپورې پراته اودغلیم خوراکلکه پټځنې (کمین) وهله پرېښو و کښېل- سلطان هلته یومیاشت تېره کړه دېری بتخانې ئې ونړولی اودېرمسجدونهئې ودان کړل.

---

(۱) خور شید جهان ۸٤ مخ

(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۳ مخ

(۳) مرقع افغان ۱۵۷ مخ

ملك ادم کاکړ (۱) ئې دخوندو نور و اميرانو سره هلته پرېښود پخپله ئې لښکرې د گواليار په نيابت د (چنبل) ترسين پورې ايستلې، دوې مياشتې ئې د (اسې) درو دېرغاړه واړول، د گواليار راجا روغه وغوښتله خپل مشرزوی (بکرماجيت) ئې له ډېرو سوغاتو سره سلطان ته راواستاوه او دسلطان مخالف اميران لکه شروانی سعيدخان، شروانی بابو خان اورای گنبش چه ده ته پناه راوړې وه له خپلې خاورې وشړل، سلطان هم داد روغې درخواست ومانه در اجازوی (بکرماجيت) ئې ونازاوه آس او نور خلاتونه ئې ور کړه بېرته ئې پلارته رخصت کړ تردغې روغې وروسته سلطان (دهولپور) ته راستون شو او (دهولپور) ئې بېرته (دای نايك دبو) ته چه په دغو ورځو کښې دسلطان دربارته په عجز او ننواتو راغلی ؤ وسپاره (۲) او د کلا دودانۍ دپاره ئې هم مرسته ور سره و کړه پخپله (اگرې) ته ځنی وخوځېد (۳)

## د (اگرې) پاينخت کول

دځينو هندوانو په قول کله چه (راجا کرشن) يا (راجا گينيش د (متهرا) پاچا ؤ (اگره) يوه وړه کلاوه چه راجا به ځينی سياسی بنديان پکښې اچول او تريوه وخته پورې دادو دچارې ؤ (٤)

دغزنی باچا سلطان محمود چه پرهندوستان پله پورې بريدونه وکړل، په دغو بريدونو کښې بيا اگره دومره تالا شوه چه ديوه کرچنو ټی کلی حيثيت ورپاته شو او بس.

مسعود سعد سلمان هم په يوه قصيده کښې چه دسلطان محمود غزنوی دکړوسی (سلطان محمود) په ستاينه کښې ئې ويلې ده، داگرې د کلا ذکر کوی:

---

(۱) دتاريخ فرشته لمړی جلد ۱۸۳ مخ دانوم (لودی آدم خان) راوړی مگر زما تر اوسه پورې دسلطان سکندر په اميرانو کښې (لودی آدم خان) نه دی په سترگه شوی زما په خيال ملك آدم کاکړ دی ځکه چه فرشته دسلطان سکندر په اميرانو کښې دملك ادم کاکړ پرځای ادم خان لودی راوړی او بس

(۲) تاريخ فرشته لمړی جلد ۱۸۳ مخ (۳) مرقع افغان ۱۵۷ مخ.

(٤) مرقع افغان ۱۳٤ مخ دتاريخ داؤدی په حواله.

حصار آگره پیدا شد از بسانه گرد    بسان کوه بروبارهای چون کهسار

دسلطان سکندر په وختو کښې اګره له سیاسي لحاظه د(بیانې) په لته پوري دبوې کلا ګڼل په حیث نښتې وه د سلطان چه په ۹۱۰ هـ کال له (دهولپور) څخه لښکري را ولېږل دولي او په بیانه کښې ئې واړول ځکه چه د ګوالیار او (نرور) د یو لو او د جنوب غربي سرحدد ټینګولو په نیامت ئې له دې بره و خونه څخه په خیال کښې ؤ چه پر دغه سر حد د جمنا د سیند پر ژړه پر د خوراټینګه کلا ودانه کړي او پایتخت ئې و ټاکي ، نوئې څو تنه پوه امیران و ګمارل چه د بیړ پوه سپارلی د(جمنا) دسیند د واړی ژړه و ګوري او دیوه نوی ښار دودانی له پاره ځای و ټاکي - ګمارل شوو امیرانو دا ګري د ښار ځای و ټاکه ، سلطان چه هم د غه ځای ولید خوښ ئې شو د ښار تیږه ئې کښېښوه د له (۱) اګره پای تخت شوه او د ډهلي د (سیري) کلا چه په هغو و ختو کښې په نوي ډهلي مشهوره وه او د سلطان سکندر پای تخت وو مرکزیت بایللو .

## د مندرایل سوبه

سلطان چه برسات په اګره کښې تېر کړ د روژي په میاشت ئې د (مندرایل) یا (مندرایل) لورته لښکري رخوځولي ، پخپله ئې په (دهولپور) کښې واړول څه لښکري ئې د(مند رایل) دسیمو تالانه و ګمارلي په (دهولپور) کښې تر بوی میاشتي اوسیدلو وروسته سلطان هم د یا ته لښکر و سره پسې و ر و خو ځېد ی (مندرایل) ئې کلابند کړ د(مندرایل) راجا (کشن سنګه) امان وغوښت (۲) او کلائې وروسپارله ـ سلطان د هغې سیمې بتخانې و نړولې او مسجدونه ئې ودان کړل - خپل یوه امیرته ئې (مندرایل) وسپاره او د (چیتور) لورته ځنې و خوځیدې ـ د چیتور راجا (اندرسنګه) چه خبر شو څلور لکه سر ی تنګي او د کلا کلي ئې ورته راو لیږلي ـ سلطان چه د (چیتور) کلاته ورورسید په کلا ننووت دهغه ښاره هند وانو تر تولولوی بت ئې به خپل لاس مات کړ

(۱) شوکت افغان ۳ جلد ۱۲۰ مخ (۲) تاریخ خورشید جهان ۸۵ مخ

اردهغې بتخانې پر ځای ئې یو لوی مسجد ودان کړ دجمعې لمونځ چه ئې په هغه مسجد کښې وکړ بیرته د(دهو لپور) لورته وخوځید (۱)

(دهو لپور) ته چه را ورسید د(دهولپور) حکومت ئې له (نایکدیو) شخه واخیست او (شیخ قمرالدین) ته ئې وسپاره پخپله اګرې ته راغی او امیران ئې خپلو خپلو ځاګیرو ته رخصت کړل (۲)

## د((جام بایزید)) مرسته

(جام بایزید) د ملتان دپاچا شاحسین لنګا وزیروٓ په ۹۰٤ یا ۹۰۸ ه کال چه شاه حسین ومړ - (جام بایزید) دده له وصیت سره سم د ده ما شوم لمسی (شاه محمود) پر تخت کښېناوه، خو دپاچهی کاروبار او دملك انتظام د(جام بایزید) په لاس کښې ؤ، څو کاله پس چه د(جام بایزید) او (شاه محمود) منځ سبات سره وران شول جام بایزید (شور) ته مخ کړ ځنې ونیو، (شاه محمود) لښکرې پسې وروليږلې په جنګ کښې دشاه محمود دلښکرو ماتې وکړه (جام بایزید وزیر) چه (شور) ته ورسید - خطبه ئې دسلطان سکندر غازی په نامه وویله او حال ئې سرتر پایه سلطان ته ور واستاوه - سلطان خلاتونه او یو فرمان ده ته ور واستاوه داد ئې ور کړ او یو فرمان ئې د پنجاب دحاکم (تا سیا له دولت خان لودی) په نامه ولیکه چه که (جام بایزید) مرسته وغواړې دستی به ئې په مرسته ورسیږې، څو ورځې وروسته چه (شاه محمود لنګا) له ملتانه څخه پر (شور) لښکرې وروبهولې پخپله جام بایزید ئې مخ نیوی اره دخپل زوی (عالم خان) سره ور ووت او له دولت خانه څخه ئې مرسته راو غوښتله (جام بایزید) لاله (شاه محمود لنګا) سره په جنګ بوخت ؤ چه (دولت خان لودی) او لښکری ئې په مرسته ور ورسېدلې .

---

(۱) تاریخ خورشید جهان ۸۵ مخ
(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۳ مخ

دولت خان ئې ترمنځ په دې شرط روغه وکړه چه: د(راوی) سین بادشاه محمود دیاچېی او دجام بایزید دسیمې تلك (سرحد) وی هیڅوك به ترخپل تلك نه وراوړی (شاه‌محمود لنګا) ملتان ته وګوچېدیء او دولت خان لودی لاهور ته لخنی ولاړ (۱)

جام بایزیدتر دېره وخته پوری دسلطان ترسیوری لاندې د (شور) واکمن و

## داګرې زلزله

د ۹۱۱ هـ کال دصفری پر درېیمه په اګره کښې داسې کلکه زلزله‌و شوه چه غرونه ئې ولړ زول، پخې پخې او اوبې لوبې ودانۍ ئې ونړولې، دد غې سیمې ژوندو قیامت او مرو حشر ګانه (۲)

په طبقات اکبری کښې ایکلی دی:

در نهصد و احدی عشر از زلزلها — گردید سوادا گره چون مر حلها

با آنکه بناها بش همه عالی بود — از زلزله شـد عـالیها سـا فـلها

تاریخ داؤدی وائی:

«له بابا آدمه ترد ې دمه په هندوستان کښې داسې زلزله نه وه شوی او نه زلزله دچاپا دېدله تردغه وروسته هندوستان ته د زلزلو مخ شو»

(۳) دې زلزلې دسلطان سکندر یو کالنې پای تخت وران کړ او د ده د یوه کال تولې ودانۍ ئې له مخکې سره سمې کړې، خو د ېر ژر اګره هغه اګره شوه چه د هندوستان له لویو ښارو سره ئې سیالی کوله.

## د((ګوالیار))برید(٤)

## (۹۱۱ هـ)

دزلزلې تورانو ویجاړ وسمو لو وروسته چه پشکال (برسات) تابی تېر شو سلطان خپلې لښکرې د ګوالیار لورته وخوځولې، یوه نیمه میاشت ئې

(۱) تاریخ فرشته دوهم جلد ۳۲۹ مخ (۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۳ مخ

(۳) مرقع افغان ۱۰۲ مخ (٤) ګوالیار په ۱۱٤ درجې طول البلد او ۲۳ درجې او ۵۶ دقیقې عرض البلد کښې واقع دی.

چه (دهولپور) کښې تېره کړه، د (دهولپور) کلا ئې (ملك معزالدين) ته وسپارله (۱) د ګواليار لور ته و کوچېدل د (چنبهل) د سيند پر غاړه ئې د (کوکهه) پر ګدروا د ول څو مياشتې چه ئې هلته تېرې کړې (شهزاده ابراهيم) او (شهزاده جلال خان) ئې له ځينو درنو اميرانو سره هلته پرېښودل او پخپله دغزا په نيامت سپور شو دهغو سيمو کافران ئې چه په ځنګلو او غرو کښې علي شوي وو ترتيغ سره و کښل دېرې ولجې دغازيانو په لاس ورغلې، په دغو ورځو کښې (سلطان) اعظم همايون، لودي احمدخان او عليزي مجاهدخان وګمارل چه له شاؤ خوا سيمو څخه غلې او ازوغ لښکر و ته راوړ سوی د ګواليار راجا چه په خبر شو مخه ئې ورته و نيوله خو څه ئې و نه کړای شوای او اعظم همايون دوی ازوغ او غله خپلو لښکرو ته راوړسوله سلطان چه د ګواليار دلتې (جنور) نومي ځای ته ورسېد سرلا ( قراول ) فوځ ئې لس کروه مخ کښې ولېږه، د ګواليار دراجا لښکر ی له پټ ګڼيو (کمين) پر راتوی شوې خو دپښتنو ميړو نو څخه ئې ماتې و کړه، د پر راجپوتان مړه او بنديان شول په دغه جنګ کښې دېر ملي خانخانان مېر نيو لمسيانو (داؤد خان او احمد خان) (۲ بنې توري ووهلې سلطان هم و نازول، داود خان ته ئې د (ملك داؤد) خطاب ور کړ، تر دغې سوبې و روسته سلطان اګرې ته راستون شو (۳)

## د ((اوديت نګر)) غزا

«۹۱۲ ه»

په ۹۱۲ ه کال چه پشکال (برسات) تېر شو سلطان له اګرې څخه د (اوديت نګر) (٤) دغزا په نيامت وخوځېد (دهولپور) ته چه ورسېد پر ملي عماد خان او مجاهد خان ته ئې لس زره سپاره (٥) او سلبيلان ور کړل، د

---

(۱) خورشيد جهان ۸۵ مخ
(۲) د (احمدخان په طبقات اکبري کښې دخانجهان زوی راوړه شوی دی ج ۱ صفحه ۳۲۶
(۳) تاريخ فرشته لمړی جلد ۸۳ مخ (٤) خورشيد جهان ددې کلا نوم (اوديت ګړه) او شوکت افغان (اونت ګده يا اوديت نګر) راوړی دی (٥) شوکت افغان دريم جلد ۱۲٤ مخ

(او دیت نګر) کلاته ئې وګمارل پخپله ئې هم څوورځې پس لښکری پسې ورخو ځواې (چنبهل) دسین پر غاړه ئې واړول، خواص خان او بهیکن خان چه له خپلو لښکرو سره ورته راورسېدل د (او دیت نګر) لورته روان شو د روژې پر دریمه (اودیت نګر) تهورسېد (١) او ښارئې کلابند کړ ځکه چه د او دیت نګر) سوبه د ګوالیار د سوبې کلې وه، نو سلطان له هری خوا په خورا شدت لښکری پر وروبهولې پخپله هم دلوی اختر میاشتې په دوو اسمه وروت (٢).

پښتنو ځلمیو دېری مېړانۍ وکړې اوزښت دېر زحمت ئې پر ځانو راوست څو دجلوانی ملك علاؤالدین لښکرو دکلاد پوالونړا وه او پښتانه په کلا کښې ورننوی شول راجپوتو په کورو کښې جنګونه کول اودخپل دودله مخې ئې دېرې ښځې او کوچنیان پخپله وسول او وژل (٣).

راجپوتخورا دېر په دغه جنګ کښې ووژل شول او دملك علاؤالدین ستر ګه هم دیوه راجپوت په غشی ړنده شوه.

د کلا تر نیولو وروسته سلطان دخدای شکر ادا کړ توریالیو امیرانو ته ئې دېر دېر خلاتونه وروبخښل بتخانې ئې ونړولې او مسجدونه ئې ودان کړل. څوورځې وروسته ئې کلا د مجاهد خان زوی (بهیکن خان) (٤) یا ملك تاج الدین کنبوه ٥) ته وسپارله پخپله (دهولپور) تهو خوځېد.

نکل کاچه: په دغه سفر کښې د(اودیت نګر) او (دهولپور) ترمنځ یو وورځ داسی تنده پېښه شوه چه دتاریخ داؤدی په قول یومنګی او به پنځلسو سکندری تنګو ته لاورسېدلی ترڅول (وچ دښت) چه لښکری وونلې دسلطان په حکم د چولاوه مړو

---

(١) تاریخ افاغنه ٥٦ مخ.

(٢) شوکت افغان دریم جلد ١٢٤ مخ

(٣) دې دودته راجپوت (جوهر) وائی.

(٤) تاریخ فرشته لومړی جلد

(٥) شوکت افغان دریم جلد ١٢٥ مخ

شمیرو شو یو الحی اسانی تلفات انه سوه تنه وه(۱)

سلطان د۹۱۳ه کال دمحرمی پر شلمه (دهولپور) ته ور سهد خوور ځی هلته په (دهولپور) کښی واوسید بیاپای تخت (اگرې) ته وخوځید اود ۹۱۳ه کال دصفرې په پای کښې اگرې ته ورسید.

## دمجاهد خان دروه (خیانت)

(۹۱۲ه)

سلطان په (اودیت نگر) کښی خبر شو چه د (اودیت نگر) ترسو بی دمخه د ده یو امیر (مجاهد خان) د (اودیت نگر) له را جا څخه موك اخیستی ؤ چه دسلطان اراده به یه یوچم دچمو دراودیت نگر) له غزا څخه گرزوی ځکه ئی نو له هغه ځایه د(دهولپور) امیرانو ته حکم راواستاوه چه مجاهد خان بندی کری خیل خاص حاجب (ملاچمن کنبوه) ئې هم دمجاهدخان سرهدار تباط په تور بندی کړ او ملك تاج الدین کنبوه ته ئی وسپاره .(۲)

## دکالپی حکومت

(۹۱۲ه)

د کالیپی حاکم (لودی محمود خان) چه ومړ نوئې سلطان دده پرځای جلال خان زوی د کالپي حاکم وټاکه ځکه چه نور دوه ورونو (بهیکن خان او حاجی خان) ئې له ده سره یې دغه حکومت او جاگیر شخره دراوده نو سلطان چه د(اودیت نگر) دغزا له یاره (دهولپور) ته ورسید فیروزخان پښتانه ته ئې د کالپي حکومت ور کړ (۳)

مگر لږ وخت وروسته ئې بیا شهزاده جلال خان ته د کالپي (۲) او شاؤ خواسیمو واك وسپاره

---

(۱) مرقع افغان ۱۵۸ مخ شوکت افغان ۳ جلد ۱۲۵ مخ

(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸٤ مخ

(۳) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸٤ مخ (٤) کالپي په ۱۱۵ درجی طول البلد او ۲۵ درجی و ۳۰ دقیقی عرض البلد کښې پرته ده

# د «نرور» سوبه (۱)

(۹۱٤ ﻫ)

په ۹۱۳ ﻫ کال چه برسات تیر شو سلطان د (نرور)

د کلا نیولو لره چه د کفارو په لاس کښې وه اوښتې راوغښتلې خپل وړور (۲) د کالپي حاکم شهزاده جلال خان ته ئې ولیکل :

«دیر ژر له خپلو لښکرو سره پر (نرور) برید وکانده - کلا، کلا بنده کړه که کلاوالو روغه وغوښتله روغه ورسره وکړه» (۳)

شهزاده هم سمدستي خپلې درنې او خورا منظمې لښکرې ورو بهولې او (نرور) ئې کلا بندي کړلېږي ورځې نه وې تېرې شوې چه سلطان سکندر هم دخپلو لښکرو سره پسې ورورسېد.

نکل کاچه: سبا ته چه سلطان سکندر دفوځو د تنظیم کتلو او د کلا داستحکاماتو لیدلو لره راووت شهزاده دخپل فوځي اهلیت ذکر کند، ولوبه نیامت سلامي لره خپلې لښکرې دسلطان مخې ته (پیلان - سپاره او پلي) فوځو نه بېل بېل په خورا منظم دول درولي وې - سلطان چه دشهزاده تنظیم او قوت ولید زړه ئې ځني ودر بېدیء ځکه ئې نوله دغې ورځې څخه اراده وکړه چه دشهزاده دغه پرتم او قوت به پر دغه حال نه پرېږدي هغه وچه پس له اتو میاشتو ئې دده دنیولو حکم سلیمان پرملي، ابراهیم خان لوانی او ملک علاؤالدین جلواني ته ورکړ.

سلطان اته میاشتې د (نرور) کلابندي کلکه وساتله - هر وخت به جنګونه کېدل خو په هېڅ صورت کلابندي نه ماتېدله سلطان پخپله هېښ پاته وچه سره د دومرې

---

(۱) نرور (هندوستان) ته نژدې د مالوې یوه خوراټینګه کلاوه چه دمالوې د پای تخت شمال ته پرته وه
(۲) مخزن افغانی قلمی ۱۰۹ مخ
(۳) مرقع افغان ۱۲۳ مخ د تاریخ داودی او طبقات اکبری په حواله

ولی د کلا خلك امان غوښتلو ته نه مجبور یږی .

یوه ورځ که ئې کتل د کلا وزیو وار لیز خلاص شو او د ستی یږ ـ ر ته وترل شو دې چارې سلطان پر خپلو امیرانو بدگمانه کړ چه ښایی د کلا والو سره ارتباط لری ، ځکه ئې نودستې د شهزاده جلال خان د فوځ امیران ، ځان ته راوغوښتل ، ملك ادم کاکړ ، میابهوا وزیر او سعید خان لـودی ، ئې د (شیرخان) نیولو لره وګمارل او ابراهیم خان لوانی ـ سلیمان خا ن پر ملی او علاؤالدین جلوانی ته ئې د (شهزاده جلال خان) د نیو لو حکم ور کړ ـ هغو هم دتاریخ فرشتې او شوکت افغان دلیکنې سره سم دوی دوا ړه ونیول او (او دنت ګړهه) ته ئې بندیان واستول مګر مرقع افغا ن ئې بند نه لیکی اووایې داحکم هغه رخت وشو چه سلطان اکري ته خو ځـ یدیء شهزاده جلال خان چه یه دغه حکم خبر شو دخپلې رضاعی مورد ( قطـب خـان اودی کونده ) یه غیږ ننووت او دهغې یه زیرمه خلاص شو ، یه هرصورت سلطان څلور میاشتې نوری هم د نرور کلاته ( چه څورا تینګه او اوه کروه اوزده یرته وه ) تیری کړې تریوه کال کلابندۍ وروسته کلاوالوامـان وغوښت ، سلطان امان ور کړ او کلا وال دخپلو ځالو څو لو سره تر کلا راووتل سلطان چه کلا ونیوله دخدای شکرئی ادا کړ هلته ئې د یرمسجدونه ودان کړل مفتیان ، خطیبان او مؤذنان ئې وټاکل ملایا ن او ستا نه ئـې هلته واوسول ، یه جا ګیر واوتنخوائې څورا ماړه کړل سلطان شپږ میاشتې هلته نوری تیری کړې چه له انتظاماتو فارغ شو د ۹۱۴ هـ کال د برا ت د میاشتې یرانه وبښتمه ئې د (نرور) له کلا څخه لښکری را ولیږدولې .

وابی سلطان چه د (سیره) سین غاړی ته راورسید دائې یه زړه کښـې ورو ګرزیدله چه دا کلا څورا تینګه کلاده که دغلیم یه لاس کښیږو زی بیائې نیول ځنې څورا ګران دی باید ورانه کړه شی چه کوم وخت غلیم دغسی کار ځنې ونه خیستلای شي ـ ځکه ئې نو کلا ورانه کړه (۱)

---

(۱) مرقع افغان ۱۵۹ مخ

مګر تاریخ افاغنه بیا لیکی سلطان ته چه دغه فکر مونده شو بلله نو ي
کلائي پر راو ګرزوله اودزړی کلا ورانی وبجاړی ئي سمې کړی سلطان
تربونیم کال او سپدلو وروسته د(نرور) کلا د (اګري)په نیامت پر بنبوده
دسلطان سکندر داوروستی جنګ ؤ ـ بیا سلطان پخلپه کوم جنګ یاغزاته
لښکری ونه خوځولي بس له دې ئي پاته (۹) کاله تول د ملك په ودانی
او انتظام کښي صرف کړل او دده د پاچهی دغه (۹) کلو نه له هر حیثه
دهرچاله پاره که امیرؤ که فقیر، رعیت ؤاو که سپاه دآرامی ، امن اوهوسا یۍ
زمانه وه ،

## دشهزاده جلال بخښنه

(۹۰٤ هـ)

سلطان چه د نرور له کلا څخه لښکری راوخوځولي او د (بهار) یا (بهېر) کلي
ته ورسېد یو ه میاشت ئي هلته واړول په دغه وخت کښي شهزاده جلال خان د خپلی
رضاعی مور (بی بی نعمتو) سره چه د سلطان بهلول اخښی او تربوره لودی قطب خان)
کونده وه ورته راغی سلطان ئي پخپله مخې ته وروروت د پرتې داده کړاو د خپلې
اکاد کونډې (بی بی نعمتو) ئي خورا احترام و کړ ترنقدی خښبن او خلا تو
علاوه ئي ۱۲۰ـ آسونه او ډ نجلس پیلان هم شهزاده جلال خان ته و بخښل د کالپي
سیمه ئي بېرته په جا ګیر کښی ور کړه اوهغه لورته ئي په خورا درناوی واستول
په دې تو که د شهزاده جلال ننواتي د سلطان له زړه څخه تولې هغه بد ګمانۍ او خیری
ایری کړی چه د شهزاده په باب کښی ورپیداشوی او د سلطان بخښښو او درناوی
شهزاده داده کړ دغو سلطانۍ مهرباني وغه اند ښښنې او بیرې چه شهزاده ته د سلطان
له خوا ور پیدا شوی وې پر مخ ور که کړې او بیرته هغسې سره ګران وروڼه شول،

## د((نرور)) دسوبې جشن

سلطان چه شهزاده جلال خان (کالپي) ته رخصت کړ له (بهار) کلي څخه ګوالیار
ته وخوځید او هلته ئي د نرور) دسوبې جشن ونیو تورياليو امیرانو ته ئي آسونه

پیلان، خلاتونه او جاګیرونه ورېخښل. منصبونه ئې ور کړل کوم مېړني چه په غزا کښې شهیدان شوي ؤ د هغو کورنیو ته ئې ښه ښه جاګیرونه ور کړل او نور خرڅې ئې هم ورلره ورکاوه (۱)

## دخلجي شهزاده شهاب الدین پناه

د مالوې د پاچا سلطان ناصرالدین خلجي زوی شهزاده شهاب چه له پلار شخه په جنګ کښې ماتې وکړه سلطان سکندر ته د پناه راوړلو په نیامت ئې د ډهلي خواته مخ راونیو سلطان د ده ورځو کښې په (ګوالیار) کښې اړ ولی ؤ چه په خبر شو. خلاتونه او آسونه ئې مخې ته ور ولېږل. خو شهزاده شهاب الدین د مالوې قرنګ نه ؤ راتیر شوی چه پلار ئې ومړ او بیرته ئې د مالوې پایتخت (ماندو) ته مخ ونیو،

## د ((بلګاهت)) د یاغیانو ځبل

په ۹۱۵ ه کال سلطان (ګوالیار) شخه د (اګرې) په نیامت لښکرې وخوځولې پرلارې ئې د (بل ګهاټ) د یاغیانو ځبلو اره لښکرې وګمارلې او هغه سیمه ئې له یاغیانو شخه پاکه کړه هر ځای ئې تهانې) جوړې کړې او سپاهیان ئې پکښې واچول او اګرې ته ولاړ.

## د(واسکوډګاما) رسیدل هندته

د ۹۱۵ ه کال په شاو خوا کښې مشهور پرتګالی ماڼو (واسکو ډ ګاما) چه په ۹۰۳ ه =۱۴۹۷ ع کال له پرپرتګال هرا هندته را رسیده د اولمړی اروپائی جهاز و چه د سلطان سکندر په زمانه کښې ئې د هند شنډې ته ځان را ورساوه او د (اندونیشیا) جزیروته پسې تېر شو. (۲)

---

(۱) خورشید جهان ۸۶ مخ

(۲) تحفته الپښتون قلمی ۱۳۳ مخ

# دشهزاده ((صاحبخان)) مرسته (۱)

(۹۱۸ ه

د ۹۱۸ ه کال په شاو خوا کښې د مالوې د پاچهی یوه امیر دچندیری حاکم بهجت خان سلطان سکندر ته ولیکل :

[دمالوی پاچا دوهم خلجی سلطان محمود (۹۱۷ - ۹۳۷ ) د راجپوتو هند وانو دلاس چوغکه ده هرڅه چه (مید نی رای ) کافر کوی هغه کیږی دلته د اسلام حال د زړه سوی وړ دی مونږ ستر گی ستا مرستی ته نیولی چه کوندی ستا په زور د سلطان محمود ورور شهزاده صاحبخان پاچا کړای شو او په دې تو که د مالوی له پاچهی څخه د کفارو لاس نه لنډی کړو دا وعده کوؤ که بری زمونږ شو خطبه به ستا پر نامه وایو ]

د شهزاده صاحبخان یو بل امیر حافظ خان خواجه سرا تیر کال دسلطان در بار ته په همدغه نیامت راغلی و او ترډغه و خته هلته ناست ؤ ځکه نو سلطان دوو لس زره سپاره دعماد الملك او سعید خان تر مشر تا به لاندی د صاحبخان مرستی ته وگمارل او د (سلطان محمود )خطاب او خاص خلا توَنه ئی هم ورولیږل - سلطان محمد خلجی (شهزاده صاحبخان )ته چه دا مرسته ورسیدله له چند یری څخه د (ماندو) لورته وخوځید - دسلطان محمود خلجی دوه امیران (صدر خان ) او (محمود خان) هم ورته را واوښتل ۰ پښتانه ۰۰ ۱۰

پای ته د خطبی اوسکې پرخبره چه عمادالملك غوښته چه دسلطان سکندر پرنامه دې شی او (بهجت خان ) نه منله، سکندری امیران خوابدی شول او بیرته د ډهلی لورته ځنی راستانه شول (۲)

هگر لېږ وخت پس سلطان سکندر دمبارك خان لودی مینځوی زوی

---

(۱) دغه صاحبخان شهزاده یو کال تر مخ سلطان ته پناه وروړې وه سلطان د مالوې دپاچهی د چندیري سیمی په نیولو کښی مرسته ورکړه او د کالپي حاکم شهزاده جلال الدین ته ئي ولیکل چه پام پر کوه او د (ماندو ) د خلجی پاچها نو پر ضد ئي مرستی ته چمتو او سه (تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۵ مخ)

(۲) تاریخ فرشته دو هم جلد ۳٦٤ — ۳٦٥ مخ

سعید خان ، پر ملی شیخ جمال ، خضر خان ، خواجه احمد خان او رای جګر سین کهچواه و ګمارل چه چندیری و نیسی ، دوی هم ورغلل او د سلطان محمد خلجی په نامه ئې هغه سیمې ونیولې «بهجت خان» چه دا حال و لید مجبور شو د سلطان سکندر دربار ته په ننواتو راغی (۱)
او سلطان محمد خلجی هلته دپاچا په نامه پاته شو.

## د کشمیر دپاچا مرسته


په ۹۱۹ ه کال چه فتح خان ( فتح شاه ) دوهمه پلا د کشمیر له پاچا (محمد شاه) څخه پاچهي وا خیستله (محمدشاه ) سلطان سکندر لودی ته پناه ور وړه په ۹۲۰ ه کال سلطان سکندر ډیری لښکری په مرسته ور سره کړی (محمد شاه) پخپله دسکندری لښکرو سره کشمیر ته وخوځید او ابراهیم زوی ئې د ډهلی په دربار کښې پر ښود چه دسلطان ابراهیم لودی تر وژلی (۹۳۲ ه) پوری هلته ؤ فتح شاه چه خبر شو د (ما کړي جهانګیر) تر مشر تابه لاندی ئې خپلی لښکر ی مخ نیوی ار ه را وا ستلی ، لښکری چه سره مخامخ شولی ، جنګ ونښت ــ جهانګیر سپهسالار د خپل زوی سره وژل شو او نور کشمیر ی امیــران د (محمدشاه خواته راواوښتل فتح شاه هندوستان ته وتښتېد او (محمد شاه) دریمه پلا دسلطان سکندر په مرسته پاچا شو .

## دعلیخان ((ناګوری)) درو ه (خیانت)

په ۱۷ ۰ ه کال د (ناګور )وا کمن (محمد خان ) پر خپلو حریفــانــو (علیخان او ابابکر ) (۲) بری مو ند ــ علیخان او ابابکر سلطان سکند ر تــه پناه راوړه سلطان د (میوپور) یا (مهوار) حکومت علیخان ته و ر کـړ .
په ۹۲۲ ه کال دعلیخان په زیار او تو مب (تحر یك) د (رنتهور) یــا (رانتهور) یا شیوپور) حاکم شهزاده دولت خان (چه د مالوې د پــا چــا

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۵ مخ
(۲) علیخان او ابا بکر سره ورونه دی .

دلودی پښتانه کتاب (۲) نقشه



سلطان محمود د خلجي له خوا مقرر ؤ )وغو ښتته چه سلطان سکندر ته ا یل شي او د کلا کلي ورو سپاري .

عليخان دا حال سلطان ته وليکه ، سلطان ډير خوښ شو او د (رنتهبور) د کلا په نيامت (بياني) ته وخوځيد څلور مياشتې ئې هلته په ښکار او سير تيرې کړې شهزاده دولت خان او مورئې هم حضورته راغلل سلطان ئې ټول اميران مخې ته ورواستلل او په خورا درناوی ئې لښکروته راوستل ډير ئې ونازاوه څو پيلان او خلاتونه ئې وروبخښل مگر شهزاده دولت خان بيرته دنا گوری عليخان په لمسون د کليو له سپارلو څخه انکار وکړ، سلطان (ناگوری عليخان) ته نور هيڅ ونه ويل د (ميو پور) (ميوار) حکومت ئې څنې واخيست او ددوړور (ابابکر) ته ئې وسپاره د (تهانگير) له لاري (باري ته) راغی دغه ځيمه ئې د مبارك خان له زامنو څخه واخيستله او (شيخزاده مکن خان) يا (بهيکن خان) ته ئې وسپارله پايتخت «اگرې» ته بيرته راستون شو

## دسلطان سکندر ناروغي او مړينه

سلطان چه د (بياني) له سفره څخه «اگرې» ته راورسيد دولت سيمو اميرانو ته ئې وليکل چه د گوا ليار د کلا نيو لو له خپلې نياري ونيسي مگر دا هيله ئې ترسره نه شوه ډير ژر ئې په ستونې کښې دانه راوختله ، وايې سلطان له ډيره غيرته څخه پرځای نه پری ووت تر يا په ئې خپل تينگکار او زغم وساته او خپله ناروغي ئې څرگنده نه کړه په دغه ناروغي کښې په ئې سپارلی کوله دربارته به راووت او ديا چهي کار وبار ئې چلاوه ترڅو چه ناروغي ئې دې حد ته ورسيده چه گوله ئې تر ستونی نه تيريده!!

نکل کا : سلطان چه له خپله ژونده څخه ناميندنه شو نو ئې شيخ لاون چه په (دانشمند) مشهور او دهغو وختو خورا منلی ملا او دسلطان امام ؤ، راوغوښت (۱) او ورته وې ويل :

---

(۱) شيخ لاون دبديع الميزان دمؤلف ملا عبدالله تلنبي پياوړی شاگرد ؤ دی

«زما دقضالمونځو اوروژ و کفاره وشمیره!»

شیخ لاونړ دسلطان دعمرله مخې حساب وکړ او دسلطان حضورته ئې وړاندې کړ، سلطان حکم وکړ چه دارو پېړ دې زما له خپلې ځانته خزانې څخه چه له بیت المال څخه ګوښې ده ورکړې شي!

درباریانو چه دسلطان د خپلې ځانته خزانې نوم واوریدء هیښ پاته شول چه دسلطان خپله ځانته خزانه له کومه وه؟!

خزانه دار درباریانو ته مخ راواړاو اوری ویل:

«دسلطان دادود چه نوروهیوادو پاچهانو چه به څه سوغاتونه ورته راولیږل او پاچه به ځینو امراو څه تحفې ورته راوړې مانه به ئې حکم کاوه چه دا ګوښې زده او کله چه مې دځان له پاره څه په کار یدل در څخه مې اخیستل به ئې؛ دسلطان خپله ځانته خزانه دغه خزانه ده» (۱)

ددربار علماءاوامراء دسلطان تقوې او دوراندیشۍ ته حیران شول.

دخدای کره دې دې مدبر، زړه سواندې، عادل اوله خدایه بېرېدونکې پښتون غازي پاچا له دغې ناروغۍ څخه د۹۲۳هـ -۱۵۱۷ع کال دمیاشتې دمیاشتې پر اومه دیکشنبې په ورځ تر۲۸ کالو اوځو میاشتو پاچهۍ وروسته د (۶۶) کالو په عمر په اګره کښې پوره پرې کړ (۲)

جنازه ئې سلطان ابراهیم دهلی ته یووړه او په خیر پور کښې ئې چه اوس په لودي هدیره مشهوره ده ښخ کړ (۳) اناالله وانا الیه راجعون) بدایونی ملاعبدالقادر دمنتخب التواریخ په اوم ری جلد کښې دده مړینې نېټه (جنات الفردوس نزلاً «۹۲۳») راوړې ده، په ګنجینه سروری کښې ئې دوفات تاریخ داسې لیکل شویدی

چون زدار لفنا سفر ورزید یافت در خلد جا سکندر شاه

سال تاریخ رحلتش سرور کفت (ابرعطا سکندر شاه «۹۲۳») (٤)


---

(۱) مرقع افغان ۱۶۷مخ دتاریخ داودی د۷۳ مخ په حواله


(۲) خورشیدجهان ۸۹ مخ

(۳) دسلطان سکندر ګنبده جنوبي پلو ته پرته ده.

(٤) ګنجینهٔ سروری ۱۷٤ مخ



د نوی دهلی په لودي گارډن کښې د ابو المظفر غازي سلطان سکندر لودي د هدیرې ور



دابوالمظفر غازی سلطان سکندر لودی (۸۹٤ - ۹۲۳ ه)
د هغه قبر چې گومبه چه سلطان ابراهیم لودي جوړه کړې ده .

# دسلطان سکندر سکه

(نیلسن رایټ) پخپل هغه کتاب کښې چه دډهلي دپاچهانو دسکو په باب کښې ئې لیکلی دی دسلطان سکندر یوه سکه فوټوګرافي کړیده . ددغې سکې پریوه خوا (المتوکل علی الرحمن سکندر شاه بن سلطان بهلول شاه) او پربله خوائې

(في زمن امیرالمومنین خلدت خلافته) لیکلی دی.

## دسلطان سکندر شخصي اودربار

سلطان سکندر له هره حیثه داود یو ښو وتلي اوغوره پاچاؤ په دې کښې شك نشته چه سلطان بهلول یو پوخ مدبر، ریښتني مسلمان، عادل، رعیت پالونکی نیك پاچاؤ، مګر دسلطان سکندر په باب کښې دپاړ سو دامتل چه: «اګرپدر نتواند پسر تمام کند» ریښتیا کیږي - سلطان سکندر په ډیرو خبرو کښې تر پلار اړولی وه (۱)

سلطان سکندر له خدایه ډیر بیریده پرلمانځه خوراټینګ ؤ، هره ورځ ئې قرآن شریف لوست، پرحلیموئی ډیر زوړنه اوزړ سوی دراود، ددهٔ په وختو کښې رعیت خو را په امن او هوسا ؤ، ددهٔ دوختو ارزانۍ مشهوره ده دي پرشرعه خوراکلك ولاړؤ داسلامي احکامواوشرعي اوامروپه رواجولو کښې ئې ډیر زیار یوست، ډیري بتخانې ئې ونړولي او خو را ډیر مسجد ونه ئې ودان کړل، ددهٔ په وختو کښې به هندوانو هرو مرو یوه کوچنۍ نیلي رنګې دقمیصه اوزوته وروړه اودا دذمي او طاعت نخښه وه، لنګوټی به ئې وړې تړلې ځکه چه دغټې لنګوټې تړاو سره دزیاتې جزیې اخیستل تړلیؤ (۲)

سلطان سکندر به هره ورځ عام دربار کاوه او دخلقو عرضو نه به ئې پخپله اور ېدل ټولې معاملې او شخړې به ئې په خورا احتیاط پخپله فیصله کولی

---

(۱) مرقع افغان ۷۷ مخ (۲) سیرالمتاخرین

کله کله به له سهاره څخه ترما خستنه پوری په دربار کښې ؤ او عام نیاو (عدل) به ئې کاوه، دحکم او قضا په وخت کښې هیڅکله د هیچا اثر نه پر پر بوت، د ده دربار له پاچاهی کروفره څخه بیخی تش وو دده ی کریم النفس سپیڅلی او درانه پاچا په دربار کښې دهغو فواحشو او ناروا اؤخرك نه موند کیدی چه عموماً دپاچهانو او حاکمانو په دربارو کښې لیدل کیږی دی پخپله عالم ؤ علم او علما ئې روزل مذهبی مشرانو او روحانیونو ته ئې پخورا درنه سترګه کتل ځکه به تل ستر پوهان درانه امیران او له خدایه بیریدونکی ستا نه پررا کرزیدلی وو دده زمانه دصلاح او تقوی زمانه وه هرچا دخیر او ښېګڼو زیار یوست ځکه چه د سلطان ترمخ د تقوی خیر او ښېګڼې ارزښت خورا ډیر وو، سلطان سکندر دوخت او پرو کرام خورا پابند ؤ هر کار ته ئې وختو نه تاکلي وو او په هغو وختو کښې به ئې نور کارونه کرت نه کول (۱)

سلطان د شپې په وروستو برخه کښې له خوبه راویښېده، له عبادت څخه به چه فارغ شو ملکی معاملې به ئې اجرا کولې بیا به ئې د نورو هیوادو پاچهانو او یا خپلو سرحدی امیرانو ته دفرمانو لیکلو په باب کښې خپلو وزیرانو ته لار ښوونې کولې کله کله به د شپې په نورو کالو کښې به پټه راووت د ښار په کوڅو کښې به کرزید او د رعیتو په حال به ئې ځان خبر اوه (۲)

سلطان سکندر د قبیلو خلك (دغرو او لیرو سیمو ښیتانه) خورا ډیر نازول ځکه نو ډیر ښیتانه امیران پرده را تول وو (۳) ده له خپلو امیرانو سره د ورور کلوی سلوك کاوه او د دوی ترمخ پر تخت نه کښیناست (٤)

---

(۱) مرقع افغان ۸۱ مخ
(۲) سیرا لمتا خرین (۱٤۰) مخ
(۳) مرقع افغان ۱۲٦ مخ
(٤) تاریخ فرشته اومړی جلد (۱۸٦ مخ

# دانتصابي شورى مجلس

سلطان سکندر د ملکي معاملو له پاره يو دشورى مجلس هم درلود چه د مرقع افغان په قول (۷۰) تنه او دشوکت افغان په قول (۱۷) تنه ستر علماء ئې لکه : مولانا صدر الدين قنوجي - ميا عزيز الله سنبهلي ، دسيکرى ميا عبدالرحمن ، شيخ لاون دانشمند او نور غړي وو دا مجلس به تل دپاچا په رکاب کښې ؤ دوى دپاچا خوښې اونندى ته نه کتل بلکه د جمهور گټې ئې کتلې حتى کله به داسې هم پيښه شوه چه دغې انتصابي شورى به د پاچا د رايې او ارادې پر ضد دېوه مخالف حزب شکل ومونډ لکه د (تهانيسر) په پيښه کښې چه د مخه مولوستلې ده (۱)

ځکه چه سلطان په قضايي معاملاتو کښې ډير احتياط کاوه ، په ځينو درنو شخړو کښې به ئې دشورى ترغړو علاوه دهيواد نورو نامتو علماء هم رابلل او دتو لو په گډون به ئې موضوع څيړله لکه په ۹۰۷ هـ کال چه په لکهنوتي کښې د (بودهن) هندو دمسلمانانو پرخبره دهغې سيمې دوو مشهورو ملايانو (قاضي پيارا) او (شيخ بدر) يا (شيخ بدهن) يو دبل پرضد فتواوى ور کړلې سلطان د دغې شخړې له پاره ترخپلې ورسر شورى علاوه له ملتاني څخه د عثماني الهداد زوى (ملا عبد الله) او دشيخ خواجو زوى ( مياقادن ) له دهلي څخه دسعيد خان زوى ( سيد محمد ) له سر هنده څخه ( ملاقطب الدين ) ( ملا الهداد ) او (ملاصالح) له قنوج څخه (سيد امان) (سيد برهان) او ( سيد احسن) يا (سيداخن) سنبهل ته وروبلل فتوى ئې ځني وغوښتله ، تر فتوى ور کولو وروسته ئې دېرو نازونو او خپلو وطنو ته ئې رخصت کړل . (۲)

---

(۱) مرقع افغان (۷۸) مخ

(۲) تاريخ فرشته لومړى جلد ۱۸۲ مخ

# قضائی نظام

سلطان سکندر پرنیا و (عدل) مین پاچاؤ ، انصاف ئی د پرخو ښېده ، دمظلوما نو او غریبا نو پر حالئی د پر پام ؤ ، خورا واړه عرضو نه ئی پخپله اوریدل که به کوم امیر پر چاتیری کړی ؤدهغه امیر و کیل به په دربار کښی تل حاضر ؤ چه دمظلوم دعرض موضوع به یې یلتی په حق به ئی رسوی خوشاله کوی به ئی او تفصیل اورا پور به ئی له عارض سره پاچا هی حضورته وړاندي کوی (۱)

سلطان پخپله دو مره ځیرك اوهوښیار ؤچه خورا ؤر دشخړ و پایی ته ورلو یده ، ده په ټول ملك کښی په هر هرځای اوهر هر ښار کښی نیاوځی (دارالعدل) جوړ کړ ی او خورا فاضل دینداد اوحق پرسته نیاوو الان (قضات) ئی مقرر کړی وو ، دوی ته ئی تا کید کړی وو چه په خورا کامله بیطرفی او مساوات به یلټنی کوی او په خورا دیانت به حکم کوی ، له ځان سره ئی هم تل د (۷۰) یا (۱۷) تنو پیاوړو علماء یوه شوری کښینولی وه چه دی پخپله په نیاوا و انصاف کښی له خطا څخه وژغوری .

دده نیاو (عدل) او انصاف په درست ملك کښی تردی حده یو ری د ظلم او زیر ی سټه (بیخ) کښلي وه چه چابه خپل نو کر ته په تر یو تندی او کږو کتو نشو کتلای (۲)

هرهر ځای چه ئی نیاوو الان (قاضیان) گمارلی وو د هغو د کړو تر د ی حده پټه نگرانی کیدله چه په خپلو خپلو غلطیو به دوی پخپله نه وولا پو هیدلی چه سلطان به بیا په خبر ؤ

دسلطان دخبررسو لو (جاسوسه) تو ر په ټو ل ملك کښی داسی غوړ ولشوی ؤچه دملك دخورا لیرو لیرو گوښو په د پر وړو - وړو خبر او پیښو به د پر ژر خبر یده حتی دامیر ا نو د کورو حالات ئی د ومره لرل چه هغوی مجبور کیدل چه ووایی «سلطان پیر بان لر ی چه د کور وله پټو پټو او خورا وړ و وړ و پیښو څخه ئی خبروی» .

---

(۱) مرقع افغان ۸۰ مخ
(۲) مرقع افغان ۹۰ مخ

نیاو وال (قاضی) ته حکم ؤ چه له سهاره ترما ښامه به یه نیاوځی (دارالعدل) کښی کښېنی چه هیڅ مظلوم او عارض له نیاو (عدل) څخه ناامینده نـشی دسلطان په خاص دربار او پایتخت کښی به د ستر نیاووال (قاضی مرافعه) سره نل (دوولس) تنه ستر علما دمفتیانو په دول ناست وو د پایتخت ښخری او هغه ښخری چه په دهیواد له نورو ولایاتو څخه د مرافعې په نیامت پایتخت ته راتللې دلته فیصله کیدلې لحینی ښخری چه دایالتی محکمو تر صلاحیت اوری وې هم دلته دائر پدلې دغی محکمی به له سهاره څخه ترماښامه پوری کار کاوه په مرافعه کښی چه به کومه فیصله راووتله هغه فیصله به هرومرو (دشوری مجلس) ته چه له (۷۰) یا (۱۷) تنو مقننو پوهانو څخه جوړه شوی وه دزیات غـور یا فتوی او توثیق له پاره وړاندی کیدله دي قضائی شوری د (اوسنی تمییز) حکم درلود کومه فیصله چه به په دغه ستر مجلس کښی ومنله شوه بیـا به د سلطان حضورته وړاندې کیدله (۱) د سلطان سکندر دغه (قضائی نظام) له هغه وخت او زمانی سره سم درعیتو دخوښۍ آرام او نیاو له پاره خورا کافی ؤ

## دسلطان د قضائی فعالیتو ځوبلګې

۱ ـ د (پښتنې) دلتی د (ارول) کلی او سیدونکی بو ه سید د هغه ځای دجا ګیر دار میاملی (میاملیح) له لاسه دسلطان حضور ته عرض وکړ چه: «له مائې مځکه په زور اخیستې ده» سلطان د ستر نیاوځی (مرافعی) مشر (میا بهوا) ته حکم وکړ: «ددغی ښخری تر بشپړې پلټنې وروسته صـحیحه نتیجه راوړاندې کړه»

پر دغه ښخره دوي میاشتې تیری شوی خو نیاوځی (محکمه) هیڅ نتیجې ته ونه رسید. سلطان حکم وکړ: «څه تکه پر بو تلی ده چه داښخره دوې میاشتې اوږده شوه؟ ترڅو چه نن ددي ښخری فیصله ندهشوې ستر نیاووال (قاضی مرافعه) دوولس تنه مفتیان او پخپله میاملیح (مدعی علیه) له نیاوځی (محکمی) څخه نشی تللای!»

(۱) مرقع افغان ۹۰ مخ

دنیاوڅي غرو دسلطاني حکم سره سم تواله ورځ پر سر کړه کړنه ورځ او یوه برخه شپه ئې وو هله څو ئې هغه ښخړه ترتحقیق او غور وروسته د جاګیردار میاملي (مدعی علیه) په ملامتي فیصله کړه او مدعې ئې مظلوم او پر حق وباله ‌دا فیصله چه سلطان ته وړاندې شوه سلطان له قهر پر لـه وا ښېد ، او (میاملي) جاګیردارته ئې وویل: « ما قطعي حکم نه ؤ کړی؟ چه هیڅوك دې پرخپلو زیردستانو هیڅ ډول تیری نه کوی او د جاګیر دارانو په فرمانو کښې مې د هر یوه جایدادونه او تنخواوی ندی تاکلي؟ تونا ولې زما له حکمه څخه تېری وکړ؟

او دا بې وزله دې ناحقه وځوراوه؟ » میاملي جاګیر دار چه یوا میر ؤ سرځړولی ؤ ځواب ئې نه درلود خپله ګناه ئې ومنله، بخښنه ئې وغوښتله .

سلطان حکم وکړ: « میاملي دې د ري پلا په زوره ووائي چه (میاملي ګنهګار او ظالم دی او سید مظلوم او پر حق » میاملي چه درې پلا دغه جمله په زوره وویله سلطان وویل « تااره د دعه ایداد (توبیخ) بس دی چه نیا وڅی (محکمه) کښې رسوا شوی » پس له دې ئې (میاملي) ته بیا ترمر که پل جاګیرورنه کړ او هغه ئې هم څني واخیست (۱)

(۲) ـ: دا ګـري دښـازدوه بـهـمـن (بـر هـمـن) ورونـه خـوارېـه پرسـرواخیـستـل دسـلطـان دلښـکرواورته ئې چـه هغه وخـت ئـې په (زاپسین) کښې اوولې ؤ مخ ونیو مـ‌تـه بـه ئې خپله غریبی کوله چه دسلطان لښکری له هغې کلا څخه جنګ نه وایېږدېد لې دوی، هم مخ ورسره ونیو برلار په یوه کلي کښې دوی ته څه طلاوې څهرنګین تو کران او دوی دا نې اعلو نه په لاس ورغلل کشرووزور مشرته وویل « دو مره مووموندل چه څه ګذاره مو به وشي، نوربه ځورنه ګالو، کورته به ستانه شو خپلی چرچې به کوو » مشر ځواب ور کړ: په لمري ی برېد کښې چه د ومره دولت په لاس راغی به بله پلا به څو ګرا به په لاس راشي، ژر به نه ستنېږو »

---

(۱) مرقع افغان ۹ مخ د تاریخ داؤدی د ۱۶ مخ په حواله.

کشرورور ته منل او د کور لور ته ئې مخه وکړه مشر مجبور شو څه چه ئې موندلي و سم پر نيمائي ئې ورسره وويشل او خپله برخه ئې هم ده ته ور کړه چه ور ينداري ته ئې ورسوي کشر ورور کور ته ځان راورساوه بيله لعله څخه ئې نور دوه ور توله و سپارلي شيان ور ينداري ته ور کړل دوه کاله پس چه مشر ورور کور ته راغې ماينې ئې توله دده را استولي شيان ور ته کښېښوول خو يو لعل نه و .

مشر ورور کشر راوغوښت د لعل پوښتنه ئې ځني وکړه کشر ورور په ځواب کښې ورته وويل « ما ستا ماينې ته د نورو شيانو سره ور کړ نا چه ئې اوس نه مني څه زور پر راوله دروغ به ئې ښکاره شي » مشر ورور هم پر خپلې ماينې زور راوست هغې بيرته زلي چه هغه ر ئل او کوټل وليدل د سبا مهلت ئې وغوښت سبا ئې ستر نياووال (مياپهوا) ته ځان ورساوه او عرض ئې پرو کړ مياپهوا دواړه ورونه راوبلل موضوع ئې ځني وپوښتېده له کشرورور دده په مخ کښې هم وويل « لعل ما ته مشر ورور را کړ ما ور ينداري ته وسپاره » مياپهوا د شرعي اصولو سره سم شاهدان ځني وغوښتل ده هم يوه کړې پس دوه تنه شاهدان چه په دري دري تنګې ئې له قمارخانې څخه راابستلي ښه کالي ئې په اغوستي پان ئې په خوړلي او د صندلو پلني پلنې تيکي ئې پر وهلي وې محکمې ته راوستل او د احقه شاهدي چه د (مخه ئې لا په زده کړې وه) په ادا کړه مياپهوا چه د شاهدانو ظاهري وضعي ته وکتل درانه خلق ئې په نظر ورغلل د دوي شاهدي ئې ومنله او مشر ورور ته ئې وويل « له خپلې ماينې څخه دي لعل واخله » ښځې چه دا فيصله واوريده له ډيره وارخطا شوه هغه آن برابره د سلطان عام دربار ته په دادو رغله سلطان چه ئې عرض سرته پايه واوريد ورته وې ويل : « مياپهوا ته ولې نه تللې ؟ » دې په ژړا ورته وويل : » آ! عادله پاچا ! هلته ولاړمه مګر ده څنګه چه ښائي هغسې پلټنه ونه کړه » سلطان هم دستي هغه دواړو ورونه شاهدان او مياپهوا (قاضي) دربار ته ور وغوښتل مياپهوا ته ئې په خوراد رد وويل : « څنګه پلټنه دې کړېده ؟ » مياپهوا وويل : « له شريعته سره سم شاهدي را ته ادا کړه شوه بيا مې نو حکم د (مدعي عليه) پر برائت وکړ ».

سلطان وويل شاهدان کوم دي؟ شاهدان چه نژدې ور وستل شو سلطان وفرمايل دا څو دواړه جواريګر (قمار بازان) دي، د دروغو يا څلورو تنګو له پاره ناحقه شاهدي لې ميا بهوا عرض وکړ: «په ښکاره خو دا دواړه معتبر خلق معلوميږي» سلطان وفرمايل: «دا به هم ښکاره شي» سلطان حکم وکړ چه د دغې شخړې ټول غړي بېل بېل سره وساتئ. تر ټولو د مخه ئې مشرورور (د ښځې مېړه) را او غوښت او وئې پوښتيد: «ستا لعل څومره غټ و؟» مشرورور يو اندازه په ګوتو ور وښوو له سلطان څه موم ور ته ور کړه او ور ته وې ويل: «له دغو مومو څخه د خپل لعل په شکل او اندازه يو غټې جوړ کړه» مشرورور حکم پر ځای کړ او له هغه مومو څخه ئې د خپل لعل په اندازه او شکل يو غټې د سلطان حضور ته وړاندې کړ سلطان هغه غټې ځنې واخيست په ټې ئې کښېښود او د ده کشرورور (مدعی عليه) ئې راوغوښت هغه ته ئې هم موم ورکړ او د لعل په شکل او اندازه ئې غټې ځنې وغوښت کشرورور کټ مټ د مشرورور په جوړ کړي شکل او اندازه غټې جوړ کړ او د سلطان حضور ته ئې کښېښود بيا ئې شاهدان بېل بېل را وغوښتل او ور ئې پوښتيدل «تا لعل په خپلو سترګو ليدلی دی» هر يوه وويل «هو» سلطان دوی دواړو ته هم بېل بېل د موم ټوټې ورکړې چه د لعل په شکل او اندازه غټې ځنې جوړ کړي. شاهدانو هم خپل خپل جوړ کړي غټې د سلطان حضور ته وړاندې کړل خو د دوی دواړو جوړ کړو غټيو د يو تر بل ډېر توپير سره درلود بيا ئې مدعيه (هغه ښځه) راوغوښته له هغې نه ئې هم موم ورکړه چه د لعل شکل جوړ کړي ښځې نه وکړه او وې ويل «څه چه ما نه وي ليدلی د هغه شکل او اندازه څنګه ښوولای شم؟» سلطان چه هر څه سره ټينګه کړه بې له دغه ځوابه ئې نور څه و نه ويل او نه ئې د لعل شکل او اندازه جوړول و منل! تر دې پلټنې وروسته سلطان دواړه ورونه وپوښتيدل «تاسې دواړو په خپلو خپلو سترګو لعل ليدلی و؟» مشر وويل: «سلطانه! ما خو لعل په خپل لاس کشرورور ته ورکړ نو څنګه به مې نه وي ليدلی؟» کشر وويل: «ما خو را وړی و او په خپل لاس مې ور پنداری ته ورکړ» بيا

ئې شاهدان هم دغسې و پوښتېدل څو هم دغه ځواب ور کړ چه «موږ پخه پلو ستر کو لعل لیدلی دی» خو ښځه چه ئې بیا و پوښتېدله چه «تا لعل لیدلی دی» هغه بیانا کاره شوه سلطان د تالیچې ژېړه یو رنګه کړه او د مومو ځلو ر سره غټې ئې میا بهوا (مشر نیاوه ال) ته ور واچول او په دردئې ور ته وویل: «ته چه په نیاو ځی (دار العدل) کښې ناست ئې دغسې عدل او نیاو او دغسې پلټنه او تحقیق به کوې؟» بیو ز له مدعیه دی په ناحقه غله و بلله غل خو د مدعی لیور دی» بیا ئې پر شاهدانو مخ راو ګرزاوه چه: «که تاسې رښتیا و وایاست خوشې به مو کړم او که پر خپلو دروا غو ټینګ شئ نو ژ نم مو ځکه چه ما ته د دغې شخړې اصلیت او حقیقت څر ګند شو» شاهدانو چه د مر ګ ږغ واورېد غړې ئې و تښتېدل او کیفیت ئې ټکی په ټکی سلطان ته عرض کړ.

سلطان وفرمایل: «تاسې ما ته دروا غ څنګه وېل؟ تاسې نه پوهېداست چه زما تر مخ څوك دروا غ نشي وېلای!؟».

شاهدانو ځواب ور کړ: «موږ جواریګر (قمار بازان) یو، وږي تږي وو لمرې ځل ئې درې تنګې اوداځلی ئې څلور تنګې را کړلې د خپل کور جامې ئې راوغوښتلې موږ نتلو د غه ږبې اسره و بللی! او له ځانه سره مو و بلل: د بسو ئې کولی له پاره چه په بازار کښې اخ اخ ګرزوا و یو وېل ته لاس نیسو له ناحقې شاهدۍ څخه څه شرم؟» ترد ې خبرو وروسته چه سلطان د ښځې لیور (مدعی علیه) ته مخ وواړاوه پخوا تر دې چه سلطان څه ور ته ووائي خپله ګناه ئې و منله پېښه ئې ټکی په ټکی ور ته عرض کړه او ېدېتو که ئې له ابتداء څخه ځان وژغوره له بیوزلې مدعیې څخه د سلطان د تدبیر او فراست په بر کت هغه تبور وا ونښت او د د ربار خلك د سلطان حیر کی او فراست ته هیښ پیښ پاته شول سلطان ځکه چه شاهدانو ته امان ور کړی ؤ نو رئې څه ور ته و نه وېل حکم ئې و کړ چه د د واړو خولې دې په مخکه پورې و موښلې شي بیا دې خوشې کړه شي (۱)

۳ ـ دوو ټګانو (دسیسه باز) یوه غوټه یوه د کاندار ته امانته کښېښو وله او ور ته وې وېل: «چه موږ غبر ګ رانه شو دا غوټه یوه ته مه ور کوه» څوور ځې

(۱) مرفع افغان ۹۳ مخ پوری تاریخ فرشته ۱۸۷ مخ او طبقات اکبری

وروسته بیا ورته راغی غوټه ئې څنې وغوښتله دوکاندار نټه وکړه او ورته وې ویل «ترڅو چه هغه بل مل دی نه وی دی در سره غوټه نشم درکولای» هغه ټګ ورته وویل: «هوغه دی ملګری می رانه ولاړ دی» دوکاندار چه سترګی هغه لورته ورواړولې که ګوری ربښتیا هو لته یو سړی ولاړ دی او څه اشاره هم کوی د کاندار غوټه هغه ټګ ته ور کړه او ټګ یرخپله تره ولاړ ، سبا ته ئې هغه بل ملګری راغی او دوکاندار ته ئې وویل: «زما هغه بل ملګری تښتیدلی دی یام کوه که غوټې ته راغی چه غوټه ورنکړی» دوکاندار ورته وویل: پرون خو تاسی خپله غوټه له ما یووړه!» ټګ ناګاره شو او شخړه د سلطان دربارته ورسیده له سلطان ټګ و پوښتید:

«تاسی له دوکاندار سره د غوټې اخیستلو څه شرط ایښی و ؟» ټګ ځواب ورکړ «څو موږ عبرک سره رانه شو غوټه به یو ته نه ور کوې دوکاندار هم دا راسره ومنله او زه که پرون له ګوره راونلی وم خو ن می سلطان ته روادی » دوکاندار هم ببښه سرتر پایه سلطان ته عرض کړه سلطان د مدعی په ټګی پوه شو ځکه که د دوکاندار دروه په نیت کښې وای امانت به ئې نه منلای.

ټګ ته ئې وفرمایل: «ستا امانت غوټه تیاره پرته ده له شرط سره سم ورشه خپل بل ملګری راوله او دواړه خپله غوټه واخلیء» ټګ چه د سلطان له درباره ووت دوې پښی ئې در لودلی دوې ئې نورې پور کړې او بیرمخ و تښتید ، بیائې ترشاو نه کتل او د سلطان نکته دانی او فراست له دوکاندار څخه هغه تیر رواړاوه (۱)

## علمی ترقی

د سلطان سکندر زمانه د علومو د ژوند زمانه وه ، د ده و ختی هغه نیکمرغی وختی وې چه د عرب او عجم دیرونلی ملایان او ستانه لکه سید رفیع الدین

(۱) مرقع افغان ۹۸ مخ

محدث(۱) او سيد علي مشهدی(۲) او نور هندوستان ته راغلل دډهلی او اګرې په سیمو کښې میشت شول او ددې مېنې دعلم نېرۍ ي او به کړل (۳) داد بیات سرحد ددریم جلد په انه ویشتم مخ کښې لیکلی دی:

دلودیو پاچهانو په زمانه کښې دیښتنو دمذهبي تبلیغ جذبه هیابر شور راغله له ملتان او شاو خوا څخه ئې شیه دیر علماء داسلامي تبلیغ له پاره هندوستان ته وروبلل په جر پور او ګجرات کښې ئې واوسول په تاریخو کښې لیکلی دی چه ددغو ځایو دمدرسو شمیر تر درې سوه زیات وُچه تو اوته لودیو پاچهانو اوقاف تاکلی وو او دا دامداد سلسلــه دمغلو په وختو کښې لاجـاری وه د (هندوستان مین قدیم اسلامی درسګاهین) مولف ابوالحسنات ندوی لیکی:

« سلطان سکندر لودیه شریعت پابند او علم خوښوونکی پاچا وُ هند وانو ده له وختو پارسو تعلیم ته لاس ور ته کړ»

په تاریخ داؤ دی او جام جهان نما کښې لیکلی دی:

« سلطان سکندر ډیرې مدرسې په مو نهرا کښې قائمې کړې»(٤) دسلطان سکندر په وختو کښې دلیك لوست تحصیل مطالعاتو څخه دو مره عامه شوې وه چه دتاریخ داودی ، طبقـات اکبری او منتخب التواریخ په شهادت دهر چا په سر کښې (که په امیرؤ که په فقیر) دعلم دزده کړی فکر موند شوی وُ د هند وستا ن خلقو د خپل پاچاله علم پالنی څخه ډیره ګټه وموندله مسلمانان بریبزده قدامه پسند وهند وانولاهم له دې موقع څخه استفاده وکړه دعلم او پوهنی خواته ئې توجه وکړه

(۱) سید رفیع الدین محدث شیرازی په معقول کښې دمولانا جلال الدین دوانی او په حدیثو کښې دشیخ شمس الدین محمد بن عبدالرحمن سخاوی الحافظ المصری شاګرد وُ. سلطان ئې اعتقاد ورته درلود په اګره کښې ئې دافاضې له پاره داوساوه اوهلته یسی ومړ. (ص ٦٥ تذکره علمای هند)

(۲) دسید محمد علی مشهدی هدیره دډهلی دقطب منار په څنګ کښې علایی دروازی ته نژدی واقع ده اود (سید حسینی پای منار) په نامه شهرت اری دی دسلطان سکندر په وختو کښې هند ته راغلی او په ډهلی کښې اوسید په ۹٤٤ه کښې مړ شو (مجله روابط فرهنګی هند وایران)

(۳) مرقع افغان ۸۰ مخ

(٤) هندوستان مین قدیم اسلامی درسګاهین ۳۲ مخ

مروج علمو نه ئې زده کړل او کمال ته يې ورسول. د سيد ل محکه نو د سلطان سکندر د وختو په علمي خدمتو کښې د هندوانو او مسلمانانو برخه سره سمه ده هندوانو نه يوالحی د پارسو شاعران شول بلکه دومره پوهان پکښې راووتل چه د درس حلقې ئې لرلې بدايواني ملا عبدالقادر د سلطان سکندر د وختو تر علمي پراختيا پورې ليکي :

«يو برهمن لاد درس حلقه لرله شاعرهم ؤ د مسعود بيګ دغزلې په اقتفا چه ده کومه غزل ويلې ده مطلع ئې دا ده :

دل خون نه شدی چشم تو خنجر نه شدی گر
ره کم نه شدی زلف تو ابتر نه شدی گر » (۱)

## تدريسي نظام

سلطان سکندر که له يوې خوا د هيواد تنظيم (امن، رفاه، مساوات، زراعت او حرفت) ته توجه وکړه له بلې خوا ئې تعليمي مذهبي، اجتماعي تنظيم او اخلاقي تربيې ته هم بشپړه توجه درلوده او پدې توجه کښې ئې دهيواد هرې سيمې برابره برخه درلوده (۲) د سلطان په وختو کښې درسي نصاب واوښت د سلطان تر زمانې پخوا په منطق کښې بيله شرح شمسي (چه د سيد محمد همداني تاليف دی) او شرح صحايف او په ځينو ځايو کښې د ابو شکور سالي تمهيد (۳) څخه بل کتاب نه لوست کيده د سلطان په وختو کښې د ملتان له تلنبې (د تا په زور د لام په سکون د نون او با په زور و) څخه دوه مشهور علما (ملا عبدالله او ملا عزيز الله) د سلطان پاچهۍ ته راغلل لمړی په دهلی او دوهم په سنبهل کښې ميشت شو معقول علمونه ئې رواج کړل (٤) او د ملا عبدالله تلنبي بديع الميزان د قاضي عضد مطالع او مواقف او

(۱) منتخب التواريخ امري جلد ۳۳۳ مخ
(۲) مرقع افغان ۸۲ مخ
(۳) هندوستان مين قديم اسلامي درسگاهين
(٤) مرقع افغان ۸۲ مخ د منتخب التواريخ په خواله

دسکالی مفتاح العلوم دمعقولو په درسي نصاب کښې شامل شول (۱) په طب کښې (طب سکندری) دنصاب خورا اهم جزءشو، د هلکانو دروزنې او ښوونې طرز لره دسلطان اتالیق شیخ سعید یو ملي دادوه اصول وړاندې کړل :

۱ ـ په پسته ژبه او نرمۍ دې هلکانو ته ادب او تعلیم ور کاوه شي،

۲ ـ دهلکانو له ترټنې وهلو ټکو ټلو دې ډډه وشي .

سلطان دشیخ سعید وړاندې کړی اصول ومنل او په ټو لو ښو و نځيو کښې جاري کړه شول، دسلطان په وخت کښې دملك په ټولو ښوونځیو کښې په خوراشدت دغه اصول پالل کېدل (۲) او دغه دسلطان سکندر دطرز تدریس اصول دمغل اکبر په زمانه کښې د(بیت الاطفال) بنیاد شو (۳)

## دعلم او علما وقدر :

سلطان سکندر له علماؤ او ستانه خلکو سره خاصه مینه لرله، په خورا درنه سترګه ئې ورته کتل دبرنۍ نازول په ۹۲۲ هـ کال چه ئې په «بیانه» کښې ځلور میاشتې تیرې کړې ډیر وخت ئې دسید نعمت الله او د شیخ حسیني په صحبت کښې تیر کړ (٤) سلطان دتعلیم، تدریس او اخلاقي تربیې سره لیونۍ مینه دراوده، علما به ئې راغوښتل او روزل به ئې، دعلماؤ او صلحاؤ قدر دده په وخت کښې دعلم او صلاح دعمومیت له پاره لوی عامل ؤ، وائي په ۹۱۰هـ کال چه سلطان په لاهور کښې ؤ شیخ عبدالجلیل سهر ور دی و مړ، سلطان ئې پخپله غسل او جنازې ته ورغی (٥) نکل کا : سلطان چه به د ملا عبدالله

(۱) هندوستان مین قدیم اسلامی درسګا هین.

(۲) مرقع افغان ۸٦ مخ

(۳) اکبر مغل دروکو دتعلیم په باب کښې استادانو ته حکم کړی ؤ« چه : وړوته محض لار ښوونه دې وي، په اوږو اوږو کښې حروف په و ډیو ئې او الفاظ پسې په زده کړي» ابوالفضل لیکي، «ددغو اصولو په برکت هغه ترقي چه پخوا مکتبو په میاشت نه وه کړې اوس په ورځو کښې کیږي» (آئین اکبر ی)

(٤) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸٦ مخ

(۵) خزینته الاصفیا دوهم جلد ۷۷ مخ

ددرس حلقې ته ورغی ددې له پاره چه دزه کړ به په درس کښې معطلی رانه شی علی به یوې گوښې ته کښېنوست ، ملا صاحب چه به له تدریسه فارغ شو بیا به ئې سره ولیدل (۱) :

نعمت الله هروی په مخزن افغانی کښې لیکی: منلی عارف شیخ جمالی کنبوه چه دحجاز شام، عراق او ماورا النهر له سفره څخه هند ته راستون او سلطان په خبر شو، له سنبهله څخه ئې پخپل قلم یو منظوم لیك ور ولیږه او خپل حضور ته ئې راوغوښت کله چه شیخ جمالی د سنبهل حدود ته راور سید سلطان ئې په خورا تپاك دوه درې کروه مخې ته ورغی او خورا تر دهر کلی ئې وکا (۲) او ترمر که ئې له ځانه لیری نه کړ (۳)

مولوی غلام سرور لاهوری لیکی: « شیخ محمد ملاوه (٤) چه پلار او ر لو لپه شالې وکړاې او دخدای په حکمت ئې په هر روزی کښې دپخوا دوه گوڼ حاصل ؤ ، هغه شالې چه دسلطان سکندر حضور ته ورو ړی شوې ، سلطان دشکر سجده ادا کړه چه دده په وختو کښې داسې ښه خلق او دخدای نازولی شته » (٥) وائی: دسلطان په وختو کښې دخان جهان لودی یو در باری وکیل (ملك زین الدین) دقرآن شریف تلاوت ته نه کښېنوست په ولاړی به ئې قرآن شریف لوست او قرآن شریف ته ئې دومره جګ رحل جوړ کړی ؤ چه دده تر ځکره پوری به رسیده تول خدمتګاران او کورنی به ئې تهجد ته پاڅیدل نو بیا به تر څاښته پوری په درست کور کښې دقرآن لو خواې په ذکر اې وې ملك زین الدین هر جمعې شپه څو منه وریجې خیرات ولې مګر

(۱) او رینټل کالج میګزین، تذکرهٔ علمای هند ۱۰۱ مخ او طبقات اکبری

(۲) مخزن افغانی قلمی ۱۲۰ مخ

(۳) دسروش مجله د۱۳۳٦ کال دحمل ګڼه ۱۰ مخ

(٤) شیخ محمد ملاوه چه په مصباح العاشقین مشهور ؤ، دشیخ احمد بدایونی مرید او دسلطان سکندر معاصر ؤ.

(٥) خزینة الاصفیا لمری جلد ٤٠٦ مخ

پر هره ورځ دانه به ئې هر وه ر ودري بلا تل هو الله احد ویلی شوی وُ (۱) دسلطان دغې توجه چه علم، علماء او صلحاو ته ئې درلوده له یوې خوا دیر علماو او فضلاو او له بلې خوائې په رعیتو او امراؤ کښې وایه (حیا)، نېکي، ادب، دینداری پرهیز ګاری، امانت او صلاح په خورا پېخر مونده کړه او ټولو خلقو دسلطان په تقلید دصلاح لور ته مخ ونیو. ده په زمانه کښې غلا، داړه، بدلمنی او داسی نور وران عملونه تر یوې اندازې زړي خبری او پخوانی نکلونه وو او دائې ثابته کړه چه تر ټنې او سیاست، تعلیم او تربیه دملت دسمون له پاره ګټوره ده (۲)

## دسلطان د وختو مؤلفات

سلطان سکندر له تالیف سره خاصه مینه لرله ملایان ئې تشویقول چه په هر علم کښې تالیفونه وکړی (۳) ده پر وختو کښې تربدیع المیزان سیر العارفین مفتاح الفیض، شرح عضدی، شرح مفتاح، شرح انوار الفقه، رساله عینیه، تفسیر حاجی عبدالوهاب بخاری او مهرو ماه علاوه دا څلور خورا ډېرانه کتابونه دسلطان په خاص حکم لیکلی شوی او ده ته منسوب کړه شوی دی:

۱- طب سکندری یا (معدن الشفاء سکندر شاهی):

دسلطان په حکم د ویدك له مختلفو نسخو او تېتو بېرکو مجلد اتو څخه په علم طب کښې په ۹۰۸ هـ کال د میا بهوا تر کتنې او پاملرنې لاندې یو لوی کتاب دطب سکندر په نامه راغونډ او ترجمه کړل شو دهندوستان طبیبانو به د هغه له مخې علاجونه کول او دنورو راوروسته تألیفاتو له پاره اساس شو. ویل کیږی چه دسلطان سکندر په وتلو کارنامو کښې یو دغه کتاب دی. (۴) دا کتاب یوه مقدمه او دری بابه لری، دهند له ارغونو طبو لکه: چرت، چرکه جادیو کرت، بوج. بید، ماکت، رس اتنا کر. سارنکدر بندهیسن، چنتا می،

(۱) تذکره علمای هند ۶۷ مخ، اخبار الاخیار ۲۲۷ مخ

(۲) مرقع افغان ۸۳ مخ

(۳) شوکت افغان ۳ جلد ۱۴۱ مخ

(۴) مرقع افغان ۸۲ مخ دتاریخ داؤدی د ۳۷ مخ په حواله

مادوندان 'جکروت او کیدی شخه را ایستل شوی دی، په مقدمه کښې ئې د علم طب مبادي او په لمړی باب کښې ئې دعلاج مقدمې' په دوهم باب کښې ئې علم التشریح' په دریم باب کښې ئې دناروغیو تخښې او علاج جونه راوړه شوی دي' (۱) طب سکندري د هندوستان زوړ طب بیرته ژوندي کړ 'او یرا خې او تدوین ئې ورو با خښه (۲)

۲ ـ آئین سکندری : سلطان دخپلې پاچهۍ د دستورالعمل او قوانینو له پاره یو خوراغت کتاب دآئین سکندري په نامه جوړ کړی ؤ (۳) '

۳ ـ دامر کربهار ترجمه : دسلطان په حکم دامر کر بهار کتاب چه په شاستری ژبه ؤ په پارسو ترجمه شو (٤).

٤ ـ فرهنگ سکندری (تحفة السعادت) : دشیخ ضیا زوی محمد د ۹۱٦ ھ کال دصفري پر لسمه دسلطان سکندر په نامه یو د لغاتو کتاب د (فرهنگ سکندری) په نامه لیکلی دی دا کتاب ۲۲) بابه لري او هر باب درې درې برخې مفردات او تراکیب لري (٥).

## علمي مناظري

سلطان سکندر یخپله منلی عالم ؤ . نل به دده په دربار کښې علمي مناظري کیدلي اوعلما به پرراغونډوو

نکل کاد: (سنبهل) دمېنې په وختو کښې یوه ورځ سلطان علماو یو بښتیدل: «څاروی او الوتو نکي یو دبل په ژبو او یا خپل قوم په ژبه سره پوهیږی ؟» علما ؤ ځینی منصوص نبو تونه وړاندې کړل ' سلطان شیخ سعید پر ملی ته مخ وروا اړاوه او ورته وې ویل : «زما او د علماؤ عقیده یوه ده خوعقلي دلیل هم غواړم» شیخ سعید دستي ورته وویل : «په منقولو کښې معقول نه ځائیږي ؟»

---

(۱) اوریئتل کالج میګزین

(۲) مرقع افغان ۸۲ مخ

(۳) او (٤) شوکت افغان ۳ جلد ۱٤۲ مخ

(٥) اوریئتل کالج میګزین

سلطان ورته وویل: «مادمخه تا ته وویل چه زه دعلماؤ سره په دغه باب کښې یوه عقیده لرم خوځه چه ستا په زړه کښې دی هغه هم ووایه».

شیخ سعید وویل: «ښکاري نور وغوروي بیا یوه پانه په شونډو کښې ونیسی، ریږ و کړی او تو نکی له هري خوا پر را تو لیږي او نیول کیږي دوی د ومره نه پوهیږي چه دا ریږ زمونږ د کوم ملګري دی؟ او څه وائي؟»

«بل داچه د چوغلي ستر ګي و ګنډي پر تور ئي کښېنوي څو ره وي ئي، دا ریږ کاندي، چغیږي، نوري چوغکي پر را تو لیږي او نیول کیږي، نه دوی دو مره پوهیږي چه دا بیوزله بندي او مجبور ده، هلته تلل خطره لري، با دهلته ولاړ نشواو نه هغه بندي چوغکه دوی په خپل حالي خبر ولای شي» (۱)

## سلطان او د پارسو شاعري

سلطان سکندر د پارسو خوږ او ښه شاعر ؤ (۲) په وینا کښې ئې یو ځانګه خصوصیت او سلاست درلود (۳) دده تخلص «ګلرخ» یا (ګلرخي) ؤ، په شاعرۍ کښې ئې د ډهلي شیخ جمالي کنبوه استادؤ، اشعار به ئې ور کتل او د رسمول د سلطان د پارسو اشعار وبلکي:

سروی که سمن پیرهن و ګلبد نستتش — روحی است مجسم که در آن پیرهنستش

مشك ختنی هست که صد مملکت چین — درحلقهٔ آن زلف شکن در شکنستش

«ګلرخ» چه کند جوهر دندان ترا وصف

همچون در سیراب سخن در دهنستش (٤)

وائي په ۹۰۵ هـ کال چه سلطان له جونپوره څخه (سنبهل) ته راغی او هلته ئي

(۱) مرقع افغان ۷ مخ د تاریخ داؤدي په حواله

(۲) مرقع افغان ۸۱ مخ.

(۳) اورینټل کالج میګزین د تاریخ شیرشاهي په حواله.

(٤) دا غزل ئي درسته په منتخب التواریخ کښې ضبط دی.

مینه و کړه په همدغه نژدې وخت کښې (شیخ جمالی) استادئي دعربستان، شام عراق له سفره څخه ډهلی ته راغلی ؤ؛ سلطان په لاندنی منظوم لیک چه پخپل لاس ئې ولیکیء (۱) راوباله او د (مهر و ماه) مثنوی ئې هم څخنې وغوښت:

ای مفخر گنج لایزالی — وی سالك راه دین (جمالی)
در گرد جهان بسی ز ده سیر — در منزل خود رسیده با لخیر
بر دی تو بسا فرز مانه — الحمد که آمدی بخانه
در مکه و در مدینه گشتی — گو هر بودی خزینه گشتی
ای شیخ بما برس بزودی — بسیار بسا فرت نمودی
بکشای سوی در کهم گام — نادر یابی ز (گلرخی) کام
چشمم به (جمال) تو طپان است — دل مرغ مثال در فغان است
من اسکندر و تو خضر ما یی — باشد که بسوی ما بیایی (۱)
ور شیخ ز دوستان نشد سیر — تشریف نمود نش کشد دیر
باید که کتاب «مهر و ماهم» — ارسال دهد چنانکه خواهم
از مهر کشد دو دیده را نور — آن مه نشود ز دیده ام دور

سلطان سکندر ځکه چه دوخت او پرو گرام خورا با بندؤ د شاعرئ ذوق له خپلو چارو څخه غافل نکړ او همدا سبب ؤ چه ده دربار د قصیده سراو شعراو مرکزنه شو (۳)

## ودانئ (عمرانات)

سلطان د تمدن او عمرانا تو سره ډیره مینه درلوده، ډېرو ښارو ته ئې بیرته ترقی ورکړه (٤) نوی ښارونه لاری، بندونه تنها نې مدرسې مسجد ونه او رباطونه ئې ودان کړل په هندوستان کښې داو دا ئې ده ته منسوبې دی.

---

(۱) مخزن افغانی ۱۲۰ مخ

(۲) دا مثنوی تردغه ځایه اورینټل کالج میگزین راوړي دي او پاته ئې دسروش مجلی د ۱۳۳٦ کال په لمړی گڼه کښې لیکلی دی.

(۳) مرقع افغان ۸۱ مخ

(٤) مرقع افغان ۱۳٤ مخ

## ١ ـ دسنبهل ښار:

په ١١٤ درجې ٢٦ دقیقې طول البلد او ٢٨ درجې و٣٠ د قیقې عرض البلد کښې (سنبهل) دډهلی لمر ختیز پلوته تقریباً ١٠٠ میله لیرې یو خورا کمکی ښار کې ؤ، سلطان له ٩٠٥ هـ کال څخه تر ٩٠٩ هـ کال پورې هلته واوړول او هغه کوچنی ښار کې دهندوستان لوی ښار شو، کړ خلق پکښې اوسېدل، خو دپښتنو حکومت چه په شمالی هند کښې لهپښو ولوید د (سنبهل) اهمیت هم ورسره غروب موند (١)

## ٢ ـ داګرې ښار:

اګره د(بیانې) په حکومت پورې ترلې یو وړ قلا ګی وه سلطان له ٩١٠ هـ کال څخه بیا تر مرینې (٩٢٣ هـ) پورې اګره پایتخت کړه او هغه وړ کلی که څه هم پیلا په زلزله کښې ونړېد بیا دسلطان په توجه دهندوستان لوی او مشهور ښار شو، مغل اکبر هم اګره خپل پایتخت کړ او تر اوسه پورې مشهور او بارونقه ښار دی (٢) اګرې ته نژدې (سکندره) نومی کلی چه (اکبر مغل) پکښې ښخ دی سلطان سکندر ته خاص نسبت لری (٣)

## ٣ ـ دسلطان سکندر بند:

بابر مغل لیکی: دا بند سلطان سکندر د(دهولپور) په شاؤ خوا کښې جوړ کړی دی، پر بند سر بیره ئې ودانۍ جوړې کړیدی دغه دم کښې د پښکال او بهرا غونډ یږی خور الوی دم څنې جوړیږی ددی دم شاؤ خوا ته غرونه دی، ما هم هلته یو مسجد جوړ کړ (٤)

## ٤ ـ له اګرې تر د هولپوره:

په ٩١٧ هـ کال چه سلطان دښکار په نامه له اګرې څخه د هولپور ته تلی

(١) مرقع افغان ١٣٤ مخ

(٢) مرقع افغان ١٣٥ مخ

(٣) دهند طلائی تاریخ ١٣٠ مخ.

(٤) بابر نامه ٢٢٣ مخ

پرهر منزله به‌ئی چه واړول هلته به‌ئی څپهان و کیښودل، ودانۍ به‌ئی جوړې کړې چه مسافران پکښې واوسي او مانۍ به‌ئی دپاچاهانو کښې له‌پاره ودانې کړي.

## رباطونه:

دملك تر لیر و لیرو سیمو پورې دډاك دانتظام له‌پاره رباطونه ودان شوي‌وو چه (ډاك څوکۍ) ئې بللې او په هره څوکۍ کښې به‌څه‌سړي او څه خوراچښك او کرایه‌ئي آسونه‌وو چه‌ډاگونه‌به‌ئی سره‌رسول‌هازباطونه دکار وانو او مسافرو له‌پاره‌هم پوسیپ‌ سرپناه‌ؤ.

## دسلطان بهلول پاچاهي هديره:

دډهلی په (چراغ کلا) کښې دسلطان بهلول دهدیرې گنبده (سلطان سکندر ته منسوبه ده (۱) داهدیره دنصیرالدین چراغ ډهلی دهدیرې ترڅنگ واقع ده، په‌یوه وخت کښې دهغه‌دله عالیشانو عمارتو څخه گڼل کېده.

## دډهلي موټهي مسجد:

طباطبائی لیکلی‌دی چه: یوه ورځ سلطان سکندر د ډهلی په جامع مسجد کښې یوه دانه موټهی (۲) چه پر مځکه پرته وه راپورته کړه او د دبانديي غورځولو په نیامت ئی خپل‌وزیر (میابهوا) ته‌ور کړه، میابهوا هغه دانه کورته راوړه او دخپل تاتوبي په باغچو کښې ئی کښېښووله، په لمړي کال ئی تر ۲۰۰ دانې زیات حاصل ځني واخیست، بل کال ئې هغه ۲۰۰ سره دانې و کرلې پدې ترتیب ئی دهغې بوې دانې دڅو کلو له‌پله پسې حاصله څخه په ډهلی کښې یو خورا یوخ مسجد ودان کړ او سلطان سکندرته ئی‌سر ترپایه نکل و کړ، سلطان‌دده تدبیر وستایه او دهغه‌مسجدنوم‌ئی (موټهی‌مسجد) کښېښود، والله

---

(۱) دسلطان بهلول دهدیرې کتیبه.

(۲) موټه دیوه حب نوم دی دپېښور د سیمو پښتانه ئې هم (موټ) بولي

اعلم بالصواب غلام حسین طباطبائی په ۱۱۹۵ ه کال لیکلی چه تر او سه دغه مسجد په ډهلی کښې ودان او په هغه نامه مشهور دی(۱) او معاصرخان غازی پخپلو ښیاد داشتو کښې لیکلی دی، دا مسجد سلطان سکندر لودی په ۸۹۵ه یا ۱۴۸۸ع کال جوړ کړی دی او دشیخ نصیر الدین شاه چراغ ډهلی دهدیرې په څنګ کښې د (موتهی مسجد) په نامه تر اوسه پورې شته.

## د متهرا لوی مسجد:

غازی سلطان سکندر هر ځای چه له هندوانو څخه نیولی دی هلته ئې ډیر ډیر مسجدونه ودان کړی دی مګر دهندوانو دخورا متبرك ښار (متهرا) چه دسری کرشن دزو کړی تون دی هغه لوی مسجد چه سلطان سکندر دهندوانو دخاص مذهبی لمبو ځی (ګهاټ) دزینې پرمقابل جوړ کړی دی دستاینې اوذکر وړ دی (۲) په متهرا کښې یو بازار هم سلطان سکندر جوړ کړی دی (۳)

## د یوسف قتال هدیره:

د (ست بلې) او (کهړ کی مسجد) په څنګ کښې دیوسف قتال هدیره (سلطان سکندر لودهی) دپلار په ژوند جوړه کړیده (٤)

# ملکی انتظام

**امنیت:-** سلطان سکندر که له یوی خوا جنګونه کول له بلې خوائې دملك معاشرتی ، دینی ، تمدنی او تعلیمی تنظیم هم هیرنه ؤ اودې خواته ئې هم زیات پام او توجه لرله رعیتو دده دښه انتظام په برکت دامن او داد ژوند کاوه (٥) دده په وختو کښې بیګار او سیورسات تردغی اندازې پر مخ ورك شوی ؤ چه

---

(۱) سیر المتاخرین ۱٤۱ مخ او مفتاح التواریخ ۳۰٦ مخ

(۲) تحفته الپښتون قلمی ۱۳۳ مخ .

(۳) او (٤) دخان غازی یادداشتونه .

(٥) مرقع افغان ۱۲٦ مخ

دلیرو لیرو سیمو په کلو کښې لا یوه سپاهي له چا څخه و کټ پایو او ښې خپل استعمال لره ور پااو په زور نشو اخیستلای (۱) او زوره ورته ځان کښېتو ته تر ستر کو یو رته نشو کولای (۲) سلطان په هغو سیمو کښې چه څه سر کش خلق به یکښې وو او غریب رعیت به ئې لو تل اوځوروله ځای پرځای تهانې و دانې کړې وې او هلته به دا منډ قیام له پاره څه څه سپاهیا ن یکښې او سهډ ل (۳) هرامیرا و جا گیر دار دخپلې سیمې دامن مسؤل ؤ (٤) ساطا ن په هره هر ه ضیمه کښې دامیرانو اوحا کمانو دپټ معلومات په نیا مت خپل ځا سو سا ن گمارلي وو چه دډا گ دمکمل انتظام په بر کت به یې ژر ژر دلیرو لیرو سیمو کوچنی خبري او حالات ورته رار سیدل او دومره به ژر رارسیدل چه دچا خبره غوږ بهلانه ؤ به خبر شوی (۵) ځکه نو حکام او امیران د ېر ځنې بیر یدل او پر رعیتوئی ظلم او تیری نشو کولای دوی گمان کاوه چه دداد سلطا ن کرامت دی او یا ځینو به ویل چه پیر یان ئې مسخر دی او بل هر ځای چه به سلطا ن ؤ در بار ئې عام ؤ هیچا هیڅو ک نه هر ځنې گرز ولای ځکه نو مظلو م او فریاد ی خلق برابر د ده مخې ته دریدلا ی شو ای اودې وضعې هم تر یوې انداز ې دامیرانو اوزور ورو خلقو دظلم مخه نیولې وه

## ډاگ:

دهغه وخت دخبر رسولو ذریعې (ډا ک څو کي ) بللې کیدلې دډا گ څو کیو آسو نه هر وقت په هر رباط کښې چمتوولاړوو (٦) دسلطان دغه تنظیم په درست هیواد کښې دومره مکمل او اعلی ؤ چه هر وخت به هره خبره خبریده او هر فرمان او هر حکم ئې امیرانو اوجا گیر دارانو ته پر خپل وخت رسیده ، داسې هم پیښه

(۱)(۲) تاریخ داؤدي ۳۵ مخ (مرقع افغان)
(۳) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۵ مخ
(٤) مرقع افغان ۱٤٤ مخ
(٥) مرقع افغان ۱۲۹ مخ
(٦) تاریخ داؤدی ٥٥ مخ (مرقع افغان)

شو بیده چه د جنګ په وختو کښې به کله د ده فرمانونه (چه په هغه ځای کښې به ئې د لښکرو د خوځولو او اړولو لو شپې ی لارښوونې وې) تر پنځوسو میلو پورې هره ورځ سهار و ماښام یو یو د لښکرو مشر ته رسول کیدل او د فرمانو د رسولو په انتظام او وخت کښې به هیڅ توپیر نه رانه (۱)

## پاد شاهی فرمانونه:

د سلطان فرمانونه چه د امیرانو او جاګیر دارانو په نامه تل لیکل کیدل دري ډوله وو:

۱ ـ د عمومی انتظام په باب کښې فرمانونه (قوانین) چه په عام محضر کښې به اوستل کیدل.

۲ — دخصوصی انتظام په باب کښې فرمانونه (هدایات) چه د امیرانو په دربار کښې به لوستل کیدل.

۳ـ پټ او خورا مخصوص فرمانونه چه یواځې به ئې په امیرانو پورې اړه درلوده، د کوم امیر یا جاګیر دار په نامه چه به فرمان ولاړ هغه امیر یا جاګیر دار ته به د د ه د نماینده په وسیله (چه په پاچاهی دربار کښې به تل ؤ) د مخه لا خبر ورغلی ؤ هغه امیر یا جاګیردار به دوه درې کروه مخې ته ور ته راؤت هلته به ئې یو ه لوړه تنګاچه (صفه) جوړه کړه چه ډاګ به ور ورسیده فرمان راوړونکی به پر هغه تنګاچه و خوت امیر یا جاګیردار ته به ئې (چه کښته به په خورا ادب ورته ولاړ ؤ) فرمان وړاندی کړ امیر یا جا ګیر دار به په دواړو لاسو فرمان واخیست پر سر به ئې کښېښود (دائې د منلو نخښه وه) که به فرمان د قانون په باب کښې په رعیتو پورې تړلی ؤ هغه آن به ئې لوست او که به خصوصی ؤ خپل دربار ته به ئې ووړ او هلته به ئې لوست او که به پټ او مخصوص ؤ خپل تاتوبی ته به ئې ور سره ووړ هلته به ئې لوست او هغسې به ئې کول چه څرنګه هدایت ور کړی شوی ؤ (۲)

---

(۱) مرقع افغان ۱۲۸ مخ

(۲) مرقع افغان ۱۲۷ مخ

## نرخنامې او روزنامې:

دسلطان سکندر په وختو کښې داخورا تېنګ حکم ؤ چه د هېواد له هر ګوټ او ګوټ څخه په دغلاتو او نورو حاصلاتو نرخونه او د پېښو او واقعاتو تفصیلات او د لښکرو حال هرو درو هره روځ وراستول کېده ، سلطان هم هرو مرو داتولې ورځپاڼې او نرخنامې سرتر پایه لوستلې د ده یادښت (حافظه) دومره زیات ؤ چه که به خورا وړه تبدیلي په نرخو، حاصلاتو او اوضاعو کښې پېښه شوې وه دستي به ئې دهغې د تدارک له پاره لارې سنجولې ، فرمانونه به ئې هغو خواوته لېږل (١) د واقعاتو پلټنې به ئې کولې او پر عملو به ئې غور کاوه

## استخبارات:

د سلطان سکندر په باب کښې د بر و مورخینو داسې نکلونه ایکلي دي چه له یوې خوا د سلطان د استخباراتو د خورا بشپړ تنظیم لوی دلیل کېدلای شي او له بلې خوا ځکه چه ځینې ئې تر عقل جګې پېښې او محیر نکلونه دي ځینو کسانو ته د سلطان کشف او کرامت ور مني او یو وله ئې خو شي نکلونه او تشې افسانې بولي هغه محیر او تر عقل جګ نکلونه بل عنوان ته پرېږدو تردې عنوان لاندې یوازې هغه برخه مثالونه راوړو چه عقل ئې مني او وائي د دغه انتظام برکت ؤ چه د سلطان په وختو کښې د نوطنو مخ تور او امیران تر حد له پاسه ایل او مطیع ؤ:

١ ـ سلطان دامیرانو د کورو حالات هم لوده: نکل کاچه وه شپه د برسات په ناپې (موسم) کښې لودي بهیکن خان (٢) په خپل کور کښې د بالا خانې مخې ته پروت ؤ، ناڅاپه باران شو ځکه چه نیمه شپه وه نوکران او مینځې کښته بیدې وې نو بهیکن خان او ماینې پلنګ سره واخیست بالاخانې ته ئې ننه یوست.

---

(١) مرقع افغان ١٢٨ مخ

(٢) دا بهیکن خان دلودي محمود خان زوی ؤ.

سرباچه بهیکن خان دسلطان دسلامی په نیامت دربار ته ورغی، سلطان سمدده دلیدلو سره (میا بهوا) وزیر ته مخ وروګرزاوه او وی ویل:

«ددومره لوی امیر کره دشپی نوکر نه وی او پلنګ پخپله نه باسی.»

## مالیات:

د سلطان سکندر تر پاچهی دمخه په ټول هیواد کښی دغلو (زرعی حاصلاتو) زکوة، عشر حکومت ټولاوه، په ۹۰۱ هـ کال چه سلطان سکندر د بنګال له جنګه څخه (درویش پور) ته راستون شو هلته کښته وه، سلطان چه دخپلو رعیتو لوږه او بدحال ولید، دملك ټولو سیمو ته ئی د رعیتو د آرامی په نیامت فرمانونه ورواستول چه (عشر) دی نه اخلی، دا ممانعت یوازی دیوه کال له پاره په یوه سیمه کښی نه ؤ بلکه داکبر مغل تر وختو پیا هیڅ پاچا په ټول شمالی هندوستان کښی عشر ټول نه کړ (۱).

## کرهڼه (زراعت):

تاریخ داؤدی لیکی: «سلطان سکندر دپلار پرنیولو ملکو سکته د کرهڼول ژوند ئی په کراری او خوښی تیر کړ، ټول رعیت ئی که لوړ که ځوړ، خوړ او ځنی خوشاله وو هیڅوك ئی یری نه ښوو چه تر ځان پر کښتو څه تیری وکړی په تیره بیا د (بزګرانو) فکر زیات ورسره ؤ دی ښه پوهید چه دملك ودانی او سمسورتیا د کرهڼی په زیاتوب او ښه والی پوری اړه لری» (۲).

دسلطان سکندر بندچه په (دهولپور) کښی ئی ودان کړ او دعشر بخښنه دده دزراعت پاللو لوی نخښی دی دلاروامن، دبزګرو داد او تشویق دده په وختو کښی زرعی حاصلات دومره ډیر کړل چه دده دوختو ارزانی تر ډیرو وختو پوری یادیدلی، دسلطان په وختو کښی کرهڼی ډیره وده کړی وه کوچنیو زمیندارانو

(۱) مرقع افغان ۱۰۴ مخ دطبقات اکبری دلمړی جلد ۳۲۰ او تاریخ داؤدی په حواله
(۲) مرقع افغان ۹۹ مخ.

او بزګرانو هم په خورا خوشالۍ ژوند کاوه، حاصلات کال په کال زياتيدل دزرو حاصلات لرونکي جاګيرونه الکونه ورسيدل (۱) د سلطان سکندر دهغه خاص لور او توجه څو مظاهر دلته وړاندې کوم چه دبزګرو (زارعی طبقی) سره ئې درلودل :

۱- يووخت د(سنبهل) يوه غريب بزګر مځکه کيندله، پنځه زره طلاوې ئې وموندلي، دسنبهل حاکم (مياقاسم) (۲) چه په خبر شو ياچاهی خزانې ته ئې څنې تحويل کړې او سلطان ته ئې خبرور کړ،

لوړ همته پاچا ورته وليکل: «هر چاچه طلاوې موندلی دی هغه ته ئې بيرته ور کړه!»

مياقاسم خيال وکړ چه سلطان دهغه غريب بزګر حيثيت لوړ ګڼلی دی اولځکه ئې دپنځو زرو طلاو دبيرته ور کولو حکم کړی دی».

بيرته ئې دسلطان حضور ته عرض وکړ: «چاچه دغه طلاوې موندلی دی دهغه حيثيت ددومره ډيرو طلاو دبيرته ور کولو وړ نه دی» سلطان چه دمياقاسم داليك ولوست دقهره ډير له وړ اينشيده، مياقاسم ته ئې دستی وليکل :

« ناپوهه ! هغه بزګر که ددومره طلاوو وړ نه ؤ نو پاك څښتن څنګه ور کولې؟ موږ ټول دپاك خدای بندګان يو، دی ډير سه پوهيږی چه څوك دڅه وړ دی څوك دڅه!» د دې فرمان په لوستلو مياقاسم وارخطا شو، دستی ئې هغه غريب بزګر راوباله اودپنځو زرو طلاو هميانۍ ئې ور ته ګنيښبودلې (۳)

۲- بل وخت بيا په «اجود هن» کښې د (بندګی شيخ محمد) جاګير دار مځکه يوې کيدله ناڅاپه يوه لويه شاځه (نخته سنګ) ښکاره شوه بزګر يوې پر يښوولـه او (شيخ محمد) ئې خبر کړ. شيخ خپل څه نور سړی ورسره کـړل چـه داشاځه وګوری اوشاوخوائی وپلټي، شاځه چه ئې سره

---

(۱) مرقع افغان ۱۰۱ مخ .

(۲) دامياقاسم دلوديو دپاچهی تر سقوط (۹۳۲ ه کال) پوری د سنبهل حاکم ؤ بين شا هوخيل چه بريدير وکړ، ده له بابره څخه مرسته وغوښتله، مغل چه په مرسته ورغلل دی ئې بابر ته راولينږه اوسنبهل ئې څنې ونيو ،

(۳) مرقع افغان ۱۰۰ مخ دتاريخ داؤدی ۳۹ مخ په حواله .

پوونه کړه که ګوری چه پخه ځاله ده ، شیخ ئې خبر کړ شیخ هم ور سپور شو هلته چه ورغی سړی ئې ځانه ور کښته کړل کې کتل ځاله خزانې ده که وه شیخ خزانه را وکښله کور ته ئې راوړه ، ځینې د سرو زرو داسې لوښې هم پکښې وو چه د(ذوا القرنین) نوم پر کښلی ؤ د لاهور او دیپالپور حاکم علی خان (۱) چه په خبر شو شیخ ته ئې وویل :

«ځکه چه داسیمه زما په ایالت کښې ده نو د غې خزانې څښتن هم زه یم.»

شیخ محمد په ځواب کښې ورته وویل : «که خزانه خدای (ج) تا ته درکړې وای ما به هیڅ نه وای ویلی اوس چه مهربان څښتن ما ته دا بخښلې ده نو ستا حق پکښې نشته» علی خان حاکم د سلطان حضور ته دا موضوع ولیکله سلطان ځواب ورکړ :

«ته څوک ئې چه په شیخ محمد اړه لري ؟» شیخ محمد چه داوار ویدله څه د سرو زرو هغه لوښې ئې چه د( ذوالقرنین)نوم پر کیندلی ؤ د سوغات او بلکې په توګه د خزانې د نورو شیانو د نوموړو شمیر سره د سلطان دربار ته ولیږل او هیله ئې څرګنده کړه چه «دا نور موندلی شیانو چیرې تحویل کړم ؟» سلطان په ځواب کښې ورته وویل :

«دا نور له ځانه سره وساته زه او ته: وارو مجبور یو چه د خدای په مخ کښې به حساب ورکو او دا د خدای ملك دی هرچا ته چه ئې ورکوي ورکوي ئې!!» (۲)

۳ - سلطان چه به لا چا ته د یوه تاکلی مبلغ جاګیر ور بخښلی ؤ که به د هغه جاګیر حاصلات تر هغه تاکلی مبلغ زیات شول دا دوډوچه د مالیاتو دفتر به سلطان ته خبر ورکاوه ، مګر سلطان له هیچا څخه زیاتی حاصلات نه اخیستل او دا به ئې په ځواب کښې تل ویل : «دا د ده خپل نصیب دی !».

نقل کا : چه سلطان یو وخت( ملك بدرالدین بهیلم ) ته داوو لکو تنکو

---

(۱) غالباچه د دولت خان لودی مشرزوی علیخان به وی.

(۲) مرقع افغان ۱۰۱ مخ د تاریخ داو دی د ۳۹ مخ په حواله

حاصل لرونکي سيمه په جا گير کښې ور کړه مګر د لمړی کال حاصل ئی (نه لکه) تنکي شوی ځکه چه په فرمان کښې (اوه لکه مبلغ) تاکلی شوی وو. ملك بدرالدين د سلطان حضور ته د دوو لکو حاصلاتو د زياتوب عرض و کړ او د امعلومات ئې هم وغوښتل چه (زياتی دوه لکه حاصل چيری تحويل کړی ؟) سلطان چه داواوسته فرمان ئې ورو ليږه «له ځانه سره ئې وساته» ملك بدرالدين) داخيال و کړ چه واڼی امانت ئې د رسره و ساته ځکه ئې نو دغو (دو لکو) زياتی حاصل اروبی د جاګیر په خزانه کښی د سلطانی امانت په نامه کښيښوولي. بل کال د جا گير حاصلات (يو ولس لکه) تنکي شو لي - ملك بدرالدين بيا لکه تير کال د سلطان حضور ته و ليکل:

«سږ بيا څلور لکه حاصلات زيات شوی دی کومی خزانی ته ئې وسپارم ؟»
سلطان بيا فرمان ورو ليږه : «چه د رسره ئې ساته.»

دريم کال حاصلات (پنځلس لکو) تنکو ته ورسيدل جا گير دار ملك بدرالدين بيا د سلطان حضور ته وليکل؛ سلطان دا بلا فرمان ورو ليږه : «دا ټول حاصلات ستا دخپل جا گير دی ځکه ئې څښتن نه ئې هره بلا څله عرض کوی ؟ (۱)»

## مستظرفه صنايع

د سلطان سکندر په وخت کښی د موسيقی له پاره هم يوه دائره وه چه مشرتوب ئې د سيد روح الله او سيد ابن رسول الله د وو ورونو پر غاړه و. کرمو تلی قوال يا موسيقی دان چه به له کومی خوا پايتخت ته راغی د وی د وو ورونو ته به ورته او امتحان به ئې ورکاوه له خورا ليرو ليرو ځايو څخه (سند رغاړی) راتلل او سيد انو ورونو ته به ئې خپل سرودونه ارول. د دغو دوو ورونو خيمه يا ځای به په پاچاهی حکم پاچاهی سراپردی ته نژدی وو ځکه چه کله کله به سلطان سکندر هم په خپل تاتوبی (مقر) کښی د وی له سازه سرودو څخه خوندا خيست او له دې څخه څرګنديږی چه د سلطان په دربار کښی

(۱) مرقع افغان ۱۰۲ مخ د تاريخ داؤدی د ٤۰ مخ په حواله

د سازو سرود هیڅ اجازت نه ؤ.

تاریخ داؤدي هم ایکي : «هسې سندرغاړي چه ـ اري به ئې نه رل هم مجاز نه ؤ چه به پاچاهي دربار کښې زغ پورته کړي» .

مگر هغه وختني حکومت سره بېره پردوم ره ممانعت د دغه فن قدر کاوه لس تنه شهنائي زغوونکي (موزیك) پاچاهي نوکران ؤ چه دشپې یوه پهره به تېره شوه دوی به په واري واري رانلل او خپلې غاړې به ئې زغولې مگر دوی مجبور کړه شوي ؤ چه یوازې به دغه څلور غاړې په دغه ترتیب وهي:

۱ ـ مالکوس ـ ۲ کلیان ـ ۳ ـ نگرا (۱) ـ ۴ حسیني نگرا ـ که به چا کله بله غاړه وزغوله ترتل کیده (۲)

## دلاسي صنعتو ترقي :

ځکه چه دسلطان سکندر زمانه دامن او د اډزمانه وه هر څوك خپلو کار وته خلاص ؤ دغلو هم هغه ارزانی وې چه تر دبره ئي شهرت درلـود نو صنعت (لاسي کارو) هم دنوروشیانو سره ترقي وکړه سلطان پخپله هم دهنرمندانو قدر کاوه دهرفن له پاره ئې امیران او موظفین ټاکلي ؤ چه داهل فن او هنرمندانو آزموینې به ئې کولې او نتیجې به ئې دسلطان حضور ته وړاندې کولې کوم امیران چه دکوموفنونو له پاره کمارل شوي ؤ هغوي به هغو فنونو کښې وتلي او رسید لي کسان ؤ(۳) دلته دنمونې په دول دیوه میاطه پرملي (۴) ځینې لاسي صنایع راوړو:

۱ دسنبهل دمیني په وختو کښې چه جوهر یان دسلطا ن دمر غلې دجوړي له ورمو ندلو څخه عاجزه هول ' میاطه چه دسلا مي له پاره در باره ته ورغلی ؤ

(۱) دامقام د تاریخ داؤدي په ۳۹۹ مخ کښې (کانرا) لیکلي شوي دي

(۲) مرقع افغان ۱۱٤ مخ د تاریخ داؤدي د ۳٦ مخ په حواله

(۳) مرقع افغان ۱۱۳ مخ

(٤) میاطه پرملي دخواجکي شیخ سعید پرملي هنرمندزوي دسلطان سکندر په امر اؤ کښې ؤ.

دا کار پر خپله زمه کړ او د سلطان مرغلرو ئی له څانه سره کورته یووړه سبا ئې دربارته د سلطان مرغلره له بلی جوړې سره حاضره کړه سلطان چه پخپله هم جواهر ښه پېژندل هیښ ور ته پاتـه شو جوهریان ئې را وغوښتل هغو هم د اصلي او جوړې مرغلری توپیر و نه کړای شو میاطه د سلطان په حکم اصلي او جوړه مرغلری سره بېلی کړې جوهریانو ئې بیه ۳۰ زره تنکې و ټاکه او سلطان هم حکم وکړ : چه له خزانې څخه میاطه ته ۳۰ زره تنکې ورکړئ میاطه عرض وکړ د اعلحضرت په برکت زما سره داسې جواهر خورا ډېر دی زه ئې بیه نه اخلم ، سلطان وفرمایل :

که ته بیه نه اخلې زه مرغلره نه اخلم ، میاطه په خورا ادب عرض وکړ :

« دا مرغلره ما پخپله جوړه کړېده څه می نه دی په خرڅ شوی بیه ئی ولی واخلم ؟ »

سلطان هیښ پاته شو او وې فرمایل : « دا به څنګه ځر ګند یږی چه ستا څه نه دی پر لګېدلی ؟ میاطه عرض وکړ چه دا راز به په خلوت کښې د پاچا حضور ته وسپېنم چه خلوت شو میاطه چه هغه مرغلره له سپلګۍ (ابرک) څخه جوړه کړې وه پوښ ورغ ابرک ئې ځنی وا ړول او مرغلره ئې خوره خوره کړل سلطان د میاطه دغه کمال نه هېښ پاته شو زښت ډېر ئې وناز اوه او خورا ډېر بخښښونه ئې ورته ورکړل (۱).

۲ ـ میاطه یو وخت نیلوفر ګلی اښتې (چه هندوانیانی ئې په غوږ و کوی) جوړې کړې وې چا چه به په غوږ و کړې که به ئې سر ته ښوراوه هغو اښتیو د غوټیو شکل درلود او که به ئې سرو ښوراوه د غوټیو خولې به و سپړلې شوې او ژړی د سرو زرو بوراګانی به چه د غوټیو په منځ کښې بندې وې ځنی را وتلې او د هغې ښځې د ستر ګو پر برابر به الوتلې سرچه به ئې و دراوه بیر ته به دغه بوراګانې په هغو سپړلو غوټیو (اښتیو) ننوتلې او د غوټیو سپړلې پانې به سره

---

(۱) د مرقع افغان ۱۷ ام مخ د تاریخ داؤدی د ۰ ۵ مخ په حواله .

و نغښته لمې شوې خولې بسه ئې سره ورغلې او بیا به هغسې غو ته شوی لکه چه وي به (۱)

## د بدعتو مخ نیوی

سلطان سکندر مذهبي تعصب ډیر درلود ده د بدعتو سره کلکه مقابله کوله ښځې ئې د زیارتو له تګه څخه (چه شرعاً روا نه دی) منعه کړی، دده په وخت کښې دا دود ییخي ورك شو او د غازی (سالار مسعود) (۲) پر هدیره چه په (بهرایچ) کښې به هر کال بیرغ اوریده او د هندوستان له لیرو لیرو سیمو څخه به خلق ورتلل او میله به ئې هلته د مذهب په نامه جوړوله پر مخ منعه کړله (۳)

## د سپاهیانو درناوی (عزت)

د سلطان سکندر په وخت کښې سپاهیانو ډیر عزت درلود او پر سلطان خو را ګران وو سلطان د دوی د هوساینې او آرام لپاره زیار یوست او د دوی ستړیا او تکلیف ئې په خوښاوه امیرانو ای هم ده ته کامل او د تر لاس لاندې سپاهیانو سره ئې په خو را او راو پیرزوینه ګذاره کوله سلطان د جنګ او بغاوت دور کولو په قیامت د درست هیواد په ټولو کاو کښې چه څه کلا ګانې وی (٤) بوه هم پری نه ښوه له ټولې ئې ورانې کړلې او د ملك په هیڅ سیمه کښې ئې د ځنګله نوم نه پریښود ځکه چه د غو کلا ګانو او ځنګلو ته به تل سر کښو خلقو پنا وړه امن به ئې ورانا وه او د هیوزلو سپاهیانو وینې به تر مخ خوشې نو ئیدلی (۵) ده د هر سپاهي وینو ته به

---

(۱) مرقع افغان ۱۱۸ مخ د تاریخ داوی د ۱۵ مخ په حوا له.

(۲) سالار مسعود غازی د پیر ساهوزوی د عطاء الله لمسی او د غزنی د ستر تو لواك غازی سلطان محمود د خوربې ؤ په ۴۰۱ ه کال چه سلطان محمود اجمیر ته کومې اینکر ی وکماړلی مشر توب ئې میر ساهو ته ورکړ میر شاهو د اجمیر په سیمو کښې خورا ډیر کا فران ووژل او هلته پسې میشت شو، سالار مسعود غازی په اجمیر کښې په ۴۰۵ ه کال وزیږیدچه نوی ځوان هو خورا ډیری غزاوی ئې وکړی په ۴۲٤ ه کال په بر نده ځوانی شهید او په بهرایچ کښې ښخ شو (خزینته الاصفیا دوهم جلد)،

(۳) مرقع افغان ۱۲۸ مخ.

(٤) تاریخ داؤ دی لیکی چه دغه کلاوی په هغه وخت کښې (مټ کوټ) بللې کیدلې مټ په پښتو پستې خاوری او کوټ کلا ته وایي

(۵) مرقع افغان ۱٤٤ مخ

خورا درنه سترګه کتلی شوی چه په یوه جنګو کښې ووژل شول ده ګړنیو ته به ئې جاګیرونه او تنخواوی ورکولی (۱)

## د سلطان سکندر امن پسندي:

سلطان جنګ نه خوښاوه او دا عقیده ئې لرله چه په جنګ کښې ګټه لږه او زیان ډیر دی (۲) ځکه نو د سلطان زیات جنګونه دفاعي وو سلطان تل دامیرانو او سپاهیانو دا خته کوله چه یا د سر کښیانو او امنیت ورانوونکو ځپلو لره لښکری لیږدولی (۳) ده د ملك نیولو هوس نه درلود او ویل به ئې چه تر څو ئې بدورل چه ډیر به مجبور نه شو جنګ ته ئې لاس نه اغښتای او چه چا به روغه او سوله وغوښتله ده به دستي پر سر منله ده له خپلو ګاونډیو ملکو لکه بنګال، ملتان، کشمیر سره ډیر بد تړونونه لرل مګر سره ددې امن پسندۍ چا چه به سر کښي وکړه او په سمه به لاری ته نه راوښت هغه به ئې ګلك تراته حتی له ملکه به ئې یوست (٤) د سلطان له ۲۸ کالو پاچهۍ سره د ده د جنګو تناسب خورا لږ دی او د مورخینو په قول دا ځکه چه ده له پلاره یو «پاته شوی ملك سکته کړي وه او د نورو ملکو د نیولو فکر ئې نه درلود» (٥).

## د سلطان سکندر لوړ او زړه سوی:

سلطان سکندر هغه پاك زړی پاچا و چه لوړ زړه سوی او پېرزوینه ئې تر ایداد او ترتنی زیاته وه ځینې مجرمین چه به د خورا ګلك ایداد وړ ولا په هم ده زړه پر سوړاو بخښل به ئې د ټول سر کښیان تر قوت او ځپلو په احسان او ښېګڼو به ایلول د ورونړاو خپلوانو سره ئې د ورور ګلوی او عزیزولی سلوك

(۱) خورشید جهان ۸٦ مخ
(۲) مرقع افغان ۱٤۳ مخ
(۳) مرقع افغان ۱۳۵ مخ
(٤) مرقع افغان ۱٤٤ مخ
(٥) مرقع افغان ۱۳۵ مخ

کاوه له خپلو امیرانو سره ئې دروزونکی به ډول ګذاره لرله د پلار دوختو امیرانه ئې به خوراد رنه ستر ګه کتله حتی د دوی تر مخ پر تخت نه کښېښوست دده دغه لور او پېرزوینې دده دپاچهۍ مراندې و غښتلې سر کښېناستې ئې ورته اېل کړل او اېلوامیرانو ته ئې د دښمنۍ او پورته کېدلو مو قع ورنه کړه همدغه سبب و چه دده امیرانو چه هر یوه ئې په توره او مېړانه لښکرې ماتو لې تر ده ځانونه نذری کړل د سلطان دغه دور ور ګلوی سلوک ، تدبیر او دوراندیشۍ وه چه د لېر و لېرو امیرانو ځاګیر دار انو اورا چاګانو دسیسې او بغاوتونه ئې په غار ننه ایستلې ؤ او هیچا سر نه شو پورته کولای .

دسلطان دلور او پېرزوینې ځینې ښکاره مثالونه دادی : —

۱ ـ دسلطان بهلول تر پورې (عیسی خان) دسلطان سکندر د تخت نه ختلو مخالفت وکړ سلطان چه پر تخت کښېښنوست لښکرې ئې پسې ورو بهولی چه بری ئې پر و مو ندو ئې با خښه او دپټیالې حکومت ئې بېرته ور کړ

۲ ـ شهزاده عالم خان (سلطان علاؤالدین) ورور ئې په ۸۹۴ ه کال ور نه پورته شو تر ما تې وروسته ئې پخلا کړ داتا وې حکومت ئې ور و سپاره

۳ ـ شهزاده باربکشاه ورور ئې په ۸۹۵ ه کال په جونپور کښې دمخالفت نغاره وډنګوله سلطان سکندر پسې وروړت په (بداېون) کښې ئې کلا بند کړ باربکشاه چه وسله کښېښوه بېرته ئې هغه دجونپور واك ورو سپاره . (۱۰۰۰ نه

٤ ـ (دسلطان دعمه زوی) شیخ محمد پرملې دباربکشاه مل شو په جنګ کښې چه بندی سلطان ته راوستل شو سلطان له آسه ورنه کښېته شو په غېږ کښې ئې ونیوئې نازاوه تر بری وروسته ئې بېرته د (بهرایچ) حکومت ور کړ .

۵ ـ شهزاده فتح خان ورور ئې په ۹۰۵ ه کال ځینو امیرانو ور ته پورته کاوه سلطان هغه امیران لیرو لیرو سیمو ته سره مقرر کړل نور ئې څه ورنه وله ویل او شهزاده فتح خان ئې داده کړو ئې نازاوه .

۶ - پر شهزاده جلال خان په ۹۰۹ هـ کال بدگمانه شو حکم ئې وکړ چه بندي ئې کړی مګر شهزاده جلال خان چه غاړه ورته کېښوده کړه دپرئې ورته زاوه (۱۲۰) آسونه (۱۵) پیلان د بیري نقد او جنسي بخښلي ونه ئې ورکړل او بیرته ئې د (کالپی) جاګیر ورو باخښه ·

۷ - علي خان ناګوري چه په ۹۲۲ هـ کال د سلطان پر ضد شهزاده دولت خان د (رنتهمبور) د کلانه سپارلو ته ولمساوه سلطان له علي خان څخه د (میو پور) حکومت واخیست دده پلورور (ابابکر) ته ئې ورکړ ده ته ئې نور هیڅ ونه ویل او نه ئې بیا شهزاده دولت خان ته د کلا د سپارلو خبره پرخوله راوړه ·

مګر سلطان سکندر د دومره لوراوی پیرزوینی سره پر امیرانو دومره ضبط ؤ چه دده ترمخ ئې ساه نه شوای کښلای نکل کا : یو وخت چه سلطان پر (میامحمود پرملی) په قهر شو جاګیر ئې ځني واخیست (میامحمود ابلی اناګور) ته ولاړ مګر د سلطان اتالیق او خوراورتیر امیر د میا محمود پلار (شیخ سعید پرملی) ئې زیرمه وبه کړ ای شو ای اوتر څو چه سلطان ژوندی وه ونه د ځپل زوی دراغوښتنې له پاره ئې هیڅ هڅه ونه کړه(۱) او نه ئې دده نوم د سلطان په مخ کښې پرژبه راوړ ·

## د سلطان سکندر سخا

سلطان سکندر دومره په لاس کښې خلاص اوسخی سړی ؤ چه هیڅوک هیڅکله دده له دربار ه نا هیلې نه دي تللي(۲) که به څوک دده دربار ته فقیر راغی هر و مرو به امیر ځني ته هر څوک چه به نوی ورته راغلل ده به ئې د کور نی حیثیت او اصل و نسب پلټنه کوله او بیا به ئې په هغه اندازه مرسته ورسره کوله اودی به ئې هغه خپل کورنی ورځخه تللی حیثیت ته رساوه د سلطان داد ودؤ چه په کال کښې به ئې دوه پلاد تول هیواد فقیران او محتاجان

(۱) مرقع افغان ۱۰۹ مخ
(۲) مرقع افغان ۱۰۴ مخ

شمیرل او بیا به ئې له پاچاهی خزانې څخه د یری د یری روپۍ د هیواد هر ښار او هری سیمې ته دخو تنو دیندارو امیرانو پلاس لیږلې او هغو محتاجانو ته به ئې دشپېږو شپېږو میاشتو خرڅې ورکاوه پدې توګه به دلیرو لیرو سیمو مستحقین هم له پاچاهی سخا او ورکړې (دادودهش) څخه نا امیده نه یانه کیدل پخپله د پایتخت په شاو خوا کښې هندوانو او مسلمانو مستحقینو ته هر روځ ازمه او باخه خواړه او په هر ژمې کښې به د هر دین او مذهب تو او فقیرانو ته تاوده کالی حتی شالونه لا ور کړه کیدل سلطان د هري جمعې تر لمانځه وروسته په اختر و دو ونسمو دهو او دروژې په میاشتو کښې هره ورځ او د سوبو په ماله هر وخت محتاجانو ته خورا درانه خیرانونه ور کول په اختر و ده (عشوره) او دوولسمه ئې بندیان خوشې کول او مالي مرسته به ئې ورسره کوله ددین لوبانو ته ئې تنخواوې نا کلې وې چه تر مرګه به ور کولې کیدلې په درست هیواد کښې چه څه مسجدونه وو ټولو ته خطیب امام مؤذن او جاروکښ مقرر شوي ؤ او مناسبې تنخواوې ور ټول شوي وې چه له پاچاهی خزانې څخه به ور کولی کیدلې د شوری مجلس دغړو کورونه له پاچاهی دسترخوان څخه هر ورځ پوخ پوخ خواړه ور لیږل کیدل که څه هم د شورې غړي به په خاص محل کښې پر دستر خوان حاضر ؤ بیا به هم دوی مجازنه ؤ چه پر پاچاهي دستر خوان یو ډوډی وخوري بلکه کورونو ته به تلل او ور لیږل شوی خواړه به ئې له خپل کهول سره خوړل (۱)

چا نه چه به ئې څه معاشونه او جاګیرونه ورونا کل نو مرګه پوری به ئې نه ځنې ګرز ول مګر کوم درو یا درغل به ځنې څر ګند شو (۲) او کوم چا ته چه به ئې کالي او خلا تونه ورونا کل هغوی ته به هم د ژوند تر پایه ور کول کیدل لنډه ئې داچه مؤرخین دامنې چه د سلطان سکندر په وختو

(۱) مرقع افغان ۷۹ مخ د تاریخ داؤدی په حواله

(۲) لکه دمیا ملی واقعه چه په قضا یې نظام او فعالیتو کښې مور لو ستله

کښې دور کړي سخا او خیراتو دا حال ؤ چه په بل وخت کښې به ئې مثال په سختۍ سره لاس ته راځي دسلطان سخا پر نورو دومره اغیزه کړې وه چه هر امیر او بډای به په خیرات او ورکړه کښې تر بل دوړاندې کېد او زیار یوست او سیالي به ئې سره کولې پر سلطان هم پخپله هغه امیر زیات گران ؤ چه د غریبو او بېوزلو سره به ئې زیاتې مرستې کولې کله چه به د کوم امیر دسخا حال ورغی وبه ئې فرمایل: «داسې بنسټ (اساس) ئې نه دی ایښې چه له هغه څخه دې یو وخت هم ده ته زیان ورسي»

دسلطان سکندر زمانه په سخا او ورکړه کښې مشهوره ده د ده دځینو امیرانو د سخا څو بلگې لاندې راوړو.

## ۱- دمیا محمود پرملی سخا:

سلطان یو وخت خپل یوه امیر (میا محمود پرملی) (۱) ته خپل یو خورا وتلی آس ورو باخښه ځکه چه سلطان ته دده دا عادت معلوم ؤ چه چاچه به څه ځني وغوښتل هرومرو به ئې ورکول او د هیچا غوښتنه ئې نه ردوله نو ئې دآزموینې له پاره ورته وویل: «بل چاته به ئې نه ور کوی» څو ورځې پس یو بېوزی خرڅونکی (یکه فروش) میا محمود ته ورغی او هغه یا چا هې آس ئې ځني وغوښت میا محمود په خورا کېزه غاړه ورته وویله: «یا چا حکم راته کړی دی چه دا آس چا ته مه ور کوه زه به دغه آس پر ځای دوه دری نور وتلي آسونه درو بخښم» غوښتونکي (سائل) ونه منل (ځکه چه پاچا پخپله د میا محمود آزموینې لره گمارلی ؤ) پر خپله خبره ټینگ ودرید، پای ته چه ته میا محمود ته ئې وویل:

«که ئې راکوې دغه آس په سر سره غواړم بل کرت نه منم ستا سره چه د پاچا دخبرې دومره فکر شته دسائل دزړه او ناهیلۍ په څه فکر و کړې؟ خو دا آس به یو وخت ومري او ته به لاس ونه هغه وخت پر له ومېږي چه ولې مې د یوه سائل زړه په ښه نه کړ.»

---

(۱) میا محمود دخواجگی شیخ سعید پرملی زوی دی.

میا محمود پسې ورزغ کړه «څه چه خدای کړي وي هغه به وشي ته آس بوزه زه د سایل غوښتنه له شمر نه دولای» سبا چه سلطان سکندر د سانگي ډاگ ته ته (میا محمود) هم ور سره ؤ که گوري چه هغه بیوزي خرڅونکي هم په پاچاهي سپرلی کښې پر هغه آس سپور دی سلطان هغه سپور را وغوښت او وې پوښتید: «آس دې له کومه کړی دی؟».

د سپاره په ځواب کښې ور ته وویل:

«د سخي میا محمود کور دې نه ورانیږي دا د هغه بخښښ دی چه پاچائي له ور کړي منعه کړي ؤ»(۱) سلطان چه دا واورېدل د میا محمود اور ته ئې و کتل او څه ئې و نه ویل:

## د سید خان سخا

د مبارك خان لودي زوی (سید خان) تر هغه وخته ډوډۍ نه خوړله چه تول ور معلوم وږي او فقیران به ئې ماړه نه کړل او دا ئې دود ؤ هر وږي ته چه به ئې ډوډۍ ور کړه یو یو طلا ئې هم ور سره ور کوله نکل کا چه یوه روځ چا سید خان ته وویل: «د شیخ محمد پرملي پخواني وکیل چه په دربار کښې به او سید د زمانې ناوړو پېښو د فقر حال ته رسولی دی» ده سمدستي سړی پسې ولیږه او خپل خزانه دار ته ئې وویل چه یوه ډکه لپه طلا وې ور کړه خزانه دار چه ډکه لپه طلا وې راوړې محاسب وشمیرلې د پنځوسو زرو تنکو په بیه طلاوې شوې خزانه دار پدې فکر چه دا خورا ډېر مبلغ دی سید خان ته ئې وویل: سید خان حکم ور کړ «د غومره نورې پسې ور کړه چه یو لك تنکې بشپړې شي»

وائي کله چه سید خان پخپل جاگیر (چند بری) کښې ؤ یوې ښځې په یوه غاب کښې د (نیم)(۲) تاندې شنې پاڼې ور ته راوړلې سید خان ور ته وویل

---

(۱) سپاره د پاچا په ځواب کښې دا هغه بیت و وایه دان کیو محمود نې-جو کاهرج رهاسلطان (مرقع افغان ۱۰۷ مخ).

(۲) د (نیم) دونې میوې ته په پارسو (مرگ ماهي) وائي

«داځه کوی؟» ښځې ورته وویل: ما دغه یانې دغسې یخې کړې دي چه تر یخوالي ئې تللی٬ دی د سابو په شیر خوند کوي مګر ښه ئې هغه شنه داو موالی ښه ده «سید خان اشکی (آفرینونه) ورته وویل او غاب ئې له طلاو رډك کړ وائې یو وخت (سید خان) ښکار ته تللی ؤ یوه بز کر یوه کټوه مستې ورته راوړې سید خان ډیر ځنې خوشحاله شو او دده کټوئی له طلا ورډکه کړه تکل کا چه یو وخت سید خان خپل آسونه کتل ده ده مصاحب امیر (سربنی صدر خان) هم ورسره وه لمړی آس چه ئې ورته راوست سید خان خپل مصاحب ته مخ راو ګرزاوه: «داځنګه آس دی؟» صدر خان ئې ډیره ستاینه وکړه سید خان دستې حکم وکړ:

«دغه آس دصدر خان سربو ته وسپاری» پدغه ترتیب تراتو آسو پورې به دسید خان دپوښتنې: «ځنګه آس دی؟» په ځواب کښې صدر خان هغه آسونه ستایل او سید خان به حکم کاوه چه «د صدر خان سربوته ئې وسپاری» صدر خان پر نهم آس ستاینه پرې ښوده او دسید خان د «ځنګه آس دی» د پو ښتنې په ځواب کښې ئې وویل: «بخښښې تر حد زیاتې شوې٬ سیدخان د کمند و مشر و پو ستېد:

«نن دې څو آسونه معاینې (کتنې) لره راوستلي دي؟» هغه وویل: (پوسلوشل) سید خان و مسل او وی ویل: «صدر خان د یوه یره آس مننې ترهوره کړد نن تول آسان مې صدرخان ته ور بخښلي دي» (۱)

یوه ورځ سید خان خپل جواهرات کتل دری دانې جواهر ئې مخې ته پراته ؤ چه ډیوه بیه (اوه) د بل دا (پنځه) او ددریم دا (درې) لکه تنګې وه په دغه وخت کښې د سید خان فکر شو چه یو مصاحب ئې په ځیر ځیر دغو درو دانو جواهر و ته ګورې.

سید خان ور ته وویل: «رښتیا وایه چه کوم ډېره دی په دغو کښې خوښه شوه٬ چه تا ته ئې درو بخښم» مصاحب ئې ځواب ورکړ: «یوه مې لا نه ده خوښه شوې»

---

(۱) مرقع افغان ۱۱۱ مخ

سید خان ورته وویل: اوس ئې خوښه کړه مصاحب تر ټولو ارزانی د بری ته لاس ونیو . سید خان ومسل او وې ویل «ارزانه دبره تا غوره کړه او ګرا نه زه در کوم منځنی یوازې یا نیږی هغه ئې هم بسی ستا

## ۳ ـ د اعظم خان سخا

داعظم همایون زوی مددخان چه (اعظم خان) لقب ئی درلود خورا میره لحلمی امیرو محتاجا نو ته ئی له رو پو او طلاؤ د کی همیانی ور کولی ده دادو دؤ سوغا تو نه او تحفی چه به (نقد و جنس) ور ته راو ړې شوې هرڅوك چه به و رسره نا ست ؤ هغو ټولو ته به ئې برخې ورکښې ورکولې وائی د سا ړو په وختو کښې (اعظم خان) دوشاله پر اوزو کوله بوه ورځ چه به ئې پر اوزو کړه سبا به ئې هرومرو چاته ښندله .

تاریخ داؤ دی لیکی :

« اعظم خان چه په سفر اوسانکه کښی چا ته آس ور کړ بیائی خپلی طبیلې ته نه پری ښو د هغه آس د هغه سری ؤختې خورا که به بې هم که ئې غوښته) د ده له خوا ور کوله کېدله » (۱)

## د سلطان سکندر کرامات

مو رخینو د سلطان سکندر په باب کښې ځینې داسی خبری لیکلی دی چه عقل به ئې په مشکل سره منی ځکه نو ځینې خلق ئې د سلطان کرامت ګڼي او ځینې ئې اغراق او مبالغه بولي (۲) ځینې دغسي پیښې ئې دلته اجمالاً راوړو :-

۱ ـ په ۱۱٤ هـ کال چه سلطان دانبکرو سره د (نرور) له سو بې څخه ګوالیار ته راستون شو پرلاری د ګرمی او تندی له لاسه د سپاهیا نو ژبی راو ختلی هیڅ لور ته داو بو څرك نه ؤ سلطا ن چه دا حا ل و لید لاس ئې خد ای پاك ته په دعا پورته

(۱) مرقع افغان ۱۱۲ مخ

(۲) مرقع افغان ۱۳۱ مخ

کړ، ده دلاس دیورته کېدلو سره او ریږ راغله باران واوریدو او تول «تبزی او به شول (۱)

۲ـ به ۹۰۰ه کال چه سلطان سکندر له شرقي سلطان حسین سره د(جونپور) یا (بنارس) په اتلس کروهی کښې جنګید . د سلطان حسین یوه مست جنګی پیل سلطان سکندر له آسه څخه په شوندیك کښې واخیست او له دا که ئی را وو بشت د هرچا دا خیال ؤچه هیڅوک نه به ئی ریزمریزه شوی وی مګر په سلطان هیڅ ونه شوروغ رمی رایا څپد هغه پیل ئي په تو ره وواهه پیل به را مبارو تر شا تر پلل او همدغه پیښه دسلطان حسین دماتی سبب شو ه (۲) .

۳ـ به ۸۹۷ه کال دجونپور په دوهم جنګ کښې سلطان سکندر دسلطان حسین شرقی ستاځی (میران سید خان) تهوویل :

«سبا به په جنګ کښې ستا پاچا (سلطان حسین) ماتي وکړی او ته به بندی ونیول شي، ماته به دې ودروی اوزه به درته ووایم چه که مو خپل پا چا سمی لاری ته را اړولی وای ښه به ؤ

سبا به دسلطان دغه خبره تکي به تکي وختله ( ۳ )

٤ ـ بخـا ری شیخ حاجی عبدالوهاب (رح) چه دسلطان پیر او د خپل وخت خورا منلی باعمله عالم ؤحج ته تللی ؤ یوه ورځ سلطان خپل امام منلی عالم شیخ لاون (دانشمند) ته وویل :

«ز شیخ حاجی عبدالوهاب له بیری څخه دهندوستان پر خاوره کښېنه شو» شیخ لاون دانشمند له ځانه سره هغه نیته وایکله شیخ عبدالوهاب چه اکري ته راغی شیخ لاون له بېری څخه د را کښېنه کېدلو نیته ځني وپوښتېدله . شیخ عبد الوهاب چه کومه نیته وروښوو له کټ مټ هغه نیته وه چه سلطان ورته ویلي وه (٤)

---

(۱) خورشید جهان ۸٦ مخ

(۲) خورشید جهان ۸۳ مخ

(۳) مرقع افغان ۱۰۲ مخ .

(٤) مرقع افغان ۱۳۱ مخ

۵ - سلطان یو وخت د (اعظم همایون) په مشر تابه لښکری د( تهټهه )- ته ولېږلې (او یا) ورځې وشوې چه سلطان ته دغو لښکرو حال رانه غی بوه ورځ ئې د (اعظم همایون) زوی فتح خان دپلار له حاله و پوښتید (فتح خان) په خوراوارخطایی ځواب ورکړ-

«اویا ورځې وشوې هیڅ حال ئې نشته»

سلطان وفرمایل:

«نن له «نیراګه» راستون شو په څو ورځو کښې به راور سېږی»

لږې ورځې وروسته چه دپلار لیك (فتح خان) ته راورسېد، له (نیراګه) څخه ئې د خپلو څو ځېډ لونېږه دسلطان نېږه شو ولې وه (۱)

۶ - یو وخت له پاچاهی طبیلې څخه آس ورك شوی ؤ، څو ورځې وروسته د( اکرې) کوتوال (محمد زیتون) دهولپورته نژدې غل له آسه سره ونیو، غل په پاچاهی توقیف کښې کښېنول شو، درې روځې وروسته په دغه ترځ کښې چه سلطان عام دربار ته راووت لوانې خانخانان کوتوال ته وویل: «غل دې د لته ولې کښېنو لی دی؟ بوئې زه وئی وژ نه» د خانخانان داحکم لانه ؤعملی شوی چه سلطان راووت او خانخانان ته ئې مخ وراړا وه:

«هغه وخت دغله وژل روا کېدلای شی چه لاری نیسی او یا په کوم کور کښې د کور په له لاسه ووژل شی - دا غل چه پاچاهی دربار ته راغلی او ما هم خپل مال ځنې اخستی دی، دده د وژلې حکم ور کول عجیبه مسلمانی ده؟».

خانخانان چه دسلطان داله نیاو انصاف او رحمه د که وینا واورېده عرض ئې وکړ «زه پرخپل حکم پښېما له یم، پاچا د کرامت چښتن دی ځکه پاکزړی پاچا نه زما هغه خبره څرګنده شوه چه څو دقیقې د مخه مې یو ځای کوتوال ته وویل او بل هیڅوك په خبر نه ؤ» (۲)

---

(۱) مرقع افغان ۱۳۲ مخ
(۲) مرقع افغان ۱۳۳ مخ

۷ - وايي چه دوبی د خپلي ښکلي ماينې سره دا کړي و چه ښار به نيا مت له چنديري (۱) څخه راوخوځېږد د کلي چمان چه په خبر شول بښتو ئې بسې لا مچ کړې په لار کښې ئې لاندې کړل دوبی چه د کلي چمان به ځان بسې وليدل ماينې ته ئې وويل :

« راځه چه ستنېږو، بېدیا اوشپه په مخ کښې ده او ددې چمانو نيت ښه نه را ته ښکاري» دوی چه د ستنېدلو اراده وکړه چمانو ورته وويل :

« مونږ هم ښار ته ځو سره ملګه به يو بېره نشته » .

دوبی ورته وويل : « مونږ به تاسې ويسانه لرو» .

چمانو دخدای تضمين منځ ته راووړ، دوی هم ويسا په وکړه او مخ پر ښار سره روان شول چه لږ تياره شوه اوله ودانۍ لېرې شول چمان پر را وغورځېدل دوبی ئې په وینو اوبه کړ او ماينه ئې غوښتله چه وې تښتوی دې بي وزلي شاؤ خوا کتل هېښه ولاړه وه چما نو ورته وويل :

« څه ګوري؟ مېړه مودی په وينو ور نګاوه ته اوس زمونږ شوې راځه چه ځو»

دې بي وزلې ورته وويل :

« زه به ضامن بسې ګرزم »

چما نو لاس ورواچاوه چه نا ببره دوه په وسلو بټ سپاره ښکاره شول چمانو تر يلل يوه سپا هي آس بسې يونده کړ تول ئې سره وتړل او وځغل، دا بل سپور ښځې ته ولاړ ؤ، هغه سپاره چه د مجرمانو له ځبلو څخه فراغت موند د ابل سپاره ته راغی او په احترام وډر يد - دواړو دوبی ته دعا وکړه اوهغه هم روغ زمی را پاڅېد،

بل وخت چه دوبی اوما ينه ئې پاچاهی سپرلو ته ولاړ ؤ سره چيغی ئې کړې هغه دوه غيبی سپا رو ئې سلطان او ملك ادم کا کړ وبلل (۲) او قسمو نه ئې اخيستل .

---

(۱) تاريخ داؤدی ٦٥ مخ

(۲) مرأت الا فاغنه (مخزن افغانی) طبقات اکبری لومړی جلد او تاريخ داؤدی

# دسلطان سکندر اولاده

سلطان سکندر څو ښځې درلودې يوه ئې دشهيد شير خان لوڼه او رېا کونډه وه چه په ۸۹۹ ھ کال ئې وکړه او په ځامنو کښې شپږ تنه ئې ښکاره شوي او نورو پاتې دي. خو لږو لږه ئې را څرګندې دي :

## ۱ــ شهزاده ابراهيم خان

په ۹۱۱ ھ کال چه سلطان سکندر پر ګواليار بريد کاوه دچنبهل دسين پرغاړه ئې لښکرې دده او وروړ ترمشر تابه لاندې پرېښودلې شهزاده ابراهيم دسلطان سکندر ترمړګ وروسته په ۹۲۳ کال دا ګرې پر تخت کښېناست او دسلطان ابراهيم لقب ئې غوره کړ ـ بابر مغل دده لهلاسه څخه په ۹۳۲ ھ کال پاچهي وګټله.

## ۲ـ شهزاده جلال خان

په ۹۱۱ ھ کال دچنبهل دسين پرغاړه سلطان سکندر ددړه اولښکرو مشر تو ب ده او وروړ (سلطان ابراهيم) ته وسپاره دپلار ترمړينې وروسته د(جونپور) پر تخت کښېناست دسلطان جلال الدين لقب ئې غوره کړ مګر ډېر ژر دخپل سکني وروړ (سلطان ابراهيم) لهلاسه ووژل شو.

## ۳ـ شهزاده محمود خان

دپلار ترمړګ وروسته سلطان ابراهيم په (هانسي) کښې بندي کړ دسلطان ابراهيم تروژلي وروسته ئې دبابر مغل سره جنګ وکړ په ماتې (بهار) ته ولاړ هلته ئې په ۹۳٤ ھ کال د(سلطان محمود) نوم پرځان کښېښود په ۹۳۷ ھ کال ئې له مغل همايون نه ماتې وکړه بنګال ته ولاړ په ۹٤۹ ھ کال په اوړېسه کښې ومړ.

## ٤ـ شهزاده اسماعيل خان

دسلطان ابراهيم په پاچهي کښې په (هانسي) کښې بندي ؤ

## ٥ـ شهزاده حسن خان (۱) یا حسین خان (۲)

دسلطان ابراهیم په وختو کښې په (هانسی) کښې بندی ؤ

## ٦ـ شهزاده اعظم همایون

د سلطان ابراهیم په وختو کښې په (هانسی) کښې بندی ؤ

## دسلطان سکندر ددربار امراء

مرقع افغان لیکی : دسلطان سکندر دوختو امراء دومره زیات دی چه د ژوند حالات ئې په ځو کتابو کښې نه ځائیږی ځکه ئې نو دیوځو ورتېر و امراؤ پر لنډه تذکر سکته کوو .

## ۱ـ خوجگی (۳) شیخ سعید پرملی

دشهزاده گی په وختو کښې دسلطان سکندر اتالیق او سرکاری دفتر دار او په یا چهی کښې ئې ورتېر مشر او نکته دان وزیرؤ دده فهم اوفراست هرچا مانه دسلطان ابراهیم په وختو کښې ومړ .

## ۲ـ میا طه پرملی

دشیخ سعید پرملی زوې ؤ دسلطان سکندر په امراؤ کښې خوراستر هنرمند او په هرفن کښې ونلی امیرانو میا لی عالم ؤده دسلطان سکندر دیوې وتلی مرغلرې جوړه وله ابر کوشخه هسی جوړه کړې وه چه سلطان برتېر وتل او توپیر ئې ونشو کولای ـ دی دسلطان ابراهیم په وختو کښې ومړ ، مورخین وائی چه میاطه په کمیا اوسیمیا کښې هم لاس درلود ده صناعی او کاریگر ی کښې ئې دومره کمال درلود چه

---

(۱) مرقع افغان ۱٦۸ مخ

(۲) تاریخ فرشته لومړی جلد ۱۸۹ مخ او شوکت افغان ۳ جلد ۵۲ مخ

(۳) مولانا خواجگی دشیخ نصرالدین (چراغ دهلی) لهورتېرو خلفا ؤ څخه ؤ د مولانا معین الدین عمرانی څخه ئې لوست کړی ؤ دهغو وختو لوی ملادا براهیم شاهی فتاوی مولف مشهور قاضی شهاب الدین غزنوی دولت ابادی ئې شاګرد دی . مولانا خواجگی دګوډ تېمور تر ناتار دمخه له دیلی څخه (کالپی) ته ولاړ او هلته په ۸۱۹ هـ کال ومړ (خزینته الاصفیا لمړی جلد ۳۷۸ مخ ) نبائی شیخ سعید دغه مولانا خوجگی ته منسوب وی،

پخوا پخوا او وتلو وتلو کار پکړو ئې مقابله نشوای کولای دده دهنرمندئ کارنامې دومره محیرالعقولې دي چه ځینې خلق ئې تش افسانې گڼي (۱)

## ۳ - میا حسین پرملی:

دخواجگی شیخ سعید زوی ؤ ده دتذکره سپاهي توب سره سمبه علم هم درلود، په امرئ سر کښي د (سهارن) او (چتار) جاگیردارؤ بیا دسلطان سکندر دفوځو سپهسالار شو سلطان ابراهیم ئې په مرگ پسې شوچه تولې تو طیې ئې ناکامې شولې، نوئې په پای کښې دمالوي د (چندیري) جاگیر ورکړ، هلته ئې شیخ زاده گان پرورپورته کړل او هغو په خورا ښېر حمې وواژه،

وايي ده پر ژ کندن دخپل وکیل خراسان علي حسن په لاس سلطان ابراهیم ته دا پیغام ولیږه «زما په زړه کښې نا ته دروه و درغل نه ؤ، خو ستا په زړه کښې کینه وه زه دایم مرم او ته هم را پسې ئې زما و ستا نیاو (انصاف) به دعادل څښتن په مخ کښې وسي!

## ٤ - میامحمود پرملی:

دشیخ سعید خواجگی زوی دی دسلطان سکندر یو فقیر مشربه متوکل او خوراسخي امیرؤ، دهیڅ فقیر غوښت ئې هیڅکله نه رد اوه، میا محمود ذ ښت درونډ خورا زغمونکی او کلك سړی ؤ یو وخت چه سلطان سکندر ورته په قهر شوده ئې څه پروا او نه کړه او وې ویل: «پاچا که ناراضه شي دومره درنه خبره نه ده خدای دې نه ناراضه کیږي» میامحمود د سلطان ابراهیم په وخت کښې لاژوندی ؤ.

## ۵ - میابهو اوزیر:

دخواص خان زوی (میابهوا) دسلطان سکندر د پاچهي و تلی یو اوغوره عالم امیرؤ. یو وخت دسلطان خاص حاجب ؤ، بیا سلطان سکندر دا کړې د پای تخت دمرافعې قضاور سپارلې وه او پردې سربیره ئې ددولس کسیز پاچاهي نیاو ځی (عدالتي محکمې) مشر توب هم پرغاړه ؤ او د ټول هیواد دعدل دوزارت چارې ور پورې تړلې وې

---

(۱) مرقع افغان ۱۱۵ مخ

شیخ جمالي د ده په باب کښې لیکي :

«میا بهوا وزیر په ځیرکۍ او کاردانۍ کښې سارې نه درلود د پاچاهۍ ستنې په ټینګښت وې علماء او فقیراء ئې روزل» (۱)

میا بهوا په ۹۰۸ ه کال د سانسکریت له مختلفو کتابو څخه خورا مستند او جامع طبي معلومات راعوند کړل او «طب سکندري» ئې ونوماوه ( )

د ده د فراست په باب کښې نقل کا :

یو وخت سلطان سکندر په حرمسرای کښې د لمنځه پر مسله (جای نماز) ناست ؤ په اشاره ئې له خواجه سرا څخه څه وغوښتل خواجه سرا په و نه پوهید خو خبره ئې ورغبر که نکرای شو ای د ماندي راووت میا بهوا ته ئې (چه هغه وخت خاص حاجب ؤ) حال ورواېه میا بهوا ورېښتید «د سلطان مخ د اشاري په وخت کښې کوم لورته ؤ ؟»

خواجه سرا ورویل: «د نوې و دانۍ دوره لورته»

میا بهوا ورته وویل: «سلطان نجار او رنګمال غواړي»

خواجه سرا هم سمدستي نجار او رنګمال د پاچا مخې ته ودرول پاچا سکندر په خورا حیرت وپوښتید: «څه وپوهیدي چه زه د وی غواړم»

خواجه سرا حال سرتر پایه ورته عرض کړ او پاچا د میا بهوا پر فراست آفرین ووایه دا ځیرك او پوه وزیر د مغرور سلطان ابراهیم په پاچهۍ کښې تر دوه کاله بند وروسته په زندان کښې ومړ د ده مرګ د لودیو د پاچهي ستنې وارزولې .

## ٦ـ خان خانان دلاور خان:

د میا بهوا وزیر زوی دی، د سلطان سکندر په وختو کښې امیر ؤ، سلطان ابراهیم چه ئې پلار بندي کړ د پلار منصب جاګیر او د دارالعدل مشرتوب ئې ده ته وسپاره

(۱) سیرالعارفین

(۲) داور نیټل کالج میګزین څخه

دلاور خان خورا په لاس کښې خلاص بدال سړی ؤ وائې ده حرمسرای ته دوزخې د پنځه سوو (۵۰۰) ننګو ګلالان رانيول کېدل (۱)

## ۷- کالاپهاړ:

شيخ زاده محمد چه په کالاپهاړ (تورغره) مشهور ؤ د عمادخان پرملي زوی او د سلطان بهلول خوريي دی، د سلطان ابراهيم لودي ملکه ده لوروه (۲)

د سلطان بهلول په ژوند د بهرايچ (۳) واکمن ؤ. پا (۸۹۶) ه کال کښې د بار بکشاه مل شو د سلطان سکندر سره قنوج ته ورغی و جنګېد په جنګ کښې ونيوه شوه مګر سلطان سکندر وبا خښه او ډير ئې ونازه وه، د جونپور ترنيولو وروسته ئې بيرته د بهرايچ حکومت ورو سپاره. د سلطان د مرينې په وخت کښې، د لودي (او ه) حاکم ؤ. سلطان ابراهيم چه پر خپل ورور سلطان جلال الدين بريدو کړ او ابنګړي ئې د جونپور لور ته وبهولی شيخزاده کالا پهاړ د سلطان ابراهيم مخې ته راغی.

## ۸- اعظم همايون: (٤)

د سلطان سکندر د وخت خورا ورتير امير ؤ او د (امير الامراء) لقب ور کړ شوی ؤ يوه پلا په ۹۰۱ ه کال د لکهنو تی (بنګال) د مغی برخې چه د سلطان سکندر په لاس کښې وه حاکم ؤ. بيائې د (کړي) واک ور و سپاره د بهار د لتي (درويش پور) ئې جاګير ؤ دې ډير و فادار او پرملک او پاچا مين مير ؤ.

سلطان ابراهيم د ګواليار له جنګه بيرته را وغوښت سپک ئې کړ او په زندان کښې ئې وا چا وه وائې چه: دده ورتيرو دوستانو زيار و هوست چه دی د پاچا

---

(۱) مرقع افغان (۱٦۲) مخ
(۲) خورشيد جهان (۱۰٦) مخ
(۳) بهرايچ د (اوده) په لته کښې ديوي سيمې نوم ؤ
(٤) مرقع افغان ئې نوم احمدخان ليکی او د خانجهان لودي لمسی ئې بولی مګر تاريخ فرشته، خورشيد جهان او شوکت افغانی ئې د پرملي خان خانان لمسی بولی او نوم ئې خسروخان ليکی احمدخان، سليمان خان او داؤد خان (ملک داؤد) ئې کشران ورونه بولی مګر معاصر ليکونکی مغل با بر ئې د بابر نامې په ۲۰۱ مخو کښې سرواني ليکی او دا خبره ترټولو معتبره ده

په لو مه کښېښو زی اوله ګوا لیا ره وړنه شی ځکه دوی پو هیدل چه دا بلنه یوه توطئه ده خوده جواب ورکړ :

« موږ د سلطان ابراهیم دپلار او نیکه له پاره ځانونه قربان کړی دی څو مره چه ژوند تا کلی ؤ هغو مره ژوندی و کړتر تا کلی ژوند زیات نور ژوند نشته ما کومه ګناه نه ده کړې که می وژنی که می پرېږدی دا ده کاردی دخدای خواب به دی ورکوی زمایه شرافت اووفا کښې خوهیڅ توپیر نه دی راغلی »

داعظم همایون دسلطان ابراهیم په زندان کښې ستر ګی له دنیا پټې کړی

## ۹-وزیر فتح خان

اعظم همایون زوی فتح خان دسلطان سکندر دوختو ځلمی امیرؤ، دسلطان سکندر ترمرګ وروسته دهیواد دویش کلک مخالف ؤ سره ددی هم په ۹۲۳ه کال کښې سلطان جلال الدین خپل وزیر کړ (۱)

سلطان ابراهیم ئې له پلاره سره زندان ته وا چاوه او بیا ئې دمیا حسین سره دروغی په شرطونو کښې دده خوشی کول منظور اودی ئې خوشی کړ په ۹۲۲ه کال چه همایون داحمدخان لوانی او میا معروف پر ملی دمقابلې دپاره د ګنګا ژی نه تللی ؤ (جاجه) کښې فتح خان پر پېښې شو همایون دستی پلار ته راولیږه بابر مغل وناز اوه اود ۹۳۳ ه کال دصفرې پر اتمه ئې دخان جهانی لقب ورکړ اودیو کرور شپېتو لکو تنکو جاګیر ئې ورکړ دی ئې خپل جاګیر ته رخصت کړ او زوی ئې محمود دبرغمل په صورت په دربار کښې ځنی وګرزاوه (۲) مګر فتح خان شروانی بیرته په ۹۳٤ کال کښې دسلطان محمود لودی په ملو کښې ضبط شوی دی (۳)

(۱) خورشید جهان ۸۹ مخ

(۲) بابرنامه ۲۰۱ مخ

(۳) بابرنامه (۳۳) مخ

## ۱۰ـ سلیمان خان پرملی

سلیمان خان دبر ملی خان خانان زوی ؤ په ۹۱۸ه کال سلطان سکندر وگماره چه د حسین خان اسلامی (چه پخوائي نوم رای دونگرؤ) په مرسته (هنونت گره) ته خپلی لښکری ولیږدوی سلیمان خان عرض وکړ چه نه غوارم چه دپاچا له حضوره ایري شم سلطان بردي خبره ورته په قهر شو او حکم ئي وکړ چه د (رایړی) سیمه دي سلیمان خان جاگیروی او ترسبا بوري چه ئي هرڅه دڅپاڼه سره وایستل شه ترښه کښه هر څه چه څخي یاته شوه هغه دي عام چور کړه شي (۱)

## ۱۱ـ اسلام خان

د اعظم همایون زوی اسلام خان) (۲) هم دسلطان سکندر دوختو څلمی امیرؤ چه پلار او وروري سلطان ابراهیم په زندان کښې و اچول ـ اسلام خان په (کرهنکپور) کښې لښکر ې سره رافونډی کړ ې او تر تو اوامر اوم لمړی سلطان ابراهیم ته پورته شو نور له سلطانه خوابدی امیران ورسره مله شول.

سلطان ابراهیم لښکری پسي ورواستلی په (بانگر مئو) کښی لښکری سره مخامخ شولی کلک جنگونه وشول.

په دغو جنگو کښی اسلام خان او نور څو سکندری امراء ووژل شول.

## ۱۲ـ لوی خان ((مدد خان))

د احمد خان زوی مددخان (خان اعظم) دسلطان سکندر دوختو یو خورا درو ندسخی څلمی میره امیرؤ دغریبانو دپالنی سره ئی زیاته مینه لرله ـ څه ئي ایلکلای یالوستلا ی نشوای مالوه (چند یری) ئي په جاگیر کښي وه (۳)

## ۱۳ـ ملک آدم کاکړ

دسلطان سکندر خورا ورنیرا میرؤ دپاچا په سپرلی کښی به تر پاچا دمخه ملي پر آس

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی توك ۱۸۵ مخ

(۲) اسلام خان ئي خطاب ؤ (تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۹۰ مخ)

(۳) مرقع افغان ۱۱۰ مخ

سپه ر غشی او شخولی تیر دان په پوری ته د سلطان سکندر په وختو کښې د (اګرې) دپای تخت کوتوال ؤ د سلطان ابراهیم په وختو کښې کله چه سلطان جلال الدین ورور ئې په اګره بریدو کړ او سلطان ابراهیم پخپله د جنګ په داګ کښې ؤ ، د همدغه ملك آدم کا کړ په تدبیر سره (اګره) له تالاو ژغور له شوه او سلطان جلال الدین د پاچاهی نخښې په بایللو له پاچهی ناهیلئ ده کړ شو د ملك آدم کاکړ هڅه ډیره په لګښتو کښې ده

زوی ئې شیخ حمزه کاکړ چه له لویو عرفاؤ او منلو صوفیانو څخه ؤ ډیره تر خنګ ښخ دی (۱) بل زوی ئې سکندر خان د سلطان ابراهیم لودی له امراؤ څخه ؤ.

## ۱٤ــ لوانی دریاخان:

د مبارك خان لوانی زوی دی د سلطان بهلول د زمانی له تور بالیو امراؤ څخه ؤ د سلطان سکندر په وختو کښې ئې خورا ډیر اعتبار درلود د (۹۰۱ هـ ک ل) په شاؤ خوا کښې د بهار دلتی حاکم شو (۲)

د سلطان سکندر د شهزادګی په وختو کښې دریاخان بوسری ؤ چه پواځی د تاتار خان مقابلې له د جنګ ډاګ ته ور ووت او خپله توره ئې په درست او دښمن ومنله د سلطان ابراهیم د پاچاهی په ورستیو کلو کښې په بهار کښې ومړ (۳)

دده زوی بهار خان یا پهار خان (٤) یا بهادر خان (۵) د سلطان ابراهیم په پاچهی کښې د (سلطان محمد) لقب غوره کړ او په بهار کښې ئې د خپلواکی بیرغ اوچت کړ فرید (شیرشاه سوری) ته ده د شیرخان لقب ور کړ (٦)

## ۱۵ــ شیرخان لوانی :

شیرخان د مبارك خان لوانی ورور دی ــ د سلطان سکندر د وختو امیرؤ په ۸۹۷ هـ ک ل چه مبارك خان ورور ئې د (کړی) حاکم ؤ د جونپور

---

(۱) مخزن افغانی قلمی دریبم ټوك

(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۹ مخ

(۳) ،(۵)(٦) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۹۱ مخ

(٤) مرقع افغان

زمیندارانو پر راتوبې شول شیر خان ئې شهید کړ د دغه شیرخان کونده یا لور سلطان سکندر وکړه (۱)

## ۱۶ـ سعید خان یوسف خیل لودی: (۲)

سعید خان د مبارك خان لودي زوی (۳) د سکندري وختو خوراسخي امیرؤ. په ٥ ٦ ه کال چه سلطان سکندر دده له مشرورور (احمدخان) څخه د لکهنوتی حکومت واخیست او بندي ئې کړ د (لکهنوتی) حکومت ئې ده ته وسپاره په ٦١٨ ه کال ئې د شهزاده صاحبخان سرستی اره وگماره او د (چندیري) دبوی سیمې حکومت ئې ور کړ. سلطان ابراهیم ته پورته شو او د اسلام خان شروانی په جنگ کښې د سلطاني لښکرو په لاس بندي شو ـ کله چه سلطان ابراهیم د میا حسین پر ملي سره روغه وکړه دی ئې هم خوشي کړ ځکه چه د روغې په شرطو کښې بوددہ خوشي کول ؤ. (٤)

## ۱۷ـ اسماعیل لوانی:

سلطان سکندر چه په ۸۹۵ ه کال د باربکشاه جنګ ته وو وت دی ئې د دولان په توګه دیوه درانه لښکر سره دمخه ولیږه قنوج ته چه لښکري ورسید لې بیا ئې دستاځی په حیث د روغې له پاره (باربکشاه) ته ولیږ.

## ۱۸ـ بهیکن خان لودی:

د محمود خان زوی دی پلار ئې د کالپي حاکم ؤ دی د سلطان سکندر له خوراتو مورو امیرانو څخه یو خورا سپېڅلي او ښو ستوي سړی ؤ (۵)، طبقات اکبری بهیکن خان لودی د عالم خان لودی زوی ګڼي او پلار ئې د اتاوې حاکم بولی.

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۰ مخ
(۲) مرقع افغان ئې (سیدخان) لیکی
(۳) خورشید جهان ۸۹ مخ
(٤) مرقع افغان ۱۸۵ مخ
(۵) مرقع افغان

## ۱۹- جمال خان لودی:

جمال خان دمشهور سارنګ خان لودی لمسی دی ځکه نو په سارنګ خانی جمال خان مشهور ؤ.

دی دسلطان بهلول له امراؤ څخه ؤ چه سلطان ومړ او شهزاده نظام ئې له ډهلی څخه دجنازې راوړلو دپاره (جلالی) ته وخوځېده ډهلی واک ئې ده (جمال خان) ته وسپاره.

سلطان سکندر چه جونپور له خپل و رور بارېکشاه څخه وا خیست دغه جمال خان ئې دلمر ختیزو ډډو (جونپور حاکم ؤ تا که دېښتانه ستر قولواك شېر شاه سوری پلار حسن خان همدغه جمال خان و روزه او د سهسرام، خوا صپور او تانډې سیمی ئې (۱) په جاګیر کښې ور ته ور کړې.

## ۲۰ ناسیا له دولت خان لودی:

دپنجاب دوا کمن (تاتارخان) زوی او دسلطان دولت یوسف خېل (۲) لمسی پاکړوسی دی دسلطان سکندر له امراؤ څخه ؤ به ۹۰۸ ه کال سلطان سکندر دلاهور حکومت ور کړ (۳) سلطان ابراهیم چه پرپاچهی کښېناست خپل وزیر ئې کړ په خورا درنه ستر ګه ئې ور ته کتل، د ۱۲۰۰۰ سپرو مشرؤ پاچائی هم هره خبره منده (٤) او ددغه دولت خان وزیر په زېرمه سلطان ابراهیم دسهسرام او شاؤ خوا سیمو واك فرید (شېرشاه) ته وسپاره (٥) بیائې دلاهور حاکم و تا که په پای کښې سلطان ابراهیم ته باغی شو.

په ۹۰۸ ه کال ئې د کابل پاچا بابر مغل هند ته ورو باله.

په ۹۳۰ ه کال چه بابر مغل پنجاب تر دېپا لپوره پورې و نیو دی دخپلو دروزامنو سره چه دسلطان ابراهیم دلښکر وله ببرې په بلو څو ننو تلرؤ بابر ته ورغی،

---

(۱) دا سیمې په بهار کښې درهتاس په شاؤخوا کښې پرتې دي (تاریخ فرشته لمړی جلد ۳۲۱ مخ)
(۲) سلطان دولت په ۸۱۵ ه کال دډهلی پاچا شو او په ۸۱۷ ه کال خضرخان بندی کړ
(۳) بابر نامه ۱٤۳ مخ
(٤) شوکت افغان ۳ جلد ۱۸۹ مخ
(٥) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۲۱ مخ.

بابر چا لۀ دهر سلطان پور په جاګیر کښې ورکړل، خو ډېر ژر مغل بابر د دولت خان او ده د زوی (غازي خان) په دې فکر خبر شو چه دوی د مغلو په پاچهی خوښ نه دی نو ئې دواړه بند یان کړل، چه بابر (نوښاري) ته ورسیدو دوی ئې دواړه خوشې کړل او بیر ته ئې بوالحی (سلطان پور) په جاګیر کښې ور کړ. دولت خان چه ایله شو کیدې ئې د پنجاب غرو ته وخیژولی په دغو وختو کښې بابر مغل کابل ته تللی ؤ. ده د سلطان ابراهیم اکا عالمشاه (سلطان علاو الدین) دلحان مل کړ او پر دهلی ئې لښکري وروستلی مګر ماته ئې په نصیت شوه خو په ۹۳۲ھ کښې چه بابر پر هندوستان بر ید کاوه بیا دولت خان دراوي د سین پر غنډې (۴۰) زره لښکر پر لحان راغونډ کړی ؤ د بابر له لښکرو څخه په (ملوټ) کښې کلا بند شو تر څو ورځو کلا بندی وروسته ئې امان وغوښت مغلو ده غبرګی توري به غاړه ورځولی او په خور اسپکه ورځ ئې د بابر دربار ته وروست لحکه چه بابر ته دسلامي له پاره نه پر ګونډو کېده مغلو ترڅټ و نیوا او په زور ئې پر ګونډو وسلامي به وکړاو په دې تو که ئې دخپلی کرهنی حاصل واخستل څو ورځی پس ملوتی کـلا ته د بند لـه پـاره د بیـولـو پـه لاره کښـې لـه دېـره کـړ و مـه پـه نـپر شـو (۱)، دی پـومـشهـور شـاعـر او عـالـم ؤ (۲) څلور زامن ئې پاته شول.

## ۱ـ غازي خان لودی:

غازي خان خورا پیاوړی پوهاو منلی عالم وه په شعر خور انبه پوهید، ده خو را لویه او نفیسه کتابخانه درلوده، په ۹۳۲ھ کال چه په (ملوټ) کښې بـابر مغل ته په لاس ورغله بابر د کلا تر نیولو په هغه کتابخانه ډېر خوښ شو (۳) بلارئی چه د سلطان ابراهیم له لاسه په بلو څو ننوتی ء دی هم ورسره ؤ

په ۹۳۰ھ کال کښې چه بابر لار هور طو (دیپالپور) ونیو دی د پلار او وړونو سره ورته راغی خو ډېر ژر ئې د مغلو امارت خوا او هله او پلار ئې د مغلو مخالفت ته پاڅاوه، دلاور خان وروړ ئې چغلی وکړ ه دی او پلار د واړه

(۱) فرشته لمړی جلد ۲۰٤ مخ
(۲) قاموس المشاهیر ۱ ج ۲٤۲ مخ
(۳) تاریخ فرشته لومړی جلد ۲۰٤ مخ

مغلو بندیان کړل بابر چه (نوښاري) ته ستون شو دی او پلاری ئې خو شی کړل دوی غرو ته وختل او دبابر تر تښتېدلو وروسته ئې خپل کشرورور غدار دلاور خان ونیو په زندان کښې ئې واچاوه او دیپالپور ئې له سلطان علاوالدین څخه واخیست بیائې چه سلطان علاوالدین دځان کړ لښکرې ئې ددهلی نیولو ته ولیږلې خو ناکام شو بیائې لښکرې پر (کلانور) چه دمغلو په لاس کښې وه وروبهولې محمد علی خنګ جنګ مغل لاهور ته ځنې وتښتېده (کلانور) ونیو او په (بیرسرور) کښې ئې وارول - په ۹۳۲ ه کال چه بابر مغل بیا پر هندوستان برید وکا دولت خان پلار او علیخان ورور ئې د (ملوټ) په کلا کښې کلا بند شول او غازي خان پخپله غروته وخوت له هغه ځایه دهلی ته ولاړ او د سلطان ابراهیم مل شو په دغه کال د ساطان ابراهیم او بابر مغل په جنګ کښې وواژه شو (۱)

## ۲ـ علیخان لودی:

علیخان د دولت خان مشر زوی دی دیلار له خواد (بهیرې) حاکم ؤ (۲) په ټولو جنګو کښې دپلار سره ؤ- په ۹۳۲ ه کال چه پلار ئې د ملوټ په کلا کښې ونیول شو ، دی هم ور سره ؤ او دده مشر زوی اسمعیل خان هم دبابر له خوا ورسره بندی کړ شو (۳) .

## ۳ـ حاجی خان:

ددولت خان کشر زوی ؤ په ۹۳۱ ه کال چه سلطان علاؤالدین لودی پر دهلي بریدو کاوه دی ور سره مل ؤ (٤)

## ٤ـ ناسیالهٔ دلاور خان ((دمغلو خانخانان)):

دلاور خان ددولت خان زوی دی په ۹۲۷ ه کال چه (سلطان ابراهیم) دولت خان له لاهور څخه .

---

(۱) تاریخ فرشته اومړی جلد ۲۰۳ مخ

(۲) بابر نامه

(۳) طبقات اکبری ج ۲ ص ۱۸ و بابر نامه ۱۶۸ مخ

(٤) بابر نامه ۱۶٦ مخ.

آ کړي ته وغوښت ـ دولت خان پخپله ور ته نه غی ـ دغه دلاورخان زوی ئې ورو لېږه دلاورخان هلته څلور میاشتې بندی کړ شو (۱) چه بېر ته پنجاب ته ورننبتید پلار ئې سلطان ابراهیم ته پور ته کړ. په ۹۳۰ ه کال چه ئې پلار او ورونه ودمغل بابر ورائی ته په پټه ملا وتړله ' دغه ناسیا له دلاور خان ئې بابر مغل ته چغلی وکړه مغل بابرئې پلار اوغازی خان ور ور بندیان کړل او ده ته ئې ددې چغلۍ په صله کښې د(خا نخا نان) لقب ور کړ ' بابر چه کابل ته ستون شو پلار او ورو نه و نیو په زندان کښې ئې واچاوه د۹۳۱ه کال په سر کښې له زندانه وتښتېد اوپه لاهور کښې ئې مغلي امراؤ ته پناه ور وړه اوبیائې له لاهوره څخه دسلطان علاؤالدین لودی سره دسلطان ابراهیم جنګ لره دهلي ته وخوځېدهلته ئې هم ماته په ییخه شوه په ۹۳۲ ه کال چه بابره (ملوټ) کلاونیوله او دده پلار وروڼاو خپلوان ئې ټول بندیان کړل ده خان ور تـه راور ساوه بابر ونازاوه اوبیائې هـر ګـه دبابر مغل تینګ ملاتړ ـ په۹۳۳ه کال چه بابر درانا سنګا او سلطا ن محمود لودی سره په بیا نه کښې جنګېده هم دی ورسره مل ؤ. (۲)

دشېرخان (سوري شېرشاه) سره چه همایون جنګېده هم ئې (خان خانان دلاورخان)؛ کلك ملګری ؤ او تل به ئې همایون مغل ته ویل چه له شېر خان څخه به نه بېغمه کېږي (۳) په ۹٤۵ه کال چه همایون پر بنګال لښکري ورو بهولي' دلاورخان ته ئې (مونګیر) حکومت ور کړ سوری شېرخان خپل یوامیرخواص خان تهڅه لښکری ورکړي او پر (مونګیر) ئې دبر یدله پاره وګماره 'خواص خان دمونګیر پر کلاورغی کلائې ونیوله اودلاورخان ئې بندی شیرخان ته راووست شېر خان په (مونګیر) کښې بندی وساته اوپو یا واور بشي ئې دورځې خواړه ور ته مقرر کړل (٤) په ۹٤٦ ه کال چه شیر شاه پرهمایون مغل لمړی بری وموند دلاور خان ئې

---

(۱) مرقع افغان ۱۸۸مخ

(۲) تاریخ فرشته لمړی جلداو بابر نامه

(۳) شوکت افغان دریم جلد ۲۲۱مخ و ۳۲۳مخ

(٤) شوکت افغان دریم جلد ۲۳۸مخ

دپښتو امیرانو په سلاد قومی غداری په گناه ووازه(۱) او دادپښتنو دپښتو

پیغور نخښې کې دخاورو په غېږ کې ورو ستمله .

## ۲۱-جلال خان لودی:

دمحمود خان لودی ځوی جلال خان دسلطان سکندر په وختو کښې د(کالپی)

حاکم ؤ(۲) په ۹۱۲ ه کال ئې د(کالپي حکومت) ځنې واخیست.

## ۲۲-شیر خان لودی:

غالباً چه دشاهین خان زوی او د ملك فیروز لمسی دی چه په ۹۱۰ ه کال مړ

دی دسلطان سکندر په وختو کښې دا تاوي حاکم ؤ(۳)

## ۲۳-عالم خان لودی:

دمیوات حاکم ؤ.

## ۲۴-احمد خان لودی:

دمبارك خان لودی زوی دی دلکهنوتی حاکم ؤ په ۹۱۵ ه کال سلطان ته خبر

راورسید چه احمد خان له کفارو سره ډیر کښېنی ولاړ پېژی او نژ دي دې چه

له اسلامه و گرزی سلطان دده کشرورور(محمد خان)و گماره چه بندی ئې

اکړي ته راواستوی(٤)

## ۲۵-کبیر خان لودی:

## ۲۶-اعظم خان شروانی:

## ۲۷-بابو خان شروانی:

په ۹۰٤ ه کال کښې دشهزاده فتح خان دپورته کولو په گناه فرار

کړ شو د گوالیار راجا ته ئې پناه یووړه مگر په

(۱) شوکت افغان دریم جلد ۱۸۰مخ و۲۵۳مخ

(۲) خورشید جهان ۸۹مخ او طبقات اکبری

(۳) خورشید جهان ۸۹مخ او طبقات اکبری

(٤) تاریخ فرشته لومړی جلد ۱۸۵ مخ .

(۹۱۰هـ) کال چه سلطان پرکو الیار برید و کړه گوا لیارپا چا له خپلی پاچهی و پوست .

## (۲۸)-حسین خان پر ملی :

د سلطان سکندر په وختو کښی د(سهارن)حاکم ؤ په(۹۲۱هـ) کال د سلطان خواورته بده شوه حاجی سارنګ ئې (سهارن)ته ورولیږه چه لښکري ئې خپلي خوانه راواړوی اودی بندی اګرې ته راوا ستوی حسین خبرشو دځو تنو ملو سره بنګال ته وتښتېد او سلطان علاوالدین ته ئې پناه وړوړه که څه هم دسلطان سکندر او سلطان علاوالدین ترمنځ په (۹۰۱هـ) کال تړون شوی ؤ چه یود بل مخا لفینو ته به پناه نه سرهور کوی مګر سلطان سکندر هیڅ ونه ویل او ځان ئې نا خبره واچاوه .

## (۲۹)-اصغر خان:

دقوام الملک زوی اصغر خان دسلطان سکندر په وختو کښی ددهلی حا کم ؤ(په۹۰۷هـ) کال د مؤک خوړ لو په ګناه بندی کړ شو .

## ۱۳-مبارک خان موجی خېل لودی: (۱)

دسلطان سکندر په وختو کښی د(را پری ) حا کم ؤ بیائې د بارېکشاه ترنیولو وروسته دجونپور حا کم مقرر کړیه (۹۰٤هـ) کا ل ئې دما لی خیا نت په ګناه بندی کړ .

## (۳۱)-نصیر خان لوانی:

دسلطان سکندر له لویو امر اؤ څخه ؤ د(غازی پور ) حکو مت ئې درلـود شل دیرش زره سپاره ئې پر ځان را غونډ کړی ؤ سلطان ابراهیم ته یو رته شو اودد ریا خـان لوانی دزوی سلطـا ن محمد لوانی ملا ئې و تړ له دبابر مغل په وختو کښی هم ژوندی ؤاو د مغلو پر ضد جنګید دشیر شا ه سوری په ابتدائي

(۱) طبقات اکبری ج ا ص ۳۱۵

نهضت کښې دی مړ ؤ ما يندې ئې (٦٠) منه طلاوی شير شاه ته ور کړی (١)

(۳۲) - عماد خان پرملی: دخان خانان پرملي زوی ؤ (٢)

(۳۳) - اقبال خان:

دبارې حاکم ؤ.

(۳٤) - ابراهيم خان شروانی:

دمسند عالی عمر خان شروانی زوی ؤ، دتاتار خان او سلطان سکندر په جنگ ئې ښې توری ووهلی:

(۳٥) - بابرخان شروانی:

(۳٦) - محمدشه لودی:

په ۹۰٤ هـ کال کښې دشهزاده فتح خان لودی دپوره ته کو لو په جرم له ملکه فرار کړ شو.

(۳۷) - تاتار پرملی:

په ۹۰٤ هـ کال دشهزاده فتح خان لودی دپور ته کولو په جرم له ملکه فرار کړ شو.

(۳۸) - شيخزاده محمدپرملی:

دعماد خان پرملی زوی او دپرملی خان خانان لمسی ؤ.

(۳۹) - شيخ احمدپرملی:

(٤٠) ملك بدرالدين بهيلم:

د سلطان سکندر د وختو لوی جاگير دار ؤ، خورا متدين، رعيت پرورا وباوفا سړی ؤ.

---

(١) مخزن افغانی ١٦١ مخ

(٢) طبقات اکبری ج ١ ص ٣١٥

# دسلطان سکندر ددربار خاص

## حاجبان

۱ ـ میاچمن کنبوه :

په ۹۱۳ هـ کال دمجاهدخان سره دلاس درلو دلو په ګناه بندي شو (۱)

۲ ـ قاضي مجدالدین :

په ۹۲۳ هـ کال سلطان ابراهیم دشهزاده جلال خان راوستلو ته وګماره .

۳ ـ شیخ ابراهیم :

په ۹۱۲ هـ کال خاص حاجب و ټاکه شو .(۲)

٤ ـ شیخ عمر :

۵ ـ قاضي عبدالواحد چه د کابلي شیخ طاهرزوی ؤ . دتهانیسیر په کلي کښې اوسېده په ۹۱۲ هـ کال چه سلطان د(او دیت نګر) غزاته نه برلاري ئي په (دهولپور) کښې خپل خاص حاجب وټاکه . (۳)

٦ ـ شیخ عثمان :

۷ ـ شیخ صدیق :

۸ ـ سعید :

په ۹۲۳ هـ کال سلطان ابراهیم دشهزاده جلال خان راوستلو ته وګماره .

۹ ـ مقبل (٤)

## دسلطان سکندر دوختو مصنفین(۵)

۱ ـ شیخ جمالي کنبوه (رح) :

فضل الله خان چه په خلقو کښې په ( درویش ) او څار ؤ . دشیخ جمالي پلار ؤ پخپله د شیخ جمالي اصلي نوم ( حامد جمال خان ) دی . دده روزنه دخپل پلار تر سیوري لاندې شوې ده چه مېراني واهه په مروجو

(۱) تاریخ فرشته امری جلد ۱۸٤ مخ
(۲) (۳) تاریخ فرشته امری جلد ۱۸٤ مخ
(٤) طبقات اکبري
(۵) دامضمون د کابل مجلې د شپږم کال له شپږمې او اوومې ګڼو څخه د اور نیټل کالج میګزین په حواله را اخیستل شویدی .

علمو کښې وتلی ملا – لمړی ئې تخلص ( جلالی ) ؤ - بیا ئې دخپل پیر ، ماما او خسر (شیخ سماء الدین سهروردی رحمته الله علیه) په غوښتنه خپل تخلص (جمالی) کړ ، په شاعری کښې ئې غوره مقام لاره او په قصید و او غزلو کښې ئې په هند کښې دخپل وخت ساری نه ؤ خلقو دو هم امیر خسرو با له دهرات مولانا جامی هم په درنه ستر گه ور ته کتل شیخ جمالی بو آزاده فقیر مشر به ، عالم ؤ ، دعمر ډیر کلونه ئې دحرمینو ، شام ، روم ، عراق ، یمن ، فارس ، هرات او سراندیپ په سیاحت کښې تیر کړی دی ·

په (سیرالعارفین) کښې ئې لیکلی دی : « زه چه هرات ته ورغلم د مولانا جامی کره او سید ام او د ملا حسین واعظ کاشفی سره می هم لیدنی وکړې » شیخ جمالی دسلطان سکندر علمی مصاحب او استاذ ؤ او دسلطان سکندر سره ئې مینه او اختلاط لکه څرنګه چه پهلاندنی شعر کښې وایی پر دنیاوی اغراضو بنا نه ؤ ·

میانهٔ من و تو دوستی برای خداست نه از برای متاع زمانهٔ غدار

دسلطان تر مړینې وروسته ژئې پرسوزه مرثې بسیو یلیادی(۱) دسلطان ابراهم لودی په وختو کښې ئې هم هغه دسلطان سکندر دوختو قدرؤ(۲) دبابر مغل او همایون په دربار کښې هم په درنه سترګه ور ته کتل کیدل، با بر مغل شیخ ته ددغې قصیدې:

شاه دشمن کش ظهیرالدین با بر آنکه او
لشکر بنگاله راز الغار کابل بشکند

خورا درنه صله ور کړه ، همایون هم د ده خبروته غوږ نیوه او ډیرئی لیده دده زامنو (عبدالحی حیاتی) – او (عبدالوهاب یا عبدالصمد ګدائی ) هم دخپلو وختو دپاچهانو په دربار کښې لار در لوده او علمی خدمتونه به ئې اجرا کول ، دده مشر زوی شیخ عبدالحی (حیاتی) دسوری پښتانه سلیم شاه په ستاینه کښې

(۱) مخزن افغان ۱۲۱ مخ
(۲) دسروش مجله د۱۳۳۶ کال دحمل ګڼه ۱۰ مخ

دیری درنې قصیدې لري(۱) اود شیر شاه مصاحب و شیخ جمالی په ۹۴۲ ﻫ کال ومړ او په دهلی کښې دحضرت قطب الدین بختیار کاکی (ر ح) دهدیرې شمالی پلو ته تقریباً زر گامه لری ښخ کړ شو هدیره ئې مشهوره ده (۲) دده دا اثار یاته دی (۱) سیر العارفین- دستانه و تذکره ده (۲)- مهر و ماه یو پارسو مثنوی دی (۳) دده دیوان

## دو بیتا نمونه ئې:

موسی ز هوش رفت بیك پرتو صفات | توعین ذات مینگری در تبسمی
همی باشد افغان ز اهل دنیا ز | نمازی وغازی و مهمان نواز
خدا دا د شان فقر و شاهی بهم | کز بن هر دو صفت مباهی بهم (۳)

هغه وخت چه دسلطان ابراهیم لودی او پښتنو امراؤ په منځ کښې شخړې وې ده دسلطان سکندر په یوه مرثیه کښې داموضوع داسې راوړی ده:

ای سلیمان زمان آه کجایی اخر؟ | تا کنم پیش تو از فتنه دیوان فریاد

وایی یوه وزیر دمولانا دابیت سلطان ابراهیم ته ورساؤ خو سلطان غوږ پرونه نیو اومولانا ته ئې په هغه درته ستر گه کتل (٤)

## ۲- مجدالدین بابر:

دسلطان سکندر دوختو له شعراؤ څخه دی بشپړ حال ئې څر گند نه دی دومره خبر یو چه دخوار زمشاهیانو یوه مفصله منظومه شهنامه ئې لیکلې ده داررباعی دده ده:

---

(۱) مخزن افغان قلمی ۱۹۲ مخ شیخ حیاتی په ۹۰۹ﻫ کال ومړ او دیلار په هدیره کښې ښخ شو اوشیخ گدائی په ۹۷۷ﻫ کال ومړ منتخب التواریخ ۱۱۹ مخ

(۲) دشیخ جمالی هدیره دجمالی جلالی په نامه مشهوره ده پر قبرئی گنبده هم ولاړه ده اومسجد ئې هم څنگ ته له ډبرو څخه ودان دی لویه احاطه لری خو را پوخ دیوال پر گرز یدلی دی

(۳) تذکرة الاولیاء افغان قلمی دحسینی تالیف

(٤) دسروش مجله ۱۳۳٦ کال لمړۍ گڼه ۱۱ مخ

در پیش تو گر بگریم دلدارم — تاظن نبری که از تو آزارم
خط تو که دود آتش نیکو بی است — درچشم من آمد از آن می بارم

۳-برهمن:

دسلطان سکندر دوختو دپارسو ژبی هندو شاعر دی (برهمن) ئی تخلص دی اونوم ئی څینو (دونگرمل) لیکلی دی دامطلع دده ده:

دل خون نشدی چشم تو خنجر نشدی گر
ره گم نشدی ز لف تو ابتر نشدی گر

٤-شیخ عبدالله تلنبی:

دعثمانی شیخ الهدادزوی به عقلی اونقلی علمو کښی دخپلی زمانی خورا وتلی او منلی عالم ؤ ده لمړی دملتان به ښاؤ خوا (تلنبه) کښی درس کاوه بیادسلطان سکندر په وختو کښی دهلی ته ولاړ او هلته ئی معقول علوم رانه کړل.

ترده پخوا په هند کښی یوازی دسید محمد همدانی شرح شمسیه اوشرح صحایف لوستل کیدل ده دمعقولو علوموپه درسی سلسله کښی دیرنورکتابونه هم مروج کړل او (بدیع المیزان) ئی چه په منطقو کښی یو مشهور کتاب دی ولیکه څلویښت تنه نامتوملایان لکه میالاوڼ دانشمند (۱) دهلوی جمال خان، میاشیخ بدایونی سید جلال له ده څخه پوه ته شوی دی په ۹۲۲ ه کال ومړ، شرح میزان منطق هم دده له تالیفاتو څخه دی (۲)

۵-شاه جلال شیرازی:

دشیخ محمد نور بخش مرید ؤ دسلطان سکندر په وختو کښی دهلی ته ورغی او هلته میشت شو.

وایی دی خورا رسیدلی ستانه ؤ. مولانا جلال الدین رومی ته ئی دیره عقیده درلوده او د مثنوی په اسرارو خورا ښه پوهید.

---

(۱) میالاوڼ دشیخ نصیرالدین زوی دی
(۲) تذکره علمای هند ۱۰۱ مخ

د (گلشن راز) شرحه دده له اثارو څخه ده په ۹۴۴ھ کال ومړ.

## ۶-شیخ رزق الله:

د ډهلی د مشهور محدث (شیخ عبدالحق) اکا دی د شیخ ملا وه چه په مصباح العاشقین مشهور دی مرید ؤ دده د زوکړی نیټه ۸۹۶ھ کال دی (۱)

شیخ رزق الله دخپلو وختو خورا پیاوړی ملا او منلی عارف ؤ ښه طبعه ئې درلوده په پارسو او هندی ژبوئې اشعار ویل، په پارسو کښې (مشتاقی) او په هندی کښې ئې (راجق) تخلص ؤ، شیخ په ۹۸۹ھ کال ومړ (۲)

په هندی ژبه کښې ئې دوې رسالې د (جوت نرنجن) او (پیم آبن) په نامه خورا مشهورې دی.

## (۷)-شیخ سید حاجی عبدالوهاب بخاری:

د سید جلال بخاری لمسی د پلار نوم ئې (سید احمد) او مشهور مخدوم (جهانیان) ئې اکا دی امری په ملتان کښې د خپل خسر شیخ صدرالدین بخاری شاگرد او مرید ؤ ترحج وروسته ډهلی ته ولاړ هلته ئې د سلطان سکندر د اخښی (شاه عبدالله تربشی) لاس ونیو - سلطان سکندر خورا ښه عقیده ورته درلوده او په ډیره درنه سترګه ئې ورته کتله، شیخ په ۹۳۲ھ کال ومړ او په ډهلی کښې ښخ کړ شو (۳) دده په اثارو کښې یو (تفسیر) څرګند دی - شاه ابوالغیث بخاری رح دده زوی دی.

## ۸-شیخ حسن کابلی: (٤)

شیخ حسن د ګرد یزی سید شهاب الدین دلمسی (راجی حامد شاه) مرید ؤ (۵) پلار ئې شیخ طاهر له ملتانه بهارنه تللی او هلته میشت شوی ؤ، شیخ حسن

(۱) خزینته الاصفیا امری جلد ۱ ٤٤ مخ

(۲) خزینته الاصفیا امری جلد ۱ ٤٤۱ مخ

(۳) سیر المتاخرین ۲۳ مخ

(٤) تاریخ فرشته امری جلد ۱۸۲ مخ

(۵) خزینته الاصفیا امری جلد ٤۰۰ مخ

په بهار کښې وزیر ېد، اهور کښو به ښخه دعلم ښوب ورسره ؤ، سلطان سکندر لهجونپوره ښځا کړي ته وغوښت له هغه ځایه بیا دهلي ته ولاړ او دسلطان محمد تغلق د کلا په (بجي منډل) برج کښې ئې واوړول د۹۰۹ ه کال دلمړی خور په میاشت هلته ومړ.

شیخ حسن په سلوك او توحید کښې ډېر ښه رسالې لیکلي دي چه (مفتاح الفیض) ئې خورا شهرت لري.

## (۹)-میابهوا:

میابهوا دسلطان سکندر دوخت دعدلیې وزیر ؤ دده بشپړ حال دسلطان دامراؤ په لړ کښې لیکلی شوی دی.

هلته ئې نښ د (طب سکندری) یا (معدن الشفاء سکندر شاهی) دمؤلف په حیث (چه په ۹۰۸ ه کال کښې ئې تالیف کړی دی) نوم راوړو.

## (۱۰)- محمدضیایی:

مولانا محمد دشیخ ضیا یې زوی دی دمولانا سعید الدین شاګرد ؤ په ۹۱٦ ه کال دافغانو یو فرهنګ د (فرهنګ سکندری) یا (تحفته السعادت) په نامه لیکلی دی، شعری قریحه ئې هم لرله (۱)


## (۱۱)-شیخ جمال خان دهلوی:

شیخ نصیرالدین زوی دمیالاوڼ دانشمند ورور ؤ دمشهورملا عبدالله تلنبی خورا پیاوړی شاګرد او په عقلي ونقلي علومو کښې وتلی عالم اودخپل وخت اعلم العلماء ؤ شرح عضدی، شرح مفتاح اوشرح ان ار الفقه ئې تصانیف دی(۲) په ۹۸٤ ه کال دڅونوی ګالو په عمر ومړ.


---

(۱) داورنیټل کالج مجلې دشرح شمسیې مولف سید محمد همدانی هم دسلطان سکندر لودی په وختو کښې راوړی دی مګر سید محمد همدانی دکشمیر دپاچا سلطان سکندر چه دکوډ تیمور معاصر ؤ په وختو کښې کشمیر ته تللی او هلته بسنت نامی هندو وزیر دده په لاس مسلمان شوی دی سید محمد همدانی په ۸۰۹ ه کال مړدی (تذکرهٔ علمای هند. تاریخ فرشته دوهم جلد ۳٤۰ مخ اوخزینته الاصفیا دوهم جلد ۳٤۰ مخ


(۲) تذکره علمای هند ۳٤ ، ٤٤ مخ.



د نوي دهلي په لودي ټومب يا لودي ګارډن کښې
بړا ګنبد (لويه ګومبټه) چه هيڅوک
پکښې ښخ نه دي




دډلي دهلي په (لودي ټومب) کښې،
دشاهو خېلو لودیو دپاچاهۍ کورنۍ دوروستۍ هدیره



لودي مسجد

چه د نوي دهلي د لودي تومب د لوبي گومبتي (برا کنبد) مخې ته د لودي پاچها و په زمانه کښې جوړ شوی دی،



(داودی مسجد) منحنی ششك (طاق)

## (۱۲)-شیخ عزیز الله تلنبی :

دخپل وخت خورا متبحراو منلی عالم ؤ، دسلطان سکندر په وختو کښې له ملتانه څخه سنبهل ته ولاړ، هلته پسې واو سید دیر خلقو علمی فیوضات ځنې یوو پر ل ذکائی، مشهوره وه، په ۹۷۵ هـ کال ومړ رسا له عینیه دده له اثار وڅخه ده چه دشیخ امان پانی پتی د(غیریه) رسالې په ځواب کښې ئې لیکلې ده.(۱)

## دلو دیو پاچاهی هدیره
## (LODHI TOMB)

دنوی دهلی دروښیدېن رود ترڅنګ دشا هو خیلو لو دیو پا چاهی هد یره پرته ده په دې هدیره کښې دری لویې او سره بولی له تورو ډبرو ودانی شوی ګنبدی ولاړی دی چه په یوه کښې ئې سلطان سکندر لو دی او په بله کښې د شا هو خیلو لو دیو د پاچاهی کورنوړ غړو دئل له پاره سرونه ایښې دی یوه بله ګنبده چه اوس په برا ګنبد(لویه ګنبته) مشهوره ده تشه توره ولاړه وه خیال ګاوه شی چه دا ګنبده سلطان ابراهیم لودی ځان لره ودانه کړې وه مګر ځکه چه په پانی پت کښې دجنګ پر میدان ووژه شو فاتحو مغلو هلته خاورونه وسپاره اوخپله جوړه کړی ګنبده ئې په نصیب نه شوه په دهلی کښې د لو دیو دغه پاچاهی هدیره په(لودی ګارډن) یا(لودی تومب) مشهو ره ده په دغه باغ یا هدیره کښې دصفدر جنګ د هدیرې پر مخامخ دخضر خان دزوی سلطان مبارك شاه (۸۲٤ـ۸۳۷) هدیره هم شته چه سلطان محمد شاه(۸۳۸ـ ۸٤۷)ئې هم ترڅنګ ښخ دی.

## لودی کالونی
## LODHI COLONY

په نوی دهلی کښې دلودیو دپاچاهی هدیرې ترڅنګ نوی عصری کلی او بازار ودان شوی او د دهلی دښاروالی له خوا دلودیو په یاد لودی کالونی LODHI COLONY او لودی مارکیټ LODHI MARKET نومونه ور باندی اېښودل شوی دی.

(۱) تذکرهٔ علمای هند ۱۳۹، ۱٤۰ مخ.

## لودهیانه:

په پنجاب کښې د جالندهر او سرهند تر منځ یو ښار پروت دی چه (لودهیانه) نو میږي .

د شوکت افغان مؤلف لیکلي: چه دا ښار په ۸٤٤هـ -۱٦۲۰ع کال دوو تنو لودیو سردارانو چه یو (نهنګ) او بل (یوسف) نومید ود ان کړی دی مګکه نو دلودیانو په ښار مشهور شو چه وروروا لودیانه شهر) (لودهانه) او (لودهیانه) شوی دی (۱)

# سلطان ابراهیم

(۹۲۳-۹۳۲هـ)

«دده په مړینه په هندوستان کښې د پښتنو د ۳۲۰ کلنی پله پوري باچهي کمبله ټوله شوه» (دهند صلا، بی تاریخ)

سلطان سکندر چه د ۹۲۳هـ کال د میانی ږدمیاشتې ابراوومه ېدا کړه کښې ومړ په شپږو زامنو کښې ئې دووسره سکنیوورو نو (شهزاده ابراهیم او شهزاده جلال خان) دباچهی له پاره لیږلی سره راوغښتلی د پښتا نه دولت امیران سلا ته سره کښینستل او فیصله ئې وکړه چه: «د سلطان تر ټولو مشر او په توره، تخیر کې، او ښو اخلاقومنلی زوی (شهزاده ابراهیم) دې دډهلی باچاشی او دده د باچهی تك (سرحد) به د جونپور تر شاوخوا پوري وی او دجونپور باچهی دې (شهزاده جلال خان) ته وسپارله شي د هیواد دلمر ختیزو سیمو واك به تر لکهنوتی پوري دده وی»

د امیرانو دا فیصله دواړو ورونو ومنله شهزاده ابراهیم (سلطان ابراهیم) په نامه په ډهلی کښې باچا شو او نا سیاله دولت خان او دی ئې چه دپنجاب حاکم او خرا لوی ج ګیردا ود حپلی باچهی وزیرو تا که، شهزاده جلال خان

(۱) شوکت افغان دریم جلد ۱۷ مخ



سلطان ابراهیم لودی (۹۲۳- ۹۳۲ھ)

دځینو امیرانو سره دجونپور لورته له کالپی (۱) بیا اګري (۲) ځخه وخوځید اوداعظم همایون زوی (فتح خان) ئې سره ددې چه دهیواد دویش مخالف ؤله ځانه سره دوزیر په حیث بوت هلته ئې خپلواك حکومت جوړ کړ (۳) مګر خطبه او سکه ئې دډهلي دپاچا (سلطان ابراهیم) په نامه وه (٤)

## دوروڼو بند

سلطان ابراهیم ددې له پاره چه دبغاوت مخه ونیولی شي نو هرڅه دمخه خېل شلورسره میرېزی وروڼه محمود خان، اسمعیل خان حسن خان او شهزاده اعظم همایون نظربند کړل (٥) دهانسی کلا ته ئې ولیږل او هریوه ته ئې دوی دوی ښځې او دژوندنولو مایحتاج ورسره ورکړل (٦)

## دهیواد دویش مخالفت

که څه هم دهیواد ویش دامیرانو په سلا او د شهزاده ګانو په خوښې وشو خو بیا هم ځینې پوه او دوراندیشه ښتانه امیران ددې ویش کلك مخالف وو او دوی پوهېدل چه په یوه ملك کښې دوه پاچهان نه سره ځلیږی ی شلور میاشتې (۷) وروسته چه دراپړی حاکم لودی (۸) یا اوانی (۹) خانجهان له راپړی څخه دسلطان ابراهیم دربارته راغی دهیواد دویش مخالفت په خورا شدت شرکند شو او دویش مخالف امیران له هری خوا پرراغوند شول، خان جهان یوه ورځ د پاچا په مخ کښې د ویش سلاور کونکي امیران خورا و غندل او

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۸ مخ
(۲) مرقع افغان ۱۶۹ مخ
(۳) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۸ مخ
(٤) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۹ مخ
(٥) مرقع افغان ۱۷۰ مخ
(٦) تاریخ داودی ۸۷ مخ
(۷) شوکت افغان ۳ جلد ۱٤۳ مخ
(۸) مرقع افغان
(۹) طبقات اکبری ج ا ص ۳٤۲ او تاریخ داودی ۸٥ مخ

پاچا ته ئي وويل: « د پا چاهي هيواد ويش ښه نه دى او د هغه منل نا پوهي وه بايد پوه شئ چه پاچهي په کښېنا ست شي او په يوه نيکي کښې غير کي نوري نه ځائيږي (۱) دخداي جهان دي و پناه پخپله پاچا او د دربار نور اميران خپلو تيرو تنو ته ملتفت کړئ سلا پر دي شوه بايد اوس چه لا شهزاده جلال خان قوت نه دي موندلي په لاس ئي راولو او په دي تو گه دراتلو نکو ناورو پيښو مخه ونيسو مگر دا کار هم دهاکو او بي نه وي، سلطان ابراهيم دهيبت خان په لاس (شهزاده جلال خان) ته يو خورا الهميني دک ليک ورو ليږه او ور ته وئي ليکل:

« دلته يوه خورا ضروري سلا در سره کيږي هر څو مره ژر چه ځان راورسوي ښه به وي »

او هيبت خان ئي وگماره، په هرچل چه کيږي شهزاده جلال خان به تر دهلي پوري يو پلار اولي مگر شهزاده جلال خان چه د غو چا او نه پخوالا ملتفت ؤ د هيبت خان په غوږ ما ليوا او د سلطان ابراهيم په پا سقه ليک تيرنه ووت او د دهلي له ورتگ څخه ئي معافي وغوښتله هيبت خان دشهزاده جلال خان ځواب او نته د سلطان ابراهيم دربا رته وليکله سلطان ابراهيم دبلي پلا له پاره دشيخ سعيد پرملي زوي (ميا محمود)، دملک علاؤالدين جلواني زوي (ملک اسمعيل) قاضي مجدالدين حاجب او سعيد حاجب ورو ليږل مگر دوي هم ونه کړاي شواي چه شهزاده جلال خان ددهلي په ورتګ راضي کړي (۲)

## داميرانو پورته کول

سلطان ابراهيم چه شهزاده جلال خان په راغوښتلو کښي نا کام شو، نو ئي دخپلو اميرانو په سلا دجونپور او لمر ختيزو سيمو د خانانو او اميرانو په لمسون لاس پوري کړ د بهار حاکم (لوانۍ دريا خان) داودهاو لکهنو حاکم (کالا پهاړ) او دغازي پور حاکم (لوانۍ نصير خان) ته ئي چه هر يوه د پرش، ځلو ښيت زره

(۱) مرقع افغان ۱۷ مخ دتاريخ داؤدي په حواله
(۲) تاريخ فرشته لمړي جلد ۱۸۸ مخ

سپاره لرل خورادرانه خلاوته، وتلی آسونه، زرین موتی توری او امبانونه وروالېږل، نوروجاګیردارانو او امیرانو ته ئې هم ولیکل چه دشهزاده جلال خان حکم ته غاړه نه ږدی او سلام ته به ئې نه ورځی (۱)

## دتخت ته ختلو جشن

د۹۲۳ ه کال دلوی اختر دمیاشتی پر پنځلسمه دجمعې په ورځ سلطان ابراهیم پرهغه تخت چه په خورا درنو جواهراتو او مرغلرو پسولل شوی و کښېنوست، عام دربار ئې وکړ، ددربار امیرانو ته ئې وړ منصبونه جاګیرونه او خطابات ورکړل او هر یوه ته ئې زرین موتی توری، آسونه او پیلان وروبخښل، دېري خزانې ئې پر بېوزلو او محتاجانو وویشلی ټول رعیت ته ئې ددرو کالو خراج وروبښه، بندیان ئې خوشې کړل او دقندهار او کسې غره پښتنو مشرانو مکې معظمې او مدینې منورې ته ئې دبابل خان او علیزی دلاور خان په لاس خورادرانه سوغاتونه ولېږل (۲)

سلطان ابراهیم دپلار او نیکه دود وانړاوه، امیران ئې وګمارل چه په دربار کښې به لاس پرنامه ولاړوی. له خپلوانو سره ئې هم کرار کرار دخپلوی سلوك پرېښود او دابه ئې ویل:

«پاچاهان قام او خپلوان نه لری، ټول پاچاهی نوکران دی باید دنوکرانو په شېر چوپړ ووهی او یو ځای ته ځان ورسوی»

دسلطان بهلول او سلطان سکندر دوخت ودرانه امیرانچه هیځکله به هم په دربار کښې نه وودرېدلی، دده په دربار کښې به لاس پرنامه ولاړوو، دسلطان ابراهیم دغه سلوك وروروه دپښتنو امیرانو په زړو کښې څه خیری پیدا کړلې او درانه امیران په زړو کښې ځنې خوابدی شول (۳)

## دشهزاده جلال خان پورته کېدل (۴)

شهزاده جلال خان چه خبرشو چه سلطان ابراهیم دجونپور او شرقی سیمو

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۸ مخ
(۲) خورشیدجهان ۹۰ مخ
(۳) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۸ مخ
(۴) تاریخ فرشته دا پېښه په ۹۲۳ ه کال کښې بولی او مرقع افغانی ئې په ۹۲۶ ه کال کښې کښې.

اميران ده نه لمسوي، او هر وخت ئې سوغاتونه او ډېر مالونه دغو اميرانو ته وراسي. دمخالفت نغاره ئې په ښکاره وډنګوله او په جونپور (۱) يا کالپي (۲) کښې د (سلطان جلال الدين) په نامه دپاچهۍ تاج پر کېښود، خطبه او سکه ئې پر خپل نامه کړه، خپل ملګرو اميرانو ته ئې ورنازول خلاتونه توري، اسان، پيلان، منصبونه او خطابات ئې ورکړل، جاګيرداران ئې ورته کړل دخپلو سيو ودغريبانو او بېوزلو پر مخ ئې دخزانو ورونه وپرانيستل دانتظام او ترتيب نه ئې لېځی را وغښتلې. ځکه دی بوهېږ چه سلطان ابراهيم هر ومرو پرده بريد کوی (۳)

## د ((کالنجر)) بريد او داعظم همايون اوښتل:

د (بندهيلکنډ) په سيمه کښې د (کالنجر) کلا خورا پخه او ټينګه کلا وه سلطان ابراهيم خپلو څه لښکرو د (کړي) دحاکم شرواني (٤) اعظم همايون تر مشر تابه لاندې دغې کلانيولو ته ورګمارلی - اعظم همايون ولاړ (کالنجر) ئې کلابند کړ.

سلطان جلال الدين چه په دغو وختو کښې د خپلو لښکر و په تنظيم څه داده شوی ؤ د سلطان ابراهيم دمخورو اميرانو لمسون ته ئې توجه وکړه او زيار ئې يوست چه هغوی په يو چم دځان کړي په دغه لړ کښې ئې اعظم همايون ته چه کالنجر ئې کلابند کړی ؤ - ستاځي ولېږل او ورته وئې ليکل:

«ته زما دپلار او اکا پر ځای ئې - تا ته ښکاره ده چه زما څه ګناه نشته سلطان ابراهيم خپل منلی تړون مات کړ او داميرانو وېش ئې ونه مانه، دپلار په ملك کښې چه څه لږه سيمه ده ما ته دميراث په توګه ومنله پر هغه ئې هم سترګې سرې شوې دېور ګډلوی ئې تر پښو لاندې کړه او زما په ورانۍ پسې شو، او س

(۱) مرقع افغان ۷۲ مخ.

(۲) خورشيد جهان ۹۰ مخ

(۳) مرقع افغان ۱۷۲ مخ د تاريخ داؤدی په حواله

(٤) بابر نامه ۱۷٦ مخ او شوکت افغان ۳ جلد

نو نه پاید د (حق) پرخوا شي او د مظلوم مرسته و کړي!» (۱) اعظم همایون چه پخوا لا د سلطان ابراهیم له وضعیته څخه خفه ؤ ، د سلطان جلال الدین د کېږي غاړي پیغام او بیکسو اغیزه پری وکړه ، د کالنجر کلا بندی ئې پرېښوده او د لښکرو سره سلطان جلال الدین لودی ته ورغی .

## د ((اوده)) نیول

اعظم همایون چه له خپلو لښکرو سره (سلطان جلال الدین) ته ورغی سلائې پردې شوه چه لومړی به د جونپور او شرقی سیمو امیران اپلوی ، ځکه ئې نو تر ټولو د مخه پر (اوده) برید وکړ ، د (اوده) د یوی سیمی (۲) حاکم سعید خان به ځان کښې د (سلطان جلال الدین) د لښکرو د مقابلې توان نه لید – ځکه ئې نو (اوده) پرېښود او لکهنوتی (۳) یا لکهنو (٤) ته ولاړ ، له هغه ځایه څخه سلطان ابراهیم ته ټول حال ولیږه .

## د سلطان ابراهیم برید (۵)

د مولوی ابرار حسین په قول د سلطان سکندر د مړینې د ریم کال پر نیمه برید و ؤ چه د سکندیوو رونو تر منځ د جنګ لمبې پورته شوی او د لودی پاچهی د زوال لمری خښته کښېښوول شوه .

د (اوده) حاکم حال چه سلطان ابراهیم ته راورسېد ، سمد ستی د یوه ګرندی او درانه فوځ سره د لوی اختر د میاشتې پر ۲٤ د پنجشنبې په ورځ د جونپور لور ته روخو ځېد ، د (بهو ګاون) له لاري چه قنوج ته ورسېد ، اعظم همایون اوزوی

---

(۱) مرقع افغان ۱۷۳ مخ د تاریخ داؤدی د ۷۹ مخ په حواله

(۲) تاریخ افاغنه ٦۰ مخ

(۳) خورشید جهان ۹۰ مخ

(٤) مرقع افغان ۱۷٤ مخ او تاریخ فرشته امری جلد ۱۸۹ مخ

(۵) دا پېښه مرقع افغان په ۹۲٦ ه کال او تاریخ فرشته په ۹۲۳ ه کال کښې کښی مګر د مرقع افغان نظریه صحیحه ښکاری ځکه چه د سلطان ابراهیم تخت نیشنې د ۹۲٤ ه کال تر نوی کېدلو وړاندی د مخه وه

ئې (فتح خان) چه د سلطان جلال الدين وزير ؤ دده خوا ته راو اوښتل.
سلطان ابراهيم چه ئې په راتگ خبر شو، نول اميران ئې مخې ته ور واستول
په خورا درناوي ئې دربار ته راوستل ډېرئې ونازول. سلطان لا په قنوج کښې
اړولي ؤ چه داؤد او گوډ کهپورحاکمان شيخ محمد پرملي او سعيدخان هم
ورته را غلل او د سنبهل حاکم (ملك قاسم) هم چه د (چترولي) د سيمې د مشهور
زميندار (جي چند) (١) څپلو لره نللي ؤ ترسره بې وروسته په قنوج کښې څان
د سلطان ابراهيم لښکرو ته راورساوه (٢).

## د ((کالپي)) نيول

له سلطان جلال الدين څخه چه اعظم همايون او فتح خان وزيرئې واوښتل
ده څان د (کالپي) کلاته ورساوه سلطان ابراهيم له قنوجه څخه درئې
لښکرې چه ٣٠ زره ته رسېدلې د لودي اعظم همايون، شرواني اعظم همايون
او لواني نصير خان ترمشرتابه لاندې يې ور ولېږدولې، سلطان جلال الدين
چه په څان کښې د دغې پر تندې مقابلې وس نه ليد خپل او د قطب خان لودي
کهول ئې په کالپي کښې پرېښود، د (کالپي) ساتنه ئې ملك بدر الدين، عماد الملك
او دلودي قطب خان کونډې ته وسپارله په څپله ئې د دېرش زرو سپرو او څو غوره
پيلانو سره دا گرې نيولو ته مخ ونيو، د سلطان ابراهيم را استولي لښکرې (کالپي)
ته را ورسېدلې د کالپي ښار ئې ترڅو ورځو کلابندې وروسته ونيو، ډېر جنگي
بنديان او ډېرې ولجې په لاس ورغلې، ښارئې ولوټه.

## د ((سلطان جلال الدين)) وسله ايښوول

چه (کالپي) ونيول شوه (سلطان ابراهيم) خبر شو چه سلطان جلال الدين اگرې
ته لښکرې لېږدولې دي سمدستي ئې يو خورا تکړه فوځ د ملك ادم کـاکړ

(١) دغه (جي چند) د سکندرخان سوري پرزوئه (عمرخان) باندې پر يد کړی
او هغه ئې وژلی ؤ.

(٢) تاريخ فرشته اردو جلد ١٨٩ مخ

تر مشر تابه‌لاندی له(۲۲) نورو امیرانو سره (۱) اکری ته ولیږداوه، سلطان جلال الدین لاد (کابلی) په بدله کښی (اکره) نه‌وه لوتلی چه ملك ادم ورورسید او داکری په ښارنۀ ووت، سلطان جلال الدین چه وورورسید(۲) ځکه چه د ملك ادم سره دومره لښکر نه‌وٚچه‌یه داکه دسلطان جلال الدین جنګ ته تیار ونیسی نو ځی په بیسته ژبه سلطان جلال الدین څوورځی د اکری له تالااود یا یتخت دخلکوله‌وژلو او ځپلو څخه‌راو ګرزاوه.

څو ورځی وروسته چه دسلطان ابراهیم بولوی لښکر دجلو انی علاء الدین دزوی ملك اسمعیل لودی، کبیر خان اولوانی یالودی بهادرخان تر مشر تابه لاندی یسی وروررسید ملك ادم داده شوا وسلطان جلال الدین ته ئی حال ورګړ چه:

«که دیاچهی خیال له سره‌باسی، پاچاهی چتر، نقاره‌او نوری یاچاهی نخښی پریږدی‌او دنورو امیرانو یه‌څیر حیث اوژوند منلای‌شی نو به دی یه سلطان ابراهیم وبخښم اود پخوایه څیر به‌د کابلی حکومت او جاګیر څښتن در واخلم» (۳)

سلطان جلال الدین ته چه خپله بی‌وسی څرګندوه‌نو ئی دملك ادم وړاندی کړی شرطونه ومنل‌و منل درست پاچاهی نښانونه ئی ورواستول او په دی تو که‌ئی له یاچهی څخه خپله استعفا اعلان کړه.

## دشهزاده جلال خان تیښته

سلطان جلال الدین اوس پیرته (شهزاده جلال خان شو) دپاچاهی دال وډیل له منځه‌ولاړ. دورور (سلطان ابراهیم) دلوراو بیرزوینی په‌هیله‌ئی داکری یه لاو خوا کښی شپی سبا کولی.

ملك ادم کاکړ دشهزاده جلال خان د یاچهی بخښنی (استعفاء) دخپلی وعدی

(۱) خورشید جهان ۹۱ مخ
(۲) خورشید جهان ۹۱ مخ
(۳) مرقع افغان ۱۷۵ مخ دتاریخ داؤدی په‌حواله

او نور تفصیل سره د (سلطان ابراهیم) حضور ته ولیږلي. کله چه سلطان ابراهیم (اټاوې) ته راورسید، د ملك ادم ورلیږلی لیك او له سلطان جلال الدین څخه اخیستي شوی د پاچهی بخښی ور ور سپړلی، نورو امیرانو ئی هم زیرمی ته ځانونه چمتو کړي وو مگر کله چه دا لیك او پاچاهي بخښي د سلطان حضور ته وړاندې کړې شوی، سلطان د خپل ورور په باب کښي ډیری سپکی سپوری تا خوالی وویلی او د دهٔ کلك ایداد (توبیخ) اراده ئی څرگنده کړه، امیرانو هم د زیرمې له پاره زړه و نه کړای شو (۱) د دې وضعیت په اورید لو شهزاده جلال خان ډیر وارخطا شو. له اگری څخه ئی مخ و نیو، د گوالیار راجا (راجه مان سنگه) ته ئی پناه ور وړه (۲) دده په دې تیښته د ملك دویش شخړه فیصله شوه (سلطان ابراهیم) په جگه غاړه اگری ته راغی او دیلارتول ملك د پاچهی واکی ئي په لاس کښي واخیستلی مخالف امیران هم ورته ایل شول.

## مقرری

سلطان ابراهیم چه د ټول هیواد پاچهی ترلاسه کړه، هیبت خان ته ئې د (دوآبې) (۳) قندهاری کریمداد توخی (٤) ته ئې د (سرهند) حکومت او ناسیا له دولت خان لودی ته ئې د دهلی ساتنه وسپارله، شیخ محمد پرملی ئی د (چندیری) په سیمه کښي د سلطان محمد خلجی (شهزاده صاحبخان) په وزارت و گماره او د خوشاب حاکم عیسی خان او دل (درانی) ته ئی د (معرفت خان او دل) پرځای (چه په دغو ورځو کښي مړ شوی ؤ) د ملتان د ځینو سیمو حکومت هم پسی ور کړ (۵)

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۹ مخ

(۲) د مرقع افغان په ۱۷٦ مخ کښی په دغه وخت کښی د گوالیار پاچا د راجا (مان سنگه) زوی (بکرماجیت) لیکلی دی مگر نور تاریخونه د راجا (مان سنگه) مرگ د گوالیار په کلابندی کښی بولی چه تر دی وروسته په راشی

(۳) خورشید جهان ۹۱ مخ.

(٤) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۸۹ مخ.

(٥) خورشید جهان ۹۱ مخ

## د میا بهوا بند

میابهوا د(سلطان سکندر) خورا ورتیر او ځیرك وزیرؤ. دده او سلطان ابراهیم ترمنځ څه مانې پیدا شو. ده ئې څه پروا ونه کړه وروورو ئې دې وضعیت سلطان ابراهیم دده بندلو ته کماره. دېلار خورا منلی وزیر ئې ځنځیر په غاړه داکړي کوتوال ملك ادم ته ئې وسپاره او پس له څه وخته په همغه بند کښې پسې ومړ. د میا بهوا بند امیرانو ته بې اطمینانی مونده کړه، هرچا خپله چاره په او بو کښې ولیده، له دغې ورځې داودي حکومت امیران دخپلې پاچهی په ورانی پسې شول او د میا بهوا بند دلودي پاچهی ستنې ولړزولې.

که څه هم سلطان ابراهیم د میا بهوا زوی (دلاور خان) ته دخانخانان لقب، دېلار جاګیر او عهده د کشمیر دخواؤ حکومت یا د مخزن افغاني په قول د دار العدل منصوب او اوه زری منصب ور کړ، مګر دې ته و لوخښولو د هغې بې اطمینانی مخ نشوه نیولای چه د میابهوا په بند او مرګ د امیرانو په زړو کښې پیدا شوې وه. که څه هم د میا بهوا په بند او مرګ ښکاره څه فتنه پورته نه شوه، مګر د سلطان ابراهیم په پاچهی کښې د امیرانو د تولو بغاوتونو یا یلامه (اساس) شو، که سلطان ابراهیم دخپلو امیرانو زړونه په لاس راوستلې وای دده د پر امیران همغه وفادار ځیرك کار فهمه توریالي او مدبر امیران وو چه د سلطان سکندر غوندې مدبر او توریالي پاچا په دربار کښې روزل شوي او هر یو د خپل وخت منلی او وتلی شخصیونه وو دغو په توره او تدبیر به دده پاچهی خورا درنه او یوه بارونقه، منظمه پاچاهي وای مګر سلطان ابراهیم دپاچهی په نشه مست شو د سلطنت او پلار و نیکه تول دودونه ئې ترشا کړل، دخپلی پاچهی مراندې امیران ئې خپل مخالف او په خپل لاس بارول (۱) او دېښمنو د حکومت څوسوه کلنی ریښې ئې په هندوستان کښې وکښلې.

## د ((ګوالیار)) برید او د شهزاده جلال خان وژل:

سلطان ابراهیم د آګرې او دهلې ترانتظام وروسته د (کړي) د حاکم پر ملی

---

(۱) مرقع افغان ۱۷۸ مخ

یا شېروانی اعظم همایون (امیرالامراء) تر مشرتابه لاندې د دېرش زره لښکر، درې سوه پیلان (۱) او یوه درنه توپخانه د ګوالیار دراجا خپلو اره (چه شهزاده جلال ته ئې پناه ورکړې وه) وګماروله، دا لښکر ئې چه د ګوالیار سیمو ته ورسېدلې، شهزاده جلال خان ویوهېد چه دا لښکر ئې د ګوالیار نیولو ته نه دی را استولې شوی بلکه زما نیول ئې مقصد دی ځکه چه د ګوالیار دراجا پر پناه او مرسته ئې هم ښه پوه و، پس ئې او بروسه نه درلوده نو ئې د خپلو ملو سره د (مالوې) لورته مخ ونیو او د مالوې پاچا دوهم خلجی سلطان محمود د (۹۱۷-۹۳۷) ته ئې پناه ور وړه.

پښتنی لښکر د ګوالیار ښار کلابند کړ، د سلطان ابراهیم په حکم انه تنه نور خورا مهرانه امیران چه هر یوه بیرغ او نغاره درلوده لکه: خان جهان لودی (چه دولس زره سپاره ئې لرل)، سرفراز خان مشوانی، سرمست خان سړبنی، خضرخان داوی، سلیمان خان غرشین جلال خان مرسین زی، مبارزخان لوانی او بهیکن خان بنی هم (۲) له خپلو فوځو سره په مرسته وروورسېدل پښتنی لښکر و کلابندی لا پسی ټینګه کړه په دغو ورځو کښې د ګوالیار کلابند راجا (مان سنګه) چه خورا منلی توریالی و په تیر شو (بکرما جیت) زوی ئې پر ځای کښېنوست د (مان سنګهه) مړینی د ګوالیار دسوبې هیله لا د پښتنو ځلمیو په زړو کښې پسی ټینګه کړه او د (باول ګړه) کلا ئې چه (راجامان سنګهه) د ګوالیار تر کلا لاندې و دانه کړې وه ونیوله. هغه د سروزرو غوائې چه په دغه کلا کښې درول شوې او له ډېرو وختو څخه ئې هندوانو عبادت کاوه آګرې ته و لېږله — سلطان ابراهیم هغه دغوا بت له اګرې څخه ډهلی ته و لېږه او د ډهلی د (بغداد دروازې) پر سر ئې د برې د نخښې په نامه ونجت چه د اکبر مغل ترزمانې پورې هلته نجتی و (۳)

---

(۱) سیرالمتاخرین ۱٤۱ مخ او تاریخ داؤدی ۸۹ مخ

(۲) خورشید جهان ۹۱ مخ طبقات اکبری دا نومونه داسې ضبط کړي دي: بهیکن خان او خضرخان دعالم خان لودی زامن، خان جهان اسمعیل دملك فیروز اغوان زوی، خضر خان اوني، بهادرخان لوني او بهادرخان سروانی، میان پرملی او جلال خان لودی.

(۳) سیرالمتاخرین ۱٤۱ مخ

په دغو وختو کښې شهزاده جلال خان چه د مالوې د باچا له پلوه ګټلو کښه شخه ئې (ګړه کټنګه (۱) یا (ګوندوانه) (۲) یا (راجګړه) (۳) ته پناه وړه او ګوندوانیانو ونیوا و سلطان ابراهیم ته ئې بندي را ووسپاره - سلطان ابراهیم دهانسي کلا ته د میر بزېږو روښو سره د بندله پاره واستاوه مګر برلاري ئې خوله وربنده کړه د باچاهي میني پر وړور ګلوته بری وموند او دائې پو پلا بیا ثابته کړه چه انسانانو ټل خپلو غرضونه د رسېدو او د پاره خورا ګراني ککړي نه تر پښو لاندي کړي او د د بروبر مینو زړو پهو بنوئې خپلې سر و خرو بي حاصلي کړي دي.

## د اعظم همایون بند

د شهزاده جلال خان وژل او د سلطان ابراهیم زړه یو ډه کړ. او س نو د هغو امیرانو دور کولو په فکر کښې شه چه زړه ئې پر بد ګمانه ؤ - ترڅو لو لو مړی ئې اعظم همایون تهلاس وروا چاوه په داسې حال کښې چه اعظم همایون د (باول ګړه) ترسوبې وروسته د (ګوالیار) سوبه سره نږدي کړي وه ګړي ته ئې را وغوښت او له (فتح خان) زوي سره ئې زندان ته وا چا وه حسین خان ساهو خېل لودی او محمود ستر یـانې ئې ووژل (٤)

د ملي وفادارو او توربالی اعظم همایون د بند خبر چه د ګوالیار لښکړ ته ورور سېد هو پښتانه امیران هښي پاته شول. دي خبر بیا تولوا میرانو زړونه د باچا له خوا و دربول او مجبور ئې کړل چه په ښکاره د باچا مخالفت ته لېښځي را وغړي. لودي اعظم همایون (٥) او د مبارک خان لودي مینځوی

(۱) مرقع افغان ۱۷۷ مخ

(۲) طبقات اکبري ج ا ص ۲٤۸ او تاریخ داؤدي ۹۰ مخ

(۳) خورشید جهان ۹۱ مخ

(٤) شوکت افغان ۳ جلد ۱۵۲ مخ

(٥) د اعظم همایون د سلطان بهلول لمسی دی.

زوی (سعیدخان) دگوالیار کلا بندی پرېښوو له او نخپلو خپلو لښکرو سره ئې د (لکهنوتی) لور ته چه ددې جاګیرؤ مخه ونیوله .

## داسلام خان پورته کېدل

اسلامخان د (اعظمهمایون زوی) چه دپلار ترشاه اکرې وا کمن ؤ کله چه دپلار اوورور په بندخبر شود بغاوت نغاره ئې ووهله او لهدسلطان ابراهیم بې سببه بندونو په ډیر وزړو د انتقام لمبې بورې کړې وې د پر پښتنه امیرانو لکه : لودی اعظم همایون واودی سعیدیخان اونور داسلام خان سرهمله شول - دسلطان ابراهیم له خواد (کړی) نوی حاکم احمد خان ئې مات کړویه لمرحتیز وسیمو کښې هری خوانه د بغاوت لوخړې پورته شوې (١)

## داسلام خان وژل

داحمدخان دماتی خبر چه سلطان ابراهیم ته راورسید لحکه چه د پری لښکرې ئې د ګوالیار په نیولو بوختې وې دستی ئې څه ونه ویل ، مګر خورلحې نشوې نیری چه لښکری د ګوالیار له سوبې راستنې شوې او سلطان ابراهیم یوغښتلی فوځ چه پنځوسوهزروسپرو او پنځوسوپیلانو ته رسیدلی (٢) لهدو لسو امیرانو لکهمحمود خان پرملی . دغازی خان زوی (قطب خان) دملك ادم کاکړزوی سکندرخان (٣) علیخان پرملی خان خانان ؛ بهیکن خان لوانی سارنګ خان او د میا حسین پرملی زامن (٤) سره ، داعظم همایون د ورور احمد خان (٥) ترمشر تابه لاندې د یاغیانوځبلو لره وګماره - دافوځ چه قنوج (بانګرمئو) ته ورسید داعظم همایون یوه امیر (اقبالخان) چه داعظم همایون دپنځو زروخاصو سپرو اوځوجنګی پیلانوسره

---

(١) تاریخ فرشته لمری جلد ١٩٠ مخ

(٢) تاریخ افاغنه ٦٢ مخ

(٣) تاریخ افاغنه ٧٢ مخ

(٤) طبقات اکبری

(٥) تاریخ فرشته اوشوکت افغان دا احمدخان لودی بولی

مخه ورته نیولی وه له پټڅنیو (کمین) نابېره پر راووت د سلطان فوځ ئې زښت ولجه ـ پر ډېر و مېږ و ئي مینډ ي بوری کړي او ډېر ځوانان ئي په وینو ورنګول ـ بخپله له خپلو لښکرو سره روغ رمې دجنګ له ډاګه راووت داخبر چه سلطان ابراهیم واورېد ـ د دغه فوځ امیرانو ته ئي وليکل :

«که هغې اتی دیاغیانو له لاسه ونه کښلې زړه ته مې لوېږي چه تاسې هم دیاغیانو مله یاست» بو بل فوځ ئې هم د احمد خان په مرسته ورولېږه ۰

له هغې خوا څخه اسلام خان هم د خلو پښتو زرو په و سلو پټو سپرو او پلخو سرو پیلانو سره جنګ ته راووت ـ نژدې ؤ چه فرځونه پرله ونښلي ، چه بخاری شیخ راجو چه د خپل و خت منلی ستا نه او په دغه و خت په قنوج کښې ؤ) او قندهاری شیخزاده (۱) ئي منځ ته را واوبدل ـ یاغیانو ته ئي نصیحتونه و کړل او دډستې وینو توبو او څخه ئي سره راو ګرزول له یاغیانو څخه چه ئي دوی غوښتنې (مطالب) ویوبشتلې دوی ورته و يل :

«مونږ نور هېڅ نه غواړو که سلطان (اعظم همایون) خوشې کړی مونږ به بغاوت پرېږدو او حتې بلې پاچهی نه به ځنې ولاړ شو» سلطان ابراهیم ته چه دیاغیانو دغه مطالبه ورا ندې کړه شوه و ئي نه منله د بهار حاکم ادریا خان لوانی دغازی پور حاکم (نصیر خان لوانی) او داود حاکم زشیخ محمدبرملی ئي و کمارل چه له خپلو درنو فوځو سره دسلطانی لښکرو په مرسته پریاغیانو ورشی ۰

دادرنې لښکري چه دا حمد خان په مرسته ورورسېدلې کمك جنګ ونښت اس زره پښتانه ځلمی سره ووژل شول یاغیانو ماتې ورکړه ـ اسلام خان بخپله په جنګ کښې ووژه شواو سعیدخان لودی ددریاخان لوانی دلښکرو په لاس بندی شو نور هم ډېر نامتو او درانه امیران لکه اقبال خان په دغه جنګ کښې ووژل شول ۰

(۱) خورشید جهان ۹۲ مخ

# ((د مغل بابر)) لومړی برید

د (سلطان ابراهیم) تېر پوله پوې خوا په ملک کښې د خپلو امیرانو د وینو وای وبهولې له بلې خوائې د باند نیو حمله کوونکو ته هم په خپل ملک کښې د برید له پاره لاره جوړه کړه بابر مغل چه له ۹۱۰ ھ کال څخه په کابل کښې د هندوستان د نیو لوبه نمه شپې سبا کولې مګر د سلطان سکندر د توری او تدبیر په مقابل کښې ئې خپل برې نه لیده کله چه د دهلی پاچهی مغرور سلطان ابراهیم ته ورسیدله او د خپلو امیرانو په وینو ئې خېرې ورنګولې بابر مغل ته د خپلې سوبې امکانات وڅرګندل او د ۹۲۴ ھ کال په سر کښې ئې مخ پر هندوستان خپلې لښکرې راو بهولې تر اباسین را پورې ووت او د پنجاب تر (بهیره) پورې ئې ټولې سیمې ونیولې له (بهیرې) څخه ئې د (مولانا مرشد) ستاځی پلاس سلطان ابراهیم او دولت خان ته دا پیغامونه راو لیږل:

«څرنګه چه دا سیمې د پر وخت د تیمور په دولت پلاس کښې وی نو اوس هم (بهیره) ما ته را پرېږده نور به زه ستا په پاچهی کار نارم» دا ستاځی تر لاهوره راتېر نه شو او نه ئې دولت خان ولیدلای شو او نه د سلطان ابراهیم دربار ته ورتللو ته پرېښود. شو څو ورځې وروسته تا کم کابل ته ستون شو (۱) بابر له (بهیرې) څخه تر اباسین پورې د دغې سیمې حکومت (خنلک جنګ محمد علی او هندو بیګ) ته وسپاره او له (هاتی) څخه ئې د ګکهړ و د (پرهالې) د کلا تر نیولو وروسته هم دا مرید خور پر بوو لسمه بیرته کابل ته لښکرې ستنې کړې (۲) څرګه چه سلطان ابراهیم په خپلو داخلې شخړو بوخت ؤ، د د باندنې حمله آور (بابر) خوا ته ئې دیره توجه و نه کړه دولت خان د بابر تر تللو وروسته د ومره و کړه چه هند و بیګ ئې

---

(۱) بابر نامه ۱۴۳ مخ

(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰۱ مخ بابر په خپله دا پېښه په ۹۲۴ کښې لیکې بابر نامه ۱۴۳ مخ

له (بهيرې) پسې واخيست او کابل ته ئې په تېښته مجبور کړ(۱) د سلطان ابراهيم دې بيا کېدو (بابر) لا زړه ور کړ او دغه کال په پای کښې ئې بيا د لاهور د نيولو په نيامت پر هندوستان لښکرې راوېستلې خو تر اباسين نه ورا پورې وتلې چه پر بدخشان باندې د سلطان سعيد د بريد حال ور ته راغی او بېرته ئې کابل ته ترېللل (۲)

## د مغل بابر دريم بريد

په ۹۲۶ هـ کال بيا بابر له لوزرو تنو سره له کابله څخه د هندوستان لور ته وخوځېد هر ځای چه په پښتانه په کړ توور ئلل ځبل به ئې خو (سيالکوټ) ته ور سيد د هغه ځای خلقو امان وغوښت (سيدپور) ته پسې ور تېر شو د (سيد پور) مشرد خپل سيمې ساتنې ته ملا وتړله جنګ و نښت مغلو د پر مېړو نه ووژل په د رست مالك کښې ئې ځوانان تاربنه او د سر پنا هې ودانۍ پرې نه ښود له تول ئې بو ينا کړل د (سيدپور) مشرئې هم او واژه او ديرش زره ښځې او کوچنيان ئې ځنې بو تلل (۳) سلطان ابراهيم ځکه چه د (د ريا خان لواني او نصير خان لوانی) سره په جنګو بوخت و د بابر لور ته ئې دا بلا بيا هيڅ تو جه و نه کړه

## د ((راناسنګا)) بريد (٤)

راناسنګا راجپوت (دچتوړ) واکمن چه د (مالوې) دخلجي پاچهې له کمزورې څخه استفاده کړې او د (مالوې) د پاچهې زيانه برخه ئې لکه: تمپور، سارنګپور، بهليسا لاندې کړې وه پد غو وختو کښې ئې د لودې پاچهې حدودو ته هم لاس راوغزاوه د (چمديرې) په حدودو کښې ئې امنيت وران کړ (٥ سلطان ابراهيم

---

(۱) بابر نامه ۱۵۰ مخ

(۲) بابر خپل دغه لښکر کښې ديو سفز و دتر تښې په نامه ضبط کړيده (۱۵٦ بابر نامه)

(۳) تاريخ فرشته لمړی جلد ۲۰۲ مخ

(٤) د بابر نامې په ۱۸۹ مخ کښې بابر ليکلي دي چه دغه راناسنګا هم ما ته د هند د را تللو بلنه را کړې وه او ما ته ئې کابل ته دا حال را وليږه چه ته له هغه خوا پر د هلي راشه او زه به له دې خوا پر سلطان ابراهيم بريد و کړم په دواړو به لودي پاچهی له منځه واخلو

(٥) بابر نامه ۱۸۹ مخ

ئې ځبلړاره د میاما کېږي ترمشرتابه لاندې بوفوځ ور ولېږه مګر دغه فوځ په ما ئې را ستون شو - سلطان ابراهیم پخپله لښکرې پسې را وایستلې او راتا سنګاني تیښتې ته مجبور کړ.

## داعظم همایون وژل او د دریاخان پورته کېدل

د اسلام خان په وژلو یا عیان له یرمه ولوېدل سلطان ابراهیم تر پخوا دېر پسې مغرور شو او د پلار د امیرانو په ور کولو ئې پیا لاس پورې کړ (اعظم همایون) ئې په زندان کښې په زهرو وواژ (۱) دې خبرې بیا بیې بلا ډې راوښې کړې هرې خوانه دفتنې او رونه بل شول د هر امیر په زړه کښې دځان له پېرې د بغاوت اراده و ګرزېدې تر تو او د مخه خان جهان لودي حسن خان نورزی (۲) دریاخان لوانی (دبهار حاکم) او محمد خان سوري لاس سره یو کړ دیاچا د خلاف نغاره ئې ووهله لوانې دریاخان ئې په خپله پاچهي (مشرتوب) وټا که او تیازره لښکرئې راغونډ کړ او د بهار تر سیمه ئې د سلطان ابراهیم له پاچهي بیله کړه لږ وخت وروسته دریاخان ومړ او مبارز خان بهادر خان زوی ئې د (سلطان محمد شاه) په نامه پر ځای کښېنو ست خطبه و سکه ئې پر خپل نامه کړه او یو لك سپاره ئې سره راغونډ کړل (۳) د شرواني اعظم همایون زوی سعید خان هم د لسو زرو سپرو سره ورته راو ا وښت (٤) لوانی نصیر خان دغازي پور حاکم چه د سلطان ابراهیم له لښکر و مات شو هم د سلطان محمد شه مل شو سلطان محمد تر (سنبهله) پورې لاسونه را اوږده کړل دې د ې سیمې ئې د سلطان ابراهیم له پا چهي بېلې کړ ې خو بلا چه د سلطان ابراهیم لښکری مقابلې ته وروو تلې په ما نه ځنې را تر شا شولې (٥)

(۱) خورشید جهان ۹۲ مخ

(۲) خورشید جهان ۹۲ مخ مګر شوکت افغان او طبقات اکبری د دغه حسن خان پر ځای حسین خان پر ملې راوړی دی

(۳) خورشید جهان ۹۳ مخ

(٤) شوکت افغان ۳ جلد ۱۵۷ مخ

(٥) تاریخ فرشته او مړی توك ۱۹۱ مخ

## دسلطان محمد خلجي ړینه

دمالوې شهزاده صاحبخان چه دسلطان سکندر لودي په مرسته په (چنديری) کښې د(سلطان محمد خلجی) په نامه حکومت جوړ کړی ؤ دسلطان ابراهيم په باچهۍ کښې ومړ یو کوچنی زوی ئې (احمد شاه) پاته شو سلطان ابراهيم چنديری له احمد شاه څخه واخيستله او مستقيماً ئې خپل حاکم پکښې مقرر کړ (١)

## دمياحسين وژل

دخواجګی شيخ سعيد پرملی زوی (مياحسين) چه دسلطان سکندر خورا ورتير امير او وفادار سپهسالار ؤ سلطان ابراهيم ئې په وژلو بسی شو مګر ځکه چه له يوې خوا دامیرانو دښکاره بندا و وژلی نتايج خورا ترخه او ناوړه ورته ثابت شول نو ئې په ښکاره دده دوژلو اقدام ونه کړ بلکه : چم او دروه له لارې ئې غوښته چه دی له منځه وباسي او بل دمیا حسین په ښکاره نیول څه اسان کار هم نه ؤ ځکه چه اوس ټول امیران دسلطان ابراهیم په بد نیت پوهیدلی ؤ هر چا د ځان دساتنې له پاره ډېر قوتونه برابر کړی او پوره احتیاطئې کاوه که چه دسلطان ټول تدبیرونه په دې لاره کښې ناکامه شول نو ئې (میا حسین) او (میا معروف) د هغه خلو ښت زرو فوځ سره د (رانا سنګا) ځپلو لره وګمارل چه تردوی ډېره ډېر کم رتبه امیر (شیخ ما کهن) تر مشر تابه لاندې دمالوې لورته لیږل کیده (رانا سنګا) په دغو روځو کښې د مالوې په سیمو کښې اله ګوله جوړه کړې وه او د چنديری او (بهیلسی) سیمو ئې تولې نیولې وې مګر دا فوځ په رښتیا د یاغی رانا سنګا ځپلو لره نه لیږل کیده بلکه وائې د (میا حسین) د نیولو له پار ه یوه توطئه وه ځکه چه پاچا په پټه (میاما کهن) ته حکم ورکړی ؤ : «په هر ډول چه سره رسیږی میا حسین او میا معروف و نیسه»

---

(١) بابر نامه ٢١٩ مخ — په ٩٣٤ ه کال چه بابر مغل چنديری و نیوله بیرته ئې نوموړی احمد شاه خلجی ته وسپارله او پنځوس لکه تنګی مالیه پرې کښېښوده (بابرنامه) ٢٢١ مخ

لنډه ئې دا چه میا حسین او میا معروف له خپلو فوځو سره د (میا ما کهن) تر مشر تابه لاندې د (رانا سنګا) جنګ ته وخوځیدل مګر میا حسین چه خو را ځیرك سړی او د سلطان هر حرکت ته ځیر او په دغه پټ حکم ئې هم خبر ؤ له ځانه سره ئې ډیر احتیاط کاوه او د میا ما کهن هر حرکت ته خو را څارو ؤ.

نکل کیا: یوه ورځ (میا ما کهن) د میا معروف ځای ته د زوی د یا نا ور کو او په نامه ورغی میا حسین چه خبر شو دستې ئې ځان ورور ساوه او (میا ما کهن) ته ئې په ربړه وویل:

«میا ما کهنه! د میا معروف د نیولو خیال له سره باسه موږ نه د چا نوکران او نه د چا تر لاس لاندې یو ولاړ یېږه خپل کور ته ځه زموږ پاچا خولیو نی شوی دی، په نا څه شوی دی؟»

د میا حسین و ینا (میا ما کهن) پدې یوه کړچه میا حسین د ده حرکت ته ځیر دی او په هیڅ تدبیر نشی پر کامیا بیدلای. چه خپل نا توبی ته را غی تول حال ئې سر تر پایه (سلطان ابراهیم) ته ولیکه، سلطان نه چه د غه لیك ورور سېد په ځواب کښې ئې ورته واېګل:

«ته نا پوه ئې د بل تا نو بې ته ولې تلې؟ دا ګ په منځ کښې خیمه ووهه ټول امیران د پاچاهي فرمان دار وولو په پلمه راوبوله چه ټول راشي لمړی (میا حسین) بیا (میا معروف) ونیسه او ورته ووایه چه د دغه پاچاهي فرمان په حکم مې بند یان کړاست» (١) میا ما کهن ته چه دا فرمان ور سېد خیمه ئې ووهله امیران ئې راوغوښتل مګر د میا حسین احتیاط او تدبیر د میا ما کهن دا چال نا کام کړ ځکه چه د پنځو زرو سپرو سره راغی او هغه خیمه ئې چه میا ما کهن دده د نیولو په انتظار پکښې نا ست ؤ ړنګه کړ له میا ما کهن ورته وویل:

---

(١) مرقع افغان ١٨٣ مخ د تاریخ داؤدی په حواله .

«پاچاهي حکم ؤچه فرمان به په خيمه کښې در ته لولم»

میا حسین ځواب ورکړ: «کومه اراده چه ته لری هغه نه ترسره کېږی موږ خبریو چه د النبکري زمونږ له پاره را ایستلی شوی دی، که څه هم زمونږ ګډکړی د پاچا د خدمت نذر دی خو یدغه ذات ځانونه نه شوو رسپار لای (۱)

تردې خبرو اترووروسته میاحسین په ښکاره د کوچ او مخالفت نغاره و ډنګوله خپلی لښکرې ئې ولیږدولې (نووې) نه ولاړ او له هغه ځایه د (رانا سنګا) په لښکرو ننووت (۲) د رانا له فوځه سره ئې د سلطان ابراهیم پر لښکرو برید وکړ

یدغه جنګ کښې د سلطان دلښکر ډیر ځلمی ووژل شول او د (رانا) فوځو د (میا حسین) په مرسته بری ومونده. د سلطان لښکری ونښتېدلې او (میاحسین) تربیانی په پسې ؤ د بیانی حاکم (دریا خان) هم یدغه جنګ کښې ووژل شو

سلطان ابراهیم چه د خپلو لښکرو په ماتې خبر شو په خپله ئې خورا درنې لښکرې له (اګرې) څخه پسې وروخوځولې په بیانه کښې دواړه فوځونه سره ونښتل که څه هم

نوم د رانا سنګا د فوځ ؤ مګر د میاحسین د انتقام جذبې کار وکړ او سلطانی فوځونه

ئې ترشا کړل (میاحسین) چه د سلطان دلښکرو ماتې ولیده خپلی پښتنوالی او

مسلمانی ملامت کړ او په زړه کښې خورا پښېمانه شو ځکه ئې نو خپل ورور

میاطه ته (چه یو خورا هنر مند امیر ؤ) وویل:

«د سپین ږیر توب زمانه ده مناسبه نه وه چه په دې آخر وخت کښې د کافر مله

شوو او د مسلمانانو ورونو وینې موو بهولې ما غوښته چه سلطان مونږ و پېژنی

او زمونږ قدر وکړی اوزه په ده داومنم چه د ده پلار (سلطان سکندر) د هغه

صلاحیت او قابلیت په اثر مونږ له سپاهی نو به څخه د امیری رتبې ته ورسولو

اوس نو زماله خوا ورشه سلطان ته ووایه: که سیدخان یوسفخیل لودی

---

(۱) مرقع افغان ۱۸۳ مخ د تاریخ داؤدی په حواله

(۲) تاریخ داؤ دی ۹۳ مخ

او داعظم همایون شروانی زوی (فتح خان) له بنده خوشی کړي زه به ستا هیڅ مخالفت ونه کړم» (۱) میاطه چه دا پیغام دسلطان ابراهیم

حضورته ورساوه سلطان ابراهیم په خورا ورینندی وما نه او دواړه امیران ئې دستی له بنده خوشی کړل. دکین کښه سلطان ابراهیم په دربار کښې توبې اومعافی ځای نه درلود. دچه دا پیغام وما نه او سیدخان او فتح خان ئې خوشی کړل دا ټول دمیاحسین دنیولو اوو ژلو له پاره یوه توطئه وه، میاحسین ته چه دسلطان ځوابی پیغام ورسید له (رانا) څخه بیل شو او دکین کښه سلطان دداد په نیامت (اکړي) ته راغی سلطان ښه راشه درشه ورسره وکړه او دمالوې د(چندیری) سیمه ئې په جاګیر کښې ورکړه ده هم ومنله وائی میاطه خپل وروز میاحسن ته په دغه وخت کښې وویل: «سلطان ابراهیم خورا کین کښه یا چا دی یا بدخو را ابری او کو ښه ښیمی ته ولاړ شي.»

خود میاحسین ژوند بشپړشوی ؤ قضا خپل کار کاوه د میاطه سلائې ونه منله او ورته وئې ویل: «زه د(رانا) دمقابلې له پاره (ما اوه) عوره کوم» اجل نیولی میاحسین (چندیری) ته ولاړ او دهغې سیمې په انتظام بوخت شو لبزی ورځې نه وې تیرې شوی چه کین کښه سلطان خپل یوه ور تیر سړی (دریا بادی شیخ فرید) ته اوه سوه طلاوی نقدی او (لس) کالی د جاګیر په توګه ور کړل او دمیاحسین وژلو لره ئې وګماره (۲) شیخ فرید (چندیری) ته ولاړ او هلته ئې دهغه ځای دوولس زره شیخزاده ګان دپاچا هی بخښښو په هیله دمیاحسین وژلو ته ولمسول، دمیاحسین وراره (شیخ جمال) تر اقدام یوه ورځ دمخه په توطئه خبر شوا کانه ئې حال ووایه او د احتیاط سلائې ور کړه، خو میاحسین په خندا ورته وویل:

---

(۱) مرقع افغان ۱۸۵ مخ دتاریخ داؤدی په حواله

(۲) مرقع افغان ۱۸۶ مخ دتاریخ داؤدی په حواله

دخدای ته دې ډېر ډېر شکرونه وي چه ورا ره مې دومره لايق شو چه ما ته سلا را کوي، مګر ډېره ګرانه راته ايسي چه دغه تار يا کيان به زما سره دروه (خيانت) وکړای شي که زه نارې پر توکړم ډېر به او ليه شي سبا ئې ګوره چه که خدای کول زه څه کوم!» مياحسين تېروت غليما ن ئې سپك او کمزوا که وګڼل او دشيخ جمال سلائې رد کړه دشپې شيخزاده ګا نو دده پر تاڼو بې بريد وکړ، مياحسين په ميرانه خپل وس تمام کړ خوافسوس چه اجل را غلی ؤ ميا حسين ټکاري ولګيد دمرګ په حال کښې ئې خپل وکيل خراساني حسن علي ته وويل:

«زما له خوا سلطان ته ووايه زما په زړه کښې تا ته دروه و درغل نه ؤ خو ستا په زړه کښې کينه وه زه دايم مرم او ته هم رايسي ئې، زما او ستا نياو (انصاف) به دعادل څښتن په مخ کښې وشي» وائې دا روستۍ جمله لا دده تر خولې بشپړه نه وه راوتلې چه دغليم يوه تيېره ئې پريه وېنو لژنده ککرې د اسې ولګېداله چه بيائې سترګی رڼې نه کړې مګر تاريخ داو دی ليکي چه پدغه حال کښې هم ده پر ډېره وپښتونکی دتورې ګذارو کړ او دغه ککرې دده تر مرګ دمخه پر ډاګ رغښته (۱) دمياحسين توريالی دوينوغچ يا ته نه شو قدرت ډېر زر وکښېښ، لښکری ورڅخی نه وی تېری شوی (رانا سنګا) چه د توريالي ميا حسين په مرګ دخپلي لارې څخه يوه او يه سنګړه ايسته وليدله دچنديري پر شخيزادګا نو را وغورځيد او نقر يباً له يوه مخه ئې تر تيغ وکښل (۲) (چنديري) ئې له لودي پاچهي څخه بيله کړه او خپل يوه معتبر امير (ميدني راو) ته ئې وسپارله (۳) چه تر ۹۳۴ ه کال پورې ئې په لاس کښې وه (٤) پهر صورت دسرتمبه سلطان ابراهيم هوده تر سره شوه او دده په لاس ددې پاچهي يوه بله درنه پايه هم راړنګه کړه شوه.

---

(۱) مرقع افغان ۱۸۷ مخ د تاريخ داؤ دي د ۸۸ مخ په حواله

(۲) مرقع افغان ۱۸۸ مخ

(۳) بابر نامه ۲۱۹ مخ

(٤) بابر نامه ۱۸۹ مخ

# د ناسیاله دولت خان پورته کېدل

د میا حسین وژلو بیا د امیرانو په زړو ډېره ننه ایستله د سلطان نورونی امیران هم پرځانو ویرېدل او دده د پاچهۍ په رنګېدلو پسې شول تکل کاوه: په دغو وختو کښې سلطان ابراهیم د پنجاب واکمن او خپل پخوانی او خورا ورتېر وزیر (لودي دولت خان) له لاهوره څخه پایتخت ته وغوښت ځکه چه د سلطان ابراهیم سفاکۍ د تولو په زړو کښې بې اعتمادي پیدا کړې وې نو دولت خان په خپله ور نه غی او خپل کشر زوی (دلاور خان) ئې ورولېږه(۱) دلاور خان څلور میاشتې د سلطان ابراهیم په دربار کښې تېرې کړې، د سلطان ظلم، ضد، سرتمبه ګی او تلون مزاجی ئې له نژدې ولیدله پر خپل مرګ وبیرېد او بې اجازې ئې یوه شپه د لاهور خوا ته مخ و نیو، په شپږ ورځې ئې ځان پلار ته ورساوه (۲) د پاچا د بدنیت ضد او سرتمبه ګی خبرې ئې ور ته وکړې پلار ئې ترین غازی خان او نور د پنجاب د سیمو امیران له ځانه سره ملګرې کړل او د سلطان د بغاوت نغاره ئې په ښکاره و ډنګوله (۳) لمر ختیزې سیمې خو پخوا لا تر (سنبهل) پورې د سلطان ابراهیم) له پاچهۍ بېلې کړې شوې وې اوس ئې د ملک شمالی سیمې هم ورنه یاغی شوې، جنوب غربی خوا تر (بیانې) پورې د راڼا سنګا دیله پورې بریدونو له لاسه ورانه و بېچاره وه، بدبخته (سلطان ابراهیم) له هرې خوا څخه د ده له لاسه پاڅول شوو بلاؤ ګیر کړی ؤ.

## د مغل ((بابر)) بلنه

دولت خان لودي پوهېده چه سلطان ابراهیم غوندې کلک او سرتمبه پاچا بغاوت د هلکو لوبې نه دي.

---

(۱) مرقع افغان ۱۸۸ مخ

(۲) شوکت افغان ۳ جلد ۱۰۸ مخ

(۳) خورشید جهان ۹۳ مخ

ځکه ئې نو نر هر څه دمخه دسلطان بهلول زوی عالم شاه (سلطان علاء الدین) ته چه د ګجرات پاچا دوهم مظفر شاه (۹۱۸ ـ ۹۳۲) ته ئې پناه وړی وه لیك و لیږه پنجاب ته ئې راوغوښت او د سلطان ابراهیم مخالفت لره ئې دپاچهي په تمه و پارا وه.

او له بلې خوا ئې د کابل مغل پاچا (بابر) ته پر هندوستان باندی دبرید بلنه ور کړه او ددی کار لپاره ئې خپل زوی (دلاور خان) کابل ته واستاوه (۱) بابر چه دا حال له خدایه پر آسمان غوښت او پر مځکه پلاس ورغی له ښادی په کمیسه کښی نه ځائیده او بري د اختر ورځ شوه.

## دناسیاله دولت خان تېښته

دولت خان ته لادمغلو لښکري په مرسته نه ؤي رارسېدلي چه د سلطان ابراهیم فوځو نه پر ورغلل، دناسیاله دولت خان غرې ونښتېدل او د خپلو درو سروزامنو علی خان، غازی خان او دلاور خان سره ئې بلوڅانو ته پناه وروړه (۲) پنجاب د (سلطان ابراهیم) پلاس ورغی او لودی مبارك خان، بهار خان او لوانی بهیکن خان دپنجاب دسیمو امیران شول (۳)

## دمغل بابر څلورم برید

مغل بابرچه د دولت خان په تېښته خبر شو په خورا تلوارئی دهندوستان خوانه لښکری وبهولي، دلاهور ښهېر کروهه ته چه ور سېده د پنجاب دسیمو امیرانو (بهار خان، لودی مبارك خان، لوانی بهیکن خان) ئې له خپلو لښکرو سره مخه ونیوله، کلك جنګ وشو مغلو بری موند دلاهور ښار ئې ونیو او دښار تولو بازارونه ئې اوروا چاوه څو ورځې وروسته ئې

---

(۱) مرقع افغان ۱۸۸ مخ

(۲) بلوڅان د پنجاب جنوبی پلو ته دملتان له (کروړ کوټ) څخه تر (دهن کوټ) پوري اباددی تاریخ فرشته دوهم جلد ۳۲۶ مخ

(۳) تاریخ فرشته لومړی جلد ۲۰۲ مخ

د( دیپالپور ) لور ته مخ ونیود دیپالپور کلا ئې هم ونیوله دهغه ښار خلق ئې هم له پوهمخه ووژل او دخپل چنګېزي قساوت بل ثبوت ئې ورکړ (۱)

## دسلطان علاء الدین ورتګ

دسلطان بهلول زوی عالم شاه (سلطان علاءالدین لودی) د سلطان ابراهیم په پاچهی کښې دګجرات پاچا دوهم مظفر شاه ته پناه وروړې وه په ۹۳۰ هـ کال دډهلي دپاچهي دامیرانو په بلنه دسلطان ابراهیم دپاچهی دړنګولو په نیامت له ګجراته څخه مخ پرډهلي راولېږدېد، مظفرشاه څه لښکری او څه روپۍ هم ورکړلې (۲) په دغو ختو کښې بابرمغل هم پرپنجاب لښکری راپېولې وې، سلطان علاءالدین چه د( بابر )په برید خبرشو دپنجاب لورته ئې مخ ونیو چه ګوندې په د(بابر) پهمرسته ژربرخپل وراره سلطان ابراهیم بری ومومی بابرمغل په (دیپالپور) یا(سیالکوټ) کښې ادولی ؤسلطان علاءالدین وروړسید بابر دده راتګ دځان له پاره بونیک مرغ (فال) وباله، مګر کله چه دولت خان لودی اوغازیخان. زوی ئې دبابرپه مخالفت لاس پورې کړ بابرخپله نقشه ناکامه ولیدله بیرته ئې کابل ته لښکرې ستنې کړې او دتګ په وخت کښې ئې ددیپالپورحکومت (سلطان علاءالدین لودی)او( بابا قشقه مغل) ته په ګډه ورکړ (۳).

## دناسیاله دولت خان بند

دولت خان چه دبابرمغل پهراتګ پنجاب ته خبرشو، له بلوڅو را وت او ددروسروزامنو سره ئې ( دیپالپور ) تـهځان ورساوه، بابر مغل وناژاوه جالندهر، سلطانپوراوڅه نورې سیمې ئې پهجا ګیر کښېور کړې اودغو امیرانو پهدله کښې ئې ځایورکړ، مګرد پر ژرناسیاله دولت خان دقومی غدار یه

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰۲ مخ

(۲) تاریخ فرشته دوهم جلد ۲۱۱ مخ

(۳) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰۲ مخ

شامت د رابللی (بابرمغل) په زندان کښی له غازی خان زوی سره واچاوه او ترمغلو او پښتنو دواړو پوري ئی مخ تور شو .

لکن کاچه دولت خان بابر مغل ته سلاور کړه چه ترهرڅه دمخه د جلوانی پښتنو ځبلو لره چه په (نهاره) کښې پرېبېن شاهو خیل او اسمعیل جلوانی راغوند شو بدی لښکري واستوي، مګر د(دولت خان) ناسیاله زوی دلاور خان بابر ته وویل:

زما پلار او غازی خان وروړمې دمغلو په باچهی خوش نه دی، دوی غواړی چه په دې تو که دمغلو لښکري له تاڅخه بیلې کړي او دربانډي راوغورځي »

بابرمغل ځکه (اوپابه دغه پلمه) دولت خان اودی اوغازی خان منځوی زوی ئی زندان تهواچول او ترڅو چه (نوښاري) ته و نه رسید خوشی ئی نه کړل (۱)

## دبابرمغل ستنیدل (( رجعت ))

بابر مغل چه خپل رابلونکی دولت خان له ځان سره مخالف ولید، ځکه ئی نوله سرهنده څخه بیرته لښکري د کابل په نیت لاهور ته ستنې کړې. لاهور ئی (میرعبدالعزیزمیراخور) دیپالپورئی (سلطان علاءالدین لودی) او (باباقشقه مغل) سیالکوټ ئی (خسرو کوکلتاش) او کلانور ئی (محمد علی خنك جنګ) ته وسپاره .

چه تر (ستلج) پورپوری اوبه (نوښاره) کښې ئی وانړول هلته ئی نا سیاله دولت خان لودی اوغازی خان زوی ئی له بنده خوشی کړل او بیا ځی د(سلطان پور) سیمه ئی (چه دپلار نیکه میږنه ئی وه) په جا ګیر کښې ورپرې ښوول دوی چه ایله شول او ځان ته ئی (سلطان پور) ته راورسول، کډې ئی بار کړې دلاهور غرو ته وختل.

بابرمغل چه داو اوربدل ددوی دواړو جاګیرئی ناسیاله دلاورخان لودی ته د(خان خانان) دلقب سره ورکړ او کابل ته ئی مخ ځنې ونیو (۲) .

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰۲ مخ

(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰۲ مخ

## د شهزاده بهادرخان پناه (۱)

په ۹۳۱ هـ کال د ګجرات شهزاده (بهادر خان) له خپل پلار دوهم ګجراتي مظفرشاه (۹۱۸ ـ ۹۳۲) څخه خوابدی شو، دا جګړه او مېوات له لارې ئې سلطان ابراهیم لودي ته پناه یووړه، سلطان ډېر ونازاوه او په خورا درنه سترګه ئې ورته وکتل (۲) مګر دغه بې پاسه شهزاده کله چه بابر پنځمه پلا پر هندوستان حمله وکړه بابر ته ئې لیکونه ولېږل او له مغل پاچا سره ئې کوروالی غوښته ئې چه د بابر خواته ورواړي ـ خو د پلار د مرګ خبر ورته راغی او د ګجرات لوري ته ئې مخ ونیو (۳)

## د دولت خان لودي او مغلو جنګونه

بابر مغل چه کابل ته ولاړ دولت خان لودي او غازي خان پر (سلطان پور) برید وکړ، ناسیاله د لاور خان د مغلو (خان خانان) ئې ونیو زندان ته ئې واچاوه لښکرې ئې د (دیپالپور) لور ته پسې ورو لېږد ولې په (فیروزپور) کښې د دوی فوځونه او د بابا قشقه مغل او سلطان علاء الدین لودي ګډې لښکرې سره مخامخ شوې مغلو ماتې وکړه (بابا قشقه) مغل لاهور ته وتښتېد او سلطان علاء الدین لودي کابل ته مخ ونیو، (دیپالپور) د دولت خان او غازي خان په لاس کښېووت. څو ورځې وروسته ئې پنځه زره شېرواني مېړونه د (سیالکوټ) نیولو ته وګمارل، مګر څرنګه چه له یوې خوا څخه د لاهور مغل حاکم (عبدالعزیز میرآخور) د (خسرو کوکلتاش) په مرسته راورسېد او له بلې خوا د سلطان ابراهیم لښکرو پر دیپالپور برید وکړ پښتني لښکرې بېرته راترشا شوې (۴)

---

(۱) دغه شهزاده بهادر د ۹۳۲ هـ کال په پای کښې د ګجرات پاچا شو او په ۹۴۳ هـ کال کښې د انګرېزانو له لاسه ووژل شو (تاریخ فرشته دوهم جلد)

(۲) تاریخ فرشته دوهم جلد ۲۱۱ مخ

(۳) بابرنامه ۲۱ مخ

(۴) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰۲ مخ.

# دد ولت خان اوسلطان ابراهیم جنگونه

**لمړی جنګ:**

کله چه دد ولت خان لښکرې د(سیالکوټ) په نیولو بوختې وې دسلطان ابراهیم راستولې لښکرې ورته رانژدې شوې دولت خان دخپلو لښکرو سره په (بچوا ډه) کښې مخه ورته ونیوله د سلطان لښکرې چه راوړسېدلې، د ولت خان ئې مشر سپهسالار دخان کړ، کښېته امیران چه په خبر شول دشپې ئې د سپهسالار بې اجازې خپلې لښکرې ستنې کړې او بې جنګه سلطان ابراهیم ته ورغلل (۱)

**د وهم جنګ:**

سلطان علاء الدین چه ددولت خان لودی له لاسه له دیپالپور څخه د کابل خواته وتښتېد د ۹۳۱ ه کال دلمړی ی خورپه میاشت کښې بابر له سیالکوټه څخه لاهورته رخصت کړ او لاهوریر مغلو امیرانوئې لیک ورکړ چه دسلطان ابراهیم اود ولت خان پرضد په جنګو کښې دده مرسته وکړی سلطان علاءالدین چه لاهورته راستون شو د ولت خان اوغازی خان لودی له دیپالپور څخه مغلو امیرانوته ولیکل:

« سلطان علاء الدین زمونږ تولو اکخی، شهزاده دی مونږ تول پرده سره جوړ یږو تول پښتانه امیران دا و انی چه دی به دډهلی پاچا کړ و او تر سرهنده پورې به دپنجاب سیمې ستاسې مغل پاچا (بابر) ته پرېږدو ، تاسې (سلطان علاءالدین) راواستوی »

مغلو امیرانو دسلطان علاءالدین په سلاد اومنل او سلطان علاء الدین ئې ورولېږه (۲) سلطان علاءالدین چه (دیپالپور) ته ورسید نورپښتانه امیران لکه: اسمعیل خان جلوانی دخان جهان زوی (محمود خان) اونورهم برا غونډ شول او ددولت خان دزامنو (علی خان (۳) او د لاور خا ن) په ملګری

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰۳ مخ

(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰۳ مخ

(۳) بابر نامه دعلی خان پرځای ددولت خان بل زوی حاجی خان راوړی

ئې تقریباً دیرش ځلو ښت زره سپاره پر دهلي ورو بهول، باندې نه چه دا لښکری راورسېدلې شهزاده سلیمان پر ملی ئې هم مل شوا و د دهلي ښار ئې کلابند کړ (۱) دابر بدا که څه هم په ښکاره د سلطان علاء الدین په نامه او مشر توب ؤ مګر په حقیقت کښې ددې برید نقشه تولّه لودی دولت خان جوړه کړې وه

## د دهلي جنګ

سلطان ابراهیم چه د دهلي په کلابندی خبر شو، خپلې لښکرې ئې له نور و خواؤ څخه سره راغونډې کړې ترڅو او فتنو د مخه ئې ددغې فتنې وژل لازم وبلل او خپلې درنې لښکرې ئې چه انبازرو ته رسېدلی (۲) له اګرې څخه د دهلي لورته راو بهولې. د سلطان علاءالدین او نورو یاغی امیرانو فوځونه مخې ته ورغلل او سلائې بردې شوه چه: « په دا کې مخ پر تندی له پاچاهی فو ځو سره نه شو جنګېدلای او مل دورځې په ښتانه یو د بل له شرمه څخه میدان نه پرېږدي له شاؤ خوا څخه به دشپې ناڅاپه برید پرکړو» دشپې چه د سلطان علاءالدین لښکرې ناڅاپه له شاؤ خوا څخه د سلطان ابراهیم پر لښکرو چه د دهلي په شپږ کروهی کښې پرتې وې(۳) ورتوی شوې د سلطان فوځ ئې خورا تر هور او کنډو کپړ کړ. مګر سلطان ابراهیم ځان ورته ټینګ کړ تر سپېد وړوړې ئې لاس و نه ښور اوه او له خپله ځا یه څخه و نه خوځېد په خپل تاتو بی (مقر) کښې دځو جنګی پیلانو سره په وسلو پټ چمتو ولاړؤ سهار ته ئې سترګې نیولې وې چه لېږه رڼا شوه ده و لیدل چه یاغی لښکری شاؤ خوا یه تالا بوختې دی او په خورا بېغمی دشپې د زیار محصول تولوی په دغه ترڅ کښې ئې پرخپل اکا (سلطان علاءالدین) هم سترګې و لګېدلې چه د لښکرو په منځ کښې د خپلو ملو سره ولاړ ؤ، دستی ئې پخپله کلک برید پرو کړ سلطان علاءالدین ئې تاب رانه وړ تر شاشو، دده په ترشاه کېدو لودیاڅی

(۱) مرقع افغان ۱۸۹ مخ د تاریخ داؤدی د ۹۲ مخ په حواله او بابر نامه ۱۶۶ مخ
(۲) مخزن افغانی قلمی ۱۳٤ مخ
(۳) تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۹۱ مخ

لښکرو چه په تالا بوخت ؤ پښې له ډاګه وختلې او هرې خواته چه ئې لارمو ندله وتښتېدل . ضد ی سلطان ابراهیم برې موند او ددې بلا له پاره بیاد پاغیانو لښکرو کلکه مـــاتې وکړه ځینې غرو ته وختل او ځینو امیرانو بابر مغل ته چه په دغو ورځو کښې ئې بیا پر پنجاب لښکرې رابهولې وې ځانونه ورسول(۱) وا ئې په دغه جنګ کښې د پښتنو دپرش زره مېړونه سره وو ژل شول (۲) که څه هم سلطان علاء الدین بیا له دو آبې څخه لښکرې را غونډې کړې خو پښخوا ترجنګ دریاخان ، محمود خان او شیخ جما پرملې دسلطان ابراهیم خوانه ځنې واوښتل او ده لهحاجی خان لودی (د کن کوټ)ته ځان ورساوه(۳)

## دغازی خان لودی برید

کله چه دسلطان علاء الدین لښکرو دهلی کلابند کړی ؤ ، دناسیا له دولت خان پوه او مېړه منځو ی زوی (غازی خان) دیوه تکړه لښکر سره پر(کلانور) برید وکړ ، د هغه ځای مغل حاکم (محمد علی خنګ جنګ) چه ئې په ځان کښې د جنګ توان ونه لید،لا هورته ځنې وتښتېد پښتنو ( کلا نور) ونیو ، غازی خان د (کلا نور) ترانتظام وروسته په (بیرسرور) کښې واړول څو دبابر مغل لښکری نه وې رسېدلې (بیرسرور) او کلا نور د ده په لاس ؤ (٤)

## دبابر مغل پنځم برید

د ۹۳۲ ه کـــال دصفرې په لومړۍ ورځ بـــابر مغل بیا پخپلې لښــکرې د هند و ســـتـــا ن د نیــو لـو پـه نیــا مت لـه کــا بـلـه وخـو ځـولـې ، دآباسین غــاړې ته چــه راورسید خبر شو چه غــازی خان لودی (کـلا نور) نیولی دی او دولت خان دراوی برڅه(٤٠) زره سپاره دمغلو مخ نیوی لره

(۱) مرقع افغان ۱۹۰ مخ
(۲) خورشید جهان ۹٤ مخ
(۳) بابر نامه ۱٦۸ مخ
(٤) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰۳ مخ

راغونه کړی دی ، ځکه نو بابر د چناب لورته مخ و ګرزاوه او په بهلول پور کښې ئې واړول ، دسیالکوټ ښارئې پر مخ وران کړ او دسیالکوټ او سیدونکی ئې بهلول پورته وکوچول (۱)

دولت خان او غازی خان خپل فوځونه د (ملوټ) کلاته ترشا کړل . غازی خان د سلطان ابراهیم دربار ته ولاړ (۲) چه دمغلو په مقابل کښې د خپل سر تمبه پښتانه پاچا سره زوعه وکړی او په ګډه دېلار دراپلللي بلا څخه ځانونه وساتی مګر افسوس چه غښی له کرته وتلی ؤ .

## دملوټ نیول او د دولت خان بند

بابر مغل چه سیالکوټ وران کړ د (ملوټ) کلا ته ئی لښکري ولېږل د ولې چه ناسیاله لودی دولت خان ته د قومی غداری نتیجه وښووی .

دولت خان چه د بابر مغل لښکري نژدي ولیدلې په (ملوټ) کښې کلا بند شو څوورځی ئې ځان ټینګ کړ مګر ځکه چه خپل مخ ئې تولو پښتنو ته تور لید . او د هېڅا د مرستې تمه ئې نه وه؛ نو ټینګ پېدلای نشو . کلائې مغلوته وسپارله . مغلوچه بری موند؛ د ناسیاله دولت خان په غاړه ئې دده غبرګې توري سورمان او تورمان (۳) ورو ځړولې په خورا سپکه ورځ ئې د مغل پاچا (بابر) دربارته ورووست . دسلام په وخت کښې دمغلو له درباري دود سره سم باید پر کونډو شوی وای مګر ده چه ونه منل . مغلو سپا هیانو ترڅټ ونیو او په زورئې دده رابللي بلاته پر کونډو وسلامی په وکړه (٤)

بابر دی د علیخان زوی اسمعیل خان له سی او نوري کورمې او کهاله سره د کته بیګ په لاس (بهیري) ته ولیږه چه دملوټ په کلا کښې ئې بندی

(۱) سیرالمتاخرین ۱٤٤ مخ

(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰٤ مخ

(۳) سورمان او تورمان د توروپه دولو کښې هغه دوه دوله توري دي چه پښتانه ئې دېري استعما لوي (اداب الحرب والشجاعته مروزی)

(٤) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰٤ مخ

کړی مګر دادلودیوبند یانو قافله چه سلطان پورته ورسېد له، دولتخان په تېرشو (۱) او په دې تو که ئی د خپلی کړنی حاصل واخیستل، مغلوته چه د ملوټ کلاوسپار له شوه مغلوپه تا لالاس پورې کړ تول پښتانه کهو اوته له کلاراووتل اوشاؤخواؤ ته‌ئې مخونه سره ونیول (بابر) د دولت خان خزانې او مالونه په‌لاس راوستل اود غازی‌خان خورانفیسه کتابخانه ئې‌هم په ګوتو کښېوتله دلودی غازی‌خان د کلوراغوند کړی کتابونه ئې‌په یوه ورځ تیت وپرك کړل څه‌ئې خپل زوی هما یون ته ورکړل اوڅه‌ئی کابل‌ته میرزا کامران‌ته واستول اوڅه‌ئې دخان له یاره‌و کرزول (۲) دناسیاله دولت‌خان مغل‌پر ستهٔ زوی د لا ورخان (خان‌خانان) هم په دغه وخت کښې (بابر) ته‌ځان وروورسا وه اوډېرو نازول شو (۳).

# د سلطان ابراهیم ورووتل

سلطان ابراهیم چه په ډهلي کښې یاغی لښکري ماتې کړې پنجاب ته د بابر مغل دوررسید لو حال وروورسید، دا پلا ئی نوهغه جنګ ته‌لېږی‌راو غښتلی چه دده د قام اوځان مرګ وژوند ور پورې تړلی ؤ دلښکر و ماتی کود ی ئې روغی کړی له هری سیمی ئی لښکری راو غوښتلی، یوه ر و ند لښکر ئی چه مورخین ئې شمیر یو لك سپاره او زر پیلان ښوو ی سره راغوند کړ.

نکل کا: سلطان ابراهیم‌چه دبابر مغل جنګ ته ووت که‌څه هم‌د امیرانو بیلتون او بد بینی دده دماتی ښکاره فال ؤ، بیائی‌هم منجمان وپوښتیدل، هغو ورته وویل: «له ستوروڅر ګند یږی چه زمونږ تول آسونه او پیلان به د مغلو په لښکر و پیوزی» سلطان له دې‌وینا څخه دخپل بری‌معنی و کښله د مغلو په لښکرو ئی دخپلو آسو او پیلانو ننوتل په خپله سو به تعبیر کړه‌او لښکری ئی مخ په‌سر هندولیږد ولی مګر وابه شی چه دمنجمانو مطلب دا

---

(۱) سیر المتاخرین ۱٤٤ مخ

(۲) او (۳) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰٤ مخ

ؤ چه زمو نبز پر آسانواو پیلانو به د مغلولاس برشي. دمنجمانو دی پیشگویی د سلطان ابراهیم دځینو ملو غږی وتښتول د پر ښتانه امیران خو پخوالا د ده مخالف ؤ، مګر پدی خبره ئې ځینو ملو امیرانو هم له مرستی څخه ځانونه وژغورل او ترڅو چه د سلطان ابراهیم لښکری (سونی پت) ته رسیدلی زیات شمیر امیران د مغلو فوځ ته ورو ا ښتل(۱)

## دهمایون مغل او حمید لودی جنګ

بابر مغل چه د (ملوټ) کلا ونیوله او د (دولت خان لودی) له خوا بیغمه شو، د غازی خان لودی په لښکرو یسی ئې مغل فوځونه وګمارل او هغه ئې سره تیت پرک کړي د بابر مغل نوك چه له سخره موښتی ؤ په دغو وختو کښی شاه عماد شیرازی د سلطان ابراهیم دخانخانان (ارایش خان) او ملا محمد (مذهب) له خوا پیغا مونه ورته راورسول: «چه مه را ګوره مونبز ستارا نلو ته ستر ګی په شوو (۲) بابر ته چه پخوالا د سلطان او امیرانو نفاق، بد بینی او عام بغاوت د هندوستان دنیولو تمه ور پیدا کړي وه په دغه پیغام دیر زړه ور او داده شو سمدستی ئې د ډهلی په نیت له (ملوته) څخه لښکري را وخوځولی په انباله (۳) یاد کهکر د سین پر غاړه چه ئې واړول خبر شو چه سلطان ابراهیم له ډهلی څخه د خپلو درنو لښکرو سره مخ پر سر هند را وتلی دی او د (حصار فیروزه) دحاکم لودی حمید خان تر مشر تا به لاندی یو فوځ د سلطان د خاص پیل سره د سلطان د مرستی په نیامت (قصد) له (حصار فیر وزه) څخه را خو ځیدلی دی.

بابر مغل خپل اتلس کلن زوی (همایون) له خواجه کلان، سلطان محمد دولدی جان بیك. خسرو بیګ، هندو بیك، عبد العزیز میر آخور او محمد علی خنك جنګ سره د حمید لودی مخ نیو ی لره وګمارهـ (٤).


---

(۱) مرقع افغان ۱۹۱ مخ

(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰٤ مخ او بابر نامه ۱۷۰ مخ

(۳) سیر المتاخرین ۱٤٤ مخ

(٤) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰٤ مخ



په پانی پت کښې دسلطان ابراهم لودی (۹۲۳-۹۳۲ھ) سرلوڅې هدیره [illegible]
چه په ۱۲۸٤ ھ کال بیا جوړه شوې ده ۰

ددریمې خوریږ څو ارلسمه (١) دهمایون مغل اوحمید لودی لښکرې سره مخامخ شوې . کلک جنګ وشو « حمیدخان خاص خیل لودی» (٢) ماتې وکړه، وتښتېده، لښکرې ئې کنډو کپړ شوې، همایون (قاوغونجی) په ماتو شویو لښکرو وپسې وګمارل، او بخپله له سلو تنو بندیانو او (٧) یا (٨) پیلانو سره (چه دحمیدخان له لښکره ئې راګرزولي ؤ) بریالی دپلار لښکر ونه ستون شو (٣) دبښتنو ټولمیو ککرې ئې له الجو سره پیلان ته وړ اندی کړې بابر خپل بریالی زوی (همایون) ته حصار فیروزه او جاګیرونه چې یو کرو ډ تنکو سره ور کړل (٤) (قاوغونجی) چه جصار فیروزه ته ورسېده هغه ئې هم تالا کړه او دالجو سره بریالی بابر ته راغی، بابر دغې میاشتې ددریمه خوریږ یوویشتمه ئې سل سره تنه پښتانه بندیان ترتوپو و کښل (٥) په دغه وخت کښې بېن جلوانی له د ر وزرو سپرو سره دبابر مغل خواته راواوښت دده په راتګ دبابر مغل زړه لا غښتلی شو او دپانی پت لو رته ئې دسلطان ابراهیم سره دمقابلې، له پاره لښکری وخوځولې، سرهند ته نژدې سلطان علاء الدین لودی هم دبابر دفوځو نومل شو (٦)

## د ((پانی پت)) جنګ (٧)

مغلو لښکرو په (شاه آباد) کښې اړولی وو، چه ددریمې خوریږ دیرشمه دسلطان ابراهیم دلښکر و سرلاری (قراول) چه شپېږ یا اوه زره (٨) سپاره وو د داؤدخان

---

(١) بابرنامه ١٧١ مخ

(٢) خاص خیل د پښتنو په تاریخ کښې د پرورده (روزلی) او کله کله د (غلام) په معنی راوړل کېږي (خواص خان ولی ٢ مخ)

(٣) بابر نامه

(٤) تاریخ فرشته لمړی جلد ٢٠٤ مخ او بابر نامه ١٧١ مخ

(٥) بابر نامه.

(٦) بابر نامه، تاریخ فرشته دلومړی جلد په ٢٠٢ مخ کښې لیکی چه سلطان علاءالدین کله چه بابر په سیالکوټ کښې ؤورغی

(٧) پانی پت دډهلی او سرهند ترمنځ په ١١٣ درجې ٢٢ دقیقې طول البلد ٢٨ درجې او ١٥ دقیقې عرض البلد کښې پروت دی

(٨) بابر نامه ١٧٣ مخ .

اوحاتم خان تر مشر تابه لاندي د (پانی پت) حدود ته راورسید ، دخلور مې خور پرا تلـمه بابر مغل یو تکړه فوځ د تیمور سلطان محمد سلطا ن جنید برلاس ، شاه حسین برلاس ترمشرتابه لاندی د سلطان محمد ابراهیم له سرلاسره جنګ ته له شاه آباده څخه و ګما رل (۱) دمغلو دا لښکر ترجمنا پورې یوت سهار امرخرك ئي د (داؤد خان) پر لښکرو برید و کړ تر یوه کلك جنګ وروسته پښتنو ما تې و کړه پخپله حاتم خان او ه جنګی پیلان او اتیا تنه بندیان دمغلو په لاس کښېوتل (۲) پښتانه بندیان چه ئي بابر مغل ته راوستل په خورا عذاب او سختی سره ئي تول ووژل (۳) او دچنګېز ی وحشت دثبوت دپاره ئي یو دلیل بل زیات کړ.

مغلو دلوی جنګ دپاره تیاری ونیوای او دخلورمې خور په وروستی ورځ پانی پت ته پسی وروليږل دېدل ، هلته ئي ورته وارول . اوه اته ورځی فوځونه سره پرانه وواو یوبل ته ئي کتل له یوې خوا هم په دغوورځو کښې دلوی جنګ دپاره اقدام ونشو که څه هم مغلو به کله کله دشپې ځینې بریدونه و کړل اما څه به ئي له لاسه ونشوه هری خوا دیوه لوی او فیصله کوو نکی جنګ د پاره ترتیبات نیول .

## لوی جنګ :

د ۹۳۲ ه کال د رجب د میاشتی پراوومه یا اتمه پالسمه دجمعې په ورځ سلطان ابراهیم لودی او بابر مغل پخپله دخپلو خپلو لښکرو دا داري واګی په لاس کښې ونیوای اودلوی‌او فیصله کوونکی جنګ په تیاملت دا ګنه سره راووتل. ویل کېږی چه دمغلو لښکر پلی‌او سپاره پنځه لس زره تنو ته رسېدل اوڅه پیلا ن هم ور سره وو،او دسلطان ابراهیم دلښکرو شمېر یولك تنه سپرو او زرو پیلا نو ته رسېدل •

---

(۱) بابر نامه ۱۷۳ مخ

(۲) مخزن افغانی ۱۳۵ مخ او بابر نامه ۱۷۳ مخ

(۳) تاریخ فرشته لمړی ټوك ۲۴۰ مخ



په دي عکس کښی دسلطان ابراهیم لودی دهدیری تنګاچه (صفه) اوورختلی زینی ښکاری
(دسلطان ابراهیم دهدیری عمومی منظر)

دا فو څو نه چه تناسب ئې دشمیر په لحاظ یو په اوه ؤ یو دبل جنګ ته سره ودریدل، مګر دپښتنو نفاق، بدبینی او سره تورو زړودوی پر همت زړه ور توب او قوت هم ومرو بری مونده، دد وی په خپل منځ کښی بېلتون ددوی دما تی څرګند فال ؤ .

کلك جنګ ونښت، دوینو ولې سره بهیدلې، دمغلو یو فوځ دبابر دلار ښوونی او جنګی اصولو له مخی دپښتنو پر لښکر ودشا له خوا راو ګرزېد او په خپل برید ئې پښتا نه فوځو نه سره تر هور کړل، وایی په دغه وخت کښې دسلطا ن ابراهیم یوه ور تیر امیر سلطان ته سلا ور کړه چه : « نن به دمصلحت له مخی جنګ پر یږدو، بیا به فکرو کړو او یو مناسب تدبیر به غوره کړو »(۱)

مګر هوډ یالی سلطان چه دبری او یا د پښتنو دپاچهۍ دختمولو هوډه کړې وه کله دا سلا منلای شوه وای ځواب ئې ور کړ :

« تا ته نه ده څر ګنده چه دپاچها نو خیمی سرې وی اوددوی دسر خرویی فال اودسر فروشۍ نخښه ده مو نږ (پاچها نو) چه دا خیمی بخپلو وینو رنګ کړی دی اوس کوم لور ته مخ نیولای شو! اوسر خرویی به په زړ درویۍ څنګه بدله ؤ؟!» (۲)

هغه ؤچه له ځا ښته څخه تر ماپښینه پورې کلك جنګ وشو، ډیری مینديې پورې شولې، سلطان ابراهیم هم تر خپلې هوډۍ جار شواو دجنګ په ډاګ کښې دپنځوشپیږ زرو پښتنو ځلمو تر څنګ چه په وینو لړ ندمړه پراته وو دمرګی په خوب وغزید (۳)

---

(۱) مرقع افغان ۱۹۳ مخ دتاریخ داؤدی د ۹٤ مخ په حواله

(۲) مرقع افغان ۱۹٤ مخ دتاریخ داؤدی د ۹٤ مخ په حواله .

(۳) تول مورخین په ګډه او بخپله بابر دبابر نامی په ۱۷٦ مخ کښی دا منی چه سلطان ابراهیم دجنګ په ډاګ کښی په میړانه ومړ، مګر یو تاریخ داؤدی لیکی «چا ماته وویل: زه دجګ، په ورځ له سلطان سره وم سلطان چه دخپلو لښکرو ماتې ولیده خپل کېمپ (مقر) ته چه دجمنا پورې خوا ؤ، را ترشا شو، دجمنا په سین چه آس ئې ګډ کړ، او بیرواخیست مړ.» ندغه قول ته دبابر خپل تردید کافی دی .

مازدیگرته تبریزی طاهر چه دجنگ پاډ گ کښې ئې مړی لټول ددمړی وپیژاند سرئی ځنی غوڅ کړ اومغل پاچا (بابر) ته ئی یووړ، تن ئې په پانی پت کښې ښخ کړ شواوقبرئی څرگند دی (۱)

داتو کالو اتومیاشتو اویوې ورځې تر پاچهي وروسته ددغه هو ډیالـې سلطان ابراهیم وژلی په ډهلی کښې دپښتنو ددري سوه کلني پاچهي کمبله ټوله کړه .

## شهید شدن ابراهیم

(۹۳۲ ھ)

ددې پیښې تاریخ دی .

یوه هند وشاعر ددغې پیښې نیټه داسې راوړې ده :

| | |
|---|---|
| (نو) سی او پر تهـا ( بیتا ) | (پانی پت ) مین بها ر ت د یسا |
| سا تو ین ر جب اپت ډ ا ر ا | (با بر) جیتا( براهیم) ها را (۲) |

مولوی اما م بخش صهبایی ئی داسی تاریخ لیکلی دی :

| | |
|---|---|
| کرد چون سلطان ابراهیم کوچ | هفتم شهر رجب از این سرای |
| جست دل از ها تف اسرا ر کن | سال فوت آن شه گردون سرای |
| گفت که در (جنت و الای پاك) | یا فته (سلطان ابرا هیم) جای (۳) |
| (٥۲٤) | (٤۰۹) |

دبابر مغل په حدم چه په دغه جنګ کښې د پښتنو مړی و شمېرل شو ل پنځلس وز روته ورسېدل (٤)

(۱) تاریخ خورشیدجهان ۹۳ مخ

(۲) مرقع افغان ۱۹٤ مخ .

(۳) جامع التواریخ ۲۱۵ مخ .

(٤) بابر نامه ۱۷٦ مخ .

# دسلطان ابراهیم هدیره

دپانی پت دښار له کلا څخه تقریباً یو میل لیری دپانی پت په خونی او تاریخی ډاګ کښی دپخوانیو پاچاهی لاری څنګ ته یوه او مه غونډی شته، پخي زینې ورختلی دی، دغونډی په منځ کښي سربېره یوه او مه دکانچه (صفه) ده چه هغې ته هم دپخو خښتو دري زینې ورختلې دی، پردغه دکانچه دسلطان ابراهیم لودي قبردی چه له معمولی مرمره څخه جوړ شوی دی، دقبر سرته دغونډی په دیوال کښی یوه دمرمرو ډبره (شنخته) نجتلې شوې ده(۱) چه دامضمون پرلیکلی دی:

« قبر پادشاه ابراهیم لودي جو به مقابلۀ ظهیرالدین بابر شاه پانی پت کی بڑی لڑایی مین اپنی فوج کیساتهه قتل هوا اسکی قبر کی مرمت اور درستی ۱۸٦۷ع مین هوی » (۲)

# دپانی پت ډاګ

دپانی پت خونی ډاګ دپانی پت دښار شمال ته پروت دی، دا ډاګ ارغوی غوندی صاف او هوار دی، ترمز لومز لویوری دونی څرك پکښی نشته، دغه ډاګ په شمالی هندوستان کښی له لرغونه تل دخورا لویو لویو جنګو میدان شوی دی، ترمیلاد ۸۰۰ کاله دمخه نیوي کورنیو ددوو پلارو ترمنځ چه (کورو) او (پانډو) نومېدل، ۱۸ ورځی پله پوری یوخورا لوی او تاریخی جنګ دلته پېښ شو چه پای ته (پانډو انو) بری موند. په سنسکرت ژبه دهندوانو خورا لوی منظوم کتاب (مها بهارت) چه یولك بیتو نه او اتلس بابه لری (۳) دهمدغه جنګ تفصیل دی(٤) په ۴۰۲ه کال یا ۱۰۱۱ع کال چه غزنوی

---

(۱) عجایبات هندوستان ۲۰۷ مخ

(۲) دښاغلی انوارالحق ګران له یادداشتو څخه .

(۳) حیات افغانی ۲۳ مخ

(٤) کتاب الهند البیرونی

سلطان محمود پر تها نیسر برید وکا ، په همدغه ډاگ کښی خورا کلك
جنگ وشو او دمړو غونډی جوړی شوی (۱)

په ۵۸۷ ه کال یا ۱۱۹۱ ع کال غوری سلطان شهاب الدین پر همدغه میدان د ډهلی له نومیالی پاچا (پر تهوی راج) سره چه د ټول شمالی هند مهاراجا گان او راجا گان ئې په مرسته راغلی وو؛ وجنگېد او په ماتې غزنی ته ستون شو.

په ۵۸۹ ه کال یا ۱۱۹۳ ع کال بیا سلطان شهاب الدین په دغه ډاگ کښی له (پرتهوی راج) سره مخامخ شو ، پرتهوی راج ئې وواژه او د ډهلی لښکرو ته ئې کلکه ماتې ورکړه .

په ۹۳۲ ه کال یا ۱۵۲۹ ع کال همدغه د بابر او سلطان ابراهیم لودی جنگ د دغه ډاگ پنځم لوی جنگ ؤ چه لکه څرنگه چه مو ولوستل د بابر په گټه تمام شو. تر دغه وروسته همدغه ارت ډاگ په ۹٦٤ ه کال یا ۱۵۵٦ ع کال د اکبر مغل او هیمو او په ۱۱۵۲ ه کال یا ۱۷۳۹ ع کال د نادر افشار او محمد شاه مغل او په ۱۱۷٤ ه یا ۱۷٦۱ ع کال د پښتانه ستر ټولواك لوی احمد شاه بابا او مرهټيانو د جنگ میدان شو چه په لومړی کښی اکبر مغل ـ په دوهم کښی نادر افشار او په دریم کښی پښتانه ستر ټولواك احمد شاه بابا (رح) بری موند (۲)

## د سلطان ابراهیم سکه

(نیلسن وایت) په خپل کتاب (د ډهلی د پاچاهانو سکي) کښی د سلطان ابراهیم یوه سکه فوټو گرافی کړی ده ددې سکې پر یوه خوا (السلطان ابن السلطان) او پر بله خوا ئې (ابراهیم شاه لودی اسره اسکندر شاه) لیکلی دی .

## د ((ډهلی)) او ((اگرې)) خزانې

بابر مغل د پانی پت تر سوبې وروسته یو درونده لښکر د خپل زوی همایون

(۱) د حیات سلطان محمود په ۱۰۹ مخ کښې
ددې غزا نېټه ۵ ۰ ٤ ه ضبط شوې ده.

(۲) عجایبات هندوستان ۲۰۵ او ۲۰٦ مخونه

اوخوا جه کلان بیك ،شاه منصور اوو لی‌خان ترمشر تابه لا ندې دا گری دنیو لو او د پښتنو پا چها نو دخزا نو دلاس ته راوستلو د پا ره ولېـــږد اوه پخپله بابر درجب پردولسمه پەډهلی نتووت او دپښتنوپاچهانو ډ کې خزانې ئې مهر و لاك کړې، ترهغو چه په ۹۳۳ ه کال همایون دپلارپه نږه دا خزانې ماتولې چالاس نه ورووړ (۱) د مغلو لښکر ې چه دهما یو ن په مشر تا بـه (اگرې) تەورسېدلې؛ دسلطان ابراهیم زوم سوری فیروز خان(۲) او کرانې ملك‌داؤد کلا بند شول ځکه چه‌له هیڅ خواڅخه دمرستې هیله نه وه. پنځمه ورځ ئې دا گرې کلا مغلوته وسپا رله درجب پر دوه و یشتمه یا نه و یشتمه چه بابر مغل اگرې تەورسېدترهر څه‌دمخه چې ئې دپښتنوپاچاها نو خزانې وکتلې ،ارتهی ورته وا خستې‌ئې سمد ستی‌ئې و یا لکه نقدی تنگې او یوه بشپړه خزانه شهزاده‌همایون تەوبخښله۱۷ لکه‌ئې کامران میر زاته ، ۱۵ لکه ئې محمد زمان‌میرزاته۱۵ لکه‌ئې‌عسکری میر زاته ، ۱۰ لکه تنگې ئې هندال میرزاته‌ورکړې ،نوروټولوامیرانوته‌ئې‌هم چاته‌لس لکه،چا ته اته لکه او چاته شپږلکه تنگې‌ورو بخښلې. نورئې هم خپل ټو ل لښکر یان په اصطلاح ز رریز کړل او د کابل دولا یت اوسېد ونکو ته ئې دسړی په سر کو چنی او لوی ساهو اومر یی ته یو یومثقال سپین زرواېږلی‌دکا شغر ، خراسان سمر قند او عراق بنو خلقو ،خپلو انواودوستانو ته ئې‌درانه‌درانه‌سوغاتونه واستول (۳)

## دپښتنو دماتې سببونه

سلطان العادل شیرشاه سوری (رح) ویلی دی:« څومره ما تې چه پښتنو د مغلو له لاسه کړې دی یواځنی سبب ئې دپښتنو بی اتفا قی وه ځکه په میرانه

(۱) بابر نامه ۲۱۷مخ

(۲) بابرمغل دغه فیروزخان‌میوا تی بولی او د (ملی‌سور) په نامه یو بل‌سړی هم په‌دغو مدافعو مشرانو کښې لیکی (بابر نامه ۱۷۷مخ)

(۳) بابر نامه ۲۰۶مخ

زړور توب او توريالي توب کښې مغل ددوی ګور(مقابل ) نه ؤ او نه دی که ژوند ؤ زه به دپښتنو داتفاق په برکت خپله داادعا ثابته کړم اوپه هندوستان کښې به دمغلو سيوری پری نه ږدم (۱)

**مولوی ابرارحسين ليکی:**

«د پانی پت په لمړی جنګ کښې خو پښتانه په شمير کښې تر مغلو يو په اروه زيات ؤ او بايد مغل بابر هيڅ سو به نه وای وړی مګر په دغه جنګ کښې چه لبز ومغلو پر ډير وپښتنو برې ومونډ سبب ئې دمغلو زړه ور توب طاقت او دجنګ پوهه نه وه بلکه د مدافعو پښتنو مړه زړونه ، شنې خواوی او ختلی اروا حانوو چه د سلطا ن ابراهيم د ظلم له منګو لو څخه ئې په هره توګه خلاصون غوښت»(۲)پنډت ويشو اناتهه ليکی :

«دپښتنو د پاچهی وروستی پاچا(ابراهيم لودی)تور زړی بير يدونکی او بی اوره سنګدل پاچا ؤ، ټول پښتانه اميران ځنی خواشينی شول، بابر مغل له دغه موقعه څخه استفاده وکړه بريد ئې پروکړاودپښتنو پاچهی ئې ړنګه کړه (۳)

رښتيا هم داده چه خپل نفاق دپښتنو د پاچهی دولت اوقوت رينګی وکښولی که نه د سلطان سکندر په وختو کښې چه پښتانه اميران سره په يوه زړه ؤ د غه بابر دده په خپل قول له ۹۱۰ ه کال راهيسی په کابل کښې دهندوستان د پاچهی تمه په زړه کښې لر له مګر تر آباسين ئې پوری خواته ستر ګی نه شوای ښکاره کولای، ګبزی ګبزی ئې کتل او تر څو چه پښتانه په خپلو کښې سره ونه لويدل تراباسين ئې دور پوری وتلوجرآت ونه کړ.

د مغلو او پښتنو تر منځ وروستيو نښتو دا نظريات ښه تر ا تائيد کړی دی ځکه چه دغه بلا( نفاق) د همايون مغل او ورونه په کور ننو تله دمغلو جال

---

(۱) مخزن افغان ۱٦۱ مخ

(۲) مرقع افغان ۱۹۲،۱۹۳ مخ

(۳) د هند طلايی تاريخ ۱۳٤ مخ

ئې ترپښتنو بتر کـړ .

وایې همایون مغل چه له شیرشاه سوري څخه لوموړی ځل ماتې وکړه او په تېښته ئې اګرې ته ځان ورسا وه کله چه ئې له خپلوورور کامران سره ولیدل دواړو ورونو په وړت ورت سره وژړل او پر خپله بې اتفاقي اوبده ورځ ئې دکو نډیانو په څیر او ښکې واورولې (۱)

بې اتفاقي چه د مغلو په منځ کښې درزونه واچول، دشیرشاه سوري په مقابله کښې بیا هغه طاقت ور پاته نه ؤ چه یو ځلمې دې ئې اووه تنه پښتانه پسې واخلي بلکه ځلورتنه ئې یوه پښتانه ته ټینګک نشوه حتی ډاسې هم پیښه شوه چه د ۹٤۷ هـ کال دعا شوري دورځې به جنګک کښې اووویشتوتنو مغلو امیرانو د شیرشاه او پښتنو له بیرې څخه خپل خپل بیرغونه پټ کړل (۲)

د سقاو په مرستبه د ګنګا ترسینډ همایون پورې یوتل او کلو نه کلو نه د ایران د پاچا (شاه طهماسب) په دربار کښې د یوه مستغیث په حیث میلمه کیدل د شیر شاه غازي د قولڅر ګندنمو تو به دی .

## دسلطان ابراهیم د وخت ارزانی

د تعجب وړ خبره داده! سره د دې چه د سلطان ابراهیم پاچهي د جنګو خونریزیواو بد امنیو زمانه وه، بیا هم په ټول ملك کښې هر لورته ارزانی دغې اندازې ته رسیدلې وې؛ چه تاریخ ئې په درو ځلو ر و سو وکلو کښې د خلجي سلطان علاءالدین بې زمانې پرته بل مثال نشي ښو ولای. مګر دا هم باید وویل شي چه د خلجي سلطان علاءالدین په وختو کښې ارزانې دغه معیار ته په خورا زیارو زحمت او زورو زیاتي رسیدلې وه او سلطان ابراهیم د خپلو امیرانو سره له جنګو څخه دې چارو ته هیڅ وخت نه درلود (۳)

د سلطان ابراهیم په زمانه کښې په یوه بهلولي لس منه غله پنځه سیره

---

(۱) طبقات اکبری ۲ جلد ٤٤٥ مخ

(۲) شوکت افغان ۳ جلد ۲٥۹، ۲٥۷، ۲٥٦ مخونه

(۳) مرقع افغان ۱۸۸ مخ او خورشید جهان ۹٤ مخ: تاریخ بهادرشاهي په حواله

(لس پاوه) غوړی اولس گزه‌جامه وه! که به چاله دهلي څخه آ گر ی ته پر خپل آس له یوه شا طره سره سفر کاوه یوه بهلو لي ئې پښه بس کیدل یوه کور داره پلی‌سپاهي‌ته دمیاشتې پنځه تنگې‌اویوه سپاره کښن سپاهي‌ته د میاشتې له شلو تنگو څخه تر دیرشو تنگو پوری ور کولې(۱) او د هغو پښه گذاره په کیدله .

**دارزانی‌سبب‌و ن:**

مولوی ابرار حسین لیکی:« هغه څوك چه وایی دسلطان ابراهیم دو ختو ارزانۍ دده دښه انتظام نتیجه وه! دمنلو وړ خبره نده ځکه چه‌دده‌ا‌ته سره کاله پاچهی د ورونو او امیرانو سره‌په دسیسو اوجنگو کښې تیره شوه البته ده دایو عام حکم کړی و چه هیڅ امیربا جاگیر دار دي نغده ما لیه نه اخلي او په سرسره دی هغه غله په ما لیه کښې ځنې اخلي چه له هغی ځځکی‌ئی اخیستی وی»(۲)

دسلطان ابراهیم دزمانې دخاصې اوبې مثالې‌ارزانۍ سببونه اغلباً داد ی:

۱ ـ دده دپاچهی په‌زمانه کښې هرهر کال پر خپل خپل تاپې خوراښه او کافی بارانونه کیدل، حاصلات یو په دوه شول (۳)

۲ـ د(سلطان سکندر) داته ویشت کلنۍ پاچهۍ دښه انتظام، بشپړ ی توجه ،زرعی اصلا حاتو اوتشویق نتیجه دسلطان ابراهیم په وختو کښې ښه ترا خر گند هشوه(٤)

۳ـ دسلطان ابراهیم دغه حکم‌چه (نقده مالیه به کرت نه‌اخلي) گدامونه له‌غلوڅخه‌ډك کړل‌اودخریددقوت‌لږون‌تول‌دضرورت‌شیان خوراارزانه کړل(٥)

---

(۱) مرقع افغان ۱۹۹ مخ خورشید جهان۹۵،۹٦ مخ
(۲) مرقع افغان ۱۸۸ مخد تاریخ داؤدی په حواله
(۳) مرقع‌افغان ۱۸۸ مخ، خو رشید جهان ۹٤ مخ
(٤) مرقع افغان ۱۸۸ مخ‌دتار یخ داؤدی‌په‌حواله
(٥) تاریخ داؤدی ۱۸۸ مخ

# د ډېرې ارزانۍ نتيجه:

د نقدي مالي نه اخستلو له يوې خوا بزګرانو او باغوانانو لره د پرې آسانۍ موندې کړې او طبيعي مرستې، دجوي اوضاعو مساعدت ئې حاصلات يو په دوه کړل، مګر له بلې خوا سره او سپين زر (چه ديوه هېواد داقتصاد پښتې دي) په‌را کړه ور کړه کښې خورا لږ بلکه ورك غوندې شول ديوه کلمن، سپاهي پنځه ټنګې ميا شتنۍ تنخوا دا خبره ښه‌ترا ثباتوي.

رښتيا همدا ده چه دنقد وجنس برابري دهېواد داقتصاد برابر سره ساتلای شي څرنګه چه دسکې ډېر ښت اودخريد دقوت زيا توب هغه وخت بيکاره ثابيتېږي چه په بازار کښې درانيو لو له پاره څه نه‌وي همدغه رنګه په بازار کښې دمواد وعېر ضه بيکاره با يدوبو لو چه دخريد دقوت او سکې نايابې احساس شي (۱)

# ابراهيم شاهي تاريخ

نعمت‌الله هروي ليکي :

د کالوانې ابراهيم زوې «مولانا محمود» يو تاريخ ليکلی دی چه په دې تاريخ کښې د سلطان ابراهيم دپاچهۍ دپيښو تفصيل شته اودمؤ لف له‌خواله همدغه امله د کتاب نوم «ابراهيم شاهي تاريخ» ايښودشوی دی (۲)

# دسلطان ابراهيم مور

بابر مغل چه اګرې ته‌ولاړ دسلطان ابراهيم بورې مورته ئې داو ولکو تنګوپټی «جاګير» ورکړاو ترآګرې يوکروه‌دباندې ئې ميښته کړه (۳) دطباطبايي په قول دسلطان مور يوه‌دانه الماس چه اته‌مثقاله‌درونداودبکرماجيت مشهور هندومهاراجا له خزانې څخه‌لاس پرلاس دخلجې سلطان علاءالدين خزانې

---

(۱) مرقع افغان ۱۸۸مخ

(۲) قلمي مخزن افغاني ۳ مخ

(۳) بابر نامه ۷۷ ۱مخ

اوبیادلو دیوخزانې تەرارسیدلیٔ بابر مغل ته ور کړ «یائې ځنیواخیست» دهغه وخت جوهریا نو دهغه الماس بیه خورا ډیره وټاکله (۱) .

مګر دتاریخ خورشید جهان په قول درې ورځې وروسته اودتاریخ فرشته په قول د ۹۳۳ هکال پهلمړ یوورځوکښې مغل بابر پهدې پلمه چه ماتهئې ستا پهلمسون زهر را کړیدي (۲) اویا دی دزهرراکولو نیت درلود (۳) د سلطان بوره مور له خپل ټاټو بی ځخه راوا یستله؛ کورئې تا لا کړ. دسلطان سکندرغوندې مېړهدرانهاوپوهپښتون پاچاملکهئې دخره په سپارلی‌ړ (٤) ترڅ ندانهبوتله (٥) اویتیم لمسی ئی «دسلطان ابراهیم‌زوی» کابل ته ځنیواستاوه وائي ترڅ دی پېښې وروسته بابر مغل «غازی‌خان ترین» چهد ده د رابللوپه چاره کښې ددولت خان ملاوتراوسهدمغلووفادارؤ،وواژهاودکابل او قند هار لهسیموڅخه ئی هندوستان ته دوسله والوپښتنو ورتګ منع کړ او دهندو ستان پښتا نه ئې مجبور کړ ال چه له سپا هیتو به لاس واخلی اوکرهڼهاوسوداګری وکړی (٦) :

## دسلطان ابراهیم اولاده:

د سلطان ابرا هیم لودی یوه ښځه چه (بی‌بی فتحه) نومیدله، دکالاپهاړ «شیخ زاده محمد پرملی» لور اودسلطان بهلو ل دخور لمسیړ وه ، کله چه سلطان ابرا هیم د پانی پت پهجنګ کښی ومړ، دې دمغلو له لاسه دهندوستا ن لمر ختیزې ډډې ته مخ و نیو، په ۹٤۳ هکال شیر خان (شیرشاه سوری) سل منه سره زر ، لس منه مرغلرې ،خورا ډېر سپین زر اونور اجناس ځنی واخستل (۷)

---

(۱) سیرالمتاخرین ۱٤٥ مخ مګر نور تاریخونه وائی: داالماس دبکرماجیت سړو بابرته ورکړ.
(۲) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰۷ مخ
(۳) خورشیدجهان ۹٥ مخ
(٤) خورشیدجهان ۹٥ مخ
(٥) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰۷ مخ
(٦) خورشیدجهان ۹٦ مخ .
(۷) تاریخ خورشیدجهان ۱۰٦ مخ

# دسلطان ابراهیم زامن

دسلطان ابراهیم یو زوی مونږ ته څرګندي چه د۹۳۳ه کال د لمړۍ خور په ۲۹ بابر مغل د ملا سر سان په لاس له اګرې څخه د کابل حاکم شهزاده کامران میرزا ته بندی واستاوه(۱)

## د سلطان ابراهیم لوڼې:

د سلطان ابراهیم درې لوڼی مونږ ته څرګندې دي:

### ۱- د فیروزخان سوری ښځه

دخور شید جهان د مؤلف په قول دسلطان ابراهیم یوه لور له فیروز خان سوری څخه وه.

سلطان ابراهیم چه په پانی پت کښې ووژل شو اوبابر مغل ده هلی تر نیولو وروسته خپل زوی همایون دا ګرې نیولو ته وګماره، همدغه فیروز خان او داؤد خان کرانی اګره ورته کلا بنده کړه، خو تر پنځو ورځو جنګ وروسته ئې کلا مغلوته وسپارله(۲)

### ۲- دبنګال دپاچا ښځه

دسلطان ابراهیم تروژلې وروسته چه پاچاهی کورنۍ لمر ختیزې ډډې ته مخ ونیو، هلته د سلطان ابراهیم لودی یوه لورد بنګال پاچا نصیب شاه یانقیب شاه (۳) (۹۲۷ ــ ۹۴۳) چه دسلطان علاءالدین بنګالی(۴) زوی ؤ وکړه، په ۹۴۳ ه کال نقیب شاه یانصیب شاه یانصرت شاه ومړاو دبنګال پر پاچهی ئې یوه امیر (بنګالی سلطان محمود) غېږ راو ګرزوله چه په ۹۴٤ه کال د شېر خان (شېر شاه سوری) له لاسه تېښی شو، اوهمایون مغل ته ورننوت(۵).

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰۷ مخ او بابر نامه ۲۰٤ مخ
(۲) خور شید جهان ۹۵ مخ
(۳) دا نوم په بابر نامه کښې نصرت شاه ضبط دی ۱۸۹ مخ
(٤) سلطان علاءالدین د بنګال هغه پاچا و چه په ۹۰۱ ه کال ئې له سلطان سکندر سره د نه برید تړون وکړ
(۵) تاریخ فرشته د وهم جلد ۳۰۲ مخ

## ۲ـ مهر سلطانه

په ۹٤۳ ه کال د شېرخان (شېرشاه سوری ، زوی جلال خان د ځان له پاره غوښتنه خو (بی‌بی فتحې) مور ئې نټه وکړه (۱) اوبیا ئې (سکندر) نامی ته چه له خپلوانو څخه ئې ؤ، ور کړه (۲)

## د سلطان ابراهیم لودی امراء

دسلطان ابراهیم امراء زیاتره هغه دسلطان بهلول او سلطان سکندر د پاچهیو امراء وو، یوڅوتنه چه نوی دده په وختو کښې دامارت رتبې ته رسېد لی دی داد ی:

## ۱ ـ علی خان پرملی

د سلطان ابراهیم په وختو کښې ئې د (خان خانان) لقب درلود (۳) دسلطان ابراهیم ترمرگ وروسته (مېوات) ته وتښتېد ، د ۹۳۲ ه کال په پای کښې چه زوی او کهول ئې (مېوات) تهورتله، دا گری اوده هلی تر منځ مغل امیر (یونس علی) له خپلو لښکرو سره وربا ندې پېښ شو، تریوه سپك جنگ وروسته داپښتنه کورنۍ دمغلو په لاس کښېو تله اوبندی ئې بابرته وروستله بابر مغل ئې یوزوی د (قدم ترك) له زوی (میرزا مغول) سره مېوات ته ورواستاوه اور او ئې غو ښت ، علیخان چه ناموس ئې دمغلو په لاس کښې بندی ؤ مجبوراً با برته راغی بابر د «۲۵» لکو تنکو پټی « جا گیر » ور کړ (٤)

په ۹۳۳ ه کال چه بابرخپلی درنې لښکرې د «محمدسلطان» میرزا تر مشرتابه لاندې د (ببن شاهو خیل) مقا بلې لره دلکهنو خواته ولېږدو لې، دی

(۱) خورشید جهان ۱۰٦ مخ او مخزن افغانی ۸۳ مخ

(۲) مخزن افغانی ۸۳ مخ

(۳) طبقات اکبری ۲ ټوك

(٤) بابر نامه ۲۰۸ مخ

ئې هم د یوه امیر په حیث ورسره کړ (۱) په ۹۳۵ ه کال چه بابر د (ببن شاهو خېل)او (شیخ بایزید) مقابلې ته د ګنګا پر دې غاړې پروت ؤ) ،علیخان پرملی ئې له پنځو تنو نورو هندی امیرانو سره ورو لېږه چه د ګنګا ګدرونه ونیسی او (لکهنو) دشیخ بایزید او «میا ببن شاهو خېل» له حملې څخه وژغوری (۲)

**۲ـ محمدزیتون:** د سلطان سکندر په وختو کښې د ا ګرې کوتوال ؤ، دسلطان ابراهیم د پاچهۍ په اوا خرو کښې د (دهولپور) حاکم شو، بابر مغل چه ا ګره ونیوله «باباقای بیګ» ئې دستاځی په حیث ورو لېږه محمد زیتون مغلو ته د کلا سپارل ونه منل (۳)

په ۹۳۳ ه کال چه مغلو ګوا لیار له تا تار خان سار نګ خانی څخه ونیو، دی هم د (دهولپور) تسلیمو لو ته مجبور شو، بابر د څو لکو روپو پټی (جا ګیر) ورکړ (٤)

**۳ـ حسن خان:** حسن خان دشیخ مکهن زوی ؤ، دسلطان ابراهیم د پاچهی په اواخرو کښې در اجپوتانی (د کندار) حاکم ؤ ـ د سلطان تر مرګ وروسته په ۹۳۲ ه کال کښې د چتوړ «رانا سنګا» برید پر وکړ، ده له بابر څخه د اسلام په نامه مرسته وغوښتله مګر بابر د خپلو ملکی مصالحو له مخی مرسته ورونه لیږله، رانا سنګا د (کندار) پر کلا برید وکړ او ډېر خلق ئې ووژل (٥)

## ٤ مسند عالی بهکهاری خان پرملی:

د سلطان ابراهیم په وختو کښی ئی مسند عالی لقب درلود (٦) بیا دبابر په

---

(۱) بابر نامه ۲۱٦ مخ
(۲) بابر نامه ۲۳٤ مخ
(۳) بابر نامه ۲۰۹ مخ
(٤) بابر نامه ۲۰۲ مخ
(٥) بابر نامه ۲۰۹ مخ
(٦) قلمی مخزن افغانی ۱۲٤ مخ

و ختو کښې د با بر له امراؤ څخه شو، په ۹۳۳ ه کال چه بابرخپلې درنې لښکرې د محمد سلطان مېرزا تر مشر تابه لاندې د ببن شاهو خېل مقابلې ته لیږ دو لې؛دی هم د یوه امیرپه حیث ورسره ؤ(۱)

**۵-نظام خان:** دسلطان ابراهیم دپاچهۍ پهاواخرو کښې دبیا نې حا کم ؤ (۲) بابر مغل چه اګره نیوله «قلندر پیاده» ئې دستاځی په حیث وروليږه نظام خان د کلا ورسپارلو نه منل مګر لږ وخت وروسته ئې «بیانه» مغلوته تسلیم کړه اومغل امیرشو په۹۳۳ ه کال چهبابرمغل دسلطان محمود لو دی او رانا سنګاسره جنګیده، دی د مغلو په لښکر و کښې دیوه امیر په حیث ولاړؤ.

**۶-ملک داؤد کرانی:** ملك داؤد کرانی د سلطا ن ابـر اهیم لـه امراؤ څخه ؤ د همایون په مقابل کښې ئی د ا ګرې ښا ر کلا بند کړ، تر پنځو ورځو تینګا ر ووروسته ئـې مجبو راً ا ګـره ورو سپار له ،با بر د ی وباخښه او پهخپلو امراؤ کښې ئې شامل کړ په ۹۳۳ه کال چه بابر د سلطان محمو د لودی او را نا سنـګا سره جنګېده، دی ئی تر څنګ د یوه امیر پـه حیث ولاړ ؤ ،بیا چه ئـې دببن شاهو خېل مقابلـې لره لښکر ې لـلېږلـو تـه و لېږ دولی، دی ئي هم د یوه امیر په حیث ور سره کړ(۳) .

**۷-شیخ مکهن خان پر ملی:** د سلطا ن سکندر لهخوا په۹۲۲ه کال د (باړی)حا کم مقرر شو،د سلطان ابراهیم له معتمد وامراؤ څخه ؤ،د ر انـا سنـګا جنګ لره ئی دده تر مشر تا به لاندې لښکرې ولېږ دولې، دلو د یـو د پاچهۍ تر سقوط وروسته د بابر مغل په امراؤ کښې شامل شو، بابر په

---

(۱) با بر نا مه ۲۱۶ مخ

(۲) با بر نا مه ۲۰۶ مخ

(۳) با بر نا مه ۲۱۶ مخ

۹۳۳ ﻫ کال د سنبهل سیمې ته د انتظام له پاره ولېږه(۱)

**۸-ناسیاله آرایش خان:** دسلطان ابراهیم دوختو خان خانان ؤ، بابر چه ملوټ ونیو، ده د عماد شیرازی په لاس پیغام ورولیږه چه ژر راځه مو نږ دې ملاتړ یو(۲)

بابر چه د هلی او اګره ونیوله ده ته ئې هغه امارت ور کړ چه د سلطان ابراهیم په پاچهی کښې ئې در لود، په۹۳۳ﻫ کال چه بابر دسلطان محمود لودی صلاح الدین، حسن مېواتی او رانا سنګا سره جنګېده دی ئې د ګڼ فوځ په امراؤ کښې ؤ(۳)

**۹-شیخ ابراهیم مصطفی:** دسلطان ابراهیم له امراؤ څخه ؤ، دلودیو د پاچهی تر سقوط وروسته د بابر په امراؤ کښې شامل شو، په ۹۳۲ﻫ کال بابر د ګنګا د پوری خوا د پښتنو مقابلې ته و ګماره، دی په هغه جنګ کښې ومړ، ددغه لښکر نورو پښتنو امراؤ لکه: فیروز خان سارنګ خانی، محمود خان لوانی او قاضی ضیا «صبا» د مصطفی کشر ورور «شیخ بایزید» پخپل مشر توب وټاکه، بابر شیخ بایزید ته د سنګا په پوری خوا کښې دیو کر وړ تنګو پټی(جا ګیر)ور کړ (٤) او د«اټاوې» نیولو لره ئې د مهدی خواجه مرستې ته و ګماره(٥) په۹۳۳ﻫ کال چه همایون جو نپور ونیو، دی ورسره ؤ، همایون چه راستنېده؛ دجو نپور حکومت ئې جنید برلاس ته ور کړ او شیخ بایزید ئې هم د انتظام د پاره ورسره پرېښود(٦) بابر لیکی چه: ددغه کال په پای کښې د شیخ بایزید له خوا

(۱) بابر نامه ۲۰۵مخ

(۲) بابر نامه ۱۷۰-او تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۰٤مخ

(۳) بابر نامه ۲۱۴مخ

(٤) بابر نامه ۲۰۸مخ

(٥) بابر نامه ۲۰۹مخ

(٦) بابر نامه ۲۰٤ مخ

بد خبرونه راتلل(۱)اود۹۳٤ کال تردوهمی خور پوری ئی لاصریح مخالفت خر گند نه شو،مگرزما باور وشو چه دبایزید سره د مخا لفت فکرشته، نومی سلطان محمود میرزاته چه په قنوج کښی ؤ ولیکل چه : بایزید راو غوا ړه که راغی ښه او که نه تر نورو یاغیانو دمخه د ده دفعو کړه (۲)

تر دغه راغوښتنې وروسته شیخ بایزید په ښکاره دمیامعروف پر ملی او ببن شاهو خپل سره چه له مغل سره جنگیدل ،مل شو. ددریمی خور په سر کښی ئی لکهنو دمغلو له لاسه وکیښ او ترمر گه(۹۳۸ه کال) پوری دپښتنو لښکرو دوتلو امراؤ په حیث د مغلو پر ضدوجنګیده ل او په دغه لار کښی ئی سر ور کړ .

بابر دی پر ملی کښی او په مخزن افغانی کښی ئی هم پر ملی لیکلی دی (۳)

## ۱۰-فیروزخان سارنگ خانی :

د سلطان ابراهیم له امراؤ څخه ؤ،دلودی پاچهی تر سقوط وروسته دبابر په امراؤ کښی شامل شو،بابر په۹۳۲ه کال دگنگادپوری خوا پښتنو امراؤ مقابلی لره وگماره او د گنگا پوری خوائی د یو کروړ تنگو پټی (جاگیر) ورکړ (٤)

## سلطان محمود لودی

بابرچه اگره اودهلی ونیول دشاؤخوا نولی سیمی دپښتنوامراؤ په لاس کښی وی اودیرو امراؤ دبابر اطاعت ته غاړه نه ایښووله، په سنبهل کښی قاسم سنبهلی، په بیانه کښی نظام خان، په میوات کښی حسن خان میواتی، په گوالیار کښی تاتارخان سارنگ خانی، په اتاوه کښی قطب الدین خان، په راپری کښی حسین لوانی

(۱) بابر نامه ۲۱۷ مخ
(۲) بابر نامه
(۳) مخزن افغان ۱٦۱ مخ
(٤) بابر نامه۲۰۸مخ

او په کالیي کښې عالمخان خپل خپل بیرغونه پورته کړیوو، د
گنگا پورې خوا، خو دسلطان محمد لوانی په پاچهی کښی وه (۱) مگر دې تولو امراؤ
پخپلو منځو کښې اتفاق نه سره در لوداو یوه دبل خبره نه منله، دسلطان سکندر
زوی (شهزاده محمود) چه دمیرینږی ورور (سلطان ابراهیم) له لاسه د (ها نسی) په کلا
کښې بندی ؤ (۲)

دسلطان ابراهیم له وژلې (۹۳۲ه کال) وروسته څه پښتانه امراء پر راغونډ شول
او په مشرتوب ئې ونماړه، په ۹۳۳ه کال چه میواتی حسن خان، صلاح الدین او
را ناسنګا (۳) په میوات او اجمیر کښې د بابر مغل پر ضد سره یو ځای شول
شهزاده محمود لودی ئې دلسوز روسپر و سره پهمر ستهورغی (٤) دځلور مې خور
پرنهمه یا (۱۳) چه دبیا نې په شا ؤخوا کښې (جالوه) یا (خا نوه) نومې
ځای کښې جنگ وشو مغلاو بری ومو ند او شهزاده محمود لو دی چیتپور
(٥) یا (چتوړ) (٦) ته مخ و نیو، بیا (مالوې) ته لاړ په (پټنه) کښې را
غونډشوی پښتانه امراء لکه: دلا هور پخوانی حاکم مسند عالی عمرخان،

ککپور، دمسندعالی عمرخان شروانی زوی «مسندعالی عیسی خان» (۷)
اعظم همایون شروانی چه دسلطان محمود خسرؤ (۸)

عمرخان داجمیر پخوانی حاکم، علیزی ابراهیم خان، پنی احمد خان (۹)
یوسفزی، یوسفخان، پرملی شیخ بیزیدا ودمیاعطا لودی زوی ببن شاهوخپل

---

(۱) بابرنامه ۲۰٦ مخ
(۲) تاریخ خورشید جهان ۱۰٥ مخ
(۳) دغه راناسنگا بابر ته دسلطان ابراهیم پرضد بلنه ورکړې وه چه هندوستان ته راشی او دډهلي دبريد په وخت کښې به دی دشا له خوا پر اگره بريد کوی (بابرنامه ۲۰۷ مخ)
(٤) بابر نامه ۲۱۰ مخ
(٥) تاریخ فرشته
(٦) تاریخ خورشید جهان ۱۰٥ مخ
(۷) شوکت افغان دغه عیسیخان دهیبتخان زوی او دعمرخان مسندعالی لمسی بولی (۳جلد ۲۱٥مخ)
(۸) شوکت افغان ۳جلد ۲۱٥مخ.
(۹) دمخزن افغانی مولف دغه احمدخان دمارزخان یوسفخپل زوی بولی.

دسر هند پخوانی حاکم چه په خبر شول په ده پسې ئې سړی راولیږل « او پټنې ته ئې بوت

ځکه چه په د غووختو کښې د شرقی سیمو پاچا (سلطان محمد لوانی) (۱) مړ شوی ؤ، هلته ئې دی د (سلطان محمود) په نامه خپل پاچا کړ .(۲)

## د ((بهار)) نیول

په ۹۳۵ ه کال سلطان محمود پر (بهار) بریدو کړ، شېر خان (شېرشاه سوری) چه دسلطان محمدلوانی دزوی جلال خان اتالیق ؤ اودسلطان ،محمدلوانی ترمړینې وروسته ئې پردرست (بهار) غېبز را گرزولې وه مجبور اً ئې په دې شرط پر خپل جاگیر ( سهسرام، جونپور، تا نده) سکته و کړ ه چه کله چه سلطان محمود (جونپور) دمغلو له لاسه و کازی (بهار) به بېرته شېر خان ته پرېږدی.

## د بابر مغل جنګ

بابرمغل چه په دې خبرشوچه سلطان محمودلودی په بهار کښې پښې ټینګی کړې اوشیخ بایزید پرملی‌اوشا هوخپل بېن ئې دڅ پرو لښکرو سر ه (سروا) ته استولی‌او پخپله ئې له یوه لو ی فوځ سره د (فتح خان شروانی) په مرسته د گنگاژی نیولی ده (۳)

سمد ستی ئې خپلې لښکری هغې خواته ولېږ دولې اوپه (کړه) کښې ئې ورته واړول ،یودروند لښکرئې دمغل محمد زمان میرزا په مشر تابه د پښتنو جنګ لره وګماره، سلطان محمود داپلا د جنګ له ډا ګه ترشاشو، خوډېر ژر ئې بیا خپلی لښکری د گنگاد سین ژی ته دجنګ په نیامت را ورسولې.

بابر یولښکر د خپل‌زو ی عسکری میرزا په مشرتابه سرلانې (قر اول) ولېږه

---

(۱) داسلطان‌محمد، بها درخان یا بهارخان یا پهاړخان لوانی‌دی چه د دریاخان لوانی زوی ؤاو دسلطان ابراهیم لود ی‌په وختوکښې ئې دیا چهی نغا ره وډ نګوله.

(۲) تاریخ فرشته لړی‌توك ۲۲٤ مخ

(۳) بابر نامه ۲۳٤ مخ

پخپله هم پسي ور ولېږد د ېد ،د سلطا ن محمو د لښکر ی بهار ته تر شاشوې اومغل بابرهم اگرې ته څنې را ستون شو(۱)

## دجونپور نیول اود همایون مغل جنگ

په ۹۳۷ ﻫ کال چه بابر مغل ومړ، سلطان محمود د جونپور لو ر ته لښکر ې راو بهولې، د جونپور د مغل حاکم (جنید برلاس) اونورو مغلو امرا ؤ غړی وتښتېدل بې له جنگه ئې تېښتې ته بهه ې را و غښتلې ،دسلطا ن محمود لښکرو تر (مانکپور کړه) پورې ټولې سیمې ونیولې، د بابرمغل ز و ی (هما یو ن) چـه دا وا وربېدله ،لـه ډېرو لښکرو سره پسیﻯورو خوځېد پـه لـکهنو کښې په ۹۳۸ ﻫ ۱۵۳۱ع کال (۲)دواړه لښکـر ې سـر ه مخا مـخ شوې جنـگ ونښت، څوورځـې پلـه پسې تورې سـره و خـر چېد لـې په استرﻯورځ دپښتنو مشهور تور یالی‌مشران: علیزی ابراهیم خان او پر ملی شیخ بایزیدپه جنگ کښې ومړل اودشېر خان (شېرشاه) فوځوچه ښې څنگ ته ولاړوو، تر شاتر پلل،په پښتنو ماتې گډه شوه (۳) سلطا ن محمو د بنگال ته مخ ونیواو هلته د بنگال پاچانصیب‌شاه‌چه‌دسلطان ا براهیم لود ی زو م ؤ د ه ته په د رنه ستر گـه وکتل پټی ( جا گیرونه ) ئی ور ته و ر کړ ل (٤) پس له د ې ماتې سلطان محمود بیادپاچهۍ نوم وانه خیست:

## اوړیسې ته د سلطان محمو د تگ:

دسلطان محمودلودی لوردشېروانۍ خضرخان ښځه وه چه‌دسوری شیر شاه له خوادبنـگال حاکم ؤځکه چه سلطان العادل شېرشاه په ده کښې دپاچهۍ

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۱۱ مخ اوبابرنامه
(۲) شوکت افغان ۳ جلد ۲۱۹ مخ
(۳) خورشید جهان ۱۰۵ مخ
(٤) تاریخ فرشته د و هم جلد ۳۰۲مخ

غو ښتنې اثارولېدل نوئی په ۹۴۸ ھ کال بند ی کړ (۱) دده ترېند وروسته په ۹۴۹ ھ ۱۵۴۳ع کـال سلطا ن محمود( اوړ یسې) ته مخ و نیو او هلته پسې مړ شو (۲)

## حمیدخان سارنگ خانی:

• په ۹۳۳ھ کال حمیدخان لودی چه د توریالی سارنـگ خا ن له اولادې څخه ؤ، دحصار فیروزه په حدود و کښې دبا برمغل پر ضد درې څلور زره پښتانه پرځان راغونډ کړل ،بابر مغل یوتکړه فوځ دلچین تېمو ر ،سلطـان احـمد بر و انچی ، ملك داؤد کرانی اومحا مد خان ملتانی ترمشر تا به لا نـدې پسې ور و یوست ،په جنگ کښې ډېر پښتا نه ووژل شو ل مغلو بری ومونږ او دپښتنو ځلمو ډېر ې کـکرۍ ئې بابر ته را وړې،(۳)

## تاتار خان سارنگ خانی:

تا تار خا ن لودی دتور یالی سار نـگ خان له اولادې څخه ؤ،سلطان ابراهیم لودی دپاچهۍ په پای کښېد گوالیا ر حا کم ؤ،(٤)،بابر چه ډهلی اوا گره ونیوله دهٔئې اطاعت تهٔغا ړه نه ا یښووله (۵) په ۹۳۳ھ کال چه کفاروله شاه ؤخوا څخـه برید پرو کـړ اونږدې ؤ چه گوا لیا رځنی ونیسی ،ده له بابر څخه مرسته وغوښتله ، بابر د(رحیمداد) ترمشر تابه لاند ی یوفوځ و رو لېـږه ، مگر دېې فوځ مطلب دتاتار خان مرسته نه وه بلکه د گوالیار نیول ؤ ،تا تار خان دگوا لیار له ور سپار لو څخه نټه وکړ ه، رحیمداد خا ن دشیخ محمد غوث

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۲۶ مخ
(۲) تاریخ فرشته لومړی جلد ۲۲٤ مخ.
(۳) بابرنامه ۲۰۲ مخ
(٤) سلطان ابراهیم چه گوالیار له بکر ماجیت څخه ونیو بکرماجیت ته ئی شمس آباد په جاگیر کښې ورکړ (بابرنامه ۱۷۷ مخ)
(۵) بابر نـامه ۲۰٦ مخ

ګوالیار ی په‌مر ستـه د( هتیاپول) له در وازې څخه دښپی لښکر ی، په کلا ور ننه ایستلی ، سبا تاتار خان مجبو ر شو ګوالیارئې مغلوته وسپار ه ،پخپله آ ګرې ته‌راغی، بابر دشلو لـکو تنګو پټی (جا ګیر)ور کړ اودائې شرط ورسره کښېښو دچه ؛ سپا ره عسکر به‌ځان ته‌نه نیسی (۱)

دبیا نې تر فتحې ورو سته چه‌بابر جو نپور ته لښکر ی لیږ لې؛د ی‌هم په دغو لښکرو کښې دیوه امیر په حیث ؤ ،دادرنې لښکرې دبېن پښتانه مقا بلې ته دمحمد سلطان میرزا ترمشر تابه لاندې لیږ دولې شوی‌وې ، نور پښتا نه امیران‌هم‌لکه خان جهان (فتح خان سروانی)،ملك‌داؤد کرانی ، علیخان پرملی، شیخ محمد اوشیخ بهکار ی ور سر ه کړ ل شوی‌وو، دا لښکر ې چه ځو جو نپو رته رسېدلې دبابر نامې په‌قول میابېن‌جو نپور‌خو شی کړی ؤ(۲)

## شهزاده تـاتارخان‌لودی

شهزادۀ تاتار خان دسلطان علاء الد ین (شهزاده عالم خان) تو ر یا لی زوی اودسلطان‌بهلول لمسی‌دی (۳) ،سلطان علاءالدین چه دبا بر ترمر ګو روسته دبهادر شاه ګجراتی‌دربار ته ځان ورساوه، فتح‌خان(٤) اوتاتار خا ن زا من ئې هم ورسره ؤ ، شهزاده تاتارخان‌یومنلی‌توریالی‌اوخورا ګرندی ځوان ؤ د ګجرات پاچاسلطان بهادر (۹۳۲ـ۹٤۳ ) ځکه چه دده په تندی کښې دپښتنو دبرم نخښې لیدلې ، نودده روز نې‌ته خو را سرا ښ ؤ، وائی سلطان بهادر په۹٤۰ ه کال د(آسیر) یا (رنتهور ) حاکم بر ها ن الملک ته ۳۰ کروړ (مظفری) (۵)ور کړې چه د تاتار خان په سلا به ئې پر هغو لښکرو

(۱) با بر نامه ۲۰۲مخ

(۲) با بر نامه ۲۱۷مخ

(۳) سیر المتا خر ین ۱٤۹مخ اوتاریخ ګجرات ٤مخ

(٤) فتح‌خان‌دتا تارخان کشرورورؤ(تاریخ ګجرات ۵مخ)

(۵)دګجرات دیو ې سکې نوم ؤ چه مظفرشاه ته منسوبه‌وه ، مګر تار یخ ګجر ات دېرش کروړه او بنځوس لکه مرا دی ضبطی کړی دی .

لښکوی چه د همایون مغل (۹۳۷ ـ ۹۶۳) جنګ لره ئی تا تا ر خا ن را غونډوی ، په ۹۴۱ هـ کال تاتار خان دا ګرې‌دنیولو په نیامت (قصد) لښکری را وخوځولې اودبیانې کلائې چه دا ګرې په شاوخواو کښی ده و نیوله.

همایون‌د مغلولښکری د خپل کشرورور میرزا هندال تر مشرتا به لاندې پسی را وا یستلې د (بیا نې) په شاؤ خوا کښی لښکری سره مخامخ شو ې که څه هم د تاتار خان دفوځ شمېر دمغلو په‌مقابل کښی ډ ېر لېز ؤ ، خو بیا هم مېړ نی‌تاتار خان له جنګه ډډه ونه کړه اوتر شاتګ ئې پېغو ر و با له دمغلو دلښکرو پر زړه‌ئې برید و کړ ډېر مغل ئې په وینو او به کړل پای‌ته مغل له هرې‌خواپر را توی شول او ددروسو ونو میا لیو پښتنو ځلمو سره ئی وواژه ، دده په وژله ئې لښکرو ماتې وکړه او مغلو برې و موند (۱)

## میا ببن شاهوخېل لودی(۲)

میا ببن شاهو خېل لودی د میا عطا زوی د لودی پاچهی له امرا ؤ څخه ؤ،د سر هند حکومت ئی‌درلود،بابر مغل چه‌په ۹۳۲هـ کال‌د سلطان ابراهیم جنګ‌ته تللی او د ککهر درود پر غاړه ئی اړ و لـی ؤ ببن ورته ور غی او د بابر په دربار کښی به به داسی حا ل کښی‌چه‌دلاور خان‌خان‌خانان‌اودسلطان علاءالدین زامن‌ولاړ‌وو؛ دی کښیناست(۳)

په ۹۳۲هـ کال ئی دسلطان ابراهیم ترمر ګ وروسته تیت و پرك پښتانه پر ځان راغونډکړل او سنبهل ئې کلا بند کړ،میا قا سم سنبهلی له با بره څخه مرسته وغوښتله،بابر د بابا قشقه‌اوهند وبیك تر مشر تابه‌لاندی‌لښکر ی ورولیږدولې،په جنګ کښی پښتنو ماتی و کړه(٤)په ۹۳۳ هـ کال چه با بر په بیانه کښی د سلطان محموداو را نا سنګا په جنګ‌بوخت ؤ میا ببن پـر

(۱) تاریخ‌فرشته دوهم‌جلد ۲۲۲ مخ،ماثر رحیمی دوهم جلد۱۸۳مخ‌اوتاریخ ګجرات
(۲)مخزن‌افغانې ۱۶۷مخ
(۳)بابر نامه ۱۷۱مخ
(٤)بابرنامه۲۰۸مخ

لکهنو برید وکړ او د مغلو امراؤ له لاسه ئی وکیښ، با بر چه د بیا نې له جنګه بریالی خلاص شو یو لوی لښکر ئې د محمدسلطان میرزا تر مشر تابه لاندې د ببن خېلو لره وګماره دا فوځ چه تر ګنګا و ر پور یو ت د با بر په قول ببن لکهنو خوشی کړ(۱) په۹۳٤ه کال چه پښتنو امیرانو جرګه وکړه او سلطان محمود ئې پاچا کړ، دی هم په دغه جرګه کښې منلی غړ ی ؤ او په۹۳٤ه کال او۹۳٥ه کال چه سلطان محمود لودی له بابر مغل سره جنګېد، دی ئې له لویو حربی ارکانو څخه ؤ، د۹٤۲ه کال په شاوخوا کښې د شیر خان (شیر شاه سوری) مل شو (۲) په ۹٤٦ه کال لاژوند ی ؤ او شیرشاه ته ئې د تخت نشینئ رسلا ور کړه(۳)

## شیخ علی سرور لودی ((رح))

شیخ علی سرورشا هو خېل لودی چه دملتان په (کهرور) کلی کښې (٤) اوسېده، دخپل وخت منلی مرتاض اومستجا ب ا لدعواة ستانه ؤ،وایی دېرش کاله ئې پښې ونه غزولې اوتل به د خدای پاك په نما نځنه بو خت ؤ، لوی کرامات به ځنی څرګندېدل په سهروردیه سلسله کښې ئې ارشاد کاوه (٥) دېر خلق ئې ګروهېدلی وو،مرید انوته به ئې هدایت کاوخلق به ئې سمې لارې ته رابلل،دتصوف اوسلوك په رموزو دېر ښه پوهېده، په پښتو ژبه ئې نعمو فې اشعارهم شته لکه دا :

محبت پیالهمی نوش کړه پهمجاز کی — دحق نورو ینم پهستر ګو دا یاز کی
درستوطن راته دریاب شوبې دیدنه — دیدمی نشی مګر خدای می سبب ساز کی
ګران بېلتون به دهغو مینوو ینه — چه تل ناستوی بهخلوت کښې سره ناز کی

(۱) با برنامه ۲۱۷مخ
(۲) خورشید جهان ۱۰٦مخ
(۳) شوکت افغان ۳ جلد ۲٥۰مخ
(٤) کهلور یا کهرور کلی ٤۰ کروه لهملتانه لرې دی (مخزن افغا نی ۱ ٤ ۳مخ)
(٥) مخزن افغانی ۱ ٤ ۳مخ

ای سرو وره اغمازان شول بې حسابه    پاك الله دی صورت تش بې مغزه پیاز کی (۱)

## دوهم شیخ احمد لودی ((رح))

شیخ احمد «رح» دا کبر مغل (۹۶۳-۱۰۱٤) معاصر دی، په خپل وخت کښې خو رامنلی ستانه اومتشرع سالك ؤ، ډېرې خوارۍ ئې کښلې کرامات اوخوارق څخنې څر ګند ېدل، دېټنې په (حاجی پور) کښې او سېد.

وائی کله چه اکبر مغل پر (پټنه) برید کا وه شیخ په خوب کښې داپېښه لیدلی وه سهار ئې خپلو مریدانو ته ووېل چه دا ملك د پښتنو له لاسه ووت اومغلو ته ورکړ شو اخپلی کلی سره ګوښه کوی.؟

لږی ورځی نه وې تېرې شوې چه مغل اکبر له آګری لښکری وروخوځولې او پټنه ئې دپښتنو له لاسه وکښله (۲)

# دشاهین خان کورنی (۳)

شاهین خان دملك فیروز خان زوی دسلطان بهلول توربور ؤ، په ۸٤۳ ه کال چه دسلطان محمدشاه په حکم ملك سکندر تحفه اوجسرت ګکهړ پر سرهند یرغل وکړ پښتانه د پنجاب غرونه وختل دیا چاهی لښکر و مشرانو، د پښتنو مشران لکه ملك فیروز اونور په درو هو درغل تېر ا پستل خپل فوځ ته ئې دخبرو اتروله پاره راو بلل، بیا ئې ټول ونیول او دیا ته پښتنی لښکر واوکله ودنیو اوه پاره ئې لښکري دغر وخوکو ته پسی وګمار لې سلطان بهلول چه هغه وخت په (ملك بهلول) یادېد د کلی ئې دغر و جګو خوکو ته پسی وخېژ ولې اوشاهین خان دپاچاهی لښکر ومخه ونیو له په دغه جنګ کښې شا هین خان په خورا مېړانـــه و جنګېد او په خپلو وینو ئې

---

(۱) پټه خزانه ۱۰۳-۱۰۱-۲۵۳ مخونه

(۲) مخزن افغانی ۳۲۷؛۳۲۸ مخ

(۳) ددې کورنۍ حالات دشوکت افغان په دریم جلد کښې له ۱٦٤ څخه تر ۱۷۹ پورې په خورا تفصیل سره بشپړ درج دی.

د پښتنو خوېند ومېندو سا لو ګان او پښړونی دغلیم لهلاسه وژغورل پرپښتني ننګه ئې ځانونه ای (قربان) کړ ، ګکری ئې جسرت ګگهر ته راوړه شو ،اوغلیما نو ئې دجسرت په دربار کښې پهمېړانه آفرینونه وویل (۱)

## شیرخان شاهوخېل لودی

ننګیالی شاهین خان چه وواژه شو، یو کوچنی زوی ئې (شیرخان) پاته شو سلطان بهلول دا دتو ر بره دژوند نځښه دخپلو زامنو په څېرورو وزله او په سر هند کښې ئې پټی (جاگیر) ورو با خښه ،شیرخان چه ځلمی شو دسلطان بهلول د کورنۍ له مېړنیو شخصیتو څخه شو او په ټولو جنګو کښې دسلطان ترڅنګ دیوه زمریالی پښتانهوفادار اوخورا مطیع کشرپه تو ګه ولاړو.

سلطان بهلول چه په ۸۹۴هـ کال کښې یو رپرې کړ، اوسلطان سکندرپاچا شو، شیرخانئې پخپلوامیرا نو کښې دا خل کړ .

شیر خان په۹۱۰هـ -۱۵۰۴ع کال ومړاومحمد خان او احمدخان نومی دوه زامن ئې پاته شول .

## محمدخان لودی

شیر خان چه ومړ سلطان سکندر ئې منصب محمد خان مشرزوی‌ته ور کړ دسلطان ابراهیم په وختو کښې هم (محمد خان) پر دغه خپل منصب پاته ؤ ، په ۹۳۲ هـ کال ابراهیم دپانی پت په ډاګ کښې ووا ژه شو او پاچاهی له پښتنو څخه ولاړه،محمدخان سرهند (خپل پلارنی جاګیر) ته ولاړ،دنیائې پرېښووله اوپه ۹۵۰هـ ۱۵۴۳ ع کال بې‌زویه ومړ .

## احمدخان لودی

احمد خان دمحمد خان کشر وروړ ؤ ، پلار چه ئې ومړ، سلطان سکندر دزرو سپرو مشرتوب (غونډمشری) ورکړ، دسلطان ابراهیم په پاچاهی کښې

(۱) تاریخ فرشته لومړی جلد اوشوکت افغان دریم جلد

هم دی له ابرا هیمی امیرا نو خخه ؤ په ۹۳۲ه کـال ئې د سلطان ابراهیم
ترخنګ د پا نی پت دجنګ په ډاګ کښې پر پښتنې ننـګه سر ور کړ .

## اسدالله خان لودی ×

اسدالله خان داحمدخان لودی زوی ؤ، دپلار تر مړینې وروسته دخپل اکامحمدخان سره په سر هند کښې پرخپل جاګیر او سېد .

په ۹۴۷ ه کـال ۱۵٤۰ ع کال چه همایون مغل دپښتانه شېرشاه له توری ځخه هندوستان پر ښبود او بېرته په هند کښې دپښتنو پاچاهی قا یمه شوه ، شېرشاه دی ورو غوښت دزروسپرو مشر توب ئې ور کـړ او په بهار کـښې ئې جاګـیر ورو باخښه ، تر ۹٦۰ ه کـال ۱۵۵۲ ع کـال پورې چه (عد لی) پر پاچاهی کـښېناست، دی پر خپل منصب پاته ؤ ، مـګر څر نـګه چه ( عدلی) پرپاچهی کـښېناست، دده جاګـیرئې ځنې ضبط کـړ ، اسدالله خان هم ځنې خوابدی شو . د (عدلی) حریف سوری سـکندر ته چه دپنجاب حاکـم ؤ ولاړ هغه د پر و نازا وه ، او په درنه ستر ګـه ئې ورته کـتل ، مـګر د پر ژر په ۹٦۳ه کـال پر سلطان سـکندر سوری پخپله نسـکوره شوه ، مغلو بیا دهند پاچاهی و نیو له ، اسد الله خان خپل لنز پا ته عمر په سر هند کـښې پر خپل پټی (جاګـیر) تېر کـړ او په هغه (۹٦۳ ه کـال ۱۵۵۵ ع کـال) ومړ .

دوه زا من ئې پا ته شول چه یو رحمان خان او بل حقداد خان نـومېد. رحمان خان (مالوې) ته ولاړ او هلته دهغې لتې د پښتانه پاچا (باز بهـادر) په امیرا نو کـښې داخل شو .

حقدا دخان اګـرې ته ولاړ او هلته دا کبر مغل په لښـکرو کـښې نو کـر شو ، په اګـره کښې ئې واده پسې و کـړ او تر مر ګـه (۱۰۱۷ ه کال ۱٦۰٦ ع کال) پو ری هلتـه پـه اګـره کـښې پسی پاته شو، دده (حقداد خان) یوزوی پاته شو چه رحیمداد نو مېده ، دپلار تر مر ګـې وروسته دمغلو له خوا دپلار منصب ده ته ور کـړ شو ، او په ۱۰٤۹ ه کـال ۱٦۳۹ ع کـال ومړ .

# محمد نور خان لودی

دمحمد نور خان پلار محمدشېر خان چه دعبدالله خان زوی داللّٰه یار خان لمسی دسعدالله خان کړوسی داحمد یار خان کوسی اودنوموړی رحیمداد خان کوسی دی ، د ډهلی په پاچاهی فوځ کښې منصبدار ؤ ، په یو جنګ کښی ووا ژه شو ، محمد نور خان پخپله خورا توریالی سپاهی، منلی پهلوان، و تلی غېښ باز ، د کسرت شوقی او بی ساری غښتلی ؤ ، دده دقوت او پهلوانی نکلو نه چه کښېږی عقل هېښ پاتېږی ،

دی لودی پهلوان چه له خپلې کورمې سره د(متهرا) دسیمې په (مهابن) نومی ځای کښې اوسېد، د بیانی دشاؤ خوا پښتانه غښتلی پرځان را غونډ کړل او د (جسونت را وهولکر) (۱) ملګرو شو ، د(هولکر) په ملګری کښی ئې څو ګنډی مېړانی وکړلې .

بیاد انګریزی جرنیل (لار ډلیک) له خواد یوی پلټنې مشرو ټاکه شو . په ۱۲۱۹ هـ کال ۱۸۰٤ ع کال چه لارډلیک دبهر تپور په کلا کښې (جسونت راوهولکر) کلابند کړی ؤ؛ محمد نور خان لودی هم ور سره مل ؤ، یو ورځ محمد نور خان د خپلو څو تنو ملو سره مخامخ پر کلاور وخوت ، مګر ځکه چه تر شائې څوك په مرسته ورونه رسیدل، محمد نور خان مجبوراً له کلا څخه بېر ته را کښته شو ، په دغه جنګ کښې د محمد نور خان ټول سرت (جسم) د ګولیو له لاسه غلبېل غلبېل شوی ؤ،لار ډلیك ددغه خدمت په بدله کښې دمیرټهه په سیمه کښې یو کلی محمد نور خان ته دجاګیر په توګه ورکړ چه تراوسه پوری ئې دلمسیانو په لاس کښې دی ، پخپله محمد نور خان په ۱۲٤۰ هـ کال ۱۸۲٤ ع کال و مړ او دوه زامن ئې :الهداد خان او محمد حسن خان پاته شول .

(۱) جسو نت را و هو لکر د (تکو جی هو لکر ) زوی دی په ۱۲۱٤ هـ کال ئې دسالار زی امیر خان پښتانه په مرسته دخپل مړه پلار دتللی ملك او پاچهی د بیرته په لاس را وستلو له پاره کو ششونه شروع کړل .

# الهداد خان لودی

الهداد خان دمحمدنور خان زوی ، لمړی دا نګریزي حکومت له خوا په (علی ګړه) کښې مامور ؤ، بیا چه انګریزانو دستلج دسیندرا په دې خوار یاستو (لکه پټیالې او نابهه ریاست) سره دسرحداتو تاکلو لره یوهیئت وګماره ، الهدا د خان هم په دغه هیئت کښې ؤ او د نابهه دریاست یوې علاقې (املوه) ته و لاړ ، په دغه وخت کښې د نابهه ریاست دمړه جسو نت سنګهه د ښځې (رانهي چاند کور) ترمشرتابه لاندې ؤ ، ځکه چه (مهارا جابهرپور سنګهه) امسی ئې لا کمکی ؤ.

(رانهي چاند کور) چه د الهداد خان لیاقت ولید؛ دی ئې د(املوه) تحصیلدار وټا که، څوورځې وروسته د (املوه) تهانه‌دارشو. په ۱۲۷٤ ه کال ۱۸۵۷ ع کښې چه‌د انګریزانو پر ضد دهند مسلمانان او هندوان را پاڅېدل، اواله ګوله‌ئې جوړه کړه، انګریزانود لودهیانې د سیمې انتظام‌دنابهه‌دریاست ځلمي مها راجا (بهرپورسنګه) ته وسپاره (مهاراجا بهرپورسنګه) چه کوم فوځ د لود هیا نې ساتنې لره‌وګماره، الهدادخان دهغه‌فوځ مشر ؤ، هلته ئې په یوه جنګ کښې ملی یا غیانو ته ماتې‌ور کړه او ددغه غیر قومی خدمت په بدله کښې د نابهه د ریاست جوډیشل حا کم (دعدالتې محکمې‌مشر) مقرر کړ شو، بیا د مها راجا دخاصی عدالتی‌محکمې‌مشرمنشی‌وټا که‌شو په ۱۲۸۰ ه کال ۱۸۶۳ ع کال‌ومړ او دا دری زامن ئې پاته شول:

۱ــ محمد اوصاف‌علیخان چه دنابهه‌دریاست جوډ یشل حا کم ؤ.

۲ــ محمدمنـــورعلیخان چه د پلار پرځای‌دمهاراجادخاص عدالتي محکمې میر منشی مقرر شو .

۳ــ محمد عبدالحکیم خان .

# محمد عبد الحکیم لودی :

**« دشو کت افغان مؤلف »**

محمد عبدالحکیم خان لودی دالهداد خان لودی کشر زوی دی پلارچه ئی په ۱۲۸۰ ه کال کښی مړ کیده، دی دلږ عمر ؤد نابهه د مهارا جاله خوا پر کور تنخوا ورمقرره شوه (۱)

شو کاله پس چه محمد منور علیخان ورور ئی د پنجاب د لفټنټ گورنر منشی وټا که شو ،دی دهغه پر ځای د نابهه در یاست دمهاراجا دخاصی عدالتی محکمی میر منشی مقرر شو (۲)دی یو قانون دان وکیل ؤ(۳) تاریخ جامع د ده تالیف دی چه په ۱۳۲۵ ه کال ۱۹۰۶ع کال کښې ئی لیکلی دی شوکت افغان دتاریخ جامع دریم توك دی .

# محمد حسن خان لودی :

محمد حسن خان لودی دالهداد خان کشرورور ؤ عربی، او پارسی متداول تعلیم ئی کړی ؤ .

تر ۱۲۷٤ ه کال ۱۸۵۷ع کال دمخه دلود هیانی دډپټی کمشنر(ر کټرس) سرشته دارؤ، بیا داود یانی دمقنن مجلس صدر شو ،بیا دنابهه در یاست مدار المهام شو، په ۱۲۹۷ ه کال ۱۸۸۰ع کال حج ته ولاړ له هغه ځایه چه راغی په ۱۲۹۸ ه کال ۱۸۸۱ ع کال و مړ .

# دخانجهان لودی کورنی (٤)

د(خانجهان)خطاب که څه هم دخلجیانو له دورې څخه بیاد مغل شاه جهان تروختو پورې په هند کښې تقر یباً ٤٥٠ کاله رواج ؤ ،خو په دغه اوږده موده کښې دپیر خان خانجهان لودی غوندی شهرت دهیچا په نصیب شوی نه دی

(۱) شوکت افغان ۳ جلد ۱۷٦ مخ

(۲) شوکت افغان ۱۷۷ مخ

(۳) شوکت افغان ۱۷۸ مخ

(٤) ددې کورنی بشپړ تفصیل دخان جهان لودی په کتاب کښې ولو لئی.

او د غه کور نی چه اوس ئې مونږ بحث کوو ،همدغه (خان جهان لودي) ته منسوبه ده :

وا ئي:د سلطان سکندر لودی په وختو کښې چه د تاتارخان زوی (ناسیا له دولت خان لودی) دپنجاب واکمن ؤ،دده دیوه خېل ،احمد خان ما بی خېل (۱) یو سف خېل (۲) لودی ځلو رزامن : دو لت خان (چه بیا شېرخان شو) (۳) ،نصرت خان ، پهارخان (بهادرخان) اوموسی خان لاهور ته ورغلل، ناسیاله دولت خان دوی وناز ول مناصب اوجا گیرونه ئې ور کړل نصرت خان ته ئې لورهم پسي ور کړه (٤)

سلطان سکندر چه خبر شو دوی ئې خپل حضورته راو غوښتل،وئې نازول او بېرته ئې خپلوجا گیروته رخصت کړل (٥)

په ۹۳۲ ه کال چه بابر مغل پرهند یرغل وکړ، اود پښتنو پاچا هی ئې رنګه کړه.شېرخان، نصرت خان او پهارخان یابها د رخان (بهار) ته ولاړل او هلته په ۹۳٤ ه کال د (سلطان محمود لودی) په هغولښکرو کښې وتل چه دمغلو جنګ لره راغونډېدلی ٠ (٦)

(۱) حیات افغانی ۲۸۳ مخ

(۲) شوکت افغان ۳جلد ٦۸ مخ مگر د ما ثرالامرا په لمړی جلد ۷۱٦ مخ کښې شاهو خېل ضبط دی٠

(۳) ځکه چه دده اودپنجاب دواکمن (ناسیاله دولت خان ) نوموته سره یو شی ؤ، نودالتباس دورکولو دپاره ناسیاله دولت خان له خوا دده نوم شېرخان کړ شو ٠ اوپه دي توگه دناسیاله دولت خان سره دهمنامی له پېټې څښتن وژ غوره (خان جهان لودی ٦ مخ)٠

(٤) خان جهان لودی ٦مخ، مگر مخزن افغانی لیکی چه :دولت خان دخپل ورور ابراهیم خان لور نصرت خان ته ورکړه مخزن افغانی قلمی ۱۳۲ مخ

(٥) مخزن افغانی قلمی ۱۲۸ مخ

(٦) خانجهان لودی ٦ مخ

# شېرخان لودی

دملك احمدزوی (شېرخان) دسلطان محمود لودی په لښکر و کښې دشېر خان (شېرشاه سوری) سره چه په هغو ختو کښې د بهار د یو ې سیمی وا کمن او دسلطان محمود د فوځ منصبدار ؤ، وېږاندل له همد غه امله ئې په شېر شا هی پاچاهی کښې ز ښت ډېرا عتبار وموند .

په ۹٤٦ ه کال چه شېرشاه خپل مشرزوی قطب خان د (مالوې) حکومت لره وګماره همد غه شېرخان لودی د (اتالیق) بهحیث ورسره ؤ.

په ۹٤۲ ه کال چه مغل همایون د میرزا ناصر یادګار او سکندر سلطان (۱) ترمشر تابه لاندې لښکری په (مالوه) ورو بهولې (کالپی) ته نژدی (۲) دقطب خان دلښکر واومغلو جنګ سره و نښت، په جنګ کښې قطب خان او شېرخان لودی دواړه په خورا میړانه وو ژل شول او دقطب خان ککری د آګری ته واستول شو ه (۳)

شېر شاه چه دشېرخان لودی په وژله خبرشو دده څلور زامن :

عمرخان ، کمال خان ، قاسم خان او محمود خان ئې له پټنې راوبلل ډېر ئې و نازول ، هر یوه ته ئې بېرغ و نغاره چه دسردارۍ نخښې وې، ور کړې، عمرخان ئې له ځانه سره و ګرزاوه او نورئې بېرته خپلو جا ګیرو ته رخصت کړ ل (٤)

# عالم خان لودی

(دعمر خان خسر)

په ۹٤۳ ه کال چه شهزاده لطیف خان زوی ، ددوهم سلطان مظفر لمسی ګجراتی سلطان محمود (۹٤۳ - ۹٦۱ ه) دیو واسو کا لو په عمر (٥) په

---

(۱) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۱۸ مخ مخزن افغانی دمغلو لښکرې دمیرزا هندال او میرزا عسکری ترمشر تابه لاندې راوړی دی.

(۲) مخزن افغانی داواقعه د(چندېری) په حدودو کښې بولی

(۳) تاریخ فرشته لمړی جلد ۲۱۸ مخ

(٤) خانجهان لودی ۷ مخ

(٥) مرات سکندری ۲٦٥ مخ

گجرات کښې پاچا کړ شو ، د پاچاهۍ ټول واک دده دوزیر (دریاخان غوری) (۱) او عماد الملك په لاس کښې ؤ پرده د پاچهۍ تش نوم پروت ؤ ، مگر عماد الملک هم ډېر ژر له منځه واخیست شو او د ملک او پاچهۍ واک یوازې دریا خان ته پاته شو (۲) .

نکل کاچه : سلطان محمود په ۹۵۰ ه کال کښې د (احمد آباد) له ارگه څخه دشپې په یوچم «دولقې» (۳) او «دندوقې» (٤) جاگیردار عالم خان لودی ته ځان ورساوه ، عالم خان ئې ډېر احترام وکړ ، دریا خان وزیر چه پهدې خبر شو سمد ستې ئې یو هلک د «مظفرشاه» په نامه د (احمد اباد) پر تخت کښېنا وه او لښکری ئې د (دولقې) لورته وخوځولې ، د سلطان بهلول لودی زوی (سلطان علاء الدین) چه د سلطان بهادرشاه گجراتی په وختو کښې ئې د گجرات دربارته پناه وړې وه هم په دغه جنگ کښې ددریاخان مل ؤ (۵)

میرنی عالم خان چه په خبر شو گجراتی سلطان محمود ئې له فوځ سره په کلا کښې پریښود او پخپله د څلورو زرو سپرو سره جنگ ته راووت ، په لومړی حمله کښې ددریاخان غوری سرلاښ (مقدمته الجیش) ماتې وکړ او عالم خان په وژلو وژلو دغلیم د لښکرو په منځ پسې ورننوت چه له جنگه راووت خپل ملگری ئې تر پنځو تنو زیات نه وه ورسره پاته .

دځانه سره ئې فکر وکړ چه ددریا خان د لښکرو مخ کښې ماتې هر ومرو اوس احمد اباد ته رسیدلی ، او خلق ددریاخان په مغلوبیت خبر شو یدی باید په دغه وخت کښې ځان د احمد آباد کلا ته ورسوم ! سمد ستې ئې دهغو پنځو

---

(۱) ددریا خان غوری نوم (حسین) ؤ (مرات سکندری ۲٦۵ مخ)

(۲) مرات سکندری ۲٦۷ مخ

(۳) دولقه (دهولقه) د احمد اباد د ښار جنوب مغرب ته دولس کروه لېرې واقع ده .

(٤) دهند وقه د احمد آباد د ښار جنوب مغرب ته دود ېرش کروه لیرې د (دها) سین پر غاړه پرته ده (مرآت احمدی دوهم جلد ٦۳۱ مخ)

(۵) مرآت سکندری ۲۷۵ مخ

مېړنو سره آسونه پونده کړل او ځانونه ئې ښارته ورسول، به پا چهی دربار چه ننو تل د خپلې سو بې د ننه وره ئې و و هله ـ د ښا ر خلقو چه د مخه لاد دریاخان دلښکرو ماتې لیدلې وه، پرړا غونه شول، دریاخان غو ری چه دعالم خان پاته لښکرو ته ما ته ور کړه، او په پوره زړه ښار (احمد اباد) ته راروان ؤ. ښار ته لا نه ؤرار سېدلی چه دښار دروازې ور ته تړلې او کورئې تالاشوی ؤ، داحال چه د(دریاخان) ملو امیرانو ولید، ځکه چه دډېر و کورونه او کهولونه د ننه په ښار کښې پا ته ؤ، له در یا خان څخه عا لم خا ن ته واوښتل. په دغه وخت کښې گجراتی سلطان محمود (پـاچا)چه عا لم خان دمخه لا خپل سړی (شیر خان) پسې لېږلی ؤ هم ښار ته راورسید دریاخان نوره ټینگه و نه کړای شوای (برهانپور) ته ئې مخ ونیو(۱)

او له هغه ځایه د کن ته ولاړ (۲)

گجراتی سلطان محمود، دعالم خان لودی په توره بیا پاچهی وموندله، خودا پاچاهی ئې هم د نامه پاچهی وه او دملك تول واك تر دې حده پورې دعالم خان امیر الامراء او سپهسالار په لاس کښې ؤ چه دسلطان محمود دېوخورا ورتیر ملگری (چر چی صیاد) ئې سره د دې چه سلطان ئې پر سیله کلك ولاړ ؤ، دده تر تخت لا ندې د سلطان علاء الدین لودی دوژلی په بدله کښې په توره ټوك ټوك كړ (۳)

گجراتی سلطان محمود د دریا خا ن غوری له بنده خلا ص شو، خو د عالم خان لودی په بند کښېووت، دعالم خان دا یسته کو لو له پاره ئې په ۹۵۲هـ کال کښې څه امیران له ځان سره مله کړل، او ناڅاپه ئې یوه شپه دعالم خان پر کور چه تر ښار دباندې (جمالپور دروازې) ته نژ دی ؤ کلك برید وکړ (٤)

---

(۱) تاریخ فرشته دوهم جلد ۲۲٦ مخ

(۲) مرآت سکندری ۲۸٦ مخ

(۳) مرآت سکندری ۲۸۰ مخ

(٤) مرآت سکندری ۲۸۳ مخ

عالم خان چه خبر شو پخپله ئی (پیټها پور) ته ځان ځنی ورساوه، مگر کورئی تالا او د کهول کوچنی ولوی ئی د غلیم په لاس کښېوتل ، سلطان په خورا درناوی له ځان سره وساتل، عالم خان چه (پیټها پور) ته ولاړ، خپل تښتولی غلیم (دریاخان غوری) ئی له د کـنـه څخه راوغوښت سره پخلا شول او د سلطان محمود د خرابي له پاره ئی په ګډه کوششو نه شروع کړل ، مېړنی عالم خان ته چه د کورمي په بند خوب نه ورته، تر هر څه د مخه ئی د ځینو هغو پر خوا امیرانو په وسیله چه د سلطان محمود په دربار کښی ؤ دخپل ورور صفدر خان دیر غمالتوب په بدله کښې (چه هغه هم د پرژر ځان ورته را ورساوه) د کها له ، واړه اوزاره خوشی کړل، له دې خوا چه د اده شو توري ته ئي لاس کړ اود (سلطان محمود) له فوځو سره ئي ځوپلا جنګو نه وکړل مګر سوبه ئي په نصیب نه شوه. پای ته ئي له دریاخان غوری سره دپښتانه ستر تولواك (شېرشاه) دربار ته ځان ورساوه ، شېرشاه دوی دواړه ز ښت ډېر ونازول په مالوه کښې ئي دریاخان ته (اجین) او عالم خان ته ئي (سارنګپور) په جاګیر کښې ورکړل (۱) او د عالم خان لورئي خپل یوه خورا پر ګران امیرزاده دشېرخان لودی زوی عمر خان ته (چه د مشهور خان جهان لودی نیکه دی) وغوښتله (۲)

دریاخان په مالوه کښې ومړ او عالم خان دسلیم شاه سوری تر مرګ (۹۶۱هـ) وروسته اغلباً په ۹٦٤ هـ کال بیرته ګجرات ته ولاړ او هلته دسلطان احمدشاه (چه د سلطان محمود تر مړینې وروسته پاچاشوی ؤ) په امیرانو کښې شامل او (برودہ) ده ته (جانپا پیر) دده یو خپل (اعظم همایون) ته او (کودهره) ئي الف خان مصاحب ته په جاګیر کښې ورکړه شوه، په (اساول) کښې ئي خپل وران شوی کورونه بیاودان کړل اودرنه کلا ئی پررا وګرزوله (۳)

---

(۱) مرآت سکندری ۳۲۹ مخ ، شوکت افغان ۳ جلد ۲٦۵-۲٦٦ مخ
(۲) خانجهان لودی
(۳) مرآت سکندری ۳۳۰-۳۲۹ مخ

داحمد شاه ددربار امیرانو دعالم خان غوندی تکړه اوا دعا طلبه امیر چه یووخت وددغه دربار خورا مقتدر امیر الامراء او سپهسالار و؛ موجودیت ځان ته خطر گانه په ۹٦٦ هـ کال سیدمبارك اعتماد خان او عمادالملك غوندي درنو امیرانو په سید پور کښې دعالم خان دخرابۍ دپاره لاس سره یو کړ او عالم خان ته ئې حال ورکړ چه میدان پرېږده، مگر مېړني عالم خان دا کلمه ورای شوای، ځواب ئې ورکړ او س چه تاسي پرما برید کوئ، میدان پرېښول دمیړانې ګوډونه دي، امراء پراغلل، احمد شاه کمکي پاچا ئې هم دځان مل کړي و، جنګ و نښت په جنګ کښې دعالم خان مشر زوی قطب خان او یو ورتېر خپلوئې (اعظم همایون) له ډیرو پښتنو مېړو سره ووژل شول او عالم خان مجبور شو چه (جانپاپیر) ته تر شاشي د ګجراتي امیرانو لښکري سمي په پسې وې هلته ئې هم تېلته ورنه کړه، عالم خان د (پال) غروته ځنې وخوت او ګجراتي امیرانو خپلې لښکرې احمد آباد ته راستنې کړې (۱)

دپټن پښتانه جاګیردار (بولادي شیر خان) چه د ګجرات په امیرانو کښې په شوره او مېړانه منلی و؛ دعالم خان دا بده ورځ و نه زغملای شوای او عالم خان ئې (پټن) ته ورغوښت، عالم خان هم له خپلې کورمې او پاته لښکر و سره د شېر خان په بلنه دپال دغرو په لمن کښې ځان (پټن) ته ورساوه، هلته ئې د اعتماد خان دجاګیر پر یوه سیمه (کړی) په ګډه برید وکړ او ځني وئې نیو، له اعتماد خان چه خبر شو؛ اختیار الملك او دریا خان حبشي ئې له درنو لښکرو سره له احمد آباده پښي راوا ېستل، جنګ و نښت په دغه جنګ کښې عالم خان پخپله وواژه شو؛ بولادي شیر خان او دعالم خان زوم عمر خان لودي پټن ته ترشا شول (۲)

## شجاع الملك لودي:

شجاع الملك لودي دعالم خان ورور د ګجرات ددربار له امیرانو څخه و (۳)

---

(۱) مرآت سکندري ۳۲۳، ۳۳٤ مخونه

(۲) مرات سکندري ۳۳٤ مخ

(۳) مرآت سکندري ۳۲۹ مخ

# عمر خان لودی

په۹٤٦ﻫ کال کښې چه شیرخان په جنګ کښې ومړاوزامن ئې سوری شېرشاه ونازول نورئــې خپلو جا ګیروته واستول یو عمرخان ئې په خپل دربار کښې را وګرزاوه کله چه د ګجرات دپاچهی وزیر (عالم خان لودی) دشیر شاه دربار ته پناه وروړه، شیرشاه دده لور عمرخان ته و رکړه. په۹٥۲ﻫ کال چــه سوری شیرشاه شهید او سلیم شاه ئې پر ځای کښېنا ست، عمرخــا نّ اودده ورور (محمود خان) ئې دقنوج . ګوالیا ر، بیانې او سنبهل خواوته د ملکی انتظام له پاره ولیږل .

په۹٦۱ﻫ کال کښې چه د سوری سلیم شاه تر مړینې و روسته (عــدلی) پا چاهی ومو ندله دعمر خان دری سره وروڼه (محمود خان، کمـال خــا ن، قا سم خان ) ئې دچنار په کلا کښې بند یان کړل، خوعمرخـان ځــا ن (ما لوې )ته ځنې ورساوه او هلته دخسر (عالم خان لودی) په جا ګیر کښې پټ شو.

د۹٦٤ﻫ کال د محرمې پردوهمه چه پښتنو دپانی پت په دا ګ کښې دا کبر مغل (۹٦۳ــ ۱٤ ۱۰) سره جنګ و کړ په دغه جنګ کښې دعمر خان درې سره وروڼه (چه عدلی بېر ته خو شی کړی وۀ) په خو رامېرانه ووژل شول.

عمر خان چه دورونو په ماتې خبر شو ګجرات ته ئې مخ و نیو برا برد ګجرات پای تخت ( احمد آباد ) ته ولاړاو هلته دعالم خا ن په معر فی د ګجر ات دیو ه مشهور پښتا نه امیر(۱) شېرخان پولادی سره چه د( پټن ) جا ګیر دارۀ نو کبر شو ، په دغو وختو کښې دمسند عا لی دولت خان مور چه دعا لم خان لودی لور اود عمر خان ښځه وه مړه شوله، عالم خا ن خپلۀ بله لو ر چه

---

(۱) تاریخ فرشته دو هم جلد ۲۲۹ مخ

بی بی راجي نو مېد لهعمر خان تهور کړله(۱)

په۹۸۰(۲) یا ۹۸۲ هـ کال کښې(۳) چه اکبرمغل پر گجرات لښکری وروبهولې؛شېرخان پولادی (٤)داحمد آباد کلا (د گجرات پای تخت) کلابنده کړې وه.سلطان مظفر گجراتی چه دهغه له پاره شېرخان احمد آباد ته نیوه اکبر مغل ته ځنې وتښتېد . دشیر خان اومغلوترمنځ چه جنگ وشو پـه هـغه میدان کښې عمر خان لودی اودشېرخان پولادی یوزوی چه هغههم عمر خان یامحمد خان نومیده ووژل شو•

# مسندعالی دولتخان لودی

مسند عالی دولت خان لودی دعمرخان زوی په ۹۵۷ هـ کال دگوالیار په کلا کښې وزېږېد مورئې دوزیرعالم خان لودی لوروه(دولت خان) چه ځلمی شو ، دحاجی خان امیر(٥) سره نوکراود (احمد آباد) په شاؤ خوا کښې (اتاوه) نومې ځای ددهجاگیروتاکه شو ، پلار ئې چه په۹۸۰ یا ۹۸۲ هـ کال لهمغلوسره په جنگ کښې ومړ ،دولت خان (سورت) (٦) بندر ته مخ و نیو.

---

(۱)مخزن افغانی قلمی ۱٤۷ مخ

(۲) تاریخ فرشته دوهم جلد ۲۳۳ مخ

(۳) خان جهان لودی ۸ مخ

(٤)پولادی شیرخان پښتون دگجرات یوخورا توریالی امیرتېرشوی دیدده د توری اومېړانې نکلونه ترډېروختو پورې په خولو کښې وو، یو وخت ئې په پنځوسو وپښتنو ځلمو دگجرات دېرش زری لښکر چه د (عمادخان نایب السلطنه) ترمشرتابه لاندې دفتح خان بلوخ په مرسته پروړغلی ؤ ماتکړ( تاریخ فرشته دوهم جلد ۲۲۹ مخ)

(٥)حاجی خان ترین دسوری سلیم شاه پنځهزری امیراو دخواص جان ولی دخورمیره ؤ دسوریو پاچهی چه ړنګه شوه، گجرات تهولاړاوهلته دگجرات دنائب السلطنه(اعتماد خان) لهخورا ورتیرو امراؤ څخه شو، دپولادی شیر خان سره پهجنگ کښې دپښتنوالی په ارتباط دشیرخان خواته واوښت،اعتمادخان( نایب السلطنه) ئې جاگیرځنې وگرزاوه مگر دشیر خان ترشو پلاکلکو جنگو وروسته اعتماد خان مجبوراً دحاجی خان جاگیر بیرته وروسپاره اوبخپله احمدآباد تهولاړ(تاریخ فرشته اومخزن افغانی)

(٦)سورت دبحیره عرب پرڅنډه دگجرات یو بندردی چه له دهلي څخه دبرهانپور پرلار ۳۱۱ کروه لیرې دی •

په ۹۸۳ ھ کال د گجرات دمغل واکمن ( میرزا عزیز کوکه خان اعظم) له مصا حبینو څخه شو ، او په (جهانداره) کښې ئې جاگیرور کړ ، په (سروهی) کښې چه را جپوتو پر میرزا عزیز کوکه چه له گجراته اګر ځته ئې بر ید وکړ دولت خان په توره دراجپوتومشر وواژه شو او راجپوتو ماتې وکړه په دغه جنگ کښې دولت خان هم پر مخ ټپی شو په ۹۸۵ (۱) یا ۶۷۹ ھ کال (۲) چه داکبر مغل لښکری دشهباز خان کنبوپه مشرۍ درا ناپر تاپ ځپلو لره پر (او دهی پور) او میواړ ور وختلې او (رانا) ئې د (با نسوا ړې) غر و ته وتښتاوه دولت خان هم ورسره ؤ او دستاینې وړ توره ئې وکړه .

وایی په دغه سوق الجیشی کښې شهباز خان دخپلی بهادرۍ دڅر گندولو له پاره دټولو لښکرو تر مخ ته ، مگر دولت خان به خپل آس ترشهباز خان وړاندې بیوه - دشهباز خان ورور عبدل خان آس پسې پونده کړ او ددولت خان آس ئې پراو ربوز په لر گی وواهه ، دولت خان مخ پر را او گرز اوه او دخوشال خانّ له دې بیته سره سم ئې :

کهپه توره ئې ځواب ور کړې مردئ ده
چه وجو ددې ځوك آزار کاندې په چوب

دعبدل خان آس پر کوناتی باندې داسې په توره وواهه چه بیارا پورته نه شو دشهباز خان په حکم دمغلو لښکرۍ له هرې خوا پرراتوی شوې - مگر تو ریالی دولت خان دخپلې غښتلی موټ او تېرې تورې په بر کت تردر ست لښکر روغ رمی ، ووت او خپل پښتا نه سپاهیان چه پر را غونډ شول بیامغلی لښکرو خوله ور ته چوله نه کړای شوای ، سبا چه دعبدا لر حیم خان خانان په واسطه له شهباز خان سره پخلا شو ، شهباز خان یو آس ورو باخښنه نورئې هم ډېر خلاتونه ور کړل او ورته وئې ویل :

« ته رښتیا هم په دغه زړه ور توب او میړانه حق لرې چه دټولو لښکرو

(۱) خان جهان لودی ۹ مخ
(۲) ما ثرالامراء ۲ ټوك ۹ مخ

سرلانړواوسي، تردې وروسته دتواولښکرو په مخ مخ کښې ځه » (۱)

په ۹۸۹ ه کال چه د اکبر مغل له خوا میرزا عبدالرحیم خان خانان دسلطان مظفر ګجراتي ځپلو لره وګماره شو، دولت خان هم ور سره ؤ په دغه جنګ کښې دده دمېړانې په باب دمآثر رحیمي مؤلف داسې لیکي :

« هغه مېړانې ، زړه ورتوب اوبریدونه چه دولت خان اودې وکړل دزمانې دهیخ نو موړي توریالي په وس نه دي پوره » (۲)

د (سند ه) په جنګ کښې دده دتوري نوم ولاړ . سره ددې چه اتیاکروه لارئې په دو و روځو و هلې وه په د وو زر و سترو ستوما نو مېړ و ئـې دمیر زا جانې بیګ منده‌ې لس زره (۳) یا پنځه زره (٤) لښکر ی ما تې کړې ځله نو د سنده سو به دده په نامه شوه او اکبر مغل دوه زري منصب ورکړ (٥)

په ۱۰۰٦ ه کال دد کن دوا کمن شهزاده دانیال له خواد ( مسند عالي ) لقب ور کړه شو او خپل (مدار المهام) ئې وټا که کله چه شهزاده د خپل پلار (اکبر) په بلنه برهانپور ته ولاړ، دد کن نیابت ئې ده ته وسپاره دولت خان په دغه نیابت کښې دپرښه اصول کښېښوول او غوره ضوابط ځنې پاتې شول چه تر ډېره پورې، ئې دده داداري استعداد او تدبیر نمایندګي کوله (٦)

دولت خان دا کبرشاه نجیب آبادي په قول د ۱۰۱۰ ه کال دبرات پراته ویشتمه په احمدنګر کښې (۷) او دمآثررحیمي دمؤلف په قول په ۱۰۰۷ ه کال په برهانپور کښې (۸) او دمآثر الامراد مؤلف په قول د ۱۰۰۹ ه کال په پای کښې

---

(۱) مآثر الامرا ۲ ج ۹ مخ

(۲) مآثر رحیمي ۱٦۲۸ مخ

(۳) مآثر رحیمي ۱٦۲۸ مخ

(٤) تاریخ فرشته لومړی توک ۲٦۸ مخ

(٥) مآثرالامرا ۲ توک ٥ مخ

(٦) مآثر رحیمي ۱٦۲۹ مخ

(۷) خان جهان ۱۰ مخ

(۸) مآثر رحیمي ۱٦۳۰ مخ

کښېنی دقولنج په ناروغی ومړ . (۱)

اکبر شاه لیکی: جنازه ئې برهانپور ته یووړه شوه او هلته ښخ کړ ه شوه.

عبدالباقی نهاوندی وایی: خان جهان زوی ئې پر هدیره باندی یو خور اعالی عمارت ودان کړ او شاوخوا ته ئې یو لوی باغ جوړ کړ، خان جهان هلته یو کلی هم ودان کړ، چه (لودی پوره) ئې بولی (۲)

دولت خان دخپل وخت منلی زړور، و تلی توریالی او نوموړی مېړ ه ؤ، د ټهټی او دکن په جنګو کښې دده توره او مېړانه تر ډېر وخت پوری یادېده له (۳) دده زړه ور توب او توره د ټول هندوستان توریالیوا عیانو منله (٤) اکبر مغل تل دده له زړه ورتوبه څخه په ډېره کښېٔ ؤ، وایی کله چه د دولت خان د مرګ خبر ورورسېد شکر ئې وکیښ او د ربار یا نوته ئې وویل:

« نن شېرخان سور له دنیاولاړ!» (٥)

دده دزړه ورتوب خبری تر ډېره وخته پوری خورامشهوری وي

نکل کا چه: یووخت دا کبر مغل خورا ور تېرا وپر ګران وزیر شیخ ابوالفضل په یوه مجلس کښې وویل:

«هندوستانی توره کتابورا وړې ده مګر موږ تر او سه لید لې نه ده!»

دولت خان په دې کنایه وپوهید؛ په مجلس کښې پا څېد توره ئې وکښله او ورته وئې ویل : «هندوستانی توره دغه ده که مې پر څړېد و وهلې

ترکو نې پورې به دې دوې ټوټې کړم»

سبا چه دخان خانان په وسیله دولت خان او شیخ ابوالفضل سره پخلا شول،

---

(۱) ماثر الامرا ۲ ټوك ٦ مخ

(۲) ماثر رحیمی ۱٦۳۱ مخ

(۳) ماثر الامرا ۲ ټوك ٥ مخ

(٤) ماثر رحیمی ۱٦۲۸ مخ

(٥) ماثرالامرا ۲ ټوك ٦ مخ

ابو الفضل وزیریو پیلاوه پر خلا توهه دولت خان ته ورکړل • (۱)

یولقلی بیگ انیسی دده په ستاینه کښې وائی:

به دولت خان که دولت خانهٔ او ست    می بهر ام در پیمانهٔ او ست

چو عزم کین کند بر قیمانی است    چو حزم آئین کند فاروق ثانی است

نظیری نیشا پوری، مولانا عرفی شیرازی او ملا شکیبی اصفهانی هم دده په ستاینه کښې اشعارلری (۲)

## محمدخان لودی

محمد خان د دولت خان مشر زوی ؤ

وائی په نوی ځلمیتوب کښې له پلاره خوابدی شو او له خپل کشر ورور پیرخان سره ئې بنگلاتی (۳) ته مخ ونیو، هلته چه ورسیدل کله چه دوی غو ښتل چه ترسپن پوری وزی او ښارته ورشی پر بېړ یو جنگ پیښ شو، په دغه جنگ د بنگلاتی د راجا (مان سنگه) د وهوریرونه د محمد خان او پیرخان د ملگرو له لاسه ووژل شول، راجا چه په دی نکل خبر شو دیرش زره روپی ئې ورته راولیږلې اوددی له پاره چه له را جپوتو څخه ځو رونه وینی له هغه ځایه څخه ئې بیرته رخصت کړل (٤)

محمد خان د پلار تر مړینی وروسته د مغل شهزاده (دانیال) مصاحب شو داکبر شاه نجیب آبادی په قول په ۱۰۱۱ هـ کال او د مآثر الامراء د مؤلف په قول په ۱۰۱۰ هـ کال ځوانیمرگ شو .

---

(۱) ماثرالامرا ۲ ټوك ۸ مخ

(۲) ماثرر حیمی ۱۶۲۹ مخ

(۳) ماثرالامرادا نوم بنگاله راوړی دی مگر بنگاله هغه وخت د هندوانو راجوا ده نه وه او نه راجپوت پکښې اوسېدل غالبا چه طباعتی غلطی ده

(٤) ماثر الامرا ۱ ټوك ۷۱٦ مخ

# خان جهان لودی (۱)

دخان جهان نوم (پیرخان) دی په ۹۹٤ ه کال زیږیدلی دی (۲) دپلار تر مړینې وروسته دمغل شهزاده (دانیال) مصاحب شو، دده لیاقت ډیر ژر مغل شهزاده مجبور کړ چه ده ددده دپلار (دولت خان) ټولی چارې ده ته وروسپاری او په ډیره درنه ستر ګه ورته وګوری.

د ۱۰۱۳ ه کال په پای کښې شهزاده دانیال او ور پسې په ۱۰۱٤ ه کال ئې پلار (اکبر) ومړ جهانګیر مغل پر تخت کښیناست، پیرخان ئې اګرې ته وغوښت (صلابت خان) خطاب او دری زری منصب ئې ور کړ (۳)

په ۱۰۱۵ ه کال چه جهانګیر کابل ته ته، له ځانه سره ئې کابل ته بوت چه بیرته راستون شو پیرخان ته ئې د (خان جهانی) لقب پنځه زری منصب او د (زوی والی) دخطاب اعزاز ور کړ.

و ایی خان جهان پر جهانګیر پاچا تر دې حده ګران ؤ چه غوښتله ئې دبا بری پاچا هی کورنۍ یوه مغله نجلۍ ور کړی خو خان جهان داونه منله او پښتنی وینه ئې له ګډونه خخه وژغورله.

جهانګیر مغل دده هری خبری ته غوږ نیو او دده خواهش ئې هیڅکله نه ردا وه دده په زیرمه دخان اعظم مرزا عزیز کوکه، عبدالرحیم خان خانان او ماسنګه تروژلو تیر شو، په هره خبره کښې ئې له ده سره سلا کوله او هیڅکله ئې دنو کرپه ستر ګه نه ورته کتل په ۱۰۱۹ ه کال دد کن وا کمن شهزاده پرویز ته دیوه سیاسي مشاور او حربی سپهسالار په حیث ورو لیږل شو، دده په ورتګ دد کن دجنګ نقشه واوښتله، د (احمد نګر) دپاچا (نظام الملک) لښکر وخو پلاماتی ځنی وکړې او پای ته مجبور شو چه د بالاګهاټ اوجالنه په ور کړه دمغلی پاچهی

(۱) هراتی نعمت الله ددغه خان جهان له پاره دهیبت خان کاکړ او پخپله دخان جهان په مرسته مخزن افغانی په ۱۰۱۸ یا ـ ۱۰۲۰ ه کال لیکلی دی.

(۲) او (۳) ماثر الامراء لومړی ټوک ۷۱۷ مخ.

سره روغه وکړي.

تردې سوبو وروسته دد کن منتظم اودشهزاده پرویزاتا لیق عبدالرحیم خان خانان اګرې تهوغوښتشو اودد کن انتظام اودشهزاده اتالیقي خان جهان ته وسپارلهشو.

په۱۰۲۱ ه کال چهخان اعظم ارادت خان دشهزاده پرویزاتالیقۍ لره وګماره شو دهته یوانحۍ دد کن سپهسالاري ور پاتهشوه دبالاګهاټ اوخاندیس ترسوبو وروسته پهپاچاهي حکم دیوې یاغي اوسرحدي سیمی (برار) وا کمن وتا که شواوجهانګیر مغل دېرخلاتونه ورواستول.

په۱۰۲۳ ه کال دګجرات دولایت حاکمشو خویو کال لانهؤ بشپړ شوی چه شهزاده پرویزبیادپاچاپهاجازهبرهان پورته وغوښت.

په۱۰۲٤ ه کال پاچا پایتخت تهوروغوښت خانجهان چهاجمیر (۱) ته درې ېز له ورنژدېشو مغل باچاخپل زوی شهزاده خرم (شاهجهان)مخی تـه ورته راویوست چهداجمیر یوه مزله تهوررسید پاچاخپل درې وزیران آصفخان وزیراعظم،دنورجهانی ملکې پلار (اعتمادالدوله) اومهابت خان هر کلی ته ورولیږل پهاجمیر کښی ددهلهپارهدپاچا پهحکم یوهخورادرنهخېمهوهلې شوې وه چهدربار تهورغی پاچادغېږي روغبړ (معانقه)ورسرهوکړهاوزښتدېرئېمنازاوه.

## دملتان حکومت

په ۱۰۲۹ ه کال دډهلي دربارو غوز یدیء چه دایران صفوي پاچهی دقندهار دنیولو نیت لري ځکه ئې نوخانجهان دملتان حکومت تهوګماره ، په ۱۰۳۱ ه کال چه شاه عباس صفوي پر قندهار یرغلوکړ ، خانجهان غوښته چهخپلې لښکرې له ملتان څخه دقزلباشو مقابلې لره راولیږدوي،مګر جهانګیر مغل چه دقندهار لهپښتنو سره دخانجهان پېژند ګلوی او اختلاطدخپل سیاست مخالف باله په دې نامه ئې چه دپاچاهانو مقابله پاچاهان کوي ، خانجهان

---

(۱) پاچا په دغهوخت په اجمیر کښی ؤ.

دقندهار له نیولواودقزلباشو له مقابلې څخه جداً منعه کړ .

وایي خان جهان چه په ملتان کښې ؤ ، دقندهار دپښتنو جرګې ور ته راغلې چه زمونږ مالي وضعیت وران دی که ته سپاره ته(پنځه تنګې) دو رڅې او پلی ته (دوې تنګې) دورځې تنخواه ته کې مونږ به ستا په مشر تا به تر اصفهانه پورې تول ملك درونیسو ! خان جهان چه دمغلو اوقزلباشو دغبر ګو مقتدرو پاچهیو دمخالفت توان په پښتنو کښې نه لید؛ منفي ځواب ئې ور کړ او ورته وئې ویل :

« که مغل پاچا (جهانګیر) زمونږ اوستاسی دا اتفاق وو ینی ربښه به مو په نوسی. وکازی او زماد اپر خپل کام نه پیرزو کېږی » . (۱)

# د ګجرات حکومت

په پای تخت کښې دو لی عهدی له پاره له ډېره وخت شخړ ی روانی وې پخپله جهانګیر غوښتل چه شهزاده پرویز دې ولیعهدشی ، مګر دپاچامحبوبې ملکې (نور جهانی ) دخپل زوم شهزاده شهریار(۲) له پاره زیار یوست، اوشهزاده خرم(شاه جهان)دځان له پاره کوښښ کاوه .

په ۱۰۲٤ ه کال له شهزاده پرویز څخه دخانجهان ښېلو نه د دې نکل یوه برخه ده او نور جهانی ملکې په پاچادا کارځکه وکړ چه غوښته ئې له یوې خوا دشهزاده پرویز په چارو کښې څه و رانی راشی او دپاچا ز ړه ځنی بدشی اوله بلې خوا خانجهان غوندې منلی مدبراوتو ریالی شهزاده شهریار په ولیعهدی کښې دځان منل کړ ی ، مګر باوفاخانجهان چه دربارته راغی په هیڅ چم دچمو دنورجهانی ملکې(چه دپاچهی ټولی چاری ئې په لاس کښې وې) ترتاثیرلاندې نه شو او شهزاده خرم (شاه جهان) خوئې یوه ور ځ په لو ی

(۱) ماءثر الا مرالومړی ټوك ۷۲۰ مخ

(۲) شهزاده شهریار دشهزاده دانیال زوی اودجهانګیر وراره ؤ، دنور جهانی هغه لور چه له شیر افګن خان څخه وه ددهماینه وه (سیر المتاخرین ۲٤۸ مخ )

در بار کښې دپاچا تر مخ دشهزاده پرویز پر مخا لفت وترا ته .

وفا او مرت ورو ، ورو پرخانجهان ددربارغولی تنگ کړ ، دیوې گرانې ملکې او یوه مقتدرشهزاده بدی په پسې شوې ، کرار کرار مخالفین بریالی شول په جهانګیرئې شاهزاده پرویز دبنګال وا کمن کړ اوخان جهان ته ئې په ۱۰۳۳ ه کال دګجرات حکومت ور کړ یو دهیوادلمرختو اوبل دهیواد لمرلوېدو ته ولاړه ، مګر ژر دشهزاده خرم (شاه جهان) بغاوت جهانګیرمجبور کړچه شاهزاده پرویز بیرته برهانپور ته را تبدیل اوخانجهان ئې ور اتالیق او مدار المهام کړی په ۱۰۳۵ ه کال چه شهزاده پرویز ناخاپه په (برهانپور) کښې ومړ دبرها نپور خاندېس او براړ حکومت خان جهان ته تکیه وکړه - خان جها ن په دغووختو کښې دملك عنبر حبشی زوی (فتح خان) ته کلکی ماتې ور کړې

# دشهزاده خرم اتالیقی

پلار ته پورته شوی شهزاده خرم چه دشهزاده پرویز له توبر ینبه دا یران په نیامت ترقهتهی (سند) تېر بده؛ دشهز اده پرویز په مر گ خبر ا و بیر ته راستون شو- پاچا هی در بارته ئې دخانجهان قرب وسیله کړ - جهانګیر هم دخان جهان په زېرهه وباخښه او دد کن چاری ئې ور وسپارلې، خان جهان ئې په اتالیقی ورو ګماره .

# د (مالوې) برید

د ۱۰۳۷ ه کال دصفری پرا ته ویشتمه جهانګیر مغل ومړ ، مغلی شهزاده ګا ن یو پر بل سره راو غورځیدل، درې میاشتې دتا ج او تخت له پاره د مغلو په خپلو منځو کښې جنګونه روان وو، خان جهان لودی چه دپښتنو دبیا پاچهی ارمان تل ور سره ؤ؛ د بهلو ل میا نه (۱) او سکند ر دوتانی ( ۲ ) په تو مب

(۱) بهلول میا نه دجهانګیر دوختو امیرؤ شاه جهان در جب ۱۰۳۷ په جشن کښې دځلور وزرو سپرو منصب ورکړ (پادشاهنامه لومړی ټوك ۱۸۲ مخ.

(۲) سکندر دوتانی دخان جهان له خپلوانو څخه ؤ،شاه جهان د ۱۰۳۷ ه کال د رجب دلومړۍ ورځی په جشن کښې یوزری منصب (غو نډه مشری) ورکړ.

دا اړودوړدخپلې آرزوله پاره يوه مناسبه موقع وګڼله او د احمد نګر له نظام شاهي حکومت سره ئې چه له ډيرو کلو راهيسې دمغلو د ډهلې پاچهۍ دښمن او حريف ؤ دبالا ګهاټ دسيمې ( چه پنځه پنځوس زره درمه ئې کالنۍ ماليه وه ) به ور کړه روغه وکړه (۱)

خان جهان چه دبرهانپور، خانديس او برار له ورځ مه حريف حکومت سره روغه وکړه او له دې خوائې زړه ډاډه شو ـ برهانپور ئې سکندر دوتانې ته وسپاره او پخپله ئې لښکرې دمغلي پاچهۍ يوې ورځ مه سيمې (مالوې) ته وخوځولې چه دمغلي حاکم (مظفرخان) له لاسه ئې وګاږي مګر دپښتنو له بده مرغه په دغه وخت کښې (شهزاده خرم) پر خپلو حريفانو بري ومونداو ددغه کال دځلورمې خور په مياشت کښې ئې د(شاه جهان) په نامه دپلار پر تخت قدم کښېښود، دشاه جهان داسې ژر کاميابۍ دخان جهان نقشه په خاوروولړه او مجبور ئې لښکرې بېرته د مالوې له پايتخت (مانډو) څخه برهانپور ته ستنې کړې (۲)

## اووه زري منصب

شاه جهان چه څر نګه پر تخت کښېنوست، خان جهان ته ئې بېرته ديخوا په څېر دد کن، برار او خانديس حکومت ور کړ، ور پسې د۱۰۳۷ه کال در جب په اومړۍ ورځ چه شاه جهان دامير انو دنازو لو او رتبو تاکلو له پاره شاهي جشن جوړ کړ، خان جهان ته ئې په غياب کښې اووه زري منصب (چه دغه وخت په اصطلاح سره دواسپه اوسه اسپه سپاره وو) ور کړ (۳)

په دغه وخت کښې دمغلي پاچهۍ په ټولو امراو کښې صرف يوه (نه زري)

---

(۱) پادشاهنامه ۲٤۹ - ۲۷۰ مخ

(۲) ماثر الامرا دمالوې بريد دشاه جهان په امر بولي (۷۲۳ مخ اټوك) مګر بادشاهنامه ئې دخانجهان شخصي بريد بولي (۲۷۲ مخ اټوك)

(۳) پادشاهنامه ۱ ټوک ۱۸۲ مخ

یمین الدوله آصف‌خان تر خان جهان زیات منصب درلود او بس (۱)

## د(مالوې) حکومت

دشاه‌جهان مغل دشهزادګی په وختو کښې لاخان جهان‌ته تورېر تندی شوی ؤ خود جهانګیر تر مرګ وروسته دپاچهی په‌شخـړو کښې د شاه جهان سره نه‌مرسته‌ی ، دنظام شاهی حکومت سره‌روغی‌او پر خپل سر دمالوې دربدې اورته ښه‌لمن ووهله ــ مګرمدبرشاه جهان د وخت له تقاضا ســره سم‌پرمخ ته اوتر ، خوچه‌ئې ځان ښه نه‌ؤ سره چمتو کړی ، ددې مخا لفت لــه څرګندولو څخه‌ئې ځان ژغوره ، خوکله‌چه‌ئې خپل‌موټ‌مړو چولید ، سمدستی ئې د۱۰۳۷ ه کال دروژې پر پنځلسمه له‌خان جهانه څخه دد کن خاندیس اوبرار حکومت واخیست او خپل یوه معتمدامیرخان‌خانان‌مهابت خان ته‌ئې وسپاره ، او خا ن‌جهان‌ته‌ئې دما لو ې کو چنی حکومت ور کړ (۲)

شاه‌جهان‌په‌دې‌تبدیلی‌سره‌له‌یوې‌خوا خانجهان‌اوور سره‌روغ نظام‌شاهی‌حکومت سره‌بېل کړاو له‌بلی‌خوا ئې‌خان‌جهان‌له سرحدی‌سیمو څخه‌پایتخت‌را نژدې کړ .

## دچهچار سنګهه‌جنګ

څرنګه چه‌خان‌جهان مالوې ته ورسېده‌دستی ، دباغی چهچهار سنګه‌بندیله ځبلو لره دمهابت خان خان‌خانان په‌مرسته‌و ګمارشو ــ خان جهان د( نرور) له‌خوا خپلی لښکری دچهچار سنګهه‌پر کلا (اوندجه) وروستلې اود کلا په‌درې کرو هی (کندار) کښې ئې‌ورته واړول ، مهابت‌خان‌د ګوالیار له‌خوا پر راغی چهچار سنګه ئې‌دروغی د رخواست ته‌مجبور کړ اودمها بت‌خـان په‌وسیله دشاه جهان دربارته په ننواتوورغی - پا چا د چهچار سنګه څه‌جا ګیر خان جهان‌ته وبا خښه (۳) اوپه دې تو ګه ئې دخان‌جهان داد اوغفلت‌زیات کړ .

---

(۱) پادشاهنامه ۳ توک ۳۹۳ مخ

(۲) پادشاهنامه ۱ توک ۱۹۹ مخ

(۳) پادشاهنامه ۱ توک ۵۵ ۳مخ .

## د آگرې نظر بندي

خان جهان چه د تخت نشينۍ د مبارکۍ له پاره پايتخت ته نه ؤ راغلی د جهجار سنگه دا بلېد لوز برې ئې پامه کړ، دا گرې دربار ته له (کنداره) څخه ورغی د تخت نشينۍ مبارکي ئې اودسو بي زيرې ئې ورکړ او يوزرا شرفۍ او شپېزويشت پيلانئې د نذرانې په نامه د پاچا حضور ته وړاندې کړل پاچاهم ښه راشه درشه ورسره وکړه خاص خلات او زرين موټي خنجر ئې ورو باخښنه - مگر دا دلو مړي ورځې وضعيت جعلي ؤ بيائې خانجهان (مالوې) ته پرې نه ښودا وخوما شتي په آگره کښې ديوه نظر بند په حيث پاته کړه شو.

## له (آگرې) وتل

د ١٠٣٨ ه کال په لومړيو ورځو کښې د مخلص خان زوی (لشکری) دخان جهان زامنو ته چه آشنا يان ئې وو، حال ورو وړ چه «نن يا سبا پاچا ستاسې کورنۍ تو له زندان ته اچوی احتياط کوئی!»
دې خبرې دخان جهان تشويش لا پسې زيات کړ او پاچاهي دربار ته ئې دسلامۍ له پاره ور تگ پرېښود، د ١٠٣٨ ه کال دصفرې په شپېزويشتمه شپه (١) چه دهندوانو د ديوالۍ شپه وه، خان جهان له دوو زرو پښتنو (چه زيا تره ئې خپلوان وو) دوولسوزامنو او زومانو، دوو درو سو وتنو نوکرانو او کورو کهول سره له آگرې څخه په ډول او نغاره ووت او ودکن لورته ئې مخ ونيو.

## د (چنبل جنگ)

خان جهان چه له آگرې راووت شاه جهان مغل يو نيم ساعت ور وسته ديرش، څلويښت زره لښکرې او يو درنه توپخانه دخپلو خوراو ترتيرواميرانو لکه سيد مظفر باره، خواجه ابو الحسن تربتی، خدمت پرست خان او

(١) دمأثر الامرأمولف د ٩ ٣ ١٠ ه کال دصفرې اووه ويشتمه ضبط کړيده (لومړی جلد ٧٢٥ مخ)

راجا بېټهل داس په‌مشری پسی راویستلي لمرخاته‌چه‌خان‌جهان لودی د[1] دهولپور) په حدودو کښې د (چنبل) (۱) تر سین پورې ووت د مغلو لښکری پسې ور ورسېدلې ، خان جهان پخپله د مغلی لښکرو مخه ونیوله او ښځې او کو چنیان ئې تر سین پورې وتل ، د ننگو ناموس او مالو دولت جنگ ؤ د وو زړو ښتنو ځلمو هغه توری وکړې چه د مغلو دېرش ، څلوېښت زره لښکری ئې په ځان پوری حیرانی کړې په دې جنگ کښې د ښتنو له خوا دخان جهان دوه تور یالی زامن (عظمت خان او حسین خان) (۲) یوزوم ئې شمس خان لودې ، دشمس خان دوه ورو نه (محمد او محمود) (۳) پنځه تنه نور په توره مشهور ښتانه سر دا ران او شپېته تنه سپاهیان ووژل شو ل (٤) د مغلو له خوا اولس تنه درا نه امیران لکه خدمت پرست خان (٥) او نور . . . له ډېرو سپاهیانو سره د ښتنو په تورو ومړل .

خان جهان ، اوملهٔ ئې غرمې ته د چنبل تر سین پوریوتل‌مگر دمغلو دیرشو زرو لښکرو ترسبا د غه و خته پوری د ور پسې تللو ( تعاقب ) توان په ځان کښې نه‌ولید

## نظام شاهی پاچهۍ ته او ښتل

خان‌جهان چه‌دچنبل ترسین پوری‌ؤت، د گوالیار، چندیری اوبند هیلکهنډله لاری ئی ځان ( گوند وانې) ته ورساوه اوهلته‌ئی واړول،څه‌وخت‌پس دلانجې او برار له لاری د احمد نگر نظام شاهی پا چهۍ (بالا گهاټ) ته واو ښت، د با لاپور جا گیر دار بهلول خان میا نه او سکند ر دو تانی چه هم ځا نو نه

(۱) دچنبل سین له اگری څخه‌۱۵ کروه‌لری دی

(۲) شوکت‌افغان حسین خان د خان‌جهان‌زوم بولی مگر پادشاهنا نه اوما ثررحیمی ئی د خان جهان زوی گڼی

(۳) شمس خان،محمد اومحمود د،عالم خان لودی لمسیان‌وو

(٤) مأثر الامراء (ا) ټوك ۷۲۵ مخ

(٥) خدمت پرست خان د مغلی‌پاچهۍ دوه نیم زری‌منصبدارؤ یونیم زره سپاره ئی لرل (پادشاهانه)

ورو رسول، خان جهان د نظام شاهي پاچهي پایتخت ته پسی ورتېر شو نظام الملك ئې مخې ته راوؤت او پر تخت ئې ورسره کښیناوه څوور ځی هلته ؤ، نظام الملك د جنګی تجهیزاتو له پاره ډېری روپی ورکړې او خان جهان بېرته د مغلی پاچهي سر حد (بیر) ته ځنی راغی.(۱)

## د شاه جهان وروتل

د ۱۰۳۹ هـ کال ددر بمی خور په میاشت کښی شاه جهان له خپلو خوراد رنو لښکر و سره د خپلو هغو دېر شو زرو لښکرو په مرسته له آګرې څخه د کن ته وخوځېد چه په خان جهان پسی ئې ا یستلی وې .

مغل پا چا در جب دمیا شتی په نهمه ورځ د (نربدا) ترسین ور پور یوت او د (خاندیس) (۲) په سیمه کښې ئې وا ړول.

در جب په شلمه ئې پنځوس زره نوری لښکری دد کن دوا کمن (ارادت خان خان اعظم) را چه ګجهه سنګهه اوښا یسته خان په مشری دخان جهان نیولو له دبالا ګهاټ لور ته وخو ځولې، پخپله درجب د میاشتی پر شپېږو یشتمه دخاندیس پا یتخت (برهانپور)(۳) ته پسی ورغی، د ګجرات حا کم شېر خان اود بنګلاتی راجا ئې همو ګمارل چه په خان جهان پسی خپلی خپلی لښکر ی و ر وباسی .

## د دریاخان او سبتل

د ابرا هیم خان داؤدزی زوی دریا خان داؤد زی (٤) چه د مغلی پا چهی څلور زری امیر او د خاندېس دیوې سیمی جا ګیردار ؤ د ۱۰۳۹ هـ کال دبرات پر اته ویشتمه د شاه جهان له لښکرو څخه چه په برهانپور کښی ؤ، دخان جهان د مر ستې له پاره مخ پر (دولت آباد) روان او پر لاری د خان جهان مل شو (٥)

---

(۱) ماثرالامراء (ا) ټوك ۷۲٦ مخ

(۲) دخاندېس مشرق ته دبرار او شمال ته دمالوې سیمه پر ته ده

(۳) برهانپور په ۱۰۸ درجې طول البلد او ۲۲ درجې عرض البلد کښی له دهلی څخه ۲۲۱ کروه لیری پروت دی

(٤) خوشال خټك ٤١٥ مخ

(٥) ماثرالامراء (۲) ټوك ۲۱ مخ اوبادشاهنامه (ا) ټوك

# د (روه) اړودوړ

دخان جهان دليکنو او تحريك په اثر په روه کښې دشيخ ركن الدين روهيله زوی، کمال الدين چه دجهانگير مغل پاچا له خوا شلو رزری منصب او د (شېرخانی) لقب ورکړه شوی ؤ، پورته شو (۱) دپادشاهنامې په قول له اټکه څخه نيولې تر کابله پورې ټول پښتانه ورسره مله شول د پير روښان کړوهی (عبدالقادر د جلال الدين روښانی دزوی (کريمداد) اودمير داد روښانی دزوی (محمدزمان) په ملگری د ختگو، ځاځيو اوتو ريو اشکرې له تيراڅخه مخ پر پېښور راوځوځولې او د پېښور په اوه کروهی (يواگذر) کښې دشيرخان روهيله مل شو، داشنغر او پېښور دشاوخوا محمدزی، گگيانی، خليل، مهمند، داؤدزی او يوسفزی ئې هم دځان مله کړل د ۱۰۳۹ هـ کال دلوی اختر په دريمه ورځ ئې پر پېښور له هری خوا بريدوکړ (۲) په دغه وخت کښې د کابل مغلی حاکم (لشکرخان ابوالحسن مشهدی) ؤ په پېښور کښې د لشکرخان نايب پښتنو وواژه او مغلی پاته امرا په پېښور کښې کلابند شول دبنگښو مغلی حاکم (سعيدخان) ځان پېښور ته ورساوه اودمغلی امير دلاورخان کاکړ له زامنو (جلال خان او جمال خان) سره په پېښور ننووت د پښتنو په مقابل کښې ئې پښې وخرلی کلابندی ئې ټينگه کړه. مگر له بده مرغه د مغلو طرفدارانو دپښتنو په منځ کښې درزونه واچول، عبدالقادر روښانی دشپې له مخې تيراته وکوچېد، پر پاتو پښتنو مغل فوځونه راوغورځېدل او ښه ئې وځپېړل ـ شاه جهان سعيدخان ته ددې خدمت په صله کښې شلورزری منصب او د رپسې په ۱۰۴۰ کال دکابل حکومت ورکړ (۳)

---

(۱) شېرخان داؤدزی ددرياخان داؤدزی خسرؤ (خوشال خټك ۴۱۵ مخ)

(۲) بادشاهنامه د ۳۱۱ مخه څخه تر ۳۱۴ مخه پورې

(۳) بايزيد روښان ۴۴-۴۵ مخ

# د انګریزانو او مرهټو سره جنګ

له یوې خوا د مغلو لښکرې پر څوځایه د احمدنګر پر نظام شاهي پاچهي ور توی شوې له بلې خوا د مرهټو او انګریزانو ګډې لښکرې د احمد نګر پر سیمه ورغلې، خان جهان لودی یوځای د مغلو د ترټولو لوی لښکر (چه د ارادت خان خان اعظم تر مشر تابه لاندې ؤ) مخه نیولې وه او له بلې خوا ئې د مرهټو او انګریزانو د ګډه لښکر سره چه پر احمدنګرئې بریدکړی ؤ مقابله کوله پای ته ئې د مرهټو او انګریزانو لښکرې پسې وا خیستلې او یوائې د مغلو مقابله پاته شوه (۱)

# د (راجوړې) جنګ

خان جهان چه د مرهټو له جنګه فارغ شو - څه لښکرې ئې د بهلول خان میانه او مقرب خان تر مشرتابه لاندې د بالاګهاټ په (د هارور) کلا کښې پرتې وې، څه لښکرې ئې د دریاخان داودزی سره په (بنوسه) کښې وې څه لښکرې چه له ده سره وې د ماليې د ټولولو له پاره شاوخوا ته سره ولاړې (۲) ده په خپله د (بیر) دسیمې د (راجوړې) په کلي کښې (۳) له درو څلورو سوو پښتنو او کډو سره اړولی ؤ د پشکال د موسم د تېریدلو په انتظار کښې ئې شپې او ورځې سبا کولې چه ناڅاپه د مغلو هغه لښکرې (چه د خان اعظم ارادت خان تر مشر تابه لاندې وې) پر ور توی شولې، د خان جهان زوی (عزیز خان) د مغلو د سرلاس فوځ (چه د صف شکن خان تر مشر توب لاندې ؤ) مخه ونیوله په خپله خان جهان د مغلو د لوی لښکر مخه ونیوله درو څلورو سوو پښتنو د څو زرو مغلي لښکرو په مقابل کښې توری راو کښلی او مغلي لښکرو ته ئې بیا د چمبل د جنګ ننداره وروښوده کلک جنګ وشو، د سرو کوټې جوړې شوې خان جهان چه په د غولنز و پښتنو په سمه کښې د ډیر وخت له پاره د میدان ټینګو ل

---

(۱) ماثر الامراء

(۲) پادشاهانه ۳۲۱ مخ

(۳) د راجوړې کلی د (مچهلي ګاون) په ۲٤ کروهي او د بیر په ٤ کروهي کښې پروت دی

مناسب و نه گڼل په‌جنګ کښې‌دغره‌لمنې‌ته تر شاشو، په مغلي امراو کښې ترټولو د مخه د دریاخان داؤدزي‌مغل‌پرسته‌زوی ناسیاله‌بهادرخان دناهرداس او اهتمام خان په ملګری هغه پسې وکړه (۱) د خان جهان‌تور یالي وراره (بهادر خان) ئې مخه ونیوله، ناهر داس ئی وواژه ناسیاله بهادر خان ئې دره ځایه تېې کړ.

وائې‌ناسیاله بهادر خان په داسی‌حال کښې‌چه‌د تېوله‌لاسه دپاسیدلو توان نه درلود، د یوه پښتانه ځلمي د توجه نخښه شووئي‌غوښتله‌چه‌بې ننګه کـکړی ئې ځنې‌غوڅه کړي،مګر کله‌چه ناسیاله‌بهادرخان ناري کړي چه‌زه‌ددریاخان داود زی زوی یم توریالی پښتا ته لاس ځنې وا خیست او دا د پښتنو والی پیغور ئی ژوندی پر ینبود.

خان جهان په‌دغه جنګ کښې‌دغرو په لمنو لمنو کښې‌دپاته پښتنو ځلمو او کهو سره‌ځان(سیو ګاوڼ) ته‌ورساوه‌اوله هغه‌ځایه (بیضاپور)ته ولاړ، له بیضا پوره شخه‌ئې (ایر کهتلې) ته‌چه‌ددولت آباد په‌نیم کروهی کښې‌وه ځان‌ورساوه (۲)

## د (چالیس ګاون) برید

خان جهان چه په (ایر کهتله) کښې‌وا ړول، دریا خان داؤ دز ی له زړورتنو پښتنو ځلمو سره‌دا ندول او چالیس ګاون دسیمو دنیولو په نیامت(چا ندور) او (چالیس ګاون) نه رهی شو - شاه جهان چه په خبر شو دمغلو لښکر ی ئې دعبدالله‌خان په مشر توب‌پسی راوایستلې، دریاخان چه په خبر شو، اند ول ،دهرن ګاون او دچالیس ګا ون ځنې کـښته برخـې ئـې تـا لا کــړ ې او بالا ګهاټ ته وخوت (۳)

---

(۱) دلته دخوشحال خان دا بیت ښه تطبیقیږي چه وائی:

په بل غشی بل ټوپك ویشتلی نه یم — که ویشتلی یم خوبیا په خپل ټوپك یم

(۲) پادشا هنامه ۳۲۷ مخ

(۳) پادشا هنامه ۳۲۸ مخ

## دبهلول خان او مقرب خان ماته

دراجوری له جنګه پس (خان اعظم ارادت خان) خپلی مغلی لښکری د(مانك دوده) لهلاری دبهلول خان میانه (۱) اومقرب خان جنګ ته چه په (انبه جو کالی) او(دهارور) کښی وو، ولیږ دولې دغره په لمن کښی پښتنو مخه ورته ونیوله دېر مغلی سپاهیان ئې ووژل مګر مغلی لښکری پسې وروختلې اوداحمدنګر په شان ګروهی (دامن ګاون) کښی ئې وارول دمغلو لښکری چه د(دهارور) دوولس ګروهی ته پسی ورغلې، مقرب خان او بهلول خان د (انجن دوده) له ګهاټه را کښته شول ، او ددولت آباد سیمو ته ئې ځانونه ورسول (۲)

## د پښتو نخوانیت

د ۱۰۳۹ ھ کال په پای کښی ساهوجی بهونسله مر هیټې هم له خپلو لښکرو سره دمغلو مل شو. دمغلو لښکری له درو خوا و څخه پر نظام شاهی پاچهی را وګرزېدلې او نظام الملك ئې دومره وارخطا کړ چه نژدې وُه خان جهان په وورکره دمغلو سره روغه وکړی. خان جهان چه خپله نقشه چه دپښتو نخواله خوا به شېرخان روهیله اودد کړ له خوا به دی دمغلو کمبله پسی ورټولوی په د کن کښی نا کامه ولیدله، نو ئې دپښتنو مشرانو لکه دریاخان داؤدزی، ایمل خان غرین اوصدرخان یاسکندرخان په ملګری دمالوې، راجپوتانې او پنجاب له لاری دپښتونخوا په نیامت (۳) دخاندیس سیمی ته (چه دمغلو پاچهی وه) خپلی لښکری راوایستلې شاه جهان چه په خبر شو ۱۰۴۰ ھ کال دلومړی خور پر پنځه ویشتمه ئې سید مظفر بارهه، سر فراز خان، درګا داس او نور نامتو امیران و ګمارل چه د (نربدا)

---

(۱) بهلول خان میانه تر ۱۰٤٤ ھ کال پوری ژوندی ؤ اوددولت آباد په کلابندی کښی ئې ښر ګندی مېړانی وکړې

(۲) پادشاهنامه

(۳) پادشاهنامه ۳۳۵ مخ

دسین گودرونه ورته ونیسي دعبدالله خان ترمشرا تا به لاندې لښکرې دشا له خوا په پسې وي. مګر بیا هم سره ددو مره استحکاماتو مېړني خان جهان د (دهرم پوري) پر گودرد (نربدا) ترسین پورې ووت اودمالوې اوراجپوتانې له لارې ئې دپنجاب (دیپالپور) ته ځان ورساوه.

خو هلته چه ئې و کتل د پنجاب ارشو ګانې او دآبا سین غاړه دومره ورته تینګه کړه شوې وه چه په هیڅ توګه دپښتنو نخوا جګړو غرو ته رسېدل ممکن نه ؤ ځکه ئې نو بېرته (مالوې) ته دبنګال په نیامت مخ ونیوه په لاره کښې ئې (اوجین) تالاکړ (نولاهی) ته پسې ور تېر شو اوله هغه ځایه (تال ګاون) ته ولاړاو دځلور مې خور پر دولسمه تر (سرونج) تېر شو. (۱)

## د(بکرماجیت)جنګ

خانجهان چه تر (سرونج) تیرشو، دځلورمې خور پراوولسمه دجهجار سنګه بندیله زوی (بکر ما جیت) له پنځلسو زرو سپرو سره مخه ورته و نیوله په دغه وخت کښې له خانجهان سره صرف تقریبا یوزرتنه داسې ځلمي پاته وو، چه میدان ته وتلای شواې، نور نویوه لویه قافله کښې، کوچنیان، رنځوران او ښپیان ورسره وو، چه دهغو ساتنه او تریو ځایه پورې رسول هم ددغو زرو تنو ځلمو وظیفه وه په هر صورت دریا خان داؤدزی له څلورو سوو ځلمو سره دبکرماجیت د پنځلسو زرو سپرو مخه ونیوله او پخپله خانجهان له پنځو سوو تورزنو ځلمو، کډو او ښپیانو سره (بهاندیر) ته چه د (اله آباد) په دیرش کروهۍ کښې دی ځان ورساوه او هلته ئې وا ړول.

نکل کا چه پدغه جنګ کښې دریاخان اوڅلور سوه سره پښتانه ځلمي

(۱) سرونج دغره په لمن کښې پروت دی، نصیر آباد ئې ۱۳۶ کوسه لیرې جنوب مغرب، (ساګر) ئې ۳۹ کوسه لېرې شمال مشرق بهوپال ئې ۳۰ کوسه لېرې شمال مشرق، چند یرې ئې ۲۵ کوسه لېرې جنوب، ټونک ئې ۱۰۰ کوسه لېرې غرب اود ګوالیار سیمه ئې ۹ کوسه لیرې شمال ته پر ته ده (تاریخ ټونک ۵۳ مخ)

شهید ان شول او په خورا میړانه له سهار څخه ترماښامه پورې کړه ورځ وجنګیدل.

طبا طبایي لیکي: «دریاخان او مله ئې درستم په څېر وجنګیدل، بلکه پسې بر یدونه ئې وکړل او د لیونیو په دود ئې د جنګ ډاګ تر ډیره پورې تود وساته څو چه پخپله دریاخان، یوزوی ئې(۱) او څلور سوه سره پښتانه و مړل (۲) بکر ماجیت د دریاخان اوزوی ککرۍ (برهانپور) ته شاه جهان له وولیږلې ، شاه جهان ددې خدمت په صله کښې بکر ماجیت ته (چه یو زری منصب ئې درلود) دوه زری منصب ورکړ او یو خاص خنجر یوه زرین موټی تور ه او تو غ ونغاره ئې خلات ورواستاوه(۳)

## د بهانه پر جنګ

سید مظفر بارهه چه دخان جهان په حال خبر شو سمد ستی ئې پاچـاهی لښکرې پسې راوبرولې، خان جهان یوه ورځ تر مخ ددوی له را رســېدو خبرشو ، کله او کو چنیان ئې دڅو میړو سره یو منزل پر مخ ولیږل، په دوې پسې دسید مظفر بارهه لښکرې راور سېدلې ،خو را کلک جنګ ونښت طباطبایي ددې جنګ په باب کښې لیکي: «خانجهان له شپږ وسو و تو ر یالیو میړو سره مخ پر را وګرزاوه او هسې جنګ ئې و کړ چه دتو ر ې پـه آب ئې درستم او افراسیاب کار نا مې پر ېولنې، ډېر مله ئې دجنګ په ډاګ کښې ومړل، اولږ ئې ټپیان له ډاګه ووتل». دمنتخب ا لباب مؤلف چه دپښتنو دښمني ئې له لیکنو څخه له ورایه ښکاره ده دسید مظفر دملګر و دستا ینې په ضمن کښې لیکي:

«له دواړو خواؤ عجب رستمانه جنګ کیده ، سیدان دهغو پښتنو تو روته دورځې ترپا یه ټینګ شول چه هـر یو دسکندر سدؤ، سیدان لکه پتنګا ن ډاداور پرغره

(۱) ماثرالامرادوهم ټوک ۲۱مخ

(۲) سیرالمتاخرین ۲۵۸مخ

(۳) ماثرالامرا (۱) ټوک ۵۲۶مخ

ورتو ئېدل پښتنو هم هغه مېړا نې و کړې چه دد ښمنانو سید انو خولې ئې
و نه دربدلې او آ فرینو نه ئې پرووېل»

په دې جنګ کښې دخانجهان زوی (محمود) او په توره منلی امیر (صدرخان) ووژل
شول. خانجهان د پاته پښتنو مېړو سره د کالنجر خوا ته مخ و نیو، (کالنجر) ته چه
ورسېد دهغه ځای حاکم نیاز خان (۱) یاسیداحمد (۲) مخه ور ته و نیوله،
خانجهان دز مریو په څېر وجنګېد (۳) حسن خان یا حسین خان زوی او څه
نور تیا ن مله ئې له (۲۲) پیلا نو سره ونیول شول، پخپله خان جهان د (کالنجر)
تر کلا تېر شو اودسندره یا (سهیند یر) خوړ پر غاړه ئې واړول.

## استری جنګ

خانجهان چه دخوړ پر ژی ډ وا ړ ول خپلو ملوته ئې وویل :

« نور زما په اورځانو نه مه راسر ه سوځی ، تر دې چه توره مو سره بېلوی
ښه ده هرې خوا ته چه او س ځانو نه کښلای شی وخوزی او ما پر ېږ دی، زما عمر
پای ته رسېدلی دی او له دی ځا یه بل لورته نه ځم، زه پو هېږم او زما قسمت» (٤)

نو لو ملو ئې چه ترسل تنه زیات نه وو ځواب ور کړ :

«ننګیالی له میدا نه شخه دتیښتې پښې نه لری ، مونږ چه ځانو نه پښتانه بولو
دا پېټ نه شو وړلا ی » (٥)


دسید مظفر اوراجا ماد هو سنګه لښکری پسې راورسېدلې خانجهان، عزیز خان
زوی اوملو چه ئې دمخه لا له ژوندنه لاس پر یو لی ؤ چمتو ولاړ ؤ په جنګ ئې لاس پو رې
کړ طباطبایی لیکی :

« هر پښتو ن دمېړا نې اوزړه ور تیا د اوریو بحری ؤ پر غلیم ور توی شول
او خپل نو مونه ئې رو ښا نه کړ ل، خانجها ن پخپله تر څو غشی لرل لیندی

(۱) سیرا لمتا خرین ۲۵۸ مخ
(۲) خان جهان لودی ۳۶ مخ او بادشاهنامه ۳٤۹ مخ
(۳) سیرا لمتاخرین ۲۵۸ مخ ماثرالامراج اص ۷۲۹
(٤) سیر ا لمتا خرین ۲۵۹ مخ
(٥) خانجهان لودی ۳۶ مخ

په تاریخ د (زرغلو پښت) وایم دا خبر
چه لیده شی په (گجرات) په (دکن) جبر
پچپل عمر خو خبر د نیکو بد شوم
په داود دی قتل نه لیده په دبر
مسلمان، کافران گډ سره پراته دی
چه بې ستره په اورشی نه په قبر
یو عجب ویونه تیر ی زمانه ده
د رحمت په اوښونو وریدل ابر
حیرانان زهیران پاتو پخپل حای شول
ظالمان ورته قهر یزی لکه ببر
په ضرور ضرور پریشان شول له وطنه
د ځینو ځینو تلف شه تمام تبر
اے (میرزا) له هسی قام پناه غواړه
چه په زړه مسلمان خوی ئې د گبر
«میرزا خان انصاری»

ودی پښتانه [۳] نقشه



ئې لهلاسه وانه چوله اوتر څو ئې چه پهپښو اولاسو کښې سېک (قوت) ؤ لهحملو څخهئې ځان‌ونه ژغوره ترهغو ئې پهخورامېړانه دتوروڅو ګوته ځانونه ورکول، څو دی، او عزیز خان زوی ئې دغلیم پهتورو ټوټه ټوټه‌شول»

محمد هاشم خافی خان دپښتنو مخالف مورخ لیکی:

«خانجهان لکه تېږی زمری غړ مېږدهدر ستم په څېړ جنګو نه ئې و کړل دجنګ په ډاګ کښې ئې ترمړ ګهپوری ښې توری‌ووهلی کهڅههم د(مادهوسنګه) په برچه پر خوله وموښت‌اوبل تمپ‌ئی پرپښه‌پسی‌واخست بیاهم را کښیناست تر وروستۍ سلګۍ پوری ئی د غلیم د حملو ځواب پری‌نه ښو و دو ست او د ښمن ئی پر میړانه‌آفرینو نه‌وویل» .

په دی جنګ کښې چه د۱۰٤۰ ه کال‌داسترۍ خور پهآخره او پادرجب په لمړی ورځ ؤ که څه هم خانجهان، عزیزخان زوی ئی‌اونورتوریالی ملهٔ ئې په خورا مېړانه‌ووژل شول خو ډېر مغل ئې ترځانوجار کړل او ډیری مغلی ئی په وای وای وژړولې او دا ئی ثابته کړه چه د پښتنو وینې وړ یا نه دی په دی ئو که له هغو دووزرو پښتنو میړو څخه بیله هغو څو تنو چه کلای ئی تر یو ځایه ورسولی نور هیڅوك پاته نه شول چه په ژوند دی‌د دی‌ننګی له ډاګه څخه سروباسی .

د خانجهان ایمل خان(۱)، عزیزخان(دخانجهان‌زوی) اوصدرخان سرونه شاه جهان ته ولیږل شول، شاه جهان ښار په ښار و ګرزول او دبرهانپور په کلائی وځړول د خانجهان تن په برهانپور کښې‌د پلار ترڅنګ ښخ کړه‌شو شاه جهان سید مظفر خان بارهه‌ته ددی‌خدمت په صله کښې‌د (خانجهانی) خطاب او د زرو سپرو زیات منصب او عبدالله خان ته ئې د (فیروز جنګ) خطاب او د زروسپرواو زرو پلو زیات منصب ورکړ ښاد نامی وزغېدلی ،

(۱) ایمل خان ترین د مغلو (نهسوی) امیر ؤدری سوه سیاره به ئی لرل د پښتنی ننګی په حکم د خانجهان مل‌شو او یو ځای ئی پر پښتنی هوده سر ور سره کښېښو د (پادشاه‌نامه ج۲ ص۳۱۳)

فتحنامې جوړې شوې ، شاهجهان (کلیم) شاعر ته‌دلاندنی رباعی‌خورادر نه صله ور کړه:

این مژده فتح‌از پی هم ز یبا بود　　این کیف دوبالا چه‌نشاط افزا بود
در رفتن‌دریا (۱) سر پیرا (۲) هم‌رفت　　گو یاسر او حباب‌این‌دریا بود (۳)

د خانجهان د وژلې نیټه دا ده :

«که (آه) و (ناله) ز (افغان) بر آمده» (٤)

۶+ ۸۶ + ۱۱۳۲ = (۱۰٤۰)

## د خان جهان رشې

اکبرشاه نجیب‌آبادی لیکلی دی :

«خانجهان یو عالم، فاضل‌او توریالی سړی ؤ د رائی اصابت ئې مثلی ؤ د ۱۰۲۱ ه کال د برات په میاشت‌ئې دایلچپور په ښار کښې د جمعې په شپه په خوب کې‌د حضرت‌محمد (ص) زیارت و کړ، سهار ئې په دغه‌شکرانه کښې تول شته (مال) پر غریبانو وویشل (۵)

د خانجهان معاصرمورخ دمأثر رحیمی مؤلف لیکی:

«خانجهان دزمانې له‌توریالیوڅخه‌دی‌او په دې لار کښې‌سارې نه لرې» (۶)

د (مأثرالامراء) مؤلف لیکی :

خانجهان لودی خورا د روند زغمونکی رښتنی او سم سړی ؤ دروه او دوه مخی ئې نه‌وه زده هیڅ‌ا ته ئې زیان نه‌رساوه اودهیڅ‌ا په‌زیان خوښ نه‌ؤ درست ژوند ئې په بزم کښې تیر شوی ؤ چاته ئې سر نه کښېښاوه ځکه هر چا رخه‌ور سره لرله دنو کرې‌دول‌ئې هم نه‌ؤ خوزمانی روغه‌ور سره‌و نه کړه.

---

(۱) دریا خان داؤدزی
(۲) پیر خان (خانجهان لودی)
(۳) سیر المتاخرین ۲۵۹ مخ
(٤) مأثرالامرا لومړی جلد ۷۳۰ مخ
(۵) خانجهان لودی ۲٤ مخ
(۶) مأثر رحیمی ۱۶۲۹ مخ

او پخپلوا رزو گانوئي بريالي نه کړ،دجهانګير په پاچهی کښې ګر دو امير انو دده خولي ته کتل ،حتی دهندوستان پاچا (جهانګير) له خپله هغه برمه سره دده له خبري غاړه نه غړوله.

وايي چه شاه جهان مغل يوه ورځ خپل خان جهان سيدمظفر بارهه ته وويل: «دا خطاب (خان جهاني) دهغه چاؤ چه زه او نور تول شهزادګان ئې يوه نظر ته تېرئ او دده به له استغنا څخه نه را ته کتل .

خانجهان وتلي مېړه اوترانداز ي زيات غيرتمن سړیؤ، کله چه ئې دشاه جها ن په وخت و کښې هغه آب وعزت ورپاته نه شول اوهر کس و نا کس ئې مقابلې ته په برېتو ګوتې وهلې، دده غيرت داونه منلای شوای مځکه پرسره شوه او دبې غير تی تر ژوندئي دعـزت مر ګـــ غوره کـړ،خانجهان ته دژوند په وروستيو کلو کښې دبر هانپوري شيخ فضل اللّٰه دصحبت په اغيـزه دتصوف شوق و مو ندهشو، د شپي او ورځې به له ستانه ؤ خلقو اوعلماؤ سره ؤ،او له دنيا څخه ئې کـــر کـــه کېده، دده په دربار کښې دبدعتونو (لکه ساز،سرود،رقص، او شراب) څر کـــ هم نه ؤ دهغه وخت دمغلي سياست خلاف ئې هند وانـو ته هيڅ التفات نه در اود .

دده دربار دیوې مياشتې مصارف دري لکه روپۍ وې اوعايدات ئې هم دومره ؤ چه لېږی روپۍ لا له دغه خرڅه زياتېد لای شوای(۱)

## دخانجهان اولاده

د خانجهان دېرزامنؤ حسين خان (۲) عظمت خان (۳) محمودخان،عزيزخان او څوتنه نورئې دمغلو سره په جنګو کښې ووژل شول اودپلار ترمخ دپښتني

(۱) ماثرالا مراء لومړی ټوک ۷۳۰،۷۳۱،۷۳۲ مخ

(۲) حسين خان دمغلويوزری اميرؤ پنځه سوه سپاره ئې لرل دمغلو پرضد دچمپل په جنګ کښې د۱۰۳۸ ه کال دصفری پرشپېږويشتمه ووژه شو(پادشاهنامه ۲ ټوک ۲۱۵ مخ)

(۳) عظمت خان دمغلوا ته سوی اميرؤ شلورسوه سپاره ئې لرل په۱۰۳۸ ه کال دچمبل په دا ګګ کښې دمغلو له لاسه ووژه شو(پادشاهنامه ۲ ټوک ۲۱۵ مخ )

ننګی په‌اور کښې سپېلنی‌شول او‌ه‌تنه دپلار ترمړینې ورو سته هم‌ژوندی‌وو،

۱-اصالت‌خان: دری‌زری منصب‌ئې‌درلو د،دپلار‌ترمر ګ ور وسته ئې‌ژوند په‌پرد پسی کښې تېر‌شو،او په(دولت آباد) کښې‌ومړ.

۲-مظفر خان: کله چه‌ئې پلار له‌مغلو سره په جنګ اخته ؤ، دی ځنی بېل شو اوشاه‌جهان مغل ته‌ورغی.

۳-فریدخان: په‌جنګ کښې مغلو ونیو.(۱)

٤-جهان‌خان: دمأ ثرالا مر اء موٗلف لیکی:جهان‌خان په جنګ کښی مغلو ونیو مګر د باد شا هنامی مؤلف ئې نوم (جان‌جهان) راوړی‌دی او لیکی‌چه: دخان جهان لو دی‌ترمر ګ و رو سته جان جهان د در یا خا ن کو ښې ته چه دبهادر خان‌مو روه‌اودخپل زوی (بها درخان) په جا ګیر(سهپنده) کښی او سېدله، پناه وروړه،مغلی امیر عبدالله خان ،فیرو ز جنګ خپله خوا جه سرا( اقبال) پسی ورولېږ ه‌او له هغه ځا یه شخه‌ئې ددریاخان د کشر زوی جلال خان سره بندی راووست ،او عبدالله‌خان‌دیګه‌تازخان‌په لاس شاه‌جهان ته واستاوه.(۲)

۵- عا لم خان :هم دپلار ترمر ګ وروسته وتښتېد پای ته مجبو ر شو چه مغلو ته‌ځان وسپاری .

٦-احمدخان :هم دپلار ترمر ګ وروسته وتښتېد خوپای‌ته‌مجبور شو چه مغلوته ځان‌وسپاری:

۷- حسن‌خان :خان‌جهان چه د کالنجرد کلاد حا کم‌سید ا حمد سر ه جنګېده ،په هغه جنګ کښی حسن‌خان مغلو ونیو،

دمأ ثر الامراء مؤلف په۱۱۵۹ ه کال لیکی چه:تراو سه‌پو رې دخا نجهان له کورنۍ شخه هېڅو ک خپل بورته نه دی رسېد لی (۳)

(۱) پادشاهنامه اج ۳۵۱مخ اوماثرالا مراء.
(۲) پا شاهنا مه اج۳۵۱مخ
(۳) مأثر الامر اء -اج ۷۳۳ مخ

## تور یالی بهادر خان لودی:

بهادر خان دخانجهان لودی ورا ره او دمحمد خان زوی ؤ دمغلو په دربار کښی ئي یوزری منصب درلود ځلور سوه ئي سپاره وو (۱) د (راجوري) په جنګ کښي چه په ۱۰۳۹ هـ کال کښي پیښ شو دده توره او میړانه غلیمانو لاهم ومنله، خافي خان لیکی:

بهادر خان تور یالی د (راجوري) په جنګ کښي ښې توری ووهلي، پای ته دده یرو ټپو له لاسه غوزار شو، له ډیره غیرته بیرته را وغورځید توره ئي وکښله او په خورا میړانه ئي پرغلیم برید وکړ، آخر دغلیم په توپك وویشته شو او ولوید پای ته (پر سرام) نومی راجپوت (چه د راجا پهاړ سنګ له دلي ؤ) (۲) پر را و ځغستل، غوښته ئي چه ددې میړنی زمری کـکری غوځه کړی، خوهغه زمر یالی پښتانه په دغه حال کښي (جمدر) لـه ملا راو کیښ او هغه راجپورت ئي پر ورانه وو یشت او د (پرسرام) جمدر دبهادر خان پر غاړه برابر شو، ککری ئي ځنی پرې کړه او د لاس د ګوتمی، آس، توری او سپر سره ئي خان اعظم ته ورووړه، خان اعظم دتوریالی بهادرخان ککری د (بیر) د کلا په وره وځړوله او دلاس ګوتمی ئي چه دده نوم پر لیکلی ؤ؛ شاه جهان لره برهانپور ته ولیږله او شاه جهان مغل ډیر په خوښ شو.

## قطب خان لودی

قطب خان شاهوخیل لودی دشیرشاه له امیرانو څخه ؤ، د ۹۴۷هـ ۱۵۴۰ع کال دعا شورې په ورځ چه شیرشاهی او همایونی لښکرې جنګ ته سره ودریدلی، قطب خان لودی له هغو امیرانو څخه ؤ چه دشیر شاهی لښکرو په زړه کښي ئي ځای درلود، کله چه دشیر شاهی فوځونو ښی څنګ (میمنې) ترشا تر پلل، شیر شاه غوښتل چه په مرسته ئي ورسی، قطب خان پر ناری کړې:

---

(۱) یادشاهنامه لومړی جلد ۲۷۶ مخ

(۲) سیرالمتاخرین ۲۵۷ مخ

«هاچه له‌لحایه و نه خوځې اوس به د لښکرو په خیال ورشي چه‌دلښکروزړه هم ترشاشو،مخا مخ دغلیم پر لښکروبرید کوه!»

شیر شاه‌دننگیالی مد بر قطب خان په خوله وکړه، د همایون پر لښکر وئې بریدو کړ،اودمغلی فوځ کین‌څنګ(میسره)ئې پسې واخیست،دشیر شاهی فوځ ښی څنګ(میمنه)بیرته‌تینګ شو او مغل‌ئې پسی‌واخیستل(۱)

## شیرخان لودی (۲)

شیر خان لودی‌دعلی‌امجد خان‌زوی(۳) دشاه جها ن مغل (۱۰۳۷-۱۰۶۸) په پاچهی کښی‌زیږیدلی‌دی(٤)دمیرزاعبدالقادر«بیدل»معاصراودخپل وخت له‌ښو نثرلیکو نکو او شـاعرا نـو او د مـغـل ددربـارلـه امـیرا نوڅـخه ؤ . مـرآة الـخـیـال چـه‌مـطبوعه‌نسـخـه‌ئـی۳٤٤مخه‌ده‌اودشاعرا نو پر تذ کره سر بیره‌دعروضو،قوا فی،شعری‌صنایعو،موسیقی،انشاء،طب،علم‌الرؤیاعلم‌السحر،اخلاق، تصوف‌اوعرفان څخه څه بیانات پکښې شته،دده اثرد ی‌اوپه ۱۱۰۲ ھ ۱۶۹۱ع کال‌ئې له لیکنی څخه فارغ شوی د ی لکه څنګه چه وایی:

اين چمن زاريكه‌مرآة الخيالش‌خوانده ام
دار دازحسن معا نی يك جهان رنـگ كمال
صورت تاريخ انجا مش‌توان بی‌پرده‌د يد
گر تأ مل «پرد ه» بردارد ز(مرآة ا لخيا ل)(٥)
۱۳۱۳ — ۲۱۱

د کتاب‌په شر وع کښی د تو فیق له پا ره د ا سی د عا کو ی :

---

(۱)شو کت‌ا فغان۳جلده ۲۰۵-۲۰۸مخ‌اومخزن‌ا فغان۹۹مخ

(۲) په قاموس المشاهیراو داثارالکرام‌دلمړی جلدپه ۱۸ مخ‌کښی شیرخان لود ی ضبط دی‌خو پخپله په‌مرآة الخیال کښی‌ئی‌چه‌په ۱۳۱۲ ھ‌کال په بمبیی کښې یو ه‌ا یرا نی چاپ کړی د ی‌نوم امیرشیر علی‌خان لو د ی لیکل‌شو ی د ی!

(۳) مرآة الخیال ۱۲ مخ

(٤) مرآة الخیال ۳٤۲ مخ

یا رب بد لم نو یدا کرا م ر سا ن — نقدی بکفم ز گنج انعام ر سا ن
در سا حت ا مید من این گام مراد — بنیا د نها دۀ به ا تما م ر سا ن

د کتاب په باب کښې وائي :

بگدا ختـه ا م د ل و زبان را — کاین نقش نموده ام جهان را
صد سحر و فسون بتا ر بستم — کاین نغمه بروی کار بستم

د نثر بلګه ئي :

« مخد و می مظفرخان...... کاش فلک کجرفتار در باره اش راستی از اعتقا د من می آ مو خت وزمانۀ بوقلمون برنگ خواهش تلون مینمو دولکن چه چا ر ه که کیسۀ روز گار از نقد آرزو خالـی است و مینای آسمان از می مقصود تهی ،ابر ازین غم چشم گریان دارد وسینه بریان، گل گریبان چا کست و بلبل باتالۀ درد نا ک ،آه نیمشبی عشاق در جست محبوب است و سو ز سینۀ پروانه در طلب نور مطلوب(۱)

پلار ئی هم لکه څنګه چه دی لیکلی دخپل وخت لـه منلو فضلاو څخه ؤ او په ۱۰۸٤ هـ ـ۱٦۷۳ع کال مړ دی.ورور ئی عبدالله خان لودی په ۱۰۸۷ هـ کال د کابل په غرو کښې شهید شوی دی(۲)

## × سلیم خان لودی

محمد سلیم خان دلودی مشهور خانجهان له لمسیانو څخه ؤ، په دهلی کښې اوسید ،شاعر ؤ او ښه قریحه ئي لرله.

لاندی بیت ئی د شعر بلګه ده:

گر خدا ناخواسته آهن شوی آئینه باش
هرچه خواهی باش اما باصفای سینه باش (۳)

---

(۱) مرآة الخیال ۲۰۰مخ
(۲) مرآة الخیال ۳٤۰ مخ
(۳) پښتو آر یا نادائرة المعارف ۱۲ټوک ۳٤٦مخ

# استاد هدايت الله خان لودی

استاد هدايت الله لودی د شاه جهان آباد (ډهلی) اوسېدونکی په بلاغت او فصاحت کښې مشهور ؤ، په خپل وخت کښې ئې په اردو شاعری کښې ساری نه در لود، (هدايت) ئې تخلص ؤ، ديوان ئې نه زړه بيته دی، او يوه بله رساله ئې د (چراغ هدايت) په نامه ليکلې ده(۱) نور مثنو يات ئې هم شته، د اردو ډېر شاعران ده ته د شاګردی نسبت لری، د (مجموعه نغز) مؤلف (مير قدرت الله قاسم) ئې هم له شاګردانو څخه ؤ.

د اشعارو بلګه ئې دا ده:

کوئی بهی چشم (هدايت) هی اشک سهی خالی
بهرا هوا هی يه هر يک حباب مين دريا

* * *

(هدايت) اس کی ګلی مين يه کيا خجالت هی
که صبر بې ادب و ناله و فغان ګستاخ

* * *

صبا شبنم بهی آتش پر ګويا روغن چهړ کتی تهی
که جون جون دامن ګل کو بجهاتی تهی بهړ کتا تها

* * *

خبر هی تجهه کو ای صياد وه تها مرغ دل ميرا
تری پهڼکی مين کويی جانور بهی کل پهړ کتا تها

* * *

سخن سخت سی آتی هی مری دل په شکست
کتنا نازک هی که ټوټی هی صدا سی شيشه

* * *

(۱) ديا ډسواد بی اصطلاحاتو فرهنګ (چراغ هدايت) چه سراج الدين (آرزو) ته منسوب دی، بېل دی.

با دهٔ عشق سی معمور سدا رکه دل کو

خالی رهتا هی تو بهر تا هی هوا سی شیشه

* * *

میر قدرت الله قاسم د ده د اخلاقو په باب کښی لیکی :

« د دغه فقیرمشر به خان، حلم او حیا مروت او ځوانمردی محبت او پاك طینتی منلي وه د هر چا زړه ئی ساته ما په ځلو ینبتو کالو کښی داسی خوك ونه لید چه له ده څخه دی خوابدی وی » (۱)

مصطفی خان شیفته لیکی :

« استاد (هدایت) د اردو د مشهور شاعر خواجه‌میردرد (رح) شاگرد او مرید ؤ ، طبعی ئی د نظم په ټولو فنونو کښی قدرت درلود او د شعر په نکاتو او غوامضو ښه پوهید » (۲) میر تقی میر چه په ۱۸۲۰ ع کال مړدی پخپله (تذکرة الشعراء) کښی لیکلی دی :

« اردو شعر ډیر ښه وایی د خواجه میر له ملگرو څخه دي که څه هم دی ځان کښته بولی مگر د قلم آس ئی د شاعری په میدان کښی زیات گړندی او تر ډیرو مخکښی دی » (۳)

په (تاریخ نظم او نثر اردو) کښی لیکلی دی :

« تر میر تقی علاوه میر حسن هم (هدایت) ستایلی دی او ویلی ئې دی چه په شاعری کښی ئی د ستاینی وړ کمالات لرل » (٤)

استاد (هدایت) په ۱۲۱۵ هـ ۱۸۰۰ ع کال کښی مړدی (٥)

---

(۱) مجموعهٔ نغز ج ۱ ص ۳۱۷

(۲) گلشن بیخار ۲٤۰ مخ

(۳) شعراالهند ج ۱ ص ۱٤۱

(٤) تاریخ نظم و نثر اردو ٦٥ مخ

(٥) قاموس المشاهیر ج ۲ ص ۲۸۲ - او گلشن بیخار ۲٤۰ مخ

# حکیم ثناء الله خان لودی

دډهلی نامتو حکیم ثناءالله خان لودی د مشهور استاد هدایت الله خان (هدایت) وراره او د خواجه میر درد (رح) مرید ؤ په شعر کښې ئې (فراق) تخلص ؤ. خپل اشعار به ئې د خپل اکا او د اردو د مشهور شاعر میرزا محمد رفیع (سودا) او یا خواجه میردرد تر نظر تېرول په نورو علومو کښې هم ښه ؤ خو په طبابت کښې ئې حذاقت منلی ؤ په ډهلی کښې اوسېد د گلشن بېخار مؤلف په ۱۲۵۰ کښې لیکلی دی چه څو کاله کېږی مړدی د مجموعه نغز د تالیف تر کاله (۱۲۲۱ هـ) پورې ئې ژوندی یقیني دی دا ردواشعارو نمونه ئې داده:

چراغ لاو نه گل چڑھاو هماری تربت په آپ هی آو
که تمهی گل هو تمهین چمن هو تمهین هو شمع مزار عاشق.

* * *

عشق کی سر کار مین هوتی هی بهتی هین مدام
مردمان چشم کی هوتی هی نت تنخواه اشک

* * *

ترا خط لی کی قاصد سی نهین پهولی سماتی هین
کبهوا نکهون په رکهتی هین کبهو سر پر چڑهاتی هین (۱)

دپاړ سو شعر نمونه ئې:

دا رباعی ئې د (مجموعه نغز) د تالیف دنیټې په باب کښې ویلې ده:

چو فارغ شد از نظم این تذکرهٔ — ابو القاسم استاد عالی جناب
(فراق) از سر جان بتاریخ آن — خرد گفت (مجموعهٔ انتخاب) (۱)
(۱۲۲۱)

په اردوشاعری کښې محبت، قدرت، قاصر، مقبول، قربان او نور د فراق شاگردان دی (۲) د (تاریخ نظم و نثر اردو مؤلف لیکی:

---

(۱) مجموعه نغز ج ۲ ص ۴۹-۵۰
(۲) مجموعه نغز. مقدمه ص ۷
(۳) گلشن بیخار ۱۴۹ مخ

«مصحفي او میرحسن د (فراق) ډیری ستاینې کړې دي» (۱)

## نصرالله خان لودی

نصرالله خان د حکیم ثناءالله خان (فراق) زوی ؤ. په طب کښې ئې لوی لاس درلود دخپل پلار شاگرد او ډیرو ښو اخلاقو تښتن ؤ (۲)

شاعری ئې هم کوله «وصال» ئې تخلص ؤ، دا ئې داردو شعر نمونه ده:

آینه گهورني کوسب سې نرالا نکلا
مونهه تو دیکهو یه براچاهنې والا نکلا
گرمی عشق کا کیا کیجې بیان تجهسې (وصال)
دل جلا، جسم جلا، جیب مین چهالا نکلا (۳)

ژوندئې د گلشن بیخار تر تالیف (۱۲۵۰ هـ کال) پوری یقینی دی (٤)

## صاحبزاده عبدالقیوم لودی (٥)

صاحبزاده عبدالقیوم، سوابئ (صوابۍ) دسیمې په (توپۍ) کـلی کـښې په ۱۸٦۲ ع = ۱۲٤۲ ش کال وزیږید او دخپلې کورنۍ یو نومیالی سړی شو.

پلار وموړئې پهوړ کینه کښې ومړل او دی دپېښور په (مشن سکول) کښې داخل او ترمتوسطو تحصیلاتو وروسته سرکاری نوکری ور کـړه شوه له تحصیلداری څخه د پولیټیکل اجنټۍ رتبې ته ورسېد او دانگریزانو دخدمتو په صله کښې ئې دخان بهادر، سر، نواب، کې، سې، آی، اې خطابونه او نښانونه وا خیستل او په ۱۹۱۹ ع = ۱۲۹۹ ش کال له سرکاری وظیفې څخه تقاعد کړ شو.

ده په ۱۳۱۳ ع = ۱۲۹۳ ش کال دصوبه سرحد دنائب الحکومه جارج روس کیپل په مرسته دپېښور اسلامیه کالج پرانیست چه اوس په پوهنتون اوښتی دی.

(۱) تاریخ نظم و نثر اردو ٦٥ مخ
(۲) گلشن بیخار ۲۳۷ مخ
(۳) مجموعه نغز دوهم جلد ۲۹٥-۲۹٦ مخونه
(٤) گلشن بیخر ۳۳۷ مخ
(٥) ښاغلی سیدرسول «رسا» لودی بللی دی

له۱۳۰۳ش کال څخه تر۱۳۱۲ ش کال پوري د متحد هندوستان په مرکزي اسامبله کښې دشمالي پښتونستان (صوبه سرحد) د نماينده په حيث مقرر کړ شوی ؤ ددغه خدمت په دوره کښې په۱۳۱۱ھ کال لندن ته دصوبه سرحد د نماينده په نامه د گول ميز په کنفرانس کښې د گډون له پاره ولاړ، په۱۳۱۲ھ ش کال چه دصوبه سرحد لومړۍ اسامبله جوړه شوه دی وزير اعظم کړ شو او ددې وزارت عظمی په دوره کښې ئې اجباراً اردو دصوبه سرحد تعليمي ژبه کړه په۱۲۱۷ش کال د۷۵ کالو په عمر دزړه د دربدلو په اثر ومړ.

دی مصر، يونان، ترکيې، بلغاريې، استريا، هنگري، جرمنی، فرانس، سايبريا، چين جاپان، هانگ کانگ، ملايا، امريکا، هسپانيې، شام، فلسطين او حجاز ته تللی ؤ او په انگريزي، اردو او پښتو ژبو کښې يو ښه مقرر ؤ(۱)

# غلام رباني لودی

دسرحد عالم و فاضل شخصيت، لوی جرنلست او مِنلی مشاق غلام رباني په ۱۲۷۸ ھ ۱۸۹۹ ع کال د پېښور د هزارې ضلعې په (سرای صالح) کښې زېږېدلی دی، متوسطه ښوونځی (ميټرك) ئې په ايبټ اباد کښې و لوست او د پېښور په اسلاميه کالج کښې ئې د بکلوريا (B.A) امتحان ئې ورکړ دی ؤ چه د (ترك موالات) د تحريك په لړ کښې جامعه مليه ته ولاړ هلته تر شپږو مياشتو او سېدلو وروسته خپل وطن ته را ستون شو او د خلافت په تحريك کښې ئې زيار يوست، څکه نو انگرېزانو درې کاله له ۱۳۰۰ ش ۱۹۲۱ ع څخه تر ۱۳۰۳ ش ۱۹۲٤ ع کال پوري له خپلې سيمې فرار کړ په دغه وخت کښې دده صحافتي ژوند شروع شو لومړی دامرتسر د(وکيل) په۱۳۰۳ش کال ۱۹۲٤ ع کال ئې دلاهور د (زميندار) په۱۳۰۵ش کال۱۹۲٦ع کال ئې د لاهور د(انقلاب) په اخبار کښې کار و کړ، په۱۳۰٦ش ۱۹۲۷ع کال ئې په راولپنډۍ کښې خپل درې ورځنی اخبار (شهاب) راويوست، په۱۳۰۸ ش

(۱) اټك کی اس پار ۲۰-۲۱مخ

۱۹۲۹ع کال د لاهورد(مساوات) او په ۱۳۰۹ش ۱۹۳۰ع کال د لا هـو رد (احسان) اخبار معـاون شو(۱)

په ۱۳۰۹ش ۱۹۳۰ع کال کښې یو کال بندی شو، په ۱۳۱۸ ش ۱۹۳۹ع کال ئې د (رښتینی خدایی خدمتـگار) اخبار را ویوست، په ۱۳۱۸ش ۱۹۳۹ع کال ئې اووه ورځنی (تـرجمان) اخبار جاری کړ چه په ۱۳۲۰ش ۱۹٤۱ع کـال د انـگریز حکومت وربند کړ(۲)

په ۱۳۲۱ ش ۱۹٤۲ع کـال (M.A) شو او دلاهـور پـه کـا لـج کښې دعربۍ ژبې پروفیسر شو، په پښتو، پارسو، عربی، اردو او انـگریزی ژبو پوره پو هیږی او له عربی څخه ئې څو کتابونه په اردو ترجمه کړی دی، پښتو ورته د ناول نو یسۍ نوی طرز ده را ووړ، دده ( دختر سمرنا) ناول خو را محبوب او مشهور دی، درست عمر ئې په سیاسیاتو کښې تیر کړ اود(هزارې) ضلعې د بزگرانو په تنظیم کښې ئې لوی لاس درلود (۳)

(۱) ادبیات سرحد دریم جلد ۷۹۹مخ
(۲) ادبیات سرحد ۳جلد ۸۰۰ مخ
(۳) ادبیات سرحد دریم جلد ۷۲۱ مخ

# ضمیمه

**په (۴۱) مخ پوري:-**

د زاړه ډهلي جنوب ته د (کهررا) په کلي کښي د قطب ر و ډ پر څنګ يوه شنخته مخ پر لمر خاته ولاړه ده چه دا مضمون ئې پر ليکلي د ی :

« بسم الله الرحمن الرحيم چون قبة الاسلام دار الملك دهلی فی بلاد ممالك ، از شر مغول ملاعين و فساد کفره و شياطين روبخرابی آورده و مسکن وحوش وطيور گشته مساجد و مدارس و خوانق و نماز گاه وساير خيرات مندرس و باير مانده بعون عنايت يزدانی و فيض رأفت سبحانی بندهٔ درگاه ربانی (اقبال خان) عرف (ملو سلطانی) توفيق رفيق شد و اقبال مساعدت نمود تا دار الملك دهلی و بلاد ممالك وساير خيرات را بسعی جميل و کوشش جليل احيا کرده وآبادان گردانيد و اين نماز گاه که از شعاير دين مسلمانی و از اعلام شرع رحمانی است از خالص مال خود بنا فرمود تا عامه مسلمانان نفع گير ندو باقی خير را بدعائی خير مدد نمايند فی السادس من شهر شعبان عمت بر کاته سنه سبع و ثمان مأته (۸۰۷) بنای اين عمارت روحانی بفرمايش بنده دل پسند خانی »

له دی کتيبی څخه ښکاريږی چه په زاړه ډهلي کښی د ملو اقبال خان لودی په امر او مصرف دتيمور تر ناتار وروسته په ۸۰۷ ه کال دا مسجد ودان شوی دی دا کتيبه علي اصغر حکمت په خپل کتاب (نقش پارسی بر احجار هند) کښي د (کتيبه عيد گاه کهرار) په نامه ضبط کړی ده (مجله روابط فرهنگی هند وايران شماره دسمبر ۱۹۵۷ ع)

**په (۴۴) مخ پوري:**

« د پنجاب (سلطان پور) سلطان دولت خان لودی جوړ کړ ی دی .

(تاريخ فرشته ۱ ټوك ۲۰۲ مخ)

**په (۵۹) مخ پوري:**

د تاريخ داؤ دی په (۵) مخ کښي ليکلي دی:

« قطب خان لودی چه له خپل تور بره (سلطان بهلول) څخه د پلار تر

مړ کې وروسته دسرهند پر جاګیرخوا بدی‌شو، نوئې‌لو مړی دسلطا ن‌محمد شاه وزیر(حسام خان) ته چه په(بدا یون) کښې ؤ پناه‌وروړه.

**په(۷٦)مخ پوری:**

د تاریخ داؤدی په۱۳ مخ کښې د سلطان بهلول‌دخوا ښې نوم (متو بی بی) ضبط شوی دی، د مرقع افغان(مستو بی‌بی)نوم غلط غوندی‌ښکا ری ځکه چه د مرقع افغان مأخذ ددغه نکل په‌باب کښې تاریخ داؤد ی دی

**په(۷۷)مخ پوری:**

د تاریخ داؤدی په ۱٤مخ کښې د شرقی فوځو د هغه افسر نو م چه مستو بی‌بی‌د کلا کلی‌ورولیږلې‌دریا خان‌یامبارك‌خان‌ضبط شوی دی.

**په(۱۰۴)مخ پوری:-**

ګنجینه سروری په ۱۷٤ مخ کښې د سلطان بهلول د مړینې تاریخ په‌دی رباعی کښې راوړی شوی دی :

«چو اندر ملك جنت یافت شا هی شه د ین شاه حق ا ګاه بهلول
عیا ن شد سن و سال‌ا نتقالش ز(حق‌آمو دشاهنشاه‌بهلول) »

۸۹٤

**په(۱۰۴)مخ پوری :-**

د تاریخ داؤدی په ۲۱مخ کښې لیکلی دی« په‌کوم‌باغ کښې چه سلطان‌بهلول ښخ کړ شو دهغه باغ نوم‌هغه‌وخت (وجودباغ) ؤ»

**په(۱۳۰)مخ پوری:-**

تاریخ داؤدی په۳۰مخ کښې‌لیکلی‌دی‌چه‌تاتارخان‌اوسیف‌خان‌نومی امیران سلطان بهلول ته پورته شول-مرقع افغان دوهم نوم(هیبت خا ن) ضبط کړی دی .

**په (۱۳۱) مخ پوري:-**

د تاریخ داؤدی په ۳۱ مخ کښې لیکلي دی: شهزاده نظام (سلطان سکندر) چه د تاتار خان جنګ ته ووت، میا حسین د پنځو ورونو سره او دریا خان د شیر خان زوی هم ورسره ؤ .

**په (۱۳۳) مخ پوري:-**

تاریخ داؤدی په ۳۲ مخ کښې د شیخ سعید پر ملي د هغه زوی نوم چه د جنګ میدان ته د اویاتنو سره وتلیؤ (میا حسن) راوړی او مله ئی ۱۷ تنه بولي

**په (۱۳۴) مخ پوري:-**

دتاتار خان د ورور نوم دتاریخ داؤدی په ۳۳ مخ کښې حسین خان ضبط دی.

**په (۱۳۷) مخ پوري:-**

د تاریخ داؤدی په ۳۴ مخ کښې د سلطان سکندر عمر د تخت نشیني په وخت کښې ۱۸ کاله لیکلي دی او د سلطان فیروزمانی د (آب سیاه) پرغاړه بولي چه غالباً (سیاه آب) د کالي ندي پارسو ترجمه ده «کالي ندي یو وړو کی سین دی چه په ګنګا ګډیږي» (رو هیله افغانز (۱۰۱) مخ)

د (ډاینسټك هسټري آف نارتهرین انډیا) په دوهم ټوك کښې دجمنا سین ته چه دډهلي ترځنګ تیریږي (کالي ندي) لیکلي ده .

**په (۱۵۷) مخ پوري:-**

تاریخ داؤدی په ۵۹ مخ کښې لیکلي دی دفتح خان دپورته کولو په شخړه کښې دسلطان سکندر په مخالفه ډله کښې ۲۲ تنه امیران شامل ؤ .

**په (۱۷۹) مخ پوري:-**

د تاریخ داؤدی په ۳۵ مخ کښې لیکلي دی «د انتصابی شوری غړی (۱۷) تنه ؤ.»

**په (۱۸۱) مخ پوری:-**

دتاریخ داؤدی په ٤٤ مخ کښې لیکلي دی «د ریا خان لوانی وکیل به کړی ورځ او د شپې تر یوی پیری (پهرې) پوری د عدالت پر تنګا چه حاضرؤ»

**په ۱۸۲ مخ پوری:-**

د تاریخ داؤدی په ۷۰ مخ کښې لیکلي دی «دوه بهمن (برهمن) ورونه د ګوالیار ؤ.»

**په (۲۳۴) مخ پوری:-**

اته دیرشم امیر تکرار دی او وم امیر (کالا پهاړ) او اته دیرشم امیر شیخزاده محمد پر ملي سره یو دی.

**په ۲۹۲ مخ پوری:**

دشیر شاه سوری په ۲۳ مخ کښې د (کمبرج هستری آف انډیا) په حواله لیکلي دی: «سلطان محمود لودی داوړیسې په (کاهاګون) کښې ومړ.

# فهرست


| ګڼه | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | لمړی خبری | ۱ |
| ۲ | لودی ټبر | ۳ |
| ۳ | لودی او سامیت | ٤ |
| ٤ | پښتانه او ملتان | ۹ |
| ٥ | سلطان حمید لودی | ۱۰ |
| ٦ | دملتان دپاچهی حدود | ۱۳ |
| ۷ | شیخ رضی (رح) | ۱٥ |
| ۸ | سلطان نصر لودی | ۱٦ |
| ۹ | قرمطیت او ملتان | ۱۷ |
| ۱۰ | ابوالفتوح سلطان داؤد لودی | ۱۹ |
| ۱۱ | غازی ملك سلیمان لودی | ۲۲ |
| ۱۲ | کوچنی داؤد لودی | ۲۳ |
| ۱۳ | ملك محمود لودی | ۲٤ |
| ۱٤ | ملك شاهو لودی | ۲٤ |
| ۱٥ | شیخ احمد لودی (رح) | ۲٤ |
| ۱٦ | سلطان فخرالدین لودی | ۲٤ |
| ۱۷ | لوی خان ظفر خان لودی | ۲٦ |
| ۱۸ | ملك قطب الدین لودی | ۲۹ |
| ۱۹ | دریا خان لودی (دوهم ظفر خان) | ۲۹ |
| ۲۰ | سارنګ خان لودی | ۳۱ |
| ۲۱ | ملو اقبال خان لودی | ۳۳ |

| گڼه | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۲۲ | عادل خان لودی | ٤١ |
| ۲۳ | ملك خضر لودی | ٤٢ |
| ٢٤ | **سلطان دولت لودی** | ٤٢ |
| ۲۵ | اختیار خان لودی | ٤٤ |
| ۲٦ | اسد خان لودی | ٤٥ |
| ۲۷ | ملك الهداد لودی | ٤٦ |
| ۲۸ | دریاخان لودی | ٤٨ |
| ۲۹ | تاتار خان لودی | ٤٨ |
| ۳۰ | **د شاهوخېلو پاچهی** | ٤٩ |
| ۳۱ | سلطان شه «اسلام خان» لودی | ٥٠ |
| ۳۲ | **المتوکل علی الرحمن سلطان بهلول لودی** | ٥٤ |
| ۳۳ | **ابو المظفر غازی سلطان سکندر لودی** | ١٢٥ |
| ۳٤ | سلطان ابراهیم لودی | ۲٤۲ |
| ۳۵ | سلطان محمود لودی | ۲۹۲ |
| ۳٦ | حمید خان سارنګ خانی | ۲۹٦ |
| ۳۷ | تاتارخان سارنګ خانی | ۲۹٦ |
| ۳۸ | شهزادهٔ تاتار خان لودی | ۲۹۷ |
| ۳۹ | میابلبن شاهوخېل | ۲۹۸ |
| ٤٠ | شیخ علی سرور لودی (رح) | ۲۹۹ |
| ٤١ | دوهم شیخ احمد لودی (رح) | ۳۰۰ |
| ٤٢ | **دشاهین خان شاهوخېل لودی، کورنۍ** | ۳۰۰ |
| ٤۳ | شېر خان لودی | ۳۰۱ |

| گڼه | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ٤٤ | محمد خان لودی | ۳۰۱ |
| ٤٥ | أحمد خان لودی | ۳۰۱ |
| ٤٦ | اسد الله خان لودی | ۳۰۲ |
| ٤٧ | محمد نور خان لودی | ۳۰۳ |
| ٤٨ | الهداد خان لودی | ۳۰٤ |
| ٤٩ | محمد عبدالحکیم خان | ۳۰٥ |
| ٥۰ | محمد حسن خان | ۳۰٥ |
| ٥۱ | **دخانجهان یوسف خېل لودی، کورنۍ** | **۳۰٥** |
| ٥۲ | شېرخان لودی | ۳۰۷ |
| ٥۳ | عالم خان لودی | ۳۰۷ |
| ٥٤ | شجاع الملك لودی | ۳۱۱ |
| ٥٥ | عمر خان لودی | ۳۱۲ |
| ٥٦ | مسند عالی دولت خان لودی | ۳۱۳ |
| ٥۷ | محمد خان لودی | ۳۱۷ |
| ٥۸ | **خانجهان لودی** | **۳۱۸** |
| ٥۹ | نور یالی بهادر خان لودی | ۳۳۸ |
| ٦۰ | قطب خان لودی | ۳۳۸ |
| ٦۱ | شېر خان لودی د «مرآت الخیال» مؤلف | ۳۳۹ |
| ٦۲ | سلیم‌خان لودی ــ | ۳٤۰ |
| ٦۳ | هدایت الله خان «هدایت» | ۳٤۱ |
| ٦٤ | حکیم ثناء الله خان «فراق» ــ | ۳٤۳ |
| ٦٥ | نصرالله خان «واصل» ــ | ۳٤٤ |
| ٦٦ | صاحبزاده عبدالقیوم ــ | ۳٤٤ |
| ٦۷ | غلام ربانی لودی ــ | ۳٤٥ |
| ٦۸ | ضمیمه ــ | ۳٤۷ |

## تصاویر:

۱ المتوکل علی الرحمن سلطان بهلول لودی د (٥٤ـ٥٥) مخوترمنځ

۲ دچراغ کلاورله دباندی خواڅخه د (۱۰٤-۱۰٥) مخو ترمنځ

۳ دچراغ کلاورله دننی خواڅخه د (۱۰٤-۱۰٥) مخو ترمنځ

٤ دالمتوکل علی الرحمن سلطان بهلول
لودی هدیره د(۱۰٤-۱۰٥) مخو ترمنځ

٥ دالمتوکل علی الرحمن سلطان بهلول
لودی دهدیرې یوشیشك د (۱۰٤-۱۰٥) مخو ترمنځ

٦ د المتوکل علی الرحمن سلطان
بهلول لودی قبر د (۱۰٤ - ۱۰٥) مخو تر منځ

۷ دشیخ نصیرالدین چراغ دهلی
هدیره د (۱۰٤ - ۱۰٥) مخو تر منځ

۸ ابوالمظفر غازی سلطان سکندر
لودی د(۱۲٤ - ۱۲٥) مخو تر منځ

۹ ابوالمظفر غازی سلطان سکندر
لودی دهدیرې ور د(۱۷٦ - ۱۷۷) مخو تر منځ

۱۰ دابوالمظفرغازی سلطان سکندر
لودی دهدیرې گومبته د(۱۷٦ - ۱۷۷) مخو تر منځ

۱۱ برا گنبد(اویه گومبته) د(۲٤۰ - ۲٤۱) مخو تر منځ

۱۲ دشاهوخیلو دپاچاهی کورنۍ دنورو
غړو هدیره د(۲٤۰ - ۲٤۱) مخو تر منځ

۱۳ لودی مسجد د(۲٤۰ - ۲٤۱) مخو تر منځ

۱٤ دلودی مسجدمنځنی شیشك د(۲٤۰ - ۲٤۱) مخو تر منځ

۱٥ سلطان ابراهیم لودی د(۲٤۲ - ۲٤۳) مخو ترمنځ

۱٦ دسلطان ابراهیم لودی سرلوځی

هدیره د(۲۷۸ - ۲۷۹) مخو ترمنځ

۱۷ دسلطان ابراهیم لودی دهد یرې

عمومی منظر د(۲۷۸ - ۲۷۹) مخو تر منځ

## نقشی :

۱ په څلورمه هجری پیړۍ کښی دملتان

دپاچهۍ حدود د(۱٤ - ۱۵) مخو تر منځ

۲ دسلطان سکندر دپاچهۍ حدود د(۱۷٤ - ۲۷۵) مخو تر منځ

۳ دخانجهان لودی دجنګ دډاګو

نقشه د(۳۳٤ - ۳۳۵) مخو تر منځ

# مأخذونه


۱- منتخب التواریخ (پارسو) دملاعبدالقادر بدایونی تالیف

۲- تذکرة الاولیاء افغانی (») دحسینی تالیف قلمی

۳- زین الاخبار (») دابو سعید عبدالحی گردیزی تالیف دطهران چاپ

٤- تاریخ فرشته (») دمحمد قاسم هندوشاه تالیف دنولکشور »

۵- سیر المتاخرین (») دغلام حسین طباطبائی تالیف د » »

٦- روضة الصفا (») دمحمد خاوند شاه هروی تالیف د » »

۷- تاریخ خورشید جهان (») دشیر محمد خان گنداپور تالیف داسلامیه لاهور »

۸- پټه خزانه (پښتو) دمحمد هوتك تالیف د کابل »

۹- حیات و اوقات سلطان محمود (پارسو) دعبدالغفور امنی ترجمه » »

۱۰- خان جهان لودی (پښتو) دیوسفزی اکبر شاه نجیب آبادی تالیف او دمولانا عزیز الرحمن سیفی ترجمه » »

۱۱- ارمغان هندوستان • • • •

۱۲- دائرة المعارف (عربی) دمحمد فرید وجدی تالیف دمصر »

۱۳- خزینة الاصفیا (پارسو) دمولوی غلام سرور لاهوری تالیف دنولکشور »

۱٤- تزك بابری « بابر نامه » (پاړسو) دمغل بابر پاچاترکی تالیف او دخان خانان پاړسو ترجمه « چترا پر بهاپریس بمبی چاپ
۱۵- اصابه فی تمیز الصحابه (عربی) دابن حجر عسقلافی تالیف د مصر چاپ
۱٦- فرهنگ نوبهار (پاړسو) دمحمدعلی تبریزی تالیف، دتبریز چاپ
۱۷- طبقات ناصری ( « ) دمنهاج جوزجانی تالیف دکویټې چاپ
۱۸- مرقع افغان (اردو) دمولوی ابرارحسین تالیف دعلی ګړد انجمن ترقی اردو چاپ
۱۹- دهند طلائی تاریخ (هندی) دویشوا ناتهه جګناتهه دجالندهر چاپ
۲۰- د ۱۳۱۵ کال کالنۍ • • د کابل چاپ
۲۱- د کابل مجلې دشپږو • يشتم کال کلکسيون • • د کابل چاپ
۲۲- د کابل مجلې دشپږم کال کلکسيون • • د کابل چاپ
۲۳- تاریخ افاغنه (اردو) دشهاب الدین خان « ثاقب » جلوانۍ تالیف دلاهور چاپ
۲٤- تاریخ فیروزشاهی (پاړسو) دشمس سراج عفیف تالیف د کلکتې چاپ
۲۵- عرب وهند کی تعلقات (اردو) دسید سلیمان ندوی تالیف داله اباد چاپ
۲٦- تاریخ سلطانی (پاړسو) دسلطان محمدخان بارکزائی تالیف دبمبی چاپ
۲۷- دلیل ساطع ( « ) دمهدی واصف تالیف دمدراس چاپ
۲۸- برهان قاطع ( « ) دمحمدحسین برهان تالیف دعلوی مطبع چاپ
۲۹- اتکی اس پار (اردو) دفارغ بخاری او رضاهمدانی تالیف
۳۰- سانسکریت ډکشنری (انګریزی)
۳۱- پښتو قاموس (پښتو) دپښتو ټولنې تالیف د کابل چاپ
۳۲- دلوی احمدشاه بابادیوان ( « ) داعلیحضرت لوی احمدشابابا تالیف «

۳۳ کتاب الهند (اردو) دحکیم ابوریحان بیرونی تالیف او دسید
اصغرعلی ترجمه دډهلی چاپ

۳٤- مفتاح التواریخ (پارسو) دمستر تامس ویلیام بیل تالیف د...چاپ

۳۵- په ډهلی کښي د لودیو دهدیرو کتیبې

۳٦- حیات افغانی (اردو) دپټې حیات خان تالیف دلاهور چاپ

۳۷- مأثررحیمی (پارسو) دعبدالباقی نهاوندی تالیف دلاهور چاپ

۳۸- مرآت سکندری (پارسو) دسکندرخان تالیف دبمبیئی چاپ

۳۹- آریانا دائرة المعارف (پښتو) دآریانا دائرة المعارف دانجمن تالیف
دکابل چاپ

٤۰- حدودالعالم (پارسو) دطهران چاپ

٤۱- مخزن افغانی (») دنعمت الله هراتی نورزی تالیف قلمی

٤۲- مسالك الممالك (عربی) دابو اسحاق ابراهیم بن محمد اصطخری
تالیف دلیدن چاپ

٤۳- تحفة الپشتون (اردو) دموج حسین مهمند تالیف قلمی

٤٤- اشوك اعظم (») دسید حفیظ تالیف دډهلی چاپ

٤۵- مرآت احمدی (پارسو) » »

٤٦- فرهنگ نظام (») دسیدعلی داعی تالیف دحیدرآباد دکن چاپ

٤۷- کاروان خیال (اردو) محمدعبدالشاهدخان شروانی دبجنور چاپ

٤۸- تاریخ دا ؤدی (پارسو) دعبدالله تالیف دعلی گړه چاپ

٤۹- گلشن بیخار (پارسو) مصطفی خان شیفته تالیف دنولکشور چاپ

۵۰- فتوح السلاطین «شهنامه» (پارسو) دعصامی تالیف دمدراس دیونورسټۍ چاپ

۵۱- بادشاهنامه (») دملاعبدالحمیدلاهوری تالیف دکلکتې چاپ

۵۲- گنجینه‌سروری (پارسو) دمولوی غلام سرور لاهوری تالیف د نولکشور چاپ

۵۳ تاریخ گجرات («) دشاه ابوتراب ولی تالیف د کلکتې د اشیاټک سوسایټی چاپ

۵٤ نسب افاغنه (اردو) د محمد عبد السلام عمر خېل تالیف قلمی

۵۵ شوکت افغان (اردو) دمحمد عبد الحکیم لودی تالیف

۵٦ تاریخ کیاهی («) دباری تالیف دلاهور چاپ

۵۷ خلاصة الانساب (پارسو) دحافظ رحمت خان بړېڅی تالیف قلمی

۵۸ عجایبات هندوستان (اردو) دخان احمد حسین خان تالیف

دلاهور چاپ

۵۹ مرآت الخیال (پارسو) دشیرخان لودی تالیف دبمبئی چاپ

٦۰ ماثر الامراء («) دصمصام الدوله شهنواز خان عبدالرزاق خوافی

تالیف د کلکتې چاپ

٦۱ مجموعه نغز («) دمیر قدرت الله قاسم دهلوی تالیف د کلکتې چاپ

٦۲ تذکرهٔ علمای هند (») دمحمد عبدالشکور رحمان علی خان تالیف

دلکهنو چاپ.

٦۳ ادبیات سرحد (اردو) دفارغ بخاری تالیف دپېښور چاپ

٦٤ اخبار الاخیار (پارسو) دشیخ عبدالحق دهلوی تالیف دډهلی چاپ

٦۵ قاموس المشاهیر (اردو) دنظامی بدایونی تالیف دبدایون چاپ

٦٦ تاریخ یمینی (پارسو) دابو نصر عبدالجبار عتبی تالیف او دابواشرف

ناصح پارسو ترجمه دایران چاپ

٦۷ دسروش مجله (پارسو) دکراچی چاپ

٦۸ دخان غازی یادداشتو نه

٦۹ طبقات اکبری (پارسو) دنظام الدین احمدبن محمدمقیم الهروی تالیف

دایشیا ټک سوسایټی چاپ

۷۰ هندوستان مین قدیم اسلامی درسگاهین (اردو) د ابوالحسنات۔
۔ عبدالشکور ندوی تالیف داعظم گرهه چاپ

۷۱ المنجد (عربی) الاب لویس معلوف الیسوعی دبیروت چاپ

۷۲ برهان ماثر (پارسو) سیدعلی طبا طبا د مطبع جامعه د هلی چاپ

۷۳ خواص خان ولی (اردو) دیو سفزی اکبرشاه نجیب آبادی تالیف ددهلی چاپ

۷٤ روهیله افغانز (انگریزی) دچارلس هملټن تالیف

۷٥ بایزید روښان (پښتو) دقیام الدین خادم تالیف دکابل چاپ

۷٦ دشمالی هند د پاچهیو تاریخ (انگریزی) داج-سی-رای تالیف دکلکتی چاپ

۷۷ مجلهٔ روابط فرهنگی هند و ایران (پارسو) او (انگریزی) ددهلی چاپ

۷۸ ۔ شیرشاه سوری دعثمان صدقی تالیف دکابل چاپ

# دسړيو او قبيلو نومونه

## الف

(سلطان) ابراهيم (لودی) ٨ - ٥٠ - ١٠٥ - ١٠٦ - ١٠٧ - ١١٣ - ١١٥ -
١٢٠ - ١٢١ - ١٦٦ - ١٧٤ - ١٧٦ لـه ٢١٩ نه‌تر ٢٣١ پوری په‌هرمخ کښې
٢٣٣-٢٣٦-٢٣٧ له ٢٤١ نه‌تر ٢٦٦ پوری-له ٢٦٨ نه‌تر ٢٩٣ پوری-
٢٩٥ - ٢٩٦ - ٢٩٨ - ٣٠١ - ٣٠٢ -
(شيخ) ابراهيم - ٢٣٥
ابراهيم - ٣
ابراهيم خان (داؤدزی) ٣٢٦
ابراهيم (شروانی) ١٢٠ - ١٣١ - ١٣٣ - ١٣٤ - ٢٣٤
(شيخ) ابراهيم مصطفی ٢٩١
(شرقی) ابراهيم شاه ٣٩ - ٤٣ - ٤٤ - ٤٥ - ٤٦ - ٤٨ - ٤٩ - ٨٤
ابراهيم خان (عليزی) ٣٩٣ - ٣٩٥
ابراهيم خان (دسلطان حسين ورور) ٩٨
ابراهيم خان (لوانی) ٩٨ - ١٦٩ - ١٧٠
ابراهيم (کشميری) ١٧٤
ابراهيم (کالوانی) ٢٨٥
ابرار حسين ٢٤٧ - ٢٨٢ - ٢٨٤
ابوا اسحاق - ١٢
ابوبکر (ناگوری) ١٧٤ - ١٧٥ - ٢١٠
ابوبکر (لاويك) ١١
ابو يعقوب (سجزی) ١٨
ابن‌خلدون ٣ - ٤ - ٥ - ٨

ابن حوقل ــ ۱۹
(سید) ابن رسول اللہ ۔ ۱۰٤
ابی حاتم ۱۷
(شیخ) ابوالعلاء ۱۲۷
(شیخ) ابوالفضل ۳۱٦ ۔ ۳۱۷
ابوالفتوح (کالپوی) ۱۲۳
ابوالفتوح = داؤد
ابوالحسن تربتی ۳۲٤
ابدالی (درانی) ۱۰۷
ابوشکور (سالمی) ۱۸۸
احمد شاہ بابا ٥ ۔ ۲۸۰
احمد شاہ (خلجی) ۱٥۹
احمد یار خان (لودی) ۳۰۳
احمد خان (پنی) ۲۹۳
احمد خان (یوسف خیل) ۳۰٦ ۔ ۳۰۷
احمد خان (لودی) ۳۰۱ ۔ ۳۰۲
احمد (لودی) ٥۰
(سلطان) احمدشاہ (گجراتی) ٦٤ ۔ ۳۱۰ ۔ ۳۱۱
احمد خان (میواتی) ٦٦ ۔ ۸۲ ۔ ۹۰ ۔ ۹۱ ۔ ۱۲۲
احمد خان (جلوانی) ۹۱ ۔ ۱٤۲
(سید) احمد ــ ۲۳۹
(ملک) احمد (کشمیری) ۹۳
احمد خان (دخان جہان زوی) ۱٥۳ ۔ ۱٥٤ ۔ ۲٥٥
احمد یادگار ــ ۱۱۲

احمد (پرملی) - ۱۵۹ - ۱٦٦ - ۲۳٤

احمد (زنده‌پیر) ۱۱۷

احمد خان (شروانی) ۱۲۲

احمد خان (سیستانی) ۱۲۲ - ۱۷٤

احمد خان (دپیرخان لودی‌زوی) ۲۳۷

احمد خان (لودی) ۲۲۷ - ۲۳۲

(شیخ) احمد (لودی) ۲٤

(دوهم شیخ) احمد (لودی) ۲۰۰

اختیار خان (لودی) ٤۳ - ٤٤ - ٤٥

(سید) اخن یا سید احسن ۱۷۹

اختیار الملك (گجراتی) ۳۱۱

(ملك) آدم (کاکړ) ۱٦۲ - ۱۷۰ - ۲۱۸ - ۲۲۵ - ۲۲٦ - ۲٤۸ - ۲٤۹ - ۲٥۰
۲٥۱ - ۲٥٤

(بابا) آدم (ع) - ۱٦٥

ادریس ٤٤

(خان اعظم) ارادت خان ۳۱۹ - ۳۲٦ - ۳۲۸ - ۳۳۰ - ۳۳۸

آرایش خان ۲۷٤ - ۲۹۱

اسماعیل خان (لوانی) ۱٤۰ - ۲۲۷

اسماعیل خان (د خواص خان زوی) ۱۵۹

(شهزاده) اسماعیل خان (لودی) ۲۱۹ - ۲٤۳

اسماعیل خان (دنا سیا له دولت خان لمسی) ۲۳۰ - ۲۷۲

اسماعیل خان (جلوانی) ۲٤٤ - ۲٤۹ - ۲٦۷ - ۲٦۹

اسلام خان (سلطان شه لودی) ٤۰ - ٥۰ - ٥۱ - ٥۲ - ٥۳ - ٥٤ - ٥٥ -
٥٦ - ٥۷ - ٥۸ - ٥۹ - ۷٦ - ۷۹ - ۸٥ - ۱۱۲ - ۱۲۹

اسلام خان (شروانی) ٢٢٥ - ٢٣٧ - ٢٥٤ - ٢٥٥ - ٢٥٨

اسدالله خان (لودی) ٣٠٢

اسد خان (لودی) ٤٥ - ٤٦ - ٤٨ - ١٠٦ - ١٢٣

(راجا) اشوک ۔٩

اصالت خان (لودی) ٣٣٧

اصغر خان ـــ ١٥٩ ـــ ٢٣٣

(یمین الدوله) آصف خان (وزیراعظم) ٣١٩-٣٢٣

اصطخری ـــ ١٩

اعظم همایون (دعالم خان لودی خیل) ٣١٠-٣١١

اعظم همایون (دسلطان بهلول زوی) ١٠٠ـ١٠٢- ١١٣-١١٨-١٣٩-١٤١

٢٤٨ ـــ ٢٥٣ ـــ ٢٥٤

اعظم همایون (دسلطان سکندرزوی) ٢٢٠ ـــ ٢٤٣

اعظم همایون (شروانی) ١٤٩ ـ١٥٥ـــ ١٦٦ ـــ ٢١٥ -٢١٧ ـــ ٢٢٣ ـــ ٢٢٤

٢٤٣-٢٤٦-٢٤٧-٢٤٨- ٢٥٢-٢٥٣-٢٥٤-٢٥٥ -٢٥٨-٢٦٢

(دوهم) اعظم همایون (شروانی) ٢٠٣

اعظم خان ـ٢١٥ ـ٢٢٥

اعظم خان (شروانی) ـ ٢٣٢

(مولانا) اعظم ـــ ١٢٣

(اعتمادالدوله) اعتمادخان (گجراتی) ٣١-٣١٩

افتاب خان ـــ ١٠٠

(ملو) اقبال خان (لودی) ٣٠-٣٣-٣٤ ـــ ٣٥ -٣٦ - ٣٧ - ٣٨-٣٩ - ٤٠ - ٤١

٤٢-٤٣ -٤٤ -٥١ ٢٤٨

اقبال خان (خاص خیل) ٢٥٤-٢٥٥

اقبال خان (دبادی حاکم) ٢٣٤

اکبر (مغل) ۱۰۷ - ۱۸۹ - ۱۹۵-۲۰۱- ۲۵۲-۲۸۰-۳۰۰ ـ ۳۰۲ - ۳۱۲
۳۱۳- ۳۱٤-۳۱٥ - ۳۱٦ - ۳۱۸
اکبر شاہ (یوسفزی) ۳۱٥ -۳۱٦ -۳۱۷-۳۳٥
الپتگین ۱۰ ـ ۱۱ ـ ۱۲
(ملک) الماس ـ ۳۲
الف خان ـ ۳۱۰
(شیخ) الهداد (عثمانی) ۱۷۹ -۲۳۸
(ملا) الهداد ـ ۱۷۹
(ملک) الهداد (لودی) ٤٦- ٤۷- ٤۸- ٥٤
الهداد خان (لودی) ۳۰۳-۳۰٤-۳۰٥
(حاجی) الیاس = (شمس الدین شاہ بهنکرہ)
اللّٰہ یار خان (لودی) ۳۰۲
مسٹر الیٹ ـ ۱۹
امیر زادہ (هروی) ۳۹
(شیخ) امان (پانی پتی) ٤۱
(سید) انام یا (سید ابن انام) ٥٦
(امیر) انوک - ۱۱
انندپال ۲۰
اندرسنگه ـ ۱٦۳
انگریز (قسام) ۳۲۸
اوسین ـ ۳
اهتمام خان ۳۲۹
ایلک خان ـ ۲۱
(امیر) ایزدیار ـ ۲۲

(مسٹر) ایلفنسٹن — ۹
اہمل خان (ترین) — ۳۳۰-۳۳٤

**(ب)**

(ملک) باری (بت) —۹۳-۱۰۰
بابک الخزمی —۱۷
(جام) بایزید ۱٦٤-۱٦٥
(شیخ) بایزید (پرملی) -۲۸۹-۲۹۱ -۲۹۲-۲۹۳-۲۹٤-۲۹٥
(خواجه) بایزید (لودی) —۷٥- ۱۰۲ -۱۰٦- ۱۱۲ -۱۱۸ -۱٤۱ ×
باباقشقه (مغل) ۱۱٥-۲٦٦-۲٦۷ -۲٦۸ -۲۹۸
بابر ۲- ٥۰ -۱۰٦ -۱۰۷ -۱۰۹ -۱۱٥ -۱۱٦ -۱۲۱ -۱٦۰ -۱۹٥
۲۱۹ - ۲۲٤ - ۲۲۸-۲۲۹ -۲۳۰ -۲۳۱ -۲۳۳ -۲۳٦ -۲٥٦
۲٥۷ -۲٦٤ -۲٦٥ -۲٦٦ -۲٦۷ -۲٦۸ -۲٦۹ -۲۷۱ -۲۷۲
۲۷۳-۲۷٤-۲۷٥-۲۷٦-۲۷۷-۲۷۸-۲۷۹-۲۸۰-۲۸۱-۲۸۲-۲۸٥
۲۸٦-۲۸۷-۲۸۸-۲۸۹-۲۹۰-۲۹۱-۲۹۲-۲۹۳-۲۹٤-۲۹٥-۲۹٦
۲۹۷- ۲۹۸- ۲۹۹- ۳۰٦
بابا قلی بیگ —۲۸۹
باز بهادر —۳۰۲
× بار بکشاه (لودی) —٥۰- ۹۲-۹۳-۱۰۰-۱۰۲- ۱۱٤-۱۱۸- ۱۳۷ - ۱۳۹
۱٤۰- ۱٤۱-۱٤۳ ۱٤٤-۱٤۸-۱٤۹-۲۰۹-۲۲۳-۲۲۷-۲۲۸-۲۳۳
بابو یا بابل (بابر) خان (شروانی) -۱۰۷- ۱٦۲ —۲۳۲ - ۲۳٤
بابی خیل (عشیره) — ۳۰٦
بامی خان —۱۰۷
(خواجه) ببن - ۱٦۱
× ببن (شاهوخیل) -۲٦۷ -۲۷٥ -۲۸۸-۲۸۹ -۲۹۰ -۲۹۲ -۲۹۳ - ۲۹٤

بحرین -۱۸

بختیار (خلجی) -۲

(ملک) بدرالدین (بہلم) ۲۰۳ -۲۰٤-۲۳٤- ۲٤۸-

بدین (قام)-۱۷

(شیخ) بہن یاشیخ بدر -۱۷۹

(ملک) بدھو (نائب عرض) -۹٦

براھیم (د بیبی متوزوی) ۳-۷

برم دیو -۳۹

برھان الملک-۲۹۷

برھمن -۲۳۸

بریخ = بریچ -۸

(مہاراجا) بکر ماجیت ۲۸۵

بکرماجیت (گوالیاری) ۱٦۲-۲۵۲

بکرماجیت (بندیله) ۳۳۱-۳۳۲

بلوخ (قام) ۲۲۸-۲۲۹-۲٦۵

(راجه) بل (سومیره) ۲۳

بلو = بہلول

بنو سام (عشیره) ۵-۷-۸

بنگش -۳۲۷

(میا) بہوا -۱۷۰-۱۸۱-۱۸۳-۱۸٤-۱۸۵-۱۹۱-۱۹٦-۲۰۱
۲۲۱-۲۲۲-۲٤۰-۲۵۱

سلطان بہلول (لودی) ۲-٤۸-٤۹-۵۰ له ۵٤ نه‌تر ۹۲ پوري له ۹٤ نه‌تر ۱۱٤ پوري
له ۱۱٦ نه‌تر -۱۲۵- پوري ۱۲۸ -۱۳۰- ۱۳٦
۱۳۷-۱۳۸-۱۳۹-۱٤۱-۱٤۳-۱٦۰-۱۷۷
۱۰٦-۲۰۹-۲۲۳-۲۲٦-۲۲۸-۲٤۵-۲٦۵
٦٦، -۲۸٦-۲۸۸-۲۹۷-۳۰۰-۳۰۱-۳۰۸-۳٤۸-۳٤۹

بہلول-(میانہ) ۳۲۱-۳۲۵-۳۲۸-۳۳۰

بہاتیہ-(پاچہی) ۱۰-۱۱-۱۷-

بہر پور سنگھہ- ۳۰۴

بہیکن خان لوانی-۲۵۴-۲۶۵

بہیکن خان (بنی) ۲۹۲

بہیکن خان (لودی) ۱۶۷-۱۶۸-۲۰۰-۲۰۱-۲۲۷

(شہزادہ) بہیکن خان = محمدشاہ شرقی

بہیکن خان (پر ملی) - ۱۷۵

بہجت خان -۱۷۳-۱۷۴

بہرام خان - تاتارخان

بہرام خان (دسامانی حکم) ۴۰-۴۳

بہرام خان (لودی)-۴۰-۵۰

بہادر خان (مہتہ) ۱۲۳

بہادر شاہ (گجراتی)-۱۱۶-۲۶۸-۲۹۷-۳۰۸

بہادر خان=دریاخان

بہادرخان یابہار خان-سلطان محمدلوانی

(توریانی) بہادر خان (لودی) ۳۲۹-۳۳۸

(ناسیانہ) بہادر خان (داؤدزی)-۳۲۹-۳۳۸

بہار خان - ۲۶۵

(شیخ) بہاءالدین (ملتانی)-۸۲-۱۱۷

(ملک) بہاءالدین (جلوانی) -۴۲

(رای) بہید، یا(راجہ بلہور)-۱۴۳-۱۴۹-۱۵۰-۱۵۱

بہکہاری خان (پرملی) ۱۰۵-۲۸۹-۲۹۷

بیرم خان (ترکمن)-۱۰۷

بیرم خان (د سامانی حاکم)-٤٣
بیټ نیکه -٣
بیدارخان -٢٥

﴿پ﴾

پانیو-۹ ۷ ۳
پتهو رای -٨٠
پرملی (قبیله) ٨-٢٩٢
پرتهوی راج -٢٨٠
(رای) پرتاپ-٦٧-٦٨-٨٣-٨٩-١٢٣
(رانا) پرتاپ ٣١٤
(شهزاده) پرویز- ٣١٨-٣١٩-٣٢٠-٣٢١
پرسرام -٣٣٨
پرانگی- ٣
(راجا) پهارسنگهه- ٣٣٨
پهارخان لوانی = سلطان محمد لوانی
پهارخان یابهارخان لودی -٣٠٦
پولاد-٥٣
(قاضی) پیارا- ١٧٦
پیر محمد (دگودنهورلمسی) ٣٢-٣٣

﴿ت﴾

تاتارخان (بهرام خان) ٢٤
تاتارخان (دملک مظفر زوی) ٣٢-٣٥-٣٦
تاتارخان (سارنګ خانی )٤٨-٤٩
(دوهم) تاتارخان (سارنګ خانی) ٢٨٩-٢٩٢-٢٩٦-٢٩٧
تاتارخان (یوسف خېل) ٩٢-٩٣-١٠٢-١١٤-١١٨-١٢١ ١٢٢-٣٠٦
تاتارخان (پرملی) ١٤١-١٥٨-٢٣٤

(شهزاده) تاتار خان (لودی) ۱۱۶-۲۹۷-۲۹۸
تا تا ر خان (لودی) ـ۹۰ـ ۱۱۸
تاتارخان -۱۱۳-۱۲۰-له۱۳۰-نه‌تر۱۳٤ یوری - ۲۲۶-۲۳٤-۳٤۹-۳۵۰
(ملک) تاج الدین ـ ۳۲
(ملک) - تاج الدین (کنبوه) ۱۶۷ - ۱۶۸
(رای) ترلوک چند-۹۸
(میر) تقی ـ (میر) ۳٤۲
توری (قبیله) ۳۲۷
توخی (») ـ ۸
تهیوسی ڈایڈز (یونانی) ۱
(گوڈ) تیمو ر-۲ - ۳۲ - ۳۳ - ۳٦ - ۳۷ - ۳۸ - ۳۹ - ٤۱ - ٤۲ - ۱۰۵ - ۱۲۵ - ۲۵٦ - ۳٤۸
تیمور سلطان -۲۷٦

(ث)

(حکیم) ثناءالله خان (فراق) ۳٤۳ - ۳٤٤

(ج)

(مولانا) جامی (رح) -۲۳٦
(میرزا) جانی‌بیگ-۳۱۵
جسونت راو (هولکر) -۳۰۳ -۳۰٤
جسرت گهکر ٤٦ - ۵۲ - ۵۹ - ٦۰ - ٦۵ - ۳۰۰ - ۳۰۱
جعفر صادق (رض)-۱۷
(رای) جگرسین (کچهواهه) -۱۷٤
جلم (جیلم بن شیبان) ۱۰ - ۱۸
(سید) جلال (بخاری) ٤۰ - ۲۳۸ - ۲۳۹

(مولانا) جلال الدين (بلخی) ۲۳۸
(سلطان) جلال لدين (لودی) ۵۰ - ۲۱۹ - ۲۲۳ - ۲۲۴ - ۲۰۶ - ۲۳۵ -
۲۴۲ - اوله ۲۴۴ نه‌تر ۲۵۳ پورې
(سلطان) جلال الدين (خلجی) ۱۰۶
(شهزاده) جلال خان (لودی) ۸۵ - ۱۱۳ - ۱۱۶ - ۱۲۹ - ۱۶۶ - ۱۶۸ -
۱۶۹ - ۱۷۰ - ۱۷۱ - ۲۱۰
(شهزاده) جلال خان (شرقی) ۸۷ - ۸۸ - ۱۱۴
جلال خان (موسین زی) ۳۵۲
جلال خان (اجودهنی) ۸۷
جلال خان(دسلطان علاء الدين لودی زوی) ۱۱۵
جلال خان (لودی) ۱۶۸ - ۲۳۲
جلال خان سوری = سلطان سليم شاه
جلال خان (لوانی) ۲۹۴
جلال الدين (دپیر روښان لمسی) ۳۲۷
جلال خان (کاکړ) ۳۲۷
جلوانی (قبیله) ۲۶۷
جمال خان (کاکړ) ۳۲۷
(شهزاده) جمال خان (لودی) ۱۱۷
جمال خان (سارنګ خانی) ۱۲۳-۱۳۶-۲۲۸
(شيخ) جمال خان (پرملی) ۱۲۳-۱۷۴-۲۶۲-۲۶۳-۲۷۱
جمال خان - ۱۰۰
(شيخ) جمال خان (دهلوی) ۲۳۸ - ۲۴۰
(شيخ) جمالی (کنبوه) ۱۹۰ - ۱۹۳ - ۱۹۴ - ۲۲۲ - ۲۳۵ - ۲۳۶
جنید برلاس -۲۷۶ - ۲۹۱ - ۲۹۵
(سلطان) جونا خان -۱۷

(امیر) جوقا خان-۸٤ - ۸٦ - ۸۹ - ۱۲۳
(رای) جهالـه ـ ٤٠
جهان خان یا خان جهان لودی ۳۳۷
جهجار سنگهه (بندیله) -۳۲۳ - ۳۲٤-۳۳۰
(شاه) جهانگیر -۳۱۸ - ۳۱۹ -۳۲۰ - ۳۲۱ -۳۲۳ - ۳۲٦ - ۳۳٦
جهانگیر (ماکری) -۱۷٤
(راجا) جیپال -۱۰ - ۱۱ - ۱۳ - ۱۷

چ

(ملك) چمن -- ٤٦ - ٤٧ - ۱۲۳
(میا) چمن (کنبوه) -۱٦۸ - ۲۳۵
چکرسوام -۹
چرچی (صیاد) -۳۰۹

خ

خاخی (قبیله) -۳۲۷
خیرك خان -۵۲-۵۳

ح

(خلیفه) حاکم بامرالله -۲۳
حاجی خان (اودی) -۱٦۸
حافظ خان -۱۷۳
حاجی خان (یوسف‌خیل) -۲۳۰
حامد جمال خان = جمال‌خان
حاجی خان (ترین) ۳۱۳
حاتم خان - ۲۷٦
(ملك) حبیب (نمازی) -٤۲

حبیب الرحمن خان (شروانی) -۱۲۰
حجاج (ثقفی) -٤-۹
حسن شاه (دکشمیر پاچا) -۹۳-۱۰۲
حسن‌علی = علی‌حسن
(شهزاده) حسن (شرقی) -۸٦-۸۷
حسن خان (نورزی) -۲۵۸
(سید) حسن - ۱۰۲
(شیخ) حسن (علائی) -۱۲۷-۱۲۸
(شیخ) حسن‌خان (طاهری)
(شهزاده) حسن خان یاحسین خان لودی ۲۲۰-۲٤۳
حسن خان (دشیرشاه پلار) ۲۲۸
حسن خان (پرملی) ۲۸۹-۳۵۰
حسن خان (دخان جهان لودی‌زوی) -۳۳۳-۳۳٦
حسن (میواتی) -۲۹۱-۲۹۲-۹۳
(میر) حسن - ۳٤۲-۳٤٤
حسام خان (وزیر) -٦۱-٦۲-٦۳-۳٤۹
حسین (اوسونی) -۳
(شاه) حسین (لنگا) ۹۲-۹۳-۱۳۸-۱٦٤
حسین خان (دخان‌جهان لودی‌زوی) ۹٤-۱۱۹
حسین خان یاحسن خان (دتاتارخان‌ورور) -۱۳٤-۳۵۰
حسین خان (پرملی) -۲۳۳
(ملا) حسین (واعظ کاشفی) -۲۳٦
حسین خان (شاهوخیل) ۲۵۳
حسین خان (اسلامی) ۲۲۵

(سلطان) حسين (شرقی) ۸۷-۸۸-۹۰-۹۱-۹۲له۹٤نه تر۱۰۰ پوری- ۱۱٤
۱۱٦-۱۲۲-۱۳٦-له۱٤۳ نه‌تر۱٤۸- پورې۱۵۱-۱۵۲-۱۵۳-۱۵٤ -۱۵۸- ۲۱٦
(میا) حسین(پرملی) -۱۳۱-۱۳۳-۲۲۱-۲۲٤-۲۲۷
۲۵٤ له۲۵۹ نه‌تر -۲٦٤ - پورې- ۳۵۰
حسین خان (لوانی)۲۹۲
حسین خان (لودی) ۳۲۵-۳۳٦
(شیخ) حسین(ناگوری) ۱۲٤
(شیخ) حسینی- ۱۸۹
حمید - ٤
(سلطان)حمید (لودی) ۵-۷-۱۰-۱۱-۱۲-۱۳-۱۵-۱٦-۱۹-۲۵
(وزیر) حمید خان-۶۲-۶۳ له۶۷ نه‌تر۷۲-پورې
حمید خان (لودی) ۲۷٤-۲۷۵
حمید خان (سارنگ‌خانی)۲۹٦
حمدان (قرمط) ۱۷
(شیخ) حمزه (کاکړ)۲۲٦
حیدر شاه (دکشمیر پاچا) ۹۳

(خ)

خان جهان (پیرخان لودی) ۲-۳۰۵-۳۰٦ له۳۱٦ نه‌تر۳٤۰ پورې
خان جهان (دفیروزشاه وزیر) ۲۷-۲۹-۳۰
خان‌جهان (دسلطان بهلول وزیر)۷٦-۸۳-۹۰-۹۱-۹٤-۹۷-۱۰۲-۱۰٦- ۱۱۳
۱۱۸-۱۱۹-۱۲۰-۱۲۲
خان جهان (دسلطان بهلول دوزیرزوی) ۹۷-۱۰۲-۱۱۹-۱۳۷ -۱٤٤ -۱۹۰
۲۵۲-۲۵۸
خان جهان (لوانی) ۲٤۳-۲٤٤

خان جهان (دمه لوپ امیر) ۱۰۵

خان‌خانان (یرملی) ۱۰۶-۱۴۹-۱۵۹-۱۶۶-۲۲۵

خان خانان (لوانی) ۱۰۶-۱۴۹-۱۶۰-۲۱۷

خان غازی -۱۹۷

خا لدبن عبدالله -۴

خا فی خان = محمدهاشم‌خافی‌خان

خټك (قبیله) ۳۲۷

خداداد (لودی) ۳۷

خدمت پرست خان-۳۲۴-۳۲۵

خرشبون-۸

(شهزاده) خرم = شاه‌جهان

(ملك) خسروغزنوی-۲۴

خسرو (کوکلتاش) ۲۶۷-۲۶۸

خسرو خان -۱۰۶-۱۵۳

خسروبیگ -۲۷۴

خضرخان (شروانی)-۲۹۵

خضر خان (د سلیمان خان ورور) ۱۵۶-۱۵۷-۱۷۴

خضر خان (داوی) ۲۸۲

(مسند عالی) خضرخان ۳۱-۴۰-۴۱-۴۲-۴۳-۴۴-۴۵-۴۶-۵۰-۵۱-۵۲-۵۵-۹۹
۱۰۵-۱۲۲-۲۴۱

(ملك) خضرخان (لودی) ۴۲

(رای)-خلجین -۳۱

خلیل (قبیله) ۳۲۷

خلیل خان (ابدالی) ۱۰۷-۱۵۴-۲۵۰

خلیل خان (نیازی) ۱۰۸
خواص خان (دسلطان سکندر امیر) ۱۵۹-۱۶۰-۱۶۱-۱۶۷
خواص خان (دمیا بهوا پلار) ۲۲۱
خواص خان (شیرشاهی امیر) ۲۳۱
خواجه کلان-۲۷٤-۲۸۱
(سلطان الشرق) خواجه جهان-۳۸
(ملك) خواجه (لودی) ۵۰
(شیخ) خواجو -۱۷۹
خوشال ختك - ۳۱٤
(ملکه) خونزا بی بی -۹۹

(د)

(سلطان) داؤد (لودی) ۱۹-۲۰-۲۲
(کوچنی) « (لودی) ۲۳
(رای) « -۳۱
داؤدخان -۲۷۵-۲۷۶
(ملك) « (کرانی) ۲۸۱-۲۸۷-۲۹۰-۲۹٦-۲۹۷
داؤدخان (پرملی) ۱۶٦
داؤد زی (قبیله) ۳۲۷
(رای) داند -۹۸-۱۰۱
(شهزاده) دانیال (بنگالی) ۱۵٤
( « ) « (مغل) ۳۱۵ -۳۱۷-۳۱۸
دریاخان= دوهم ظفرخان
دریاخان (لودی) ٤۷-٤۸-٦٦-۷۷-۷۸-۷۹-۸۰-۸۱-۸۲-۸۵-۸۹-۱۲۱-۱۵٦-۳٤۹
« (غوری) ۱۱٦ -۳۰۸-۳۰۹-۳۱۰-
« (دشیرخان زوی)-۲۵۰

دریاخان (حبشی) ۳۱۱
« (دبیانې حاکم) ۲۶۱-۲۷۱
« (لوانی) ۱۲۱-۱۳۱-۱۳۳- ۱۵۵-۲۲۶-۲۳۳-۲۴۴-۲۵۵-۲۵۷- ۳۵۱
« (داؤدزی) ۳۲۶-۳۲۸-۳۲۹-۳۳۰-۳۳۷
درگاداس-۳۳۰
دروزی (فرقه)-۲۳
دلاورخان (خانخانان) ۲۲۲-۲۲۳-۲۵۱
« (علیزی) ۱۰۷-۲٤٥
(ناسیاله) « (لودی) ۱۰۷-۲۲۹-۲۳۰-۲۳۱-۲٦٤-۲٦۹-۲۷۳-۲۹۸
دلاورخان (کاکر) ۳۲۷
دلپسندخان-۳٤۸
(سلطان) دولت (لودی) ۴۲-۴۳-٤٤-٥۱-۲۲۸-۳٤۸
(شهزاده) دولتخان-۱۷٤- ۱۷٥ -۲۱۰
دولتخان لودی=شیرخان یوسف خیل
(ناسیاله) دولت خان (لودی) ۱۰۷-۱۱٥-۱٦۰-۱٦٤-۱٦٥-۲۲۸ -۲۲۹-۲۳۰
۲۳۱-۲٤۳-۲٥۰-۲٥٦-له۲٦٤-نه‌تر۲۷٤ پورې په هرمخ کښې۲۸٦-۳۰٦
(مسند عالی) دولتخان (لودی) له ۳۱۲ نه‌تر۳۱۸ پورې
دوتانی (قبیله) ۳
(رای) دونگر = حسین خان (اسلامی)
دونگرمل =برهمن
دهنش-۱۰۲

## (ذ)

ذوالقرنین-۲۰۳

## (ډ)


ډهلی-۲-۲۵-۲۶-۲۷-۲۸-۳۱-له ۳٤ نه تر ۵۳ پورې-له ۵٦ نه تر ۷۰ پوری -۷۲-۷۳
۷٤-۷۵-۷۸-۷۹-۸۰-۸۱-۸۲-۸۳-۸٤-۸٦-۹۰-۹۲-۹٤-۹۵- ۹٦-۹۷-۱۰۰-۱۰۵
۱۰۸- ۱۰۹- ۱۱۱- ۱۱۲-۱۱۳-۱۱۵-۱۱۷-۱۱۸-۱۱۹-۱۲۰-۱۲۲-۱۲٤-۱۳٦
۱۳۷ - ۱۳۸- ۱۳۹-۱٤۰-۱٤۳ -۱٤٤-۱٤۹-۱۵۰-۱۵۵-۱۵۸-۱۵۹-۱٦۳-۱۷۲
۱۷۳-۱۷٦- ۱۷۹-۱۸۷-۱۹٤-۱۹۵-۱۹٦-۲۲۸-۲۳۰-۲۳۱-۲۳۳-له ۲۳۷ نه تر ۲٤٤
پورې -۲۵۰-۲٦٦-۲٦۹-۲۷۰-۲۷۱-۲۷۳-۲۸۰ -۲۸۱-۲۸٤-۲۸۷-۲۸۸-۲۹۱
۲۹۲-۲۹٦-۳۰۳-۳۱۹-۳۲۲-۳٤۱-۳٤۳-۳٤۸-۳۵۰
ډنگور-۸٦


## (ر)


(ملك) راجو ۳٤
(ملکه) راجی بی بی-۸۵ -۸٦ -۸۷- ۸۸ -۹۵
رای سهره لنکا (دملتان پښتون پاچا) ۸۲ -۹۲
راجی بی بی (لودی) ۳۱۳
راجپوت (قبیله) ۳۱٤ -۳۱۷ -۳۳۸
راجی حامدشاه -۲۳۹
(شیخ) راجو -۲۵۵
رحیمداد -۲۹٦
رحیمداد خان لودی-۳۰۲ -۳۰۳
رحمان خان (لودی)-۳۰۲
(شیخ) رزق الله-۲۳۹
رستم خان -۹۰-۹۱ -۱۲۲
رستم زال -۳۳۲
رشید عبدالملک بن نوح -۱۱
(شیخ) رضی (لودی) ۱۵ -۱٦

رغبت خان ـ ۹۲
(سید) رفیع الدین (محدث) ـ۱۸٦
رکن الدین روھیلہ=شیر خان روھیلہ
(پیر) روشان ـ۳۲۷
(سید) روح اللہ ـ۲۰٤

(ز)

زردشت ـ۱۷
(ملکہ) زیبا ـ۱۱۲ ـ۱۱۳ ـ۱۳٦
(ملک) زین الدین ـ۱۹۰

(س)

ساگزی (سجزی) ـ۸
سام ـ۵ ـ٦ ـ۷
سارنگ خان (لودی) ـ۳۰ ـ۳۱ ـ۳۲ ـ۳۳ـ۳۵ ـ٤۰ـ٤۱ـ٤۸ـ۱۲۳ ـ ۲۲۸ ـ ۱۹٦
سارنگ خان ـ۵۱ ـ۵۲
(حاجی) سارنگ ـ۲۳۳ ـ۲۵٤
(رای) سالباھن ـ۱۵۱
سالار مسعود (رح) ـ۲۰۷
ساھوجی (بھونسلہ) ـ۳۳۰
سبک (سپہسالار) ـ۱۸
(ناصر الدین) سبکتگین ـ۱۱ ـ۱۲ ـ۱۳ ـ۱۷ ـ۱۹
سدارن ـ ٤۷
سرفراز خان ـ۳۳۰
سرور الملک (ملک سرور) ـ٤٦ـ٤۷ ـ۵۳ـ۵٤

سرفرازخان (مشوانی) -۲۵۲

سرمست‌خان (سربنی) -۲۵۲

(ملا)سرسان -۲۸۷

(شیخ)سعدالدین -۱۲۳

(مولانا)سعدالدین-۲٤۰

سعادت (باریك) -۳٤

سعیدخان (شروانی) -۱۵۸ -۱٦۲ -۲۵۸

سعیدخان (لودی) ۱۷۰-۱۷۳-۱۷٤-۲۱۳-۲۱٤-۲۱۵-۲۲۷--۲٤۷-۲٤۸-۲۵٤-
۲۵۵-۲٦۱-

سعیدخان -۱۷۹

(سلطان) سعید-۲۵۷

سعید (دشیخ احمدپلار) -۲٤

سعید(حاجب) -۲۳۵-۲٤٤

(شیخ) سعید (پرملی) -۱۲۳-۱۲۹-۱۳۰-۱۳۱-۱۳۲-۱۳۳-۱۸۹-۱۹۲-۱۹۳-
۳۱۰-۲۲۰-۲۲۱-۲۵۹-۳۵۰-

سعیدخان(مغلی حاکم)۳۲۷

سعدالله خان(لودی)۳۰۳

سکاکی -۱۸۹

سکندر(سوری)۳۰۲

(سلطان)سکندر(لودی)۲ -٤۹-۵۰-۸۵-۱۰۲-۱۰۳-۱۰٦-۱۰۷-۱۱۳-۱۱٤
۱۱۵ -۱۱٦--۱۱۸-۱۲۰-۱۲۱-۱۲۲-۱۲۳-۱۲۵-۱۲٦-۱۲۷-۱۲۸-۱۲۹-۱۳۰-
له۱۳٤ نه‌تر۱٦۱ پوری-۱٦۳-۱٦٤-۱٦۵-۱٦٦-۱٦۹ له۱۷٩ نه‌تر۱۸۲ پوری
له۱۸٤ نه‌تر۱۹۷ پوری-۲۰۰-۲۰۱-۲۰۲-۲۰٤-۲۰۵-۲۰۷-۲۰۸-۲۰۹-۲۱۰-۲۱۱
۲۱۲-۲۱۵-۲۱٦-۲۱۹-۲۲۰-۲۲۱-۲۲۲-۲۲۳-۲۲۵-۲۲٦-۲۲۷-۲۲۸ له ۲۳۲

نه تر ۲٤۲ یوری -۲٤٥-۲٤۷ -۲٥۱- ۲٥٦-۲٥۹-۲٦۱- ۲۸۰-۲۸۲-۲۸٤-۲۸٦
۲۸۸-۲۸۹-۲۹۰-۲۹۳-۳۰۱-۳۰٦-۳٥۰
سکندر شاه (شروانی) ۷٦
سکندر -۲۸۸
سکندر سلطان (مغل) ۲۰۷
(ملك) سکندر (تحفه) ٥۲ ٥۹-٦۰-٦۲-۳۰۰
سکندر شاه (بهنکره) ۲۷
سکندر (دوتانی) ۳۲۱-۲-۳-۳۲٥-۳۳۰
سکندرخان کاکر ۲۲٦-۲٥٤
سکهیت سن گهه-۱۰۱
(ملك) سلیمان (لودی) ۱-۲۲-۲۳
سلیمان (غرشین) ۸-۲٥۲
(سید) سلیمان (ندوی) ٤-۲۳
سلیمان (قرمطی) ۱۸
(ملك) سلیمان-٥۰
سلیمان خان -۱٥٦
سلیمان (برملی) ۱٥۹-۱٦۹-۱۷۰-۲۲٥-۲۷۰
سلیم خان (لودی) ۳٤۰
سلیم شاه (سوری) ۲۲٦ - ۲۸۸ - ۳۱۰ -۳۱۲
سلطان شه = اسلام خان
(امیر) سلطان شه -۸۷
سلطان محمود (بنگالی) ۲۸۷
سلطان شرف-۱٤۲
سلطان محمد (دجانی بیکه‌زوی) - ۲۷٤

سلطان احمد (پروانچی) ۲۹۶
(ملک) سماءالدین-۳۰
(شیخ) سماءالدین -۱۰٤ - ۱۳٦ - ۱۳۷-۲۳٦
(رای) سمیر-٤۰
سنهاری بی بی = زیباملکه
سنگهو مترا (درا جااشوک لور) ٦
(رانا) سنگا-۱۱۵ - ۲۳۱ - ۲۵۷ - ۲۵۸ - ۲۵۹ - ۲٦۰ - ۲٦۱ - ۲٦۲ -
۲٦۳ - ۲٦٤ - ۲۸۹ - ۲۹۰ - ۲۹۱ - ۲۹۳ - ۲۹۸
سوری (قبیله) ۱۰۳ -۱۱۸ - ۱۱۹
(مولانا) سیدمحمد -۱۷۹
سیانی (سامی) ۳ - ۷
سیف الدین (لودی) ۳۷
سیام ، سیاما -٦ - ۷
(خان اعظم) سیدخان-٤۷
سیدعلی بیگ (مغل) ۱٦۰
سید احمد ۳۳۳ - ۳۳۷

## ﴿ش﴾

شاه منصور -۲۸۱
شاهوخیل (عشیره) ۳ - ٤۹
(ملک) شاهو (لودی) ۲٤
شاهو خان (لودی) ۵۰
شاهرخ گورکانی) ۵۳
شاه‌علیمردان -۵۲
شاهین خان (لودی) ٦۰ - ۲۳۲ - ۳۰۰ - ۳۰۱

شاهجهان (مغل) ۱۰٦ - ۳۰۵ - ۳۱۹ تر ۳۲٤ - ۳۲٦ - ۳۲۷ - ۳۳۰ - ۳۳
۳۳۲-۳۳٤ تر ۳۳۹

شاه حسین (برلاس) ۲۷٦

شجاع الملك (لودی) ۳۱۱

شعرانی -۱۸

(ملا) شکیبی (اصفهانی) ۳۱۷

شمشیر خان -۱۲۳

(ملکه) شمسه بی‌بی -۵۸- ۸٦ - ۱۱۲- ۱۱٤

شمس خان (اودی) ۳۲۵

شمس خان (اوحدی) ۳۸

شمس خان-۱۵۷

شمس الدین بهنکره -۲۵ - ۲٦ - ۲۷

شمس الدین (التمش) ۱۰۹

(سید) شمس الدین -۷۷

(سلطان) شهاب الدین (غوری) ۱ - ۲ - ٤ - ۷ - ۲٤ - ۱۰۹ - ۲۸۰

(شهزاده) شهاب‌الدین (خلجی) ۱۷۲

شهاب الدین (گردیزی) ۴۹

شهاب الدین (ثاقب) ٤۲

شهاب خان — ۳۷

شهباز خان (کنبوه) ۳۱٤

(شهزاده) شهریار -۳۲۰

شهاب خان(دبیر) ۱۲۰

شهدیو = بهید رای

(سلطان العادل) شیرشاه(سوری) ۱۲۰-۲۲٦-۲۲۸-۲۳۱-۲۴۳

۲۳۴-۲۳۷-۲۸۱-۲۸۳-۲۷۶-۲۸۷-۲۸۸-۲۹٤-۲۹۵-۲۹۹-۳۰۲-۳۰۷-۳۰۸
۳۱۲-۳۱۶-۳۳۸-۳۳۹
شیر خان (یوسف خیل) ۳۰۶-۳۰۷-۳۱۰-۳۱۲
شیرخان (شاهوخیل) ۲۳۲-۳۰۱
شیر خان (پولادی) ۳۱۱-۳۱۲-۳۱۳
شیرخان (دگجرات حاکم) ۳۲۶
شیرخان (د وهیاه) ۳۲۷-۲۳۰
شیر خان (دمرآت الخیال مؤلف) ۲۳۹
شیرخان (لوانی) ۱٤۳-۱۵۰-۲۱۹-۲۲۶-۲۲۷
شیرخان (دچندیری حاکم) ۱۰۱
شیرخان (؟) ۱۷۰
(قندهاری) شیخزاده -۳۵۵
شیخعلی (کابلی) ۵۳-۵٤
شیخا (ککهر) ۳۱-٤۱-٤٦
شیوا یاسیوا-٦

﴿ښ﴾

ښایسته خان -۳۲٦

﴿ص﴾

(شهزاده) صاحبخان (خلجی) ۱۷۳-۱۷٤-۲۲۷-۲۵۰-۲۵۹
(ملا) صالح - ۱۷۹
صدر جهان (شروانی) ۱۱۷-۱۱۸
(مولانا) صدرالدین (قنوجی) ۱۷۹
شیخ صدرالدین (بخاری) ۲۳۹

صدر خان (سربنی) ۲۱٤
صدر خان-۳۴۔۱۔۳۲۶
صدر خان (خلجی امیر) ۱۷۳
(شیخ) صدیق-۲۳۵
صفدر خان (شیخزاده) ۱۶۰
صفدر خان (لودی) ۳۱۰
صفدر جنگ (مغل امیر) ۳٤۱
صف شکن خان (مغل امیر) ۳۲۸
صلاح الدین-۲۹-۲۹۳

﴿ض﴾

(شیخ) ضیا-۱۹۲-۲٤۰
(قاضی) ضیا-۲۹۱

﴿ط﴾

(میا) طه (پرملی) ۲۰۵-۲۰۶-۲۳۰-۲۶۱-۲۶۲
(شیخ) طاهر (کابلی) ۲۳۵-۲۳۹
طاهر (تبریزی) ۲۷۸
طباطبایی = غلام حسین طباطبایی
طغای خان-۳۷
(شاه) طهماسب (صفوی) ۲۸۳

﴿ظ﴾

(خان اعظم) ظفر خان (لودی) ر-تر ۲۹
ظفر خان (دریاخان) ۲۹-۳۰-۳۱-۳۳
ظفر خان (د...) ۳۰

## ﴿ع﴾


عادل خان (لودی) ۳۰-۳۱-۴۱

عالی خان-۳۲

عالم خان (لودی) ۱۱۶-۱۶۰-۲۲۷-۲۳۲-۲۹۳

(وزیر) عالم خان (لودی) ۳۰۷-۳۱۳

عالم خان (دختا جہان لودی زوی) ۲۳۷

عالم خان (دجام بایزید زوی) ۱۶۴

عبدالباقی (نہاوندی) ۳۱-۴۱-۳۱۶

(شیخ) عبداللہ خان (سہروردی) ۷۲-۱۱۷-۲۲۹

عبداللہ خان (لودی) ۳۴۰

(ملا) عبداللہ (اجودھنی) ۱۳۵-۱۳۶

عبداللہ خان-۳۲۹-۳۳۱-۳۳۴-۳۳۷

عبداللہ - ۲۳

عبداللہ خان (شاہو خیل) ۳۰۳

(ملا) عبداللہ (تلنبی) ۱۷۹-۱۸۸-۱۸۹-۲۳۸-۲۴۰

(شیخ) عبدالحق (دہلوی) ۱۲۴-۲۳۹

(شیخ) عبدالجلیل-۱۸۹

عبدالقادر (روشنائی) ۳۲۷

عبدالقادر (بیدل) ۳۳۹

عبدالقادر (بدایونی) ۷۳-۱۷۶-۱۸۸

(میا) عبدالرحمن- ۱۷۹

(حاجی) عبدالوہاب (بخاری) ۱۹۱-۲۱۶-۲۳۹

(قاضی) عبدالواحد-۲۳۵

عبدالوہاب یا عبدالصمد (کدائی) ۲۳۶

عبدالحی (حیاتی) ۲۳۶
عبدالعزیز (میرآخور) ۲۶۷-۲۶۸-۲۷٤
عبدالرحیم (خانخانان) ۳۱٤-۳۱۵-۳۱٦-۳۱۸
عبدل خان (کنبو) ۳۱٤
(صاحبزاده) عبدالقیوم -۳٤٤
عبدالملی (کاکڑ) ۱۰۷
(شاہ) عباس (صفوی) ۳۱۹
(شیخ) عثمان-۱۲۳-۲۳۵
عجب دیو -۹۳
عدلی -۳۰۲-۳۱۲
عرفی (شیرازی) ۳۱۷
(میا) عزیز اللّٰہ (سنبھلی) ۱۷۹-۱۸۸-۲٤۱
(میرزا) عزیز کوکہ-۳۱٤-۳۱۷-۳۱۹
عزیزخان (لودی) ۲۸ ۳-۳ ۳ ۳-٤ ۳ ۳-٦ ۳ ۳
(میرزا) عسکری -۲۸۱-۲۹٤
عصامی-۷-۲۵
(میا) عطا (شاہوخیل) ۲۹۳-۲۹۸
عظمت خان (لودی) ۳۲۵-۳۳٦
(شیخ) علی سرور (لودی) ۲۹۹
علی مبارك -۲۵
(ملك) علی -۳۲
(امیر) علی -٤٦
علی (ترك) -۱۲۲
علی خان (لودی) ۱٦۰-۲۰۳-۲۳۰-۲٦۵-۲٦۹-۲۷۲

علی خان (ناگوری) ۱۷۴- ۱۷۵-۲۱۰
(سید) علی (مشهدی) ۱۸۷
علی حسن (خراسانی) ۲۲۱-۲۶۳
علی اصغر (حکمت) ۳۴۸
علیخان (برملی) ۱۰۶-۲۵۴-۲۸۸-۲۸۹
علی امجدخان-۳۴۹
علاء الدین (دهاروال) ۳۴
(سلطان) علاء الدین (لودی) ۵۰-۸۷-۱۰۲-۱۱۴-۱۱۵-۱۱۶-۱۱۸-۱۲۱-۱۳۸
۱۳۹-۲۰۹-۲۳۰-۲۳۱-۲۶۵ تر ۲۷۱-۲۷۵-۲۹۷-۲۹۸-۳۰۸-۳۰۹
(سلطان) علاء الدین (خضرخانی) ۴۸-۶۶-۶۷-۶۸-۷۲-تر ۷۵-۸۱-۸۳-۹۹-۱۲۲
» » (خلجی) ۸۳-۲۸۵
» » (بنگالی) ۱۵۴-۲۳۳-۲۸۷
(ملک) » (جلوانی) ۱۶۷-۱۶۹-۱۷۰-۲۴۴
عمرخان (ککپور) ۲۹۳
» (شروانی) ۱۰۵-۱۲۰-۱۳۰-۱۳۱-۱۳۳-۱۳۴-۱۳۶-۱۴۲-۱۴۷
۱۴۹-۲۳۴-۲۹۳
(شیخ) عمر - ۲۳۵
عمرخان (بولادی) ۳۱۳
» (لودی) ۳۰۷-۳۱۰ تر ۳۱۳
عماد خان (برملی) ۱۶۰-۱۶۶-۲۲۳- ۲۳۴
(شاه) عماد (شیرازی) ۲۷۴-۲۹۱
عماد الملک-۸۵-۱۲۴ ۱۲۹ -۱۷۳-۲۴۸
» (گجراتی) ۳۰۸
» -۲۸-۵۳

(دوهم) عمادالملك (گجراتی) ۳۱۱
(ملک) عنبر (حبشی) ۳۲۱
عیسی خان (درانی) ۱۰۷- ۲۵۰
» (شروانی) ۱۲۰-۱۹۳
» (لودی) ۱۱۸-۱۳۷تر۱٤۰
» (؟) ٦۸-۸۳

«غ»

غازی خان (ترین) ۲٦٤- ۲۸٦
» (لودی) ۱۱٥- ۲۲۹-۲۳۱-۲٥٤-۲٦٥تر۲٦۹-۲۷۱تر۲۷٤
» -۱۲۳
» (مغل) ۱٦۰
غرشین (قبیله) ۸
(امام) غزالی (رح) ۱۲٤
غلام حسین (طباطبایی) ۱۱٤-۱۹٦-۱۹۷-۲۳۲-۲۳۳
غلام ربانی (لودی) ۲٤٥
(مولوی). غلام سرور (لاهوری) ۱۹۰
(سلطان) غیاث الدین (غوری) ۷
» » (تغلق) ۲٤
» » (خلجی) ٦٤-۱۰۱
فتح خان-٦۷
» (هروی) ۷۹-۸۰-۸۱-۸٤
» (شروانی) ۱۰٦-۲۱۷-۲۲٤-۲٤۳-۲٤۸-۲٥۳-۲٦۲-۲۹٤-۲۹۷
(شهزاده) فتح خان (لودی) ۱۱٦-۱٥٦-۱٥۷-۱٥۸-۲۰۹-۲۳۲-۲۳٤-۳٥۰
فتح خان (دسلطان علاءالدین زوی) ۲۹۷

فتح خان (د کشمیر پاچا) ۱۷٤
» (حبشی) ۳۲۱
(بی بی) فتحه (دسلطان ابراهیم ملکه) ۲۸٦-۲۸۸
(سلطان) فخرالدین (لودی) ۲٤-۲۵-۲٦
فرید = شیرشاه سوری
(شیخ) فرید (دریا بادی) ۲٦۲
فرید خان (لودی) ۳۳۷
(شیخ) فضل الله (برهانپوری) ۳۳٦
فضل الله خان - ۲۳۰
(سلطان) فیروز شاه- ۲٦-۲۷-۲۸-۲۹-۳٤-۵۰-۱۰۹-۱۳۷-۳۵۰
فیروز خان (لودی) ۵۰-۵٦-۵۹-٦۰-٦۱-۲۳۲-۳۰۰
» (سوری) ۲۸٦-۲۸۷
» (سارنگ خانی) ۲۹۰-۲۹۲
» (پښتون) ۱٦۸
» (داصغر خانزوی) -۱۵۹
(رای) فیروز-۵۳
» (دسلطان بهلول ورور) ۵۵
(شیخ) » (دهلوی) ۱۲٤

«ق»

قاوغونجی ... ۲۷۵
قادرخان-٤٤
(ملا) قادن - ۱۱۱-۱۷۹
(میا) قاسم (سنبهلی) ۲۰۲-۲٤۸-۲۹۲-۲۹۸
قاسم خان (لودی) ۳۰۷-۳۱۲

قاصر۔ ۳٤۳
(وزیر ) قتلغ خان۔ ۹٦-۱۳٦
قداح = میمون دیصان
قدر خان = بیدار خان
قدرخان (خلجی) ٦٤
(میر) قدرت اللّٰہ (قاسم) ۳٤۱-۳٤۲
قدرت - ۳٤۳
قدم ترک - ۲۸۸
قربان ـ ۳٤۳
قرامطہ ( قرمطیان) ۱۵-۱۷-۱۸-۲۱-۲۳
قرشی -۵-۷-۸
قریش (قبیلہ ) ۵
(سلطان) قطب الدین =رای سہرہ لنگا
» » = (ایبک) ۲۵-۲۸
(ملک » (لودی) ۲۹
(ملا) » -۷۹؛
» ( بختیار) ۹٤-۲۳۷
قطب خان (دعالم خانزوی) ۳۱۱
» (شیرشاهی امیر) ۳۳۸- ۳۳۹-
» (دحسین خانزوی) ۵٦-٦۸-۸۳-۸۹-۱۲۲
قطب خان (سوری) ۳۰۷
» (لودی) ۵۹-٦۱-٦٦-۷۱-۷۹-۸۰-۸۵-۸٦-۸۸-۸۹-۹۰-۹۵-۹۹-۱۰۰
۱۱٤-۱۱۹-۱۳۷-۱۷۰-۱۷۱-۲٤۸-۳٤۸
قطب خان -۲۵٤-۲۹۲

قلندر پیاہ-۲۹۰

(شیخ) قمرالدین -۱٦٤

قوام خان-٤٥

قوام الملک-۱٥۹-۲۳۳

قیس عبدالرشید- ٤

قیام خان ٦۸-٦۹


ک


کامران خان(سدوزی) ۲٤

(ملک) کالا (لودی) ٥٠-٥٤-٥٥

کالی خان- ٥۳

کالا پہاڑ (بر ملی) ۱۰۲-۱۱۸-۱۳۹-۱٤۰-۱٤۱-۱٤۳-۱٤۹-۲۰۹-۲۲۳-
۲٤٤-۲٤۸-۲٥۰-۲٥٥-۲۸٦-۳٥۱

(ملک) کالو-۸۱

(شہزادہ) کامران (مغل) ۲۷٤-۲۸۱-۲۸۳-۲۸۷

کاکڑ (قبیلہ) ۱۰۷

کالی= کالیکا- ٦

(شیخ) کبیر-۱۲٤

کبیر خان (لودی) -۲۳۲-۲٤۹

کپور چند-۹۱

کچہ بیگ-۲۷۲

(روشانی) کریمداد- ۳۲۷

(توخی) کریمداد-۱۰۷-۲٥۰

(رای) کرن-۸۰-۸٤ تر ۸٦-۸۹-۱۱۳-۱۱٦-۱۲۳-۱۲۹

کرن سنگھہ یا کرت سنگھہ-۹۷

(راجا) کرشن -١٦٢-١٩٧
(سری) کرشنا -٦
کشن سنگهه -١٦٣
ککیانی (قبیله) ٣٢٨
کلیم -٣٣٥
کمال الدین (روهیله) ٣٢٧
کمال خان (لودی) -٣٠٧-٣١٢
کمال خان (دسلطان علاءالدین زوی) ١١٥
(ملك) کمال -٣٠
کما ل مین -٣١
کما ل الملك (کما ل خان) -٤٦-٤٧-٥٤
(راجا) کنیش -١٦٢
(ملك) کندو-یا-کندومو=عادل خان لودی-١٤
کورو -٢٧٩
(ملك) کهندو -١٥٢-١٥٣
(رای) کهین-١٢٣-١٤٠

﴿گ﴾

(راجا) گجه سنگهه -٣٢٦
(را جا) گنیش =راجا کرشن
گنگ مبارك -٨٨

﴿ل﴾

(شیخ) لاون (دانشمند) ١٧٥-١٧٦-١٧٩-٢١٦-٢٣٨-٢٤٠
لچین تیمور -٢٩٦
لنبکرخان -١٢٢

لنبکری خان-۳۲٤
لنبکر خان ( ابوالحسن مشهدی)۳۲۷
(شهزاده) لطیف-۳۰۷
لکهم چند-۱۵۱
لوانی (قبیله) ۳
(لارد) لیك-۳۰۳

﴿م﴾

(خلیفه ) مامون الرشید-۱۷ - ۱۸
مان سنگهه-۱٤۲ - ۱۵۹ - ۲۵۰ - ۲۵۲
ماد هوسنگهه-۳۳۳ - ۳۳٤
مان سنگهه (دبنگلاتی راجا) ۳۱۷
مان سنگهه-۳۱۸
(راجا) مانك دیویا نایك دیو-۱٦۱ - ۱٦۲ ۱٦٤
مبارك خان = باربکشاه
مبارك‌خان (لوانی) ۸۳ - ۹۹ - ۱۲۱ - ۱۲۸ - ۱۳۰ - ۱۳۱ - ۱۳۳ -
۱٤۳ - ۱٤٤ - ۱٤۸ - ۱٤۹ - ۱۵۳ - ۱۵٤ - ۱۵۵ - ۲۲٦
مبارك خان (موجی خیل) ۱٤۹ - ۱۵٦ - ۲۳۳
(ملك) مبارك-۳۱- ۳٤
(سید) مبارك — ۳۱۱
مبارك خان (میواتی) ۸۲
(سلطان الشرق) مبارك ۳۸ - ۳۹
مبارك خان (دتاتار خان لودی‌زوی) ۹۳ - ۱۷۳ - ۲۱۳ - ۲۲۷ -
۲۳۲ - ۲۵۳ - ۲٦۵
مبارك خان = مبارز خان-۸۹

(سلطان) مبارکشاه (خضر خانی) ٤٦- ٤٧ -٤٨- ٥٢-٥٣ - ٥٤ -٨٣ - ٨٤ - ٢٤١
مبارز خان لوانی = سلطان محمد لوانی
مبارز خان -٤٤ - ٩٩
متو (بی بی) ۳
متو بی بی یا مستوبی بی -٧٦ - ٧٧ -٨٠ - ٨١ - ٣٥٠
مجاهد خان (علیز ی) ١٦٦ - ١٦٧ -١٦٨ - ٢٥٣
مجاهد خان (ملتا نی) ٢٩٦
مجد الدین (با بر) ۲۳۷
(قاضی) مجدالدین -٢٣٥ - ٢٤٤
(سلطان) محمو د (لودی) ٥٠ - ١١٥ - ١١٦ - ٢١٩ - ٢٣١ - ٢٤٣ - ٢٩٠
تر ٢٩٦ - ٢٩٨ - ٢٩٩ - ٣٠٦ - ٣٠٧ - ٣٥١
(سلطان) محمود (غزنوی) ١ - ١٣ - ٢٠- ٢١ - ٢٢ - ١٦٢ - ٢٨٠
(سلطان) محمود (خلجی) ٦٣ -٦٤- ٦٨ -٩٤ - ١٠١ -١٠٥ - ١٧٣ ١٧٥ -٢٥٢
(سلطا ن) محمو د (گجرا تی) ١١٦ - ٣٠٧ تر ٣١٠
(شاه) محمود (لنکا) ١٦٤ - ١٦٥
محمود خان (ددریاخان زوی) ٣٠ - ٤٢
محمود خان (دفا در خان بلار) ٤٤
(سلطا ن) محمود (تغلق) ٣١ - ٣٤ - ٣٥ - ٣٦ - ٣٧ - ٣٩ - ٤٠- ٤٤ -
٤٥ - ٤٦ - ٤٨- ٤٩
(ملك) محمود (لودی) ١ - ٢٤
(سلطان) محمود (شرقی یا چا) ٤٨ - ٩٨ - ٧٤ تر ٨١ - ٨٣ - ٨٤ - ٨٥ -
١١٣ - ١١٦ - ١٢٣ - ١٢٤ - ١٢٩
(میا) محمود (پرملی) ٢١٠ - ٢١٢ - ٢١٣ - ٢٢١ - ٢٤٤ - ٢٥٤
محمود خان (خلجی امیر) ١٧٣

محمود خان (شروانی) ۲۲٤

محمود خان لودی -۱٤۱ - ۱٥٤ - ۱٥٦ - ۱٦۸ - ۲۲۷ - ۲۳۲

محمود (سنزیانی) ۲٥۳

محمود خان (یوسفخیل) ۳۰۷ - ۳۱۲

محمود (دخان جهان زوی) ۲٦۹ - ۲۷۱

(مولانا) محمود -۲۸٥

محمود خان (لوانی) ۲۹۱

محمود خان (دعالم خان امسی) ۳۲٥

محمود خان (دپیرخان لودی زوی) ۳۳۳ - ۳۳٦

(حضرت) محمد (ص) ۳۳٥

محمد بن احمد النسفی-۱۸

(سلطان) محمد = سلطان بهلول

محمد سام= شهاب الدین غوری

محمد - ٤

محمد بن قاسم ثقفی ۹ - ۱۹

محمد(هوتك)۱٥

محمدبن حسین(ذیذان) ۱۷

محمد بن اسماعیل-۱۷

(سلطان) محمد (تغلق) ۲٤ - ۲٥ - ۲٦ - ۲٤۰

محمد قاسم (فرشته) ۸۲ - ۱۱۲

(شهزاده) محمد خان - ۳۰

محمد(پرملی) ۹۱

(امیر) محمد سیف-۳٦

محمد(لودی)٥٥

(سلطان) محمد شاه (شرقی) ۸۵ تر ۸۹ - ۱۱٤
(سلطان) محمد شاه(خضر خانی) ٤٦ - ٤٧ - ٤٨ - ٥٤ - ٥٧ - ٥٨ - ٥٩ - ٦٢
تر ٦٦ - ۸۱ - ۱۰٦ - ۲٤۱ - ۳۰۰ - ۳٤۹
(ملك) محمد (لودی) ٥۰
محمد خان (لودی) ۲۳۲
محمد شاه (دکشمیر یاچا) ۱۰۲ - ۱۷٤
محمدشاه(خلجی) ۱۰٥
(سید) محمد-۱۰۲
محمدرسول (کلات‌وال) ۱۰۸
(شیخ) محمد (پرملی،خان خانان) ۱۲۱ - ۱۳۷- ۱٤۲ - ۲۱۳
(سید) محمد (گیسودراز)۱۲۳
(سید) محمد (الحسینی) ۱۲٤
محمد شه (لودی) ۱٥۸ - ۲۳٤
(سلطان) محمد (لوانی) ۲۲٦ - ۲۳۳ - ۲٤۹ - ۲٥۲ - ۲٥۸ - ۲۹۳ - ۲۹٤
محمدخان(ناگوری) ۱۷٤
(سید) محمد (همدانی) ۱۸۸- ۲۳۸
(شیخ) محمد (بندگی) ۳۰۲ - ۳۰۳
محمد زیتون ـ ۲۱۷ - ۲۸۹
محمد علی (خنگ جنگ) ۲۳۰ - ۲٥٦ - ۲٦۷ - ۲۷۰ - ۲۷٤
(شیخ) محمد نوربخش-۲۳۸
(سلطان) محمد (خلجی) = شهزاده صاحبخان خلجی
محمد خان (سور) ۲٥۸
محمد خان پولادی= عمر خان پولادی
محمد حسن خان- ۳۰۳ - ۳۰٥

محمد اوصاف علی خان (لودی) ۳۰٤
محمد منور علیخان (لودی) ۳۰٤ - ۳۰۵
محمد عبدالحکیم خان (لودی) ۳۰٤
محمد خان (دپیرخان لودی ورور) ۳۱۷ - ۳۳۸
(ملا) محمد (مذهب) ۲۷٤
(میرزا) محمدرفیع (سودا) ۳٤۳
محمد شاه (مغل) ۲۸۰
محمد زمان میرزا ۲۸۱ - ۲۹٤
محمد سلطان میرزا-۲۸۸ - ۲۹۰ - ۲۹۲ - ۲۹۷ - ۲۹۹
(شیخ) محمد غوث (گوالیاری) ۲۹٦
(شیخ) محمد ــ۲۹۷
محمد خان (دشاهین خان لمسی) ۳۰۱ - ۳۰۲
محمد نور خان (لودی) ۳۰۳-۳۰٤
محمد شیرخان (لودی) ۳۰۳
محمد خان لودی (دعالم خان لمسی) ۳۲۵
(روښانی) محمد زمان-۳۲۷
محمد هاشم (خافی) ۳۳٤ - ۳۳۸
محمدزی (قبیله) ۳۲۷
(شیخ) محمد (ملاوه) ۱۹۰ - ۲۳۹
(شهزاده) محبوب خان (لودی) ۱۱۷
محبت-۳٤۳
محبت خان (مشوانی) ۱۰۷- ۱۵۳
مخدوم جهانیان-۲۳۹
مدد خان = اعظم خان
مروت (قبیله) ۳

(ملك)مرهبا- ٤٨ - ٤٩
(ملك) مروان دولت-٥٠
(مولانا) مرشد-٢٥٦
مرهٹہ (قام) ٢٨٠- ٣٢٨
(سلطان)مسعود (غزنوی)٢٢-٢٣
(دوم‌سلطان) مسعود (غزنوی)١٦٢
مسعود سعد سلمان-١٦٢
مسعود بیگ-١٨٨
مصحفی- ٣٤٤
(دوم) مظفر شاه (گجراتی)٥٠-١١٥-٢٦٥-٢٦٦-٢٦٨- ٣٠٧
(دریم) « (گجراتی) ٣١٣-٣١٥
مظفرشاه-٣٠٨
مظفر خان (لودی) ٣٣٧
(سید) مظفر (بارهه) ٣٢٤-٣٣٠-٣٣٢-تر٣٣٥
مظفر خان(مغلی‌امیر)٣٢٢
(میا) معروف (پرملی) ١٢١-٢٢٤-٢٥٩-٢٦٠-٢٩٢
(خلیفه) معتصم باالله-١٨
« معتضدباالله-١٨
(ملک) معین الدین-٣٧
معظم خان (علیزی) ١٠١
معرفت خان (درانی)١٠٧-٢٥٠
(ملک)معزالدین -١٦٦
« مغیث-١٠٥
مقبل (حجاب) ٢٣٥
مقبول ـــ٣٤٣

مقرب خان -۳۲۸-۳۲۹-۳۳۰
(مقرب الملک)مقرب خان-۳۳-۳٤-۳۵
(خلیفه) مقتدر باالله -۱۸
مکهن (پرملی) ۱۷۵-۲۵۸- تر۲٦۰ ۲۸۹-۲۹۰
ملکشه=اسلام خان
(میا) ملی یا میاملیح -۱۸۱-۱۸۲
(شیخ) ملی قتال (شروانی) ۱۱۷
منصور (سامانی) ۱۱
(ملا) منهاج -۱۲۰
منو چهر (مغل) ۱٦۰
(شیخ) _ منیر (بهاری) ۱۵٤
(سلطان) مو دود (غزنوی) ۲۲
(شهزاده) موسی خان (لو دی) ۱۱۷
موسی خان (لودی) ۳۰٦
(شهزاده)مهندر -٦
مهرو یه (دقداح المسی) ۱۸
مهمند (قبیله) ۳۲۷
(خانخانان) مها بت خان -۳۱۹-۳۲۳
مهر سلطانه (دسلطان ابراهیم لوز) ۲۸۸
مهدی خواجه -۲۹۱
مهابت خان (بدایونی) ٤٤-٤۵
میمون بن دیصان -۱۷-۱۸
میاخیل (قبیله) ۳
مید نی رای -۱۷۳-۲٦۳
میر ویس (میرواعظ) ۸
میانه-۸

میرعلی-۳۷

میران سیدخان-۱۴۵-۱۴۶-۱۴۷-۲۱۹

(شیخ) مینا-۱۲۳

میرعلی بیگ (مغل امیر) ۱۶۰

میا شیخ (بدایونی) ۲۳۸

میرزا مغل-۲۸۸

میرداد (روہیلانی) ۳۲۷

(خواجہ) میردرد (رح) ۳۴۲

(ن)

ناہرداس-۳۲۹

نادر (افشار) ۲۸۰

(میرزا) ناصر یادگار-۳۰۷

نرسنگہ-۳۸

نرسنگہ (درای پرتاب زوی) ۸۹

نرسنگہ (درای بلبہورزوی) ۱۵۰

(سلطان) نصر (لودی) ٤-۱۵-۱۶-۱۷-۱۹

(سلطان) نصرت شاہ (تغلق) ۳۳-۳٤-۳۵-۳۶-۳۷-٤۱

نصرت شاہ یا نصیب شاہ یا نقیب شاہ-۲۸۷-۲۹۵

نصرت خان (لودی) ۳۰۶

نصرت خان-٤۶

نصراللہ خان (وصال) ۳٤٤

نصیر خان (لوانی) ۲۲٤-۲۳۳-۲٤٤-۲٤۸-۲۵۵-۲۵۷-۲۵۸

نصیر خان-۵۵

نصیرالملک =خضر خان مسند عالی

(شیخ) نصیرالدین (چراغ دہلی) ۱۰٤-۱۹۶-۱۹۷

(شیخ) نصیرالدین (دجمال خان پلار) ٢٤٠
نصیرالملک (عادل خان) ٣٦
(شهزاده) نظام خان = سلطان سکندر لودی
نظام خان -٢٩٠-٢٩٢
نظام الملک ٣١٨-٣٢٦-٣٣٠
(شیخ) نظام الدین احمد (هروی) ٧٣-٧٤-١١٢
نظیری (نیشاپوری) ٣١٧
نعمتو بی بی-١٧١
(سید) نعمت الله-١٨٩
نعمت الله (هروی) ١٩٠-٢٨٥
نورجهانه (ملکه) ٣١٩-٣٢٠
نهنگ خان (لودی) ١٢٢-٢٤٢
نهال سنگه-١٥٩
نیلسن وایټ (انگریز) ١٠٩-١٧٢-٢٨٠
نیازی (قبیله) ٣-٥٥-١٠٣-١١٨-١١٩

(و)

واسکوډ ګاما (پرتګالی) ١٧٢
(خانخانان) وزیر خان-١٢٣
ولی خان-٢٨١
ویلیام بیل (انگریز) ٣٧
ویشوا ناته-٢٨٢

(ه)

(ملک) هالی-٣٧
هاتی-٢٥٦
هدایت الله خان (هدایت) ٢٤١-٢٤٢-٢٤٣
(ملک) هنبیار-٤٧

همایون (مغل) ١٠٦-٢١٩-٢٢٤-٢٣١-٢٣٦-٢٧٠-٢٧٤-٢٧٥-٢٨٠ تر ٢٨٣ - ٢٨٧-٢٩٠-٢٩١-٢٩٥-٢٩٨-٣٠٢-٣٠٧-٣٣٩

(میرزا) هندال (مغل) ١١٦-٢٨١--٢٩٨

هندو بیگ-٢٥٦-٢٩٨

(سلطان) هوشنگ -١٠٥

هیون تسانگ (چینی سیاح) ١٤

هیبت خان-٩٨

هیبت خان=خلیل خان درانی

هیبت خان (شروانی) ١١٦-١٤٢-١٤٣-١٥٦- ١٥٧

هیبت خان (لوانی) ١٤٩

هیبت خان (یا سیف خان) ١٣٠-٣٤٩

هیمو (بقال) ٢٨٠

ی

(ملك) یعقوب-٣٠

(ملك) یوسف (سروانی) ٤٢

(شیخ) یوسف (قریشی) ٧٥-٨٢-٩٢-١١٤-١١٧

یوسف خان (جلوانی) ٩١-١٢٢

یوسف خان (خاص خیل) ١٢٢

یوسف قتال-١٩٧

یوسف (لودی) ٢٤٢

یوسف خان (یوسفزی) ٢٩٣

یوسف خیل (عشیره) ٣-٥-٣٠٦

یوسف زی (قبیله) ٣٢٧

یونسعلی — ٢٨٨

یولقلی بیگ (انیسی) ٣١٧

یودهن ١٧٩

# دځایو نو مونه

## ﴿الف﴾

اباسین -۲۱-۲۲-۳۲-۲۵٦-۲۵۷-۲۷۱-۲۸۲-۳۳۱

ابر کوه (ابرقوه) ۸

آب سیاه = کالی ندی

اټك -۳۲۷

اټاوه - ۳۹-۸۳-۸۹-۹۱-۹۲-۹۷-۹۸-۱۰۱-۱۰۳-۱۱۵-۱۳۹-۲۰۹-۲۲۷-۲۳۲-۲۵۰-۲۹۱-۲۹۲

اټاوه (گجرات)-۳۱۳

اجودهن-۳۱-۲۰۲

اجمیر-۱٦۰-۲٦۸-۲۹۳-۳۱۹

احمدآباد -۱۱٦-۳۰۸-۳۰۹-۳۱۱-۳۱۲-۳۱۳

احمدنگر-۳۱۵-۳۱۸-۳۲۲-۳۲۵-۳۲۸

اربل-۱٤۹

ارغسان (ارغستان) ۸-۱۵۵

ارول-۱۸۱

اسی-۱٦۲

آسیر-۲۹۷

آسام-۲

اساول-۳۱۰

استریا -۳٤۵

اشنغر-۳۲۷

اصفهان-۳۲۰

اکبرآله-۲۷

اگره ـ ۱۴۲-۱۴۳-۱۶۰-۱۶۲-۱۶۳-۱۶۳-۱۶۵-۱۶۶
۱۶۸-۱۷۰-۱۷۱-۱۷۲-۱۷۵-۱۷۶-۱۸۲
۱۸۷-۱۹۵-۲۱۶-۲۱۷-۲۱۸-۲۱۹-۲۲۱
۲۲۶-۲۳۰-۲۳۲-۲۴۰-۲۴۲-۲۵۳-۲۴۸
۲۴۹-۲۵۰-۲۵۱-۲۵۲-۲۵۳-۲۶۱-۲۶۳
۲۷۰-۲۸۰-۲۸۱-۲۸۳-۲۸۴-۲۸۵-۲۸۷
۲۸۸-۲۸۹-۲۹۰-۲۹۱-۲۹۲-۲۹۶-۲۹۷
۲۹۸-۳۰۲-۳۰۷-۳۱۴-۳۱۸-۳۱۹-۳۲۴-۳۲۶
اله‌آباد-۳۳۱
الور (الرور) ۱۳
امرتسر ـ ۳۴۵
امریکا ـ ۳۴۵
املوه-۳۰۴
انباله-۱۳۱-۲۷۴
اندول ـ ۳۲۹
انبه‌جو کالی-۳۳۰
انجن دوده-۳۳۰
اندونیشیا-۱۷۲
اودیت نگر-۱۶۶-۱۶۷-۱۶۸-۱۷۰-۲۳۵
اوریسه-۲۱۹-۲۹۵-۲۹۶-۳۵۱
اودهه-۱۴۸-۱۴۹-۲۲۳-۲۴۴-۲۴۷-۲۴۸-۲۵۵
اودهی پور-۱۲۸-۳۱۴
اوجین-۳۱۰-۳۳۱
اوندجه-۳۲۳

اوچ-۳۲
ایران-۸۳-۳۱۹
ایر کہتلہ-۳۲۹
ایبٹ آباد-۳۴۵
ایلچپور-۳۳۵

## (ب)

بانسواڑہ-۳۱۴
بارہ (کلی) ۱۵۴
باندرہ-۲۷۰
باندھو گڑھ-۱۵۵
باڑہ-۲۳۴-۲۹۰
بالا گہاٹ-۳۱۸-۳۱۹-۳۲۲-۳۲۵-۳۲۶-۳۲۸
بانگرمؤ-۲۲۵-۲۵۴
باری=نداره ماری-۱۰۰-۱۰۱-۱۷۵
بجواڑہ-۵۱
بدخشان-۱۱۶-۲۵۷
بداؤن (بدایون) ۴۵-۴۶-۴۷-۶۷-۶۸-۷۲-۷۳-۷۴-۹۳-۹۹-۱۰۱-۱۰۲-۱۱۳-۱۱۸-۱۴۱-۲۰۹-۳۴۹
برهمناباذ-۱۰
برشار=پپنبور
برن (بلند شہر) ۳۷-۴۷-۴۵-۸۲
برهان آباد-۶۸-۸۳
برار-۳۱۹-۳۲۱-۳۲۲-۳۲۳
برهانپور-۳۰۹-۳۱۵-۳۱۶-۳۱۹-۳۲۱-۳۲۲-۳۲۶-۳۳۲-۳۳۴-۳۳۸

بروده ـ٣١٠

بسمد (تبار) ١٤

بصره ـ١٨

بغداد ـ١٨ـ١٩ـ٢٥٢

بکسر ـ٩٨

بگهل گاون ـ١٥٢

بلری ـ١٤

بل گهاٹ ـ١٧٢

بلغاریه ـ٣٤٥

بلوچستان ـ١١٦

بنوک (بنو) ١٣

بند هیلکهند ـ٢٤٦ـ٣٢٥

بنگال ـ٢ـ٢٤ـ٢٥ـ٢٦ـ٢٧ـ٢٩ـ٤٩ـ٥٠ـ١٥٢ـ١٥٤ـ١٥٨ـ٢٠١ـ٢٠٨ـ٢١٩
٣١ـ٢٣٣ـ٢٣٦ـ٢٨٧ـ٢٦٥ـ٣٢١ـ٣٣١

بنوسه ـ٣٢٨

بنگلاتی ـ٣١٧ـ٣٢٦

بنارس ـ٢٦ـ١٥٠ـ١٥١ـ٢١٦

بیز ـ١٠٢

بوری ـ١٠٧

بهاریابهیر (کلی) ١٧١

بهیره (پنجاب) ١٦٠ـ٢٣٠ـ٢٥٦ـ٢٥٧ـ٢٧٢

بهتنده ـ٢٠

بهاول گڑه ـ٢٥٢ـ٢٥٣

بهرتپور ـ٣٠٣

بھو گاون -٨٣-٨٩-٢٤٧
بھکر-٢٨
بھوم کلی-١١٧
بھتوارہ-٩١
بھلول پورہ — ١٠٩-٢٧٤
بھپلسہ-١٠١-٢٥٧-٢٥٩
بھار-٤٩-٥٠-٩٩-١٠٠-١٠٧-١٤٣-١٤٧-١٥١-١٥٢-١٥٣-١٥٤-١٥٥-٢١٩
٢٢٣-٢٢٦-٢٣٩-٢٤٠-٢٤٤-٢٥٥-٢٥٨-٢٩٤-٢٩٥-٣٠٢ -٣٠٧
بھرایچ -٤٩-٩٩-١٠٢-١١١-١٢٤-١٣٩-١٤٣-٢٠٧-٢٠٩-٢٢٣
بیانہ -٣٤-٣٨-٦٦-٩١-١٠١-١١٥-١١٦-١٢١-١٣٩-١٤٠-١٤١ -١٤٢-١٤٣
١٤٤-١٥٩-١٦٠-١٦٣-١٧٥-١٨٩-١٩٥-٢٣١-٢٦١-٢٦٤-٢٩٠-٢٩٢ -٢٩٣
٢٩٧-٢٩٨-٢٩٩-٣٠٣-٣١٢-
بیر -٣٢٦-٣٢٨-٣٣٨
بیضاپور — ٣٢٩
بیر = نریلا
بیروزہ — ١٤
بیر سرور — ٢٣٠ - ٢٧١
بیاہ - ٣٢
بیتالی - ٣٨ - ٤٤ - ٤٥

(پ)

پالم-٦٧
پانی پت- ٣٢ -٣٥ -٣٦ -٤٩ -٦٢ -٦٥ -٦٦ -١١٣ -١١٥ -١١٨ - ١٢٠
١٢٩ -١٣٠ -١٣٤ -١٦٤ -٢٤١ -٢٧٥ - ٢٧٦ -٢٧٨ -٢٧٩ -٢٨٠ - ٢٨٢
٢٨٦ -٢٨٧ -٣٠١ -٣٠٢ -٣١٢
پالن پور -٢٠١
پال (فر) -٣١١

پتھر ہندہ (کلا) ۔٤٦ ۔٥٣

پٹن۔٣١١ ۔٣١٢

پٹنہ (کلی) ۔١٣١ ۔١٥٤

پٹنہ (سیمہ)۔ ٥٠ ۔١٤٩ ۔١٥٠ ۔١٥١ ۔١٥٣ ۔١٥٤ ۔١٥٥ ۔١٥٦ ۔١٥٨ ۔١٨١
٢٩٣ ۔٣٠٠

پٹیالی ۔٩٦ ۔١١٥ ۔١١٨ ۔١٣٧ ۔١٣٨ ۔١٣٩ ۔١٤٠ ۔٢٠٩ ۔٣٠٤

پچواڑہ ۔٢٦٩

پرهاله (کلا) ۔٢٥٦

پرستی پال ۔١٤٣

پښتونستان ۔٣٤٥

پغمان (پمقان) ۔٨

پنجاب ۔١٠ ۔١١ ۔١٧ ۔٤٠ ۔٥١ ۔٥٧ ۔٥٨ ۔٦٠ ۔٦١ ۔٧٥ ۔٩٠ ۔٩٢ ۔٩٣
١٠٢ ۔١١٤ ۔١١٦ ۔١١٨ ۔١١٩ ۔٢٢٨ ۔٢٣١ ۔٢٤٢ ۔٢٥٦ ۔٢٦٤ ۔٢٦٥
٢٦٦ ۔٢٦٩ ۔٢٧٣ ۔٣٠٠ ۔٣٠٦ ۔٣٣٠ ۔٣٣١ ۔٣٤٨

پنجکوتی ۔١٤٣ ۔

پنجشیر ۔١٤

پیتهاپور ــ ٣١٠

پیښور ــ ١٠ ۔١٤ ۔٤١ ۔٣٢٧ ۔٣٤٤ ۔٣٤٥

پنجهوارن (رام پنجهره) ٩٦

(ت)

تالــگاون ــ ٣٣١

ترکیه ۔٣٤٥

ترالیتهی ۔٦

تلنبه ۔١٧٩ ۔١٨٨ ۔٢٣٨

تلو ندی -٥٣
تووه -٢٦١
تہا نیسر -١٣٤ -٢٣٥ -٢٨٠
تہواره=بتہواره -٩١
تہا نـــگر -١٧٥
تپر هوت -٤٩ -١٥٣
تیرا گه-٢١٧
تیرا -٣٢٧

ٹ

ٹا نده -٢٢٨-٢٩٥
ٹل (ٹا لہل) -١٣
ٹو پیر -٣٤٤
ٹہٹہه(سنده)٢٨ -٣١٦ -٣٢١
ٹہٹہه (به شما لی هند کنبی) -٩٨ -١٤٣ -١٤٤ -١٤٩ -٢١٧

ج

جابر سری-١٤
جاجنگر -٢٩
جالندهرا -٤٦ -٥٢ -٢٢٩ -٢٤٢ -٢٦٦ -
جاج مئو -٢٢٤
جا نپا پیر -٣١٠ -٣١١
جالنه -٣١٧
جاپان-٣٤٥
جالوه(خا نوه) ٢٩٣

جالیسر -٩٦-١٤٢-١٦٠

جرمنی-٣٤٥

جسونت یا جنبونت -٩٣

جمنا -٤٨-٦٦-٩٤-٩٥-٩٧-٩٨-١٤٢-١٦٣-٢٧٦

جمو -٣١-٥٢-٩٣

جماپور -٣٠٩

جوند یا جموند (کلا) ١٤٥-١٤٧

جندوار (جندرود) ١٤

جنور -١٦٦

جهاندارہ-٣١٤

جهرنا (سبن) ٨٧

جهان نما -٣٥-٣٦-

جهتره -١٤١-١٤٢

جونپور-٢٧-٢٩-٣٨-٣٩-٤٨-٤٩-٥٠-٦٨-٧٤-٧٥-٧٦-٧٩-٨١-٨٣-٨٤-٨٥
٢٦-٨٨-٩١-٩٥-٩٩-١٠٠-١٠١-١٠٢-١١٤-١١٥-١١٩-١٣٩-١٤٠-١٤١
١٤٣-١٤٤-١٤٦-١٤٨-١٤٩-١٥٠-١٥١-١٥٥-١٥٦-١٥٨-١٨٧-١٩٣-٢٠٩
٢١٦-٢١٩-٢٢٣-٢٢٦-٢٢٨-٢٣٣-٢٤٠-٢٤٢-٢٤٣-٢٤٤-٢٤٥-٢٤٦-٢٤٧
٢٩١-٢٩٤-٢٩٥-٢٩٧

جوکا-١٤٣-١٤٤-١٤٥

جوسی بیاگ -١٤٣

جیلم (سبن) ٥٣

## چ

چالیس گاون -٣٢٩

چاندور -٣٢٩

چراغ کلا-١٩٦

چرنولی ۲۴۸
چناب (ن) ۱۰-۱۰۹-۲۷۲
چندوار-۶۶-۹۰-۱۰۰-۱۲۲-۱۳۹-۱۴۲
چندیری-۱۰۱-۱۷۳-۱۷۴-۲۱۳-۲۱۸-۲۲۱-۲۲۵-۲۲۷-۲۵۰-۲۵۸-۲۵۹-
۲۶۲-۲۶۳-۳۲۵
چنبل (ن) ۱۶۲-۱۶۶-۱۶۷-۲۱۹-۳۲۴-۳۲۵-۳۲۸
چنار یا چتار-۱۴۹-۲۴۱-۳۱۲
چیتور-۱۶۳-۲۵۷-۲۸۹-۲۹۳
چین-۳۴۵

(ح)

حاجی پور-۳۰۰
حجاز-۱۹۰-۳۴۵
حصار-۴۹-۶۶

(خ)

خاندیس-۳۱۹-۳۲۱-۳۲۲-۳۲۳-۳۲۶-۳۳۰
خانوہ = جالوہ
خراسان -۱۸-۲۱-۲۲-۲۸۱
خوساب- ۱۰۷-۲۵۰
خواص پور- ۲۲۸-۲۹۵
خیرپور-۱۷۶
خضرآباد -۴۲-۶۱
خیرآباد -۵۳

(د)

درابن-۱۱۷

درو پشپور-١٥٣-١٥٤-١٥٥-٢٠١-٢٢٣
دکن -٣٠٩-٣١٠-٣١٥-٣١٦-٣١٨-٣١٩-٣٢١-٣٢٢-٣٢٣-٣٢٩- ٣٣٠
دلمؤ-١٤٤-١٤٩
دند وقه-٣٠٨
دون-١٤
دوآبه (دگنگااوجمنامنغ) ٣٦-٣٧-٤٢-٤٣-٤٥-٥١-٨٢-٨٣-١٠٢-١١٨- ٢٥٠-
٢٧١
دولت آباد-٣٢٦-٣٣٠-٣٣٧
دوروزله-٥٥
دولقه-٣٠٨
دهرم پوره-٣٢١
دهرن گاون-٣٢٩
دهارور-٣٢٨-٣٣٠
دهلدی -١٠٠
دهوپامو-٩٦-٩٧-١١٩
دهار -٤٦-٤٧
دهور یاد هنپور -٤٠
دهولپور-٣٩-١٠٠-١٠١-١٦٠-١٦١-١٦٢-١٦٣-١٦٤-١٦٦ -١٦٧ - ١٦٨
١٩٥-٢٠١-٢١٧-١٣٥-٢٨٩-٣٢٥-٣٣١
دیلم -١٧
دینور -١٥
دیپا لپور-٣١-٤٠-٤٣-٥١-٥٣-٥٤-٦٢-٦٥-٧٥-٧٨-١١٣-١١٥ - ١٢٤-٢٠٣
٢٢٨-٢٢٩-٢٥٠-٢٦٦-٢٦٧-٢٦٨-٢٦٩
دیو گرهجاندیه-١٠٠
دیوباری-١٥٣

﴿ ر ﴾

راوی (سین) ١٦٥-١٧١
رامیان-١٥
رایسین-١٨٢
راجپوتانه-٢٨٩- ٣٣٠- ٣٣١
راتوکا=رای گاون=زرنگار-٩٨
راجگرهه-٢٥٣
راجوره-٣٢٨-٣٣٨
راولپنڈی-٣٤٥
راپری-٨٣-٨٦-٩٦-٩٧-٩٨-١٢٠-١٢١-١٢٢-١٣٨-١٣٩-١٦٠-٢٢٥-٢٣٣-
٢٩٢
رنتهور-٢٩٧
رنتهپور-١٠٠-١٠١-٢٥٧
روم-٢٣٦
روه-١٠-٦٧-١٠٧-٣٢٧
رهتك-١٠٢
رهت (سین) ٩٩
ریتهور یارانتهور-١٧٤-١٧٥-٢١٠

﴿ ز ﴾

زابلستان-١٠

﴿ س ﴾

ساکرستان (سجستان)-٨
سامانه-٣٢-٣٦-٤٠-٤٣-٥٢-٥٦-٦٥
سایبربا-٣٤٥

سادهوره_٤٢ -٦١

سارن_٩٣_١٠٧_١٥٥_٢٢١_٢٣٣

سارده_١٥٥

سارنگپور -١٠١_٢٥٧_٣١٠

سپره (بين) ١٧٠

ست پله_١٩٧

ستار گاون_٢٤ -٢٥_٢٧

ستلج (سين) -٥٢ -١١٧ -١٢٢ -٢٦٧ -٣٠٤

سدو سان -١٤

سروا -٢٩٤

سرو نج -٣٣١

سر كچه _١٥٠

سرا نديب -٢٣٦

سرستى -٨٦ -٨٧ -٨٩ -١١٤

سروهى _٣١٤

سرهند_٤٣_٥١_٥٢_٥٤_٥٥_٥٩ -٦٠ -٦١ -٦٢ -٦٣ -٦٥_ ٦٦_٧٥
٧٨-٩٤-١٠٧-١١٢ -١١٣-١١٧-١١٨-١١٩-١٢٩-١٥٩ _ ١٧٩
٢٤٢-٢٥٠-٢٦٧-٢٦٩-٢٧٣-٢٧٤ _ ٢٧٥_٢٩٤ _ ٢٩٨_٣٠٠
٣٠١_٣٠٢_٣٤٩

سراى صالح_٣٤٥

سكيت _٨٣_٩٦_١٠٣_١٠٤_١٣٦_١٣٧_ ١٤٢

سلطانپور_٢٢٩_ ٢٦٦_ ٢٦٧_ ٢٦٨_ ٢٧٣_ ٢٤٨

سمرقند_١٣٧_ ٢٨١

سنبهل_٤٥_ ٤٦_ ٤٨_ ٤٩_ ٦٦_ ٨٢_٨٣ -٩٣_ ١٥٨ _ ١٥٩ _ ١٦٠

١٦١-١٧٩-١٨٨ـ ١٩٠-١٩٢-١٩٣ـ ١٩٥ـ ٢٠٢ـ ٢٠٥ـ ٢٤١
٢٤٨ـ ٢٥٨ـ ٢٦٤ـ ٢٩٢ـ ٢٩٨ـ ٣١٢

سنگام ـ ٢٥

سنگهره ـ ٩٤

سند ـ ٩ ـ ١٠ ـ ١٧ ـ ٢٨ -٣١٥

سندره یاسهیندیر ـ ٣٣٣ ـ ٣٣٧

سوابی (صوابی) ٣٤٤

سومنات ـ ٢٣

سوالک (غر) ٤٢

سورت ـ ٣١٣

سونی پت ـ ٢٧٤

سونهار = سنهارن ـ ٩٧

سهسرام -٢٢٨ ـ ٢٩٤

سیری ـ ٢٧ ـ ٣٤ ـ ٣٥ -٤٤ ـ ٤٧ -١٠٤

سیوی -١٣ ـ ٨٢

سیو گاون ـ ٣٢٩

سیدپور ـ ٢٥٧

سیالکوٹ ـ ٢٤ ـ ٤٣ ـ ٩٣ ـ ١٠٩ ـ ١١٥ ـ ٢٥٧ ـ ٢٦٦ ـ ٢٦٧ - ٢٦٨
٢٦٩ ـ ٢٧٢ ـ

(ش)

شام -٢٣ -١٩٠ -١٩٤ -٢٣٦ -٣٤٥

شاہجہان آباد = دہلی

شاہپورہ -٦١

شاہ آباد -١٥٩ -٢٧٥ -٢٧٦

شمشابات -۸٤ -۸٦ -۸۹ -۹٦ -۱۱۳ -۱۱٦ -۱۲۳ -۱۲۹ -۱۵۰ - ۱٦۰
شنوران -۱۰
شور -٤۹ -۱٦٤
شهدیو -۱۵۰
شیو پور -۱۷٤

﴿ع﴾

عراق-۱۹۰-۱۹٤-۲۳٦-۲۸۱
عربستان-۱۹٤
علی گڑھ -۱۲۰-۳۰٤

﴿غ﴾

غازی پور-۲۳۳-۲٤٤-۲۵۵-۲۵۸
غزنی-۱۰-۱۱-۱۲-۱۳-۱۷-۱۹-۲۰-۲۱-۲۲-۲٤-۳۲-۸۱-۲۸۰
غورك -۲۱

﴿ف﴾

فارس-۱۷-۲۳٦
فتحپور-٤۱
فرانس-۳٤۵
فلسطین-۳٤۵
فیروز قند (فیروز کہنہ) ۸
فیروزه حصار-۲٦-۱۰۳-۲۷٤-۲۷۵-۲۹٦
فیروز آباد-۳۱-۳۲-۳٤-۳۵-۳۷-٤٤-٤۵
فیروز پور-۲٦۸

## ق

قتلغپور-١٥٤
قلعہ‌ظفر-١١٦
قندھار (کندھار- گند ھار) ٨-٢١-٣٢-٨١-١٠٧-١٥٥-٢٤٥-٢٨٦-٣١٩-٣٢٠
قنوج-٩-١٥-٢٢-٣٩-٤٠-٤٥-٤٨-٤٩-٨٦-٨٧-٨٨-٨٩-١١٤-١٢١-١٤٠-
١٤٣-١٤٨-٢٢٣-٢٢٧-٢٤٧-٢٤٨-٢٥٤-٢٥٥-٢٩٢-٣١٣

## ک

کابل-١٠-١٤-٣٢-٤٢-٥٣-٥٤-١١٥-٢٢٨-٢٣١-٢٣٦-٢٥٦-٢٥٧-٢٦٥
تر٢٦٩-٢٧١-٢٧٣-٢٨١-٢٨٢-٢٨٦-٢٨٧-٣١٨-٣٢٧
کاپیسا (پروان) ١٥
کالپی- ٤٤-٩٧-٩٨-١٠٠-تر١٠٢-١١٣-١١٥-١١٨-١٢٣-١٣٩-١٤١-١٦٨
١٦٩-١٧١-٢١٠-٢٣٢-٢٤٢-٢٤٦-٢٤٨-٢٤٩-٢٩٣-٣٠٧
کالی ندی (سین) ١٣٧-٣٥٠
کاتہ گڑ-١٤٥
کالنجر-٢٤٦-٣٣٣-٣٣٧
کاھا گون-٣٥١
کاشغر- ٢٨١
کٹھبہ-١٤٩
کرماچ (کورمہ) ١٠
کری-٣١١
کرو کیشتر = تھانیسر
کڑہ مانکپور-٢٩-١٠٢-١١٤-١١٨-١٣٨-١٤٣-١٤٨-١٤٩-٢٢٣-٢٢٥
٢٢٦-٢٤٧-٢٥١-٢٥٤-٢٩٤-٢٩٥
کسی غر (کوہ سلیمان) ٣-١٠-١١-٢٠-٢٢-٢٦-٤٢-٥٠-٦٧-١٠٧-١٥٥-٢٤٥

کشمیر-٢٠-٥٢-٩٣-١٠٢-١٧٤-٢٠٨-٢٥١

کلانور-٥٢-٢٣٠-٢٦٧-٢٧١

کمانگران-٥٥

کندار-٢٨٩-٣٢٣-٣٢٤

کنتھیت-١٥١

کولی-١٤-٩٢

کوفه-١٧

کول-٦٦-٨٣-٩٦

کوهانه-١٠٧

کوکه-١٦٦

کودکان-٩١

کولی (سین) ١٤٤

کودهره ــ ٣١٠

کهروا ــ ٣٤

کهرور -٢٩٩

کهارن کهالی-١٥٠

کهکر (سین) ١٤٨-٢٧٤-٢٩٨

کهتره-١٤١

کهیتل یا کهیتر-٣٨-٤٤-٩٦-١٦٠

## ﴿گ﴾

گجرات (پنجاب) ١٨٧

گجرات-٢٨-٢٩-٣٦-٣٧-٣٩-٤٦-٥٠-١١٥-١١٦-٢٦٥-٢٦٦-٢٦٨-٣٠٨-
٣١٠ تر٣١٤-٣١٩تر٣٢١-٣٢٦

گرمسیر-٨

گردیز - ١٥

گرھی لدھ - ٦٢

گرھ کتنگ - ٢٩-٢٥٣

گنگا (سین) ٣٨-٤٥-٨٦-٨٨-٩٥-٩٦-١٢١-١٤٣-١٤٤-١٥٢-٢٢٤-٢٨٣-
٢٨٩-٢٩١-٢٩٢-٢٩٣-٢٩٤-٢٩٩-٣٥٠

گوالیار-٣٤-٣٩-٤٠-٩١-٩٧-٩٨-١٠١-١٠٢-١٠٣-١١٣-١٣٦-١٤٢-١٥٩
١٦١-١٦٢-١٦٣-١٦٥-١٦٦-١٦٧-١٧١-١٧٢-١٧٥-٢١٥-٢١٩-٢٢٣-٢٣٢
٢٣٣-٢٤٠-٢٥١-٢٥٢-٢٥٣-٢٥٤-٢٨٩-٢٩٢-٢٩٣-٢٩٧-٣١٢-٣١٣-
٣٢٣-٣٢٥

گورکھپور-١٠١-٢٤٨

گوندوانہ - ٢٥٣-٣٢٥


## ﴿ل﴾


لبنان-٢٣

لغمان = لمغان = لمپاکا-٨-١٠-تر١٥

لکھی جنگل-٥٢

لکھنوتی-٢٦-٢٧-١١٣-١٥٢-١٥٣-١٧٩-٢٢٣-٢٢٧-٢٣٣-٢٤٢-٢٥٤

لکھنو-٢٢١-٢٤٠-٢٨١-٢٨٩-٢٩٠-٢٩٣-٢٩٥-٢٩٨

لندن-٣٤٥

لنکا-٦

لرگر (لہوگر) ٨

لودی تومب یا لودی گردن-٢٤١

لودی کالونی-٢٤١

لودی پورہ-٣٦١

لودھیانہ-٢٤٢-٣٠٤-٣٠٥

لودی مارکیٹ-٢٤١

لہاپور ـ ١٠٠

لہور (لاہور) ١٠-١٥-٢٤-٣-٤١-٤٦-٤٩-٥٢-٥٨-٦٥ تر ٦٧-١١٥-١١٨-١٢٠-١٦٠-١٨٩-٢٢٨ تر ٢٣١-٢٥٦-٢٥٧-٢٦٤-٢٦٥-٢٦٧ تر ٢٦٩-٢٧١-٢٩٣-٣٠٦-٣٤٥-٣٤٦

## (م)

مانڈو (دمالوی پایتخت) ٦٤-٦٨-١٧٢-١٧٣-٣٢٢

مارہرہ (بارہرہ) ٦٨-٩٦-١٤٠

مالوہ ـ ٣١-٦٣-٦٤-٦٨-٩١-١٠١-١٠٥-١٧٢-١٧٣-١٧٤-٢٢١-٢٢٥-٢٥٢-٢٥٣-٢٥٧-٢٥٩-٢٦٢-٢٩٦-٣٠٢-٣٠٧-٣٢١-٣٢٢-٣٢٣-٣٢٤-٣٣٠-٣٤١

ماچھی واڑہ ـ ٥١-١٥٩

مالک دودہ ـ ٣٣٠

مالیر ـ ١١٨

ماوراالنہر ـ ١٩٠

مبارکپور ـ ٥٤

متھرا ـ ١٦٢-١٨٧-١٩٧-٣٠٣

مجہولی ـ ٩٠-١١٩

مچھلی گرہ ـ ١٥٥

مدینہ منورہ ـ ٢٤٥

مستنگ ـ ٨

مصر ـ ١٩-٢٣-٣٤٥

مکہ مکرمہ ـ ١٨-٢٤٥

مکہان کہالی ـ ١٥٠

مگدھ ـ ٦

ملوت (کلا) ١١٥-٢٢٩-٢٣٠-٢٣١-٢٧٢-٢٧٣-٢٧٤

ملوتی (کلا) ۲۷۲

ملایا- ۳٤٥

ملتان-۱ تر ٥-۹ تر ۲۳-۳۱ تر ۳۳-٤٠-٤۱-٤۳-٤٥-۹. تر ٥۱-۳ د تر ٥٥-٦٦

د ۷-۸۱-۸۲-۹۰-۹۲-۱۰۷- ۱۱٤-۱۱۷-۱۳۸-۱۱٤-۱۱۷-۱۸۱-۲۰۱-۲۳۸

۲۳۹-۲٤۱-۲٥۰-۲۹٥-۳۱۹-۳۲۰

منصوره-۹-۱۳-۱٤

مندرا بل- ۱٦۳

مونگیر- ۲۳۱

مہرولی- ٦٦-۱۰۹-۱۲۲

مہران (سین) ۱۳

مہابن- ۳۰۳

مہوبہ ۲۹-۳۰

میوات- ۳۰-۳۱-۳۷-٤۱-٤٦-٦۲-۸۲-۸۳-۹۰-۱٦۰-۲۳۲-۲٦۱-۲۸۸- ۲۹۲

۲۹۳

میرٹھ - ۳۱-٤۲-٤٦-۱۱۹-۳۰۳

مین پوز- ۱۲۰

میوپور- ۱۱٤-۱۷٥-۲۱۰

(ن)

ناگور- ٤۱-٦٦-۱۷٤-۲۱۰

نابھہ - ۳۰٤-۳۰٥

نجابری- ۱٤

نرور- ۱٦۳-۱٦۹-۱۷۰-۱۷۱-۲۱٥-۳۲۳

نربدا (ندی) ۳۲۱-۳۳۰-۳۳۱

نربلا = بیره-۷۹-۸۰

نظام پور- ۱۱۸

ننگرهار (نگاراهارای) ۱٤-۱٥

نولاٹی — ٣٣١

نوشہرہ — ٢٣٠-٢٦٧

نہرانج — ١٤

نیشاپور — ١٨

(و)

وجود باغ — ٣٤٩

ویہند — ١٠-١١-٢٠

(ه)

هانسی (ضلع) ٤٩-٦٦-٢١٩-٢٢٠-٢٤٣-٢٥٣

هانگ کانگ — ٣٤٥

هتیاپول — ٢٩٧

هرات — ٢٣٦

هردوار — ٣٧

هزاره (ضلع) ٣٤٥-٣٤٦

هسپانیه — ٣٤٥

هنگری — ٣٠٥

هندوستان — ٢-١٣-٢٢-تر٢٤-٣٧-٤٢-٥٦-٥٨-٧٠-٧٨-١٠٥-١٠٨-١١٠
١١٥-١١٦-١١٧-١٢٢-١٢٥-١٦٣-١٦٥-١٧٢-١٧٤-١٨٧-١٩٠-١٩١-١٩٢
١٩٤-١٩٥-٢٠١-٢٠٧-٢١٦-٢٢٨-٢٣٠-٢٣٦-٢٥١-٢٥٦-٢٦٧
٢٦٥-٢٧١-٢٨٢-٢٨٦-٣٠٢-٣٠٤-٣١٦-٣٣٦-٣٤٥-٣٤٦

هنونت گر = هنونت گر — ٢٢٥

*(ی)*

يمن- ١٣٦

يولـگدز-٣٢٧

يونان- ٣٤٥

(الف)

# سهون

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۱ | ٦ | تهیومی دا یلوز | تهیوسی دا یلوز |
| ۷ | ۱ | سام نریمان | سام بن ضحاك او سام نریمان |
| ۸ | ۱۵ | راشه کوه | دامنه کوه |
| ۱۳ | ۱۸ | غرت | غرب |
| ۱۳ | ۱۸ | الرود | الرور |
| ۱۸ | ۱۲ | سلیمان نن حسن | سلیمان بن حسن |
| ۱۹ | ۱٤ | سیکې | سکې |
| ۱۹ | ۲۱ | القاسم مقدس | التقاسیم مقدسی |
| » | » | فاطمی د قرمطی | فاطمی قرمطی |
| ۲۰ | ۱ | ۳۸۷ - ۲۱ | ۳۸۷ - ٤۲۱ |
| ۲۱ | ۱۰ | نه شود | نه شو |
| ۲۲ | ۲۲ | پر سند | پسند |
| ۲٤ | ۱۹ | ۷۲۹ - ۷۵۲ | ۸۲۲ - ۷۲۵ |
| ۲٤ | ۲۰ | ۷۲۹ | ۷۲۵ |
| ۲۵ | ۲٤ | لومړی جلد | • |
| ۲۸ | ۸ | اوماتې | ماتې |
| ۳۱ | ۵ | (  ) | (۱) |
| » | ٦ | سهاوندی | نهاوندی |
| » | ۲۲ | لمړی جلد | دوهم جلد |
| ۳۲ | ۱ | میاشت | میاشت ئې |
| » | ۷ | ملك الیاس | ملك الماس |
| » | ۱٦ | خیلې | خیل |
| » | » | سیار | سیاره |
| ۳٤ | ۲٤ | مهروبی | مهرولی |
| ۳۷ | ۳ | دملك هالی | او ملك هالی |
| ۳۸ | ۱۲ | ۸۱٦-۸۰۲ | ۷۹٦ - ۸۰۲ |
| » | ۲۳ | «کتهه» | «کتهر یا کتهل» |
| ٤۰ | ۲ | پړ | پر |
| » | ۱۱ | (هور) | (دهور) |

(ب)

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ٤٠ | ١٢ | اقباخان | اقبالخان |
| » | ٢٠ | مامخ | مخامخ |
| » | ٦ | کورستان | کشورستان |
| » | ١١ | سهاوندی | نهاوندی |
| » | ١٧ | دهلی | دډهلی |
| ٤٣ | ٢١ | امیرانو | دامیرانو |
| ٤٥ | ١٥ | ونیر | ونیو |
| ٤٦ | ٤ | راوبهولي | وروبهولي |
| ٤٦ | ٨ | وروبهولي | وربهو لي |
| ٤٧ | ٨ | اوپته | اوپه پته |
| » | ١٤ | بی کلا | په کلا |
| ٤٨ | ١٧ | موهبا | مر هبا |
| ٥٢ | ١٤ | کلان نور | کلانور |
| ٥٣ | ١١ | ملطان | ملتان |
| » | ٢٣ | سهاوندی | نهاوندی |
| ٥٤ | ٨ | ٨٤٩-٨٣٧ | ٨٤٧-٨٣٧ |
| » | ١٨ | ورورؤ | و رور |
| ٥٩ | ٢٤ | «ملك تحفه زوی» | «ملك تحفه» زوی |
| ٦٠ | | (٦ | (٦٠) |
| ٦٠ | ٩ | وخېژلي | وخېژولي |
| » | ١٨ | دی | دی ئې |
| » | ٢٢ | پنجات | پنجاب |
| ٦١ | ٥ | نښتي | نجتي |
| ٦٦ | ١ | وبهلولي | وبهولي |
| ٦٨ | ٦ | وژله | وژلی |
| ٦٩ | ١١ | شوله | شوءله |
| ٧٠ | ٢ | گانهي | . |
| ٧١ | ٢١ | نشیته | نشینه |
| » | ١٥ | شوم | کوم |
| » | ٢٣ | بیابه شاه عالم | بیابه ئې شاه عالم |
| ٧٣ | ٤ | ٨٠ | ٨٥٠ |
| » | ٥ | ٢٦ | ٣٦ |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۷۳ | ۱٦ | ولیبز له دا | ولیبزله اودا |
| ۷٤ | ۲ | اوغښتلی | رد او غښتلی |
| » | ۲٤ | فخره | مخزن |
| » | ۲٤ | دسلطان محمون | دسلطان محمود |
| ۷۵ | ۲ | ۵٦ | ۸۵٦ |
| » | ۵ | سره | لره |
| » | ۷ | (۳) | • |
| » | ۹ | ۸٦۵ | ۸۵٦ |
| » | ۱۰ | (٤) | (۳) |
| » | ۱۳ | (۵) | (٤) |
| » | ۱۵ | (٦) | (۵) |
| » | ۲۳ | (٤) سیر المتاخرین ۱۳۸ مخ | • |
| » | ۲٤ | (۵) | (٤) |
| » | ۲۵ | (٦) | (۵) |
| » | » | په حواله | • |
| ۷٦ | ۳ | دپښتني | پښتني |
| ۷۸ | ۸ | شوی دی | شوې وې |
| ۷۹ | ۳ | پاچا | د پاچا |
| » | ۲٤ | او شوکت افغان دریم جلد ۸۲ مخ | • |
| ۸۰ | ۱۱ | وور | ورور |
| » | ۱۳ | جنگ | جنگ کښې |
| » | ۱٤ | فوځونه | فوځو |
| » | ۲۰ | ساتندوی | ساتندویې |
| » | ۲۱ | پخپله | پخپلو |
| » | ۲۳ | داستانه | راستانه |
| ۸۱ | ۳ | دپو ښتیدل | وپوښتیدل |
| ۸۲ | ٤ | پخپل | دخپل |
| » | ۹ | لور | لورئې |
| » | ۱٤ | ته ئم | ته ئې |
| ۸۳ | ۱۳ | دملی | دهلی |
| ۸٤ | ۱٤ | حاکم | حکم |
| ۸۵ | ۱٤ | ۵٦۲ | ۸٦۲ |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۸٦ | ۱۰ | پا ته | پای ته |
| ۸۷ | ۳ | دي | دي ليك |
| ۸۷ | ۹ | اوجودهنی | اجودهنی |
| » | ۱۲ | سلطان | دسلطان |
| » | ۱٤ | فورا | خورا |
| » | ۱٦ | اجودهنی | اجود هنی او |
| » | ۱۷ | دشهزاده علم | دشهزاده عالم |
| » | ۱۹ | ورسیدل | ورسید |
| ۸۸ | ۱ | اودی | لودی |
| ۸۹ | ۱۷ | وغچ | دغچ |
| ۹۰ | ۱۸ | سمدلاسه | سمدلاسه ئي |
| ۹۱ | ۱۰ | پخواله | پخوالا |
| » | ۱۱ | () | (٤) |
| » | ۱۲ | (٥) | (٦) |
| » | ۲۳ | موقع | مرقع افغان |
| ۹۲ | ۲ | سلطا | سلطان |
| » | ۹ | پخلیه | پخپله |
| » | ۱۲ | شپې | شپې ئی |
| ۹۳ | ۱۲ | پنجابی | پنجاب د |
| ۹٤ | ۲ | دلی | دهلی |
| » | ۹ | (٤) | (۳) |
| » | ۲٥ | ۳۱٥مخ | • |
| ۹٦ | ۱۷ | مینځ | پنځم |
| ۱۰۰ | ۲٦ | خورشیدجهان | تاریخ افاغنه |
| » | » | تاریخ افاغنه ٤۹مخ | خورشیدجهان ۷۹مخ |
| ۱۰۱ | ۲ | نتهپور | رنتهپور |
| » | ٥ | وکړل | ورکړل |
| » | ۱۲ | بهیسلی | بهیلسی |
| » | ۲۰ | بیرته ئی | بیرته ځنی |
| ۱۰۳ | ۳ | ولاده | ولاړ |
| ۱۰۳ | ۱۱ | ناروغی | ناروغی ئی |
| » | ۱٦ | هیڅ | هیڅوك |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۱۰٤ | ۷ | مرینی | دمرینی |
| » | ۱۷-۱۸ | کلی | کلا |
| ۱۰٦ | ۱۵ | ۸۲٤ | ۸٤٤ |
| » | ۱۷ | خا ناخان | خانان |
| ۱۰۷ | ۸ | پښتنو | دپښتنو |
| ۱۰۷ | ۱۵ | خوساب | خوشاب |
| » | ۱۷ | دعبدالعلی | دعبدالملی |
| ۱۱۰ | ۱٦ | خپله | خپله ئی |
| ۱۱۱ | ۱ | ورنه | ورته |
| ۱۱۱ | ۱۷ | بشلاوه | نښلاوه |
| ۱۱۱ | ۲۲ | ملاقادن | ملاقازن |
| ۱۱۳ | ۳ | وروستیو | په وروستیو |
| » | ۷ | سطلان | سلطان |
| » | ۱۱ | ستاری | سناری |
| ۱۱۳ | ۱۲ | ۱۸٦۲ | ۸٦۲ |
| » | ۱٤ | ۸۱۰ | ۰ |
| » | ۲۱ | تاریخ سلطانی | تاریخ خورشید جهان ۷٦ مخ |
| » | ۲۱ | مرقع افغان ۷۰ مخ د احمد یادگار د تاریخ افاغنه په حواله | تاریخ فرشته لمړی جلد ۱۷۸ مخ |
| ۱۱٤ | ۲۲ | ۱۲ مخ | ۸۲ مخ |
| ۱۱٦ | ۱۹ | فتح خا | فتح خان |
| ۱۱۸ | ۱٦ | ؤ | ۰ |
| ۱۱۸ | ۱۷ | توبور، | توبورؤ |
| ۱۲۰ | ۲٤ | تذکره علمای هند و اخبارالاخیار | اخبارالاخیار |
| ۱۲۱ | ٥ | (۲) | ۰ |
| » | ۹ | تررود | د،رود |
| » | ۲٤ | سلمان | سلیمان |
| ۱۲۲ | ۱۳ | خضرخانی | ۰ |
| ۱۲۳ | ۳ | ۷٦۱ | ۸٦۱ |
| ۱۲٤ | ۱۳ | ۷٥٦ | ۸٥٦ |
| ۱۲٥ | ٦ | دهند | (دهند |
| » | ۷ | دا هغه | هغه |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۱۲۵ | ۲۱ | پوره | پوړه |
| » | ۲۱ | بخوت | بوخت |
| ۱۲۵ | ۲۲ | طباطبائی | دطبا طبائی |
| ۱۲۶ | ۱۹ | اخستلو | ختلو |
| ۱۲۹ | ۱۰ | نومیالی | او نومیالی |
| » | ۱۶ | ( ) | (۱) |
| ۱۳۲ | ۱۸ | برېش | برېښ |
| » | ۱۹ | تپېدل | تیپېدل |
| ۱۳۳ | ۱۳ | میاحسین | میاحسین له |
| ۱۳۶ | ۱۱ | پرېږدی | پرې نه ږدي |
| » | ۱۷ | ۸۰٤ | ۸۹٤ |
| ۱۳۷ | ۶ | دری پلا | شیخ چه دری پلا |
| » | ۱۰ | توربره | د تور بره |
| » | ۱۳ | ۸٤ | ۸۹٤ |
| ۱٤۲ | ۲ | ترهغه | ترهغه ئی |
| » | ۸ | له | د |
| ۱٤۳ | ۲ | هم | هم د |
| ۱٤٤ | ۵ | هغه | هفته |
| ۱٤۵ | ۲۰ | مرقع | دمرقع |
| » | ۱۱ | حسین | حسین د |
| » | ۲۳ | دده | د |
| ۱٤۷ | ۹ | مونږ | مونږ به |
| ۱٤۷ | ۱۲ | خوا | خورا |
| ۱٤۸ | ۹ | قنوج | دقنوج |
| » | ۱۵ | لوبی | لویی |
| » | ۲۰ | شو | شول |
| ۱۵۰ | ۱ | لو | لور |
| » | ۱۱ | خلپي | خپلي |
| ۱۵۲ | ۷ | راهی | رارهی |
| ۱۵٤ | ۵ | چه شیخ | چه دشیخ |
| ۱۵۵ | ۳ | ( ) | (۱) |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۱۵۵ | ٦ | ارغستان | ارغسان |
| » | ۸ | گتړهه | گړهه |
| ۱۵٦ | ٦ | رېړمې | زېړمې |
| » | ۱۸ | لوبی | لوبې |
| ۱۵۷ | ۵ | وکتل | وکتله |
| » | ۲۰ | ( ) | (۱) |
| ۱۵۸ | ۲۰ | خپلې | دخپلې |
| ۱۵۸ | ۲۱ | خلورو | دخلورو |
| ۱۵۹ | ۵ | (ماچی‌وادې) | د(ماچی‌وادې) |
| » | ۱۳ | خواص | خواص‌خان |
| » | ۱۹ | بوخت | په‌وخت |
| » | ۲۲ | احمدسلیمان | احمد،سلیمان |
| ۱٦۰ | ٤ | جالیسه | جالیسر |
| » | ۲۰ | سنکدر | سکندر |
| » | » | ۹۰ | ۹۰۹ |
| ۱٦۱ | ۱۳ | بوښه | بوښو |
| ۱٦۲ | ۵ | کښوش | کښس |
| » | ۹ | دای نائیک | رای نایك |
| » | ۲۰ | محمود | مسعود |
| ۱٦۵ | ۲۱ | پشکال | دپشکال |
| ۱٦٦ | ۱ | چه | په |
| » | ۵ | سپورشور | سپوړښو |
| » | ۲۵ | ۸۳ | ۱۸۳ |
| ۱٦۹ | ۹ | کلابندی کړ | کلابند کړ |
| » | ۲۰ | دومرې | دومرې‌سختی. |
| ۱۷۰ | ۱۸ | تنخوا | تنخواو |
| ۱۷۱ | ٤ | پخلیه | پخپله |
| » | ۱۳ | اخښی | داخښی |
| » | ۲۱ | ورکه | ورکی |
| ۱۷۲ | ۱۱ | سلطان | سلطان‌له |
| » | ۱۷ | له‌پرپرتگاله | له‌پرتگاله |
| » | » | راهندته | راوتلی‌ؤهندته |
| » | » | رارسېد | راورسېد |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۱۷۳ | ۱٤ | محمود | محمد |
| ۱۷٥ | ۹ | (میو پور) | (میو پور) |
| ۱۷٦ | ۸ | نورو | د نورو |
| ۱۸۲ | ۱۳ | نیاوځی | په نیا وځی |
| ۱۸٤ | ۱ | شو | شول |
| ۱۸٥ | ٦ | مدعی | مدعي |
| » | ۱٥۱ | وغوښتلې | واغوستلې |
| ۱۸۸ | ۱۷ | سالی | سالمی |
| ۱۸۹ | ۱ | دسکالی | دسکاکی |
| ۱۹۰ | ۱ | دزکړیو | دزده کړیو |
| » | ۲٤ | الاصغیا | الاصفیا |
| » | ۱۱ | رسالیه | رساله |
| » | ۱٤ | طلب | طب |
| » | ۱۷ | سکندر | سکندری |
| » | ۲۱ | اتنا گر | رتنا گر |
| ۱۹۳ | ۱ | ویل | وویل |
| » | ۱٥ | رحی | روحی |
| » | ۱۹ | ۹٥ | ۹۰٥ |
| ۱۹٤ | ۳ | ( ) | (۱) |
| » | » | (۱) | (۲) |
| » | ۱٦ | ( ) | (۳) |
| ۱۹٥ | ۱۰ | وړ | ووړ |
| » | ۱۷ | دغه | په دغه |
| ۱۹٦ | ۲ | پاچا | پاچاهی |
| » | ٥ | دړك | دړاك |
| ۱۹۷ | ۱ | لیکلی | لیکلی دی |
| » | ۱۲ | قتل | قتال |
| ۲۰۰ | ۱۸ | وه | یوه |
| ۲۰۱ | ٦ | عشر | (عشر) |
| ۲۰۳ | ۸ | دا بخښلی | را بخښلی |
| » | ۱۸ | چه به لا | چه به |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ٢٠٤ | ١٧ | کرم | کوم |
| ٢٠٥ | ٢ | لیکو | لیکی |
| » | ٤ | سو بېره | سر بېره |
| » | ١٩ | دمینی | دمېنې |
| » | » | دمرغلی | دمرغلري |
| ٢٠٦ | ١ | زمه | ذمه |
| » | » | له ښا نه | له ځا نه |
| » | ٢٣ | سپېنو لو | سپېنلو |
| ٢٠٧ | ١٢ | لی | ئـی |
| » | ٢٣ | عزا | غزا |
| ٢٠٨ | ١ | کتلی | کتله |
| » | » | دهغه | دهغو |
| » | ١٦ | ق | ؤ |
| ٢٠٩ | ١ | امیرا و | امیرا نو |
| » | ٢ | امیرا | امیرا نو |
| » | ١٩ | ور نه | ور ته |
| » | ٢٢ | ور نه | ور ته |
| ٢١٠ | ١ | ٩٤ | ٩١٤ |
| » | ٣ | نقد | نقدي |
| » | ٥ | ٦٢٢ | ٩٢٢ |
| ٢١٢ | ١٠ | ( ) | (١) |
| ٢١٣ | ١٣ | وکره | ورکره |
| » | ٢٠ | چندبری | چندیری |
| ٢١٤ | ٣ | طلاور | طلاؤور |
| » | ٥ | طلاور | طلاؤور |
| » | ٨ | دا وګزراوه | وروګرزاوه |
| » | ١٥ | وپوستید | وپوښتېد |
| ٢١٥ | ١٢ | چه | چه به |
| ٢١٨ | ١ | مایبی | ماینې |
| » | ٢ | دامچ | رامچ |
| ٢١٩ | ٣ | کښی | کښې ئې |
| » | ١٣ | کښو نیاست | کښېناست |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۲۱۹ | ۲۲ | ابواهم | ابراهیم |
| ۲۲۰ | ۱٦ | جوړه کړی وه چه سلطان | جوړه کړی وه چه یا خه جوهریان او پخپله سلطان |
| ۲۲۱ | ۹ | خراسان | خراسانی |
| ۲۲۲ | ۵ | () | (۲) |
| ۲۲۳ | ۲ | (۰۰) | (۵۰) |
| » | ۱۷ | میرؤ | میرہ وؤ |
| » | ۲۵ | مگرمعاصر | مگردده معاصر |
| ۲۲٤ | ۷ | داعظم | اعظم |
| » | ۹ | اعظم | داعظم |
| » | ۱۲ | ابراهیم نی | ابراهیم دی |
| » | ۱۳ | ۹۲۲ | ۹۳۳ |
| » | ۱٤ | داحمدخان | دنصیرخان |
| » | ۱۵ | جاجه | په جاج مو |
| » | ۱٦ | لقب ور کړ | لقب |
| ۲۲۵ | ٦ | سلیمان | دسلیمان |
| » | ۱۲ | کړه نکیور | کړه ما نکیور |
| ۲۲۷ | ۵ | ٦٥ه | ۹۱۵ه |
| » | ۱۵ | ولیږ | ولیږه |
| ۲۲۸ | ۱۹ | ۹۰۸ | ۹۲۸ |
| ۲۲۹ | ۱ | سلطان پور | او سلطان پور |
| » | ۷ | نصیت | نصیب |
| » | ۱۲ | واخستل | په واخستل |
| » | ۱۸ | ۲۹۳ه | ۹۳۲ه |
| » | ۲۱ | لارهور | لاهور |
| ۲۳۰ | ۲۰ | ملغو | مغلو |
| ۲۳۱ | ۹ | بیا ئی له | بیا له |
| » | ۱۸ | ته ئی | ته ئی د |
| ۲۳۲ | ۱ | دپښتو | دپښتنو |
| » | ۲ | نخښو کی | نخښه ئی |
| ۲۳۳ | ۱٤ | ۱۳ | ۳۰ |
| ۲۳٤ | ۲۱ | - | تاریخ فرشته ئی- دخانخانان لسمی بولی |

(ك)

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۲۳۵ | ۲۳ | تا رتج | تاریخ |
| ۲۳٦ | ۱ | ملا | ملاؤ |
| ۲۳۷ | ۳ | شمالی | جنوبی |
| » | ۷و۸ | موسی...... | موسی...... |
| » | | همی باشد........ | همی باشد...... |
| » | ۹ | هردوصفت | هردووصفت |
| ۲۳۹ | ۷ | راجق | راجن |
| ۲٤۰ | ۱۷ | شیخ | دشیخ |
| ۲٤۱ | ۱۱ | وه | ده |
| » | ۱۷ | ۸۳۸ | ۸۳۷ |
| ۲٤۲ | ٤ | لیکلی | لیکلی دی |
| ۲٤۲ | ٤ | ۸٤٤ ﻫ ۰- ۱٦۲ع | ۸٤٤ ﻫ = ۱٦۲۰ ع |
| » | ۹ | ۹۲۳ - ۲سه۵ | ۹۲۳ - ۹۳۲ |
| » | ۱۲ | ۹۰۳ | ۹۲۳ |
| » | ۲۳ | ۱۷۰ | ۱۷۵ |
| ۲٤٤ | ۱۲ | پاسقه | پاسته |
| » | ۱۹ | شهزاده | دشهزاده |
| ۲٤۵ | ۲۰ | وروړو | وروورو |
| ۲٤٦ | ۳ | کښی | کښی ئې |
| » | ٦ | سیهو | سیمو |
| » | ۲۲ | ۷۲ | ۱۷۲ |
| ۲٤۷ | ۱۰ | ولاړ | ولاړاو |
| » | » | شخه | شخه ئې |
| » | ۲۵ | کېداو | کېداوصرف |
| ۲٤۹ | ۲۲ | بخښې | نخښې |
| ۲۵۰ | ۳ | بخښې | نخښې |
| ۲۵۰ | ٤ | بخښې | نخښې |
| ۲۵۱ | ۱۲ | نشوه نیولای | ونشو نیولای |
| ۲۵۱ | ۱۸ | شخصیو | شخصیتونه |
| » | ۲۱ | بارول | ویارول |
| ۲۵۲ | ٦ | شپړه | بشپړه |
| ۲۵۳ | ۱۰ | نر | نو |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ٢٥٣ | ١٤ | ګري | اګري |
| ٢٥٣ | ١٩ | همسایون | همایون |
| ٢٥٤ | ٩ | مات کړو | مات کړاو |
| » | ١٣ | شورځی | شوورځی |
| » | ١٤ | پنځوسوه | پنځوسو |
| » | ١٧ | امن | له زامنو |
| » | ١٩ | قنوج | دقنوج |
| ٢٥٥ | ٤ | ابرامیم | ابراهیم |
| » | ٥ | ګه‌هغی | که موهغه |
| » | ٨ | پنځوسوه | پنځوسوو |
| ٢٥٧ | ١٦ | پاخهی | پاچهی |
| » | ١٧ | نتپور | رنتپور |
| ٢٥٨ | ٧ | بیه‌ی | بیدي |
| » | ١٠ | سه‌ري | سوري |
| » | ١٥ | ( .. ) | (٣) |
| » | ٢٦ | (   ) | (٥) |
| ٢٥٩ | ١٨ | سیمو | سیمي |
| ٢٦٨ | ٥ | پا ـه | پاسه |
| ٢٦٨ | ٢١ | ٤٣ | ٩٤٣ |
| ٢٦٩ | ١٠ | ٣٣١ | ٩٣١ |
| ٢٧١ | ٧ | ترجنګ | ترجنګ سیف خان |
| » | » | شیخ جما | شیخ جمال |
| » | ٨ | لودی | لودی سره |
| » | ١٥ | رسپدلی | وررسپدلی |
| ٢٧٣ | ١٣ | درسیدلو | وررسپدلو |
| ٢٧٥ | ١٠ | ددریمه خور | (دریېمه خور) • |
| » | » | یـوویشتمه ئې | یـوویشتمه |
| » | ١١ | جلوانی | --- |
| ٢٧٧ | ٢٢ | پخلیه | پخپله |
| » | ٢٥ | مړ | ومړ |
| ٢٨٠ | ٩ | ١٠٢٩ع | ١٠٢٦ع |
| » | ١٠ | ګڼه | ګته |
| ٢٨١ | ٤ | نته | پته |
| ٢٨١ | ١٦ | واپېزلي | ولېږل |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۲۸۳ | ۱٦ | بدامنو | بدامنیو |
| ۲۸٤ | ٤ | کولي | کولي کېدلی |
| » | ۱۷ | زرغی | زرغی |
| ۲۸٦ | ۱۲ | گړال | کړل |
| » | ۲۷ | ته ریخ | تاریخ |
| ۲۸۸ | ۱ | ممرسلطانه | مهر سلطانه |
| ۲۸۹ | ۳ | ؤ) | ؤ |
| » | ۲۲ | ۲۳٤ مخ | ۲٤۳ مخ |
| ۲۹۰ | ۵ | چه ار | چه اگره |
| ۲۹۱ | ۱٤ | دسنگا | دکنگا |
| ۲۹۲ | ۳ | محمود | محمد |
| ۲۹۳ | ۱۵ | اعظم همایون | دوهم اعظم همایون |
| » | ۱۷ | به بزید | بایزید |
| ۲۹٤ | | جونپور | خواص پور |
| ۲۹٦ | ۱٤ | شاه وخوا | شاوخوا |
| ۳۰۰ | ۷ | پښتو | پښتنو |
| » | ۱۷ | مه پاره | له پاره |
| ۳۰۱ | ۲ | ندای | ندی |
| » | ۱۸ | کال | کال چه |
| ۳۰٤ | ۲۰ | خاص | خاصی |
| ۳۰٦ | ۵ | مابی خېل | بایی خېل |
| ۳۰۷ | ۲۱ | هذال | هند ال |
| ۳۰۸ | ٦ | یوچم | یو چم د |
| ۳۰۸ | ۱٤ | وکړ | وکړه |
| ۳۰۹ | ۹ | ابزلی | لېنږلی |
| ۳۱۱ | ۲۰ | پیتن | پتن |
| ۳۱۲ | ۱۷ | دورونوپه ماتی | دورونو به<br>وژله اود پښتنو په ماتی |
| ۳۱۳ | ۲ | یا ۹۸۰ | یا ۹۸۲ |
| ۳۱۳ | ۲۱ | خواص جان | خواص خان |
| ۳۱۳ | ۲٤ | مگرشیرخان | مگر د شېرخان |
| ۳۱٤ | ۳ | تدنی | ته ننی |
| ۳۱٤ | ٤ | دولت | ددولت |
| ۳۱٤ | ۵ | ٦۷۹ | ۹۸٦ |
| ۳۱٤ | ۱۸ | دخیلی | دخیل |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ٣١٥ | ٩ | منډهی | سنډهی |
| ٣١٦ | ١ | کښی | - |
| ٣١٦ | ٢ | شوه | شو |
| ٣١٧ | ١٢ | جنګ | جنګ کښی |
| ٣١٨ | ١٦ | ماسنګهه | مانسنګهه |
| ٣١٩ | ٩ | ١٠٢٣ | ١٠٢٢ |
| ٣٢٠ | ١٨ | شهزاده | دشهزاده |
| ٣٢٠ | ١٩ | منل | مل |
| ٣٢١ | ٢ | مرت | مروت |
| ٣٢٦ | ٢٣ | ١٠٨ | ٧٧ |
| ٣٢٩ | ٦ | پاسپدلو | پاخپدلو |
| ٣٢٩ | ٨ | دریانخان | دریا خان |
| ٣٣٠ | ١٨ | ١٠٤٠ | د١٠٤٠ |
| ٣٣١ | ١ | مشراتابه | مشرتابه |
| » | ٢٣ | شمال شرقی بهوپال | جنوب شرق بهوپال |
| » | » | شمال شرق چندیري | جنوب شرق چندیري |
| » | ٢٤ | جنوب تونک | شمالی تونک |
| ٣٣٢ | ١٨ | منخب الباب | منتخب اللباب |
| ٣٣٣ | ٧ | نورتیان | نورتپیان |
| ٣٣٤ | ١٢ | مغل ئی | مغل ئی هم |
| ٣٣٤ | ١٩ | بنخ کره شو | بنخ کره شو (٢) |
| ٣٣٤ | ٢٦ | .... | (٢) ماثرالامرا - ١ - توك ٧٣٩ مخ |
| ٣٣٥ | ٧ | ٨٦+١١٣٢ | ١١٣٢-٨٦ |
| ٣٣٧ | ١١ | خیله | خپل |
| ٣٤١ | ٩ | اشکسهی | اشکسی |
| ٣٤٢ | ١ | وکه | رکهه |
| ٣٤٣ | ٧ | ١٢٥٠ | ١٢٥٠ﻫ |
| ٣٤٣ | ١٨ | (١) | (٢) |
| » | ٢٠ | (٢) | (٣) |
| ٣٤٤ | ١٢ | عبدالقیوم، | عبدالقیوم د |
| » | ١٩ | ١٣١٣ | ١٩١٣ |
| ٣٤٥ | ٦ | ١٢١٧ | ١٣١٧ |
| ٣٤٨ | ١٢ | باقی | بانی |
| » | ١٧ | کهرار | کهررا |
| ٣٥٣ | ١٩ | میابلمن | میابهن |
| ٣٥٦ | ٨ | ٢٧٥ | ١٧٥ |

# LŪDİ PAṢ̌TĀNə

BY

ABDUL SHAKŪR RAŠÁD

PAṢ̌TŌ TŌLANə

KĀBəL

Government Printing Hous

دولتی مطبعه